دافغانستان د موکراتیك جمهوریت
داطـــلا عـــا تو او کلتـــور وزارت
دپښتو پر مختیا او پیاوړ تیا آمر یت

# پښتو

## چاپی آثار

په دوو تیرو پیړیو کې

کابل- افغانستان

# پښتو چاپي اثار

(دهیواد اوخارجي پوهانو ۳۵ څېړنې)

ټولونه اوسریزه :
دڅېړ ندوی عبدالله خدمتگار
له خوا

د چاپ اهتمام :
دحفیظ الله رهجو او محمد انور
له خوا

د چاپ شمیر : یوزر نسخې
د چاپ نیټه : د۱۳۵۷ دعقرب۲٤ مه
۱۹۷۸ دنومبر ۱۵

# یادونه

داطلاعاتو او کلتور وزارت ویاړی چه دافغانستان ددموکراتیک جمهوری د ولت د کلتوری پالیسی سره سم دپښتو ژبې او ادبیاتو دچاپی آثارو په باره کښې دهیوادد دوستو هیوادونو د پوهانو او لیکوالو دپنځه دیرشو تحقیقی مقالو دامجموعه د علم او ادوب سینانو ته وړاندی کوی .

پدی څیړنو کښې اکثراً دببلیوگرافی ،ژورنالیزم او ادب پیژندنی له نظره په هغو یو لړ پښتو آثارو باندی رڼااچول شوې ده چه دتیرو دووپیړیو په ترڅ کښې په افغانستان او دنړی په نورو هیوادونو کښې چاپ او خپاره شوي دي .

په دي صورت دااثر که له یوي خوادپښتو ژبې او ادب دتاریخ څیړونکوته په زړه پوري مواد په لاس ورکوی له بلې خوادکتاب پیژندنې او ژورنالیزم داستادانو او شاگردانو دپاره هم په دې زمینه کښې غوره معلومات وړاندی کوي .

مونږ ډیر خوشحاله یو چه دغه علمی مجموعه چه دخیړندوي خدمتگار په زیارتدوین شوې ده داطلاعاتو او کلتوردوزارت دپښتو دپرمختیا او پیاوړتیا دادارې له خوا په داسې وخت کښې له چاپه ووځی چه ددغه وزارت له خوا په کابل کښې دکوشانی تحقیقاتو بین المللی علمی سیمینار دایر دی.

هیله من یو چه دافغانستان ددموکراتیک جمهوری دولت دانقلابی وظیفو داساسی کرښو په پیروی او د [illegible] اد دعلم پالونکی او ادب روزونکی مشر دافغانستان دخلکو ددموکراتیک گوند عمومی [illegible] دانقلابی شوراړئیس او صدراعظم نورمحمدتره کی دآرزوگانو سره سم دهیواد دزیار کښو خلکو په ژبو وخت په وخت علمی او ادبی آثار تولنی ته وړاندی کړو .

داطلاعاتو او کلتور وزیر بارق شفیعی

# پښتو چاپي آثار

کله چه په اروپا کښې ماشین او ماشیني صنایعو ترقي وکړه، دغه په ترڅ کښې د چاپ ماشین او د چاپ صنعت هم پرمخ تګ وکړ.

د صنعتي انقلاب په نتیجه کښې د پانګوالي نظام وده او پراختیا موندله او په خوا کښې یې تکنالوژي هم پرمخ ولاړه.

امپریالیزم د پانګوالي دوروستي پوړۍ په توګه په جهان کښې زیاته ناآرامي پیدا کړه او دغه دیو ن په لړ کښې اروپایي صنعتي هیوادونو دآسیا، افریقا او لاتیني امریکې په هیوادونو بې رحمانه یرغلونه وکړل، زیات هیوادونه یې لاندې کړل، چه د دغو دخوارا او بېوزلو خلکو د بشري قوا او ځمکې په غیر انساني توګه، په بې رحمي او وحشیانه ډول کار اخسته او طبیعي ملي ثروتونه یې تالاکول.

څو چه په مستعمره هیوادونو کښې هم ورو ورو دملي آزادي نهضتونه پیداشول او تر هر چاد مخه په ۱۹۱۹م کال کښې دافغانستان خلکو دډېر وجګړو، قربانیو او فداکاریو نه وروسته دخپل هیواد سیاسي خپلواکي دبرتانیې داستعمارګر دولت نه تر لاسه کړه او تر نن ورځې پورې نور مستعمره هیوادونه یو په بل پسې داستعمار له قیده خلاص شول او خلاصیږي

د بشر د تاریخ پوره د همدغه جریان، یعنی د استعمار د پرمخ تګ او پرشا تګ په دوره کښې په بشري نړۍ کې ساینس او تکنالوژۍ خورا بې ساری ترقي وکړه او ماشیني صنایعو بېخي د بشر د ژوند خیره په بله واړوله. په دې لړ کښې د چاپ ماشین او د چاپ صنعت هم د نورو ماشیني صنایعو نه بېرته پاته نه شو، بلکه ښه په ښه ئې پرمخ تګ یې په نصیب شو او د دې ماشین د تېز چلند په نتیجه کښې د بشر د تمدن په ټولو اړخونو او مظاهرو باندې یې لاخرګند او محسوس اثر پرېوت.

د استعمار د پرمخ تګ او ترشا تګ په دوران کښې د بشري راز راز ټولنو په راز راز حالاتو کښې د محتوا له مخه د چاپ د صنعت راز راز محصولات بشري ټولنې ته وړاندې شو.

یعنی که له یوې خوا نه ماشین او ماشیني صنعتونه د استعمار ګرانو په لاس د مستعمره اولسونو د وینو د زبېښلو آله شوه، د بلې خوا نه د چاپ ماشین د استعماري افکارو د زهرجنو اندېښنو او ارتجاعي مطالبو د خورولو وسیله هم وګرځېدله.

مونږ وینو چې استعمار ګرانو هم په تورو اوتورو پکڼو، بم او ګولۍ، استعمار لاندې بېوزلي اولسونه وژل، هم یې د سرمایې او ماشین د طاقتور چلند له مخه د دوی شته، هستي او بشري طاقتونه او طبیعي منابع تالاکول او دوی بدې ورځې ته کښېنول، د همدغه استعمارګرو قوتونو د تخنیکي او ماشیني مودرنو وسایلو په مقابل کښې د استعمار لاندې اولسونو عکس العمل د دوی د شاعرانو په ژبه داسې څرګندېده:

کشتن بی حرب و ضرب بآئین او ست

مرګها در ګردش ماشین او ست

مګر مونږ ګورو چه د چاپ د صنعت د پرمخ تګ او پراختیا له امله د اعتراض همدغسې آوازونه هم د چاپ د ماشینونو په واسطه چاپېدل او خورېدل. یعنی د چاپ صنعت هم د نورو صنایعو په شان د هغې توري او وسلې حیثیت و مونده چه د چا په لاس به چلېدله په هغه د زړه په فرمان به چلېده.

بیا هم په عام ډول تر استعمار لاندې هیوادونو کښې د استعمار په دوره کښې او تر هغه را وروسته د هغو د بقایاؤ او ګوډاګیانو د تسلط په کلونو کښې، په دغو هیوادونو کښې د آزادۍ غوښتلو تر مترقي آثارو زیات، ارتجاعي آثار چاپ شوي او خپاره شوي دي. د دغو دوارو په خوا کښې، هم د مسلطو قوتونو د ضرورتونو او هم د تسلط لاندې اولسونو

دا پر تیا و وله مخه په نړۍ کښې یو لړ علمي، ادبي او تحقیقاتي آثار هم چاپ او خپاره شوي دي.

د دغو ټولو کته ګوریو د غه ټول آثار، په ټوله مجموع کښې، زمونږ د اولسونو او هیوادونو د کولتوراو ثقافت هغه ذخایر او منابع دي چه زمونږ د اولسونو او خلکو د ملي او اولسي، سیاسي او کولتوري تاریخونو او اقتصادي تحولاتو د څیړو د پاره د توجه او استفادې وړ منابع او مأخذدي چه په عین حال کښې د ملي ژبو او ادبیاتو دروزلو او پاللو په لړ کښې د قدر وړ ذخایر هم بلل کیږي.

د بشري کولتور د ذخایر و په دې لو یه برخه کښې له بده مرغه پښتو ژبه هم بې برخې پاته نه ده او د بښې برخې خاوند ده.

په دوو وروستیو پیړیو کښې د پښتو د چاپ شویو آثارو په باره کښې پروسږ کال په کابل کښې یو علمي سمینار جوړ شوی چه په هغه کښې زمونږ د خلکو پوهانو، علمانو لیکوالو او د دوستو هیوادونو پوهانو ګډون کړی و او په دې برخه کښې یې خپلې په زړه پورې څیړنې او وینا ګانې واورولې.

د سمینار په وروستی ورځ د سمینار غړو پوهانو فیصله وکړه چې د غه وینا ګانې باید د هماغه کال تر پایه پورې د یو ځانله کتاب په توګه چاپ شي. مګر د غولو ونکی دا وُد د دورې یو خصوصیت دا هم و چه د غه رنګه کارونو او فعالیتونو ته محض د خلکو د تیرا یستلو د پاره د نمایش او ننداري په توګه محض هغو مره موقع ورکول کیده چې د(نشستند و گفتند و برخاستند) د حالت نه یې یو قدم هم مخ په وړاندې پر مخ تګ نه شو ای کولای. نو ځکه د دغو سیاسي نمایشو نو اصلي او اساسي نتایج چه د پوهانو علماو او لیکوالو د زیار ایستلو، مطالعاتو او څیړنو هغه برخه ده چه د اولس د کولتور او د جهاني فرهنګ د علمي څیړلو سره سرسته کولای شي، د بې پروایي تر دوړو لاندې د نسیان په د وسیو کښې ځای و مونده ډیر خوشحاله یو چه د افغانستان د خلکو د دموکراتیک ګوند په لارښوونه او د ګوند د ستر مشر د انقلابي شورا د رئیس او صدراعظم نور محمد تره کی په رهنمائي د ثور د پرتمین انقلاب په نتیجه کښې د هیواد سیاسي اقتدار د غولوونکو سردارانو له لاسه د هیواد د زیار ایستونکو نماینده ګوند ته راستقل او د افغانستان د موکراتیک جمهوري دولت منځ ته راغی او د هیواد د دوا قعي اکثریت زیار کښو کارګرانو

په کښې دموکراتیکو اقداماتو پیل شو او په دې ترڅ کښې د خلکو د فرهنګ، ژبو، ادبیاتو او علومو انکشاف ته هم خاصه پاملرنه کیږي.

ستاسو خدمتګارو یارې چه د هیواد د انقلابي کولتوري خدمتونو په لړ کښې د سرطان په سیاشت کښې د پښتو د پرمختیا او پیاوړتیا د آمریت چارې را او سپارل شوې او په دې اداره کښې تر هر څه دمخه د پښتو د چاپ شویو آثارو په باره کښې د پوهانو د علمي څیړنو هغو نتایجو ته توجه وشوه چه په داو د ی دوره کښې د بې پروښتنو بې اهمیته او بې ارزښته پاڼو په څیر پرتې وې.

موږ د دغو ارزښتمنو پاڼې دورې و ځنډلې او د اطلاعاتو او کولتور د پوه او محترم وزیر بارق شفیعي په امر او اجازه د دو یناګانو تکمیل او بشپړولو ته اقدام وشو.

عجیبه خبره داده چه ځینو لیکوالو سره لا څپلې وینګانې پاته وې او په یو کال کښې چالا دو سره زحمت هم پر ځانونه و منلي چه هغه ټولې راټولې کړي، نو د چا خدمت ته چه د خدمتګار عرض رسیدلی شوای د هغو وینګانې هم راټولې شوې او د پښتو د پرمختیا او پیاوړتیا د آمریت او د اطلاعاتو او کلتور د وزارت د نشراتو ریاست د کتلوا و تدقیق نه وروسته په هغه نیږ ش. یناګانې چاپ ته تیارې او د اطلاعاتو او کلتور د محترم وزارت په امر مطبعې ته واستول شوې.

موږ په دې ویاړو چه په دې لنډه موده کښې د غه مقالې د یو علمي - تحقیقي اکاډیمیک اثر په څیر د (پښتو چاپي آثار) په نامه چاپ او د کوشانیانو د بین المللي سیمینار په موقع ګرانو لوستونکو ته وړاندې کیږي.

د دې څیړنو په ترڅ کښې، په دوو و روستیو پیړیو کښې د پښتو د چاپ شویو آثارو په باره کښې هم د موضوع او محتوا، هم د شکل او فورم، هم د چاپ او طباعت او هم د کیفیت او کمیت له مخه د پښتو په هغو چاپ شویو آثارو باندې رڼا اچول شوې ده چه هم زموږ په هیواد او هم په نورو هیوادونو کښې، هم د دولتونو او موسسو او هم د اشخاصو او مولفینو له خوا چاپ شوې دي.

په دې موضوع کې د دو یناګانو د غه مجموعه د ثور د پرتمین انقلاب نه را وروسته چاپیږي او د دغه انقلاب نه د مخه پښتو چاپ شوي آثار معرفي کوي.

مونږ باور لرو چه تردې وروسته زمونږ په هیواد کښې هم دپښتو آثار او هم زمونږ په نورو ژبو آثار دمضمون او محتوا له مخه دیو کیفي بدلون سره چاپیږي او وړاندې کیږي، چه دانقلاب دخصوصیت له مخه هغه ټول آثار چه تردې وروسته چاپیږي ضرور بایدانقلابي مترقي محتوى ولرونکي او دهیواد دزیار کښو کارګرانو، بزګرانو دپیو زلي طبقې په ګټه وي.

په دغه موقع کښې په تیرو آثارو باندې ددغه تحقیقي اثر چاپول او وړاندې کول زمونږ دکولتور او فرهنګ، په تیره دپښتو ژبې او ادب دچاپي آثارو دتاریخ دڅیړلو دپاره خورا اهمیت لري. ځکه مونږ دخپل ژوندانه او دهغه په ترڅ کښې دخپل ادب او فرهنګ نوی فصل او باب پیل کړی دی او په داسې حال کښې چه که زمونږ دغه اثر دتیرو آثارو یوه تحقیقي هنداره وي او مونږ په خپلو نوو آثارو، کاملاً په یو نوي انقلابي مضمون پیل کوو نو دغه او دغه رنګه آثار زمونږ دماضي او مستقبل ترمنځ داتصال یوه داسې کړی ده چه زمونږ نوي پرمخ تلونکي، مترقي انقلابي فرهنګ زمونږ دتیر تاریخ له واقعیتونو سره نښلوي او زمونږ دتیرو وختونو دطبقاتي ټولنې دادب او فرهنګ په ساحه کښې درازراز طبقاتي تضادونو ښودنه او څرګندونه کوي او دنوي تاریخ دلومتونکو لیکونکو او څیړونکو دپاره بې اندازې اهمیت لري. په درناوی.

خیر ندوی خدمتګار بختاني د۱۳۵۷ دعقرب لسمه - کابل.

عبدالرؤف بینوا

# سرکه د پښتو

اجازه راکړئ چې خپله وینا د مرحوم اعلیحضرت امان‌الله‌خان په هغه خبره پیل کړم چې د ۱۳۰۰ هش کال د میزان په نولسمه یې د کندهار ښار ته د رسیدلو پر وخت د هغې سیمې خلکو ته کړې وه او ویلي یې وو چې.

«زه غواړم په پښتو ژبه چې زما محبوبه ده ستاسې سره خبرې وکړم»

دا خبره د پښتو ژبې سره د هغه ترقي غوښتونکي ټولواک د زړه مینه ښکاره وي او د همدې مینې اغیزه وه چې ده د پښتو ژبې د معنوي او علمي ودې د پاره یې ډیرې هڅې وکړې. که څه هم د افغانستان لومړی اساسي قانون– یا د هغه وخت په اصطلاح «اساسي نظامنامه» لومړي ځل د ده په امر د ۱۳۰۲ هش کال د حمل په ۱۹ په پښتو تدوین او نافذ سوا وهم د ده په ارشاد د پښتو معارف کې د ښوونځیو د درسي کتابو په پښتو اړونه پیل سوه او و ریسې په پښتني سیمو کې نه یوازې ماچا او ملکي په پښتو ژبه وینا وي کولې بلکه هغو سیمو ته شاهانه فرمانونه هم په پښتو لیږل کېدل او هم په اخبارو کې پښتو زیاته سوه او د ۱۳۰۳ هش کال د جوزا په دریمه یې امر وکړ چې د کندهار د سیمې په اخبار «طلوع افغان» کې دې پښتو هم زیاته سي چې د دې شاهانه هڅو خبرونه او موضوعات د هغه وخت په اخبارو کې خپاره سوي دي او زما سره یې مثالونه هم سته.

خو د پښتو ژبې د علمي پالنې او روزنې او پرمخ بیولو په لاره کې یوه ډېره مهمه شاهانه هڅه د هغه پر پښتو مین ټولواک له خوا په شاهي ارګ کې د پښتو پوهانو یوه علمي او تحقیقي ټولنه جوړېدل وه.

داعلمي او تحقيقي ټولنه په ۱۳۰۱ هش کال د کابل ارګ په «شمالي برج » کې جوړه او «مرکه د پښتو » و بلله سوه چې بيا په ۱۳۰۲ هش کال دافغانستان داساسي تشکيلاتو د نظامنامې په ۷۴ ماده کې دپوهنې دوزارت ددرې هم رياست په حيث و پيژ اندل سوه او دهغې نظامنا مې په ۵۵ ماده کې يې وظيفه دپښتو ژبې داصولو او قواعدو ضبط او تدوين او ددرسي کتابو ترجمه او نقلول ښوول سوې ده.

«مرکه د پښتو » ترکمه ځا يه چې دهغې مرکې له خپرونو څخه څرګنديږي دوولس تنه پښتانه پوهان غړي درلو دل چې دپښتو ژبې دمختلفو لهجو نمايندګي يې کوله:

(۱) لومړي مشر يې دهغه وخت لوي او نوميالي عالم مرحوم مولوي عبدالواسع آخوندزاده وو.

(۲) دوهم مشر يې ښاغلي عبدالرحمن خان لودين وو.

(۳) ښاغلي لالا محمد زمان خان طرزی خازن الکتب د مرکې دپښتو لومړي غړي دارواښاد محمود طرزي ورور و.

(۴) ملا محمد خان صافي مشهور په افغانونو يس چې عرض بيګي هم و.

(۵) ښاغلي عبدالوهاب خان کاسيئی د مرکه د پښتو ترجمان.

(۶) ښاغلي عبدالواحد خان لکندخيل غلځی.

(۷) ښاغلي عبدالکريم خان دولتشاهي.

(۸) ښاغلي احمد ګل خان سليمان خيل.

(۹) ښاغلي غلام قادر خان د کندهار اخکزو د تبر ژبپوهان

(۱۰) ښاغلي الاو يردي خان وردګ.

(۱۱) ښاغلي مير عالم خان سروت.

(۱۲) ښاغلي ملا پادشاه مير خان خوګياڼي د باز مير زوي چې دقضاتو د مکتب له لومړنيو شاګردانو څخه و.

دلته به يې ځايه نه وي که دهغې درنې مرکې دځينو غړيو دژوند دحالاتو ټولنيز وړاندي کړم ـــ خو دا هم بايد ووايم چې دپښتو دمرکې دزياترو محترمو غړيو دژوند دحالات لاس ته رانغله يوازي ددې ښاغلو دژوند دحالاتو ټولنيز لاس ته راغلي:

لمړی مرحوم مولوی عبدالواسع آخندزاده:

دامولوي صاحب دمولوي عبدالرؤف«ملاي»حضور زوي په ختهه کاکړ د ۱۲۳۷ هش او ۱۲۷۵ هق کال پهشاو خواکی دکندهارپهښار کی زیږیدلی دفقه او حدیثو او تفسیراو منطق او عربی ادب نومیالی عالم پهعربی او دري او پښتو یې شعر وایه:

د ۱۲۹۹ هش کال دحوت په ۱۸ کابل ته راغیءاو دلتهلومړي دقضاتو دښوونځی په نگرانی، او بیاد حکامو د مکتب پهمحلی، او وروسته دقوانینو دمجلس غړي،او ترهغهوروسته ددولت دشوراغړیوتاکل سو اوبیا دعدلیهدتمیز دجرگیغړي او هم دمعارف دانجمن غړي او بیا دپښتومرکې لومړي مشراو وروسته دعدلیه تمیزدوهم رئیس او ددې تولو وظیفو سره داعلیحضرت امانالله خان دحضور رامام او ستادهم و-او د ۱۳۰۳ هش کال دافغانستان دلویې جرگې مسئول غړی وټاکل سو ،چی لهبده مرغه د همهغه کال دا سد پهدیرشمه مجبس تهواستول سو داځکه چیدهدپل خشتی پهجامع کی یوه تنقیدی خطبه و یلې وهچی لههغی څخه سوءتفاهم پیداسوی و،دم ۱۳۰۳ هش کال دسنبلې په ۳ایلهسو، او په ۱۳۰۷ ش کال یې دافغانستان دارتجاعی اغتشاش پهوخت کی په کندهار کیفتوا ورکړه چی د یوه سنلی اسلامی او قانونی حکومت څخه دغلو دهلی طغیان شرعاً بغاوت دینوکله چیدغه یاغی دله کابل تهراغله نو د ۱۳۰۸ هش کال دجوزا پهسیاشت دکوهدامنی حبیبالله لهخوا په کابل کیووژل سو.

مولوي عبدالواسع دافغانستان لومړي دینیعالم و،چی دنو یوقوانینو پهتدوین او د اسلامیشریعتاو حنفیمذهبسره دهغوپه تطبیق بریالی سو او هغهیې داعلیحضرت امان اللهخان په ملاتړ پهافغانستان کیرایج کړه او د«تمسك القضاةالامانیه» په نامهیې دحنفی فقهد قوانینو په باب یو کتاب پهدوو ټوکو کی پهدي ژبه ولیکه چیلومړي ټوک یې دحقوقو برخه او دوهم ټوک یېدجزا برخهوه چیپه ۱۳۰۰ هش کال په کابل کیچاپ سويدي او دیباچهیېپخپله داعلیحضرت امانالله خان لهخوا ایکلې سوېده.

ددې کتاب لومړي ټوک څلور بابه او یو فصل او دوهم ټوک یې څور لس بابه او یو فصللري خولومړي ټوکیې لږ پیداکیږي او دوهم ټوکیې چې ۱۱۱۳ مسئلېلري زماسره سته چیپهپای کی یېلیکلیسويدي:

«المؤلف خادم العلمأ محمد عبدالواسع قندهاری عفی عنه — سنه ١٣٤٠ ق» د ده بل کتاب «حکمت اسلامی» نومیږي چې په ١٢٩٥ هش کال یې په دري ژبه لیکلی او چاپ شوی نه دی .

دریم اثر یې د بقرې د سورة تفسیر دی چې په پښتو او دري یې لیکلی او داهم نه دی چاپ شوی .

څلرم اثر یې د«کلیات او اصطلاحات فقهیه» په نامه یوه رساله ده چې د مرافعه محاکمو د قضاتو د نصاب د پاره یې په عربی ژبه لیکلې ده او د ١٣٠٠ هش د جدی په لومړي ورځ د عدلیه وزارت له خوا په ٣٦ مخو کی د کابل د ماشینخانی په حروفی مطبعه کی چاپ سوې او پر لومړي پاڼه یې لیکلی سوي دي چې:

«سلسلهٔ تألیفات مکتب دار القضاء عالیه به تجویز خادم العلمأ محمد عبدالواسع قندهاری نگران مکتب مبارک موصوف»

پنځم اثر یې د«شناخت خدا» په نامه په دری ژبه یوه وړه رساله ده په ٢٩ مخو کی د داخلیه وزارت له خوا د دولت د مامورینو د تنویر په غرض په حبیبی قطع د کابل د ماشینخانې په مطبعه کې په ١٣٠٠ هش کال چاپ سوې ده او پر لومړې پاڼه د رسالې تر نامه لاندې لیکلی سوي دي .

«از آثار قلمیهٔ خادم العلمأ محمد عبدالواسع قندهاری عفی عنه»

شپږم : په پښتو او دري او انگریزی د قرآن شریف د لومړی پارې تفسیر وچې انگریزی ترجمهٔ ئې د میا عبدالوهاب کا سوې وه.

پر دې آثارو سربېره مولوي صاحب د پښتو مرکې د لومړی مشر په توگه د هغې مرکې په نشراتی چارو کې هم لوې لاس درلود او ټولی خپرونې دده تر نظر لاندې کېدلې — او پر دې ټولو سربېره د پښتو ژبې ښه شاعر هم و چې دلته یې څو انتقادی بیتونه وړاندې کوو — دی وایی.

| | |
|---|---|
| ځان ځانی موجوړه کړې هر سړي ده | زه د ځان ته یې د ځان د اسو سر دي ده |
| سر چشمه د سعادت تعاون پاته | زه و تا ته وایم چپ او ته و ماته |
| په سکوت سکوت کی د ین دنیا خطا سوه | نه حرفه نه مو صنعت نه مو عطا سوه |
| و اخوند صاحب ته مه وایه چې بد کړی | فلان خان ته به په څو وایې رد کړی |

نوي ځوانان که طاقت لري د پند — زوړ به وداخوار کې څه کوي يې خوند

اديګانې دي حقداري پر موږ ټولو — که څه بد کوي موږ ټوله يې ښه بولو

زوروړ ته لا هم څوک رښتيا وينا کې؟ — ليوني به مګر ځان په مبتلا کې

پير انجار سم که څه فسق کړي که الحاد — زه به سر پر خو ځوم غواړم ترې مراد

صم بکم عمی هم لا يهتدون — وبه ترې خوار و زار مغلوب زبون

حسن او قبح له ما ورک سو ليونی يم — زيان او ګټه راته يو سوه بهولی يم

تعاون له قبيلې له قومه ورک سو — لويي بېري مګر کار مو د هلاک سو

زه پخپله د غفلت په خوب ويده يم — د نخوت شراب مې څښلی سرګنده يم

هيڅوک نشته چې آرام آرام مې ويښ کې — پر تندي مې ياپتې د علاج سريښ کې

اقرباو اعزه او ټول جهان — زما خوب بولي سراسر ګټه د ځان

وجدان نشته چې معلوم کړي چې زه څوک يم — د کوم ساز د ترانې د پاره کوک يم

زما غفلت تعطيل نخوت که څه يو ان دي — د عالم عالم مادي معنوي زيان دي

ستا دې زهر سي خواړه اې زما اقربه! — چې په ځان دې يو عالم کې بې نصيبه

زه ويده يم ته پر ما الله و وي وايې — زه سرسا مه مرم ته ما په صحت ستايې

لوی دښمن زما د ځان ته يې اې ياره! — په چم چم دې کړم هلاک ځما دلداره!

که زه ويښ سوم په والله مې دی قسم — چې په اور کې دې په ښو کې نه کم سم

ترمولوي صاحب راکښته د پښتو سرکې دوهم مشر د هغه وخت نوميالی فاضل او اديب ښاغلی عبدالرحمن خان لودين کند هاری د مشهور کاکا سيد احمد خان لودين زوی و چې لومړنی زده کړه يې په «حبيبيه» ښوونځي کې تر رشديه درجې پورې کړې وه او په عربي ، اردو ، ترکي او انګليسي ژبو کې يې کافي مطالعه درلوده — په پښتو او دري کې پوخ ليکوال او د دري ژبې مبتكر شاعر و.

لومړي يې د علامه محمود طرزي سره د «سراج الاخبار افغانيه» په چلونه کې فعاله برخه واخيستله خو په ۱۲۹۷ ه ش کال چې د امير حبيب الله خان د زېږيدنې د جشن په شپه په شور بازار کې د قاضي کوڅې ته نژدې د نوموړي امير پر موټر باندي د تفنګچي ټک وسو نو ښاغلی عبدالرحمن خان لودين د هغه ږز په تور دارګ په زندان کې کوټه قلفي

سو. څوچې داسیرحبیب اللهخا ن تر وژل کېدو و روسته داعلیحضرت امان الله خان د پاچهۍ پهسر کې دنو روسیاسي بندیانو پهډله کې لهبنده ایله او د«امان افغان» داخبار په اداره کې کارو رکړه سو ا و بیاد محمد ولی خان سره دهغه سیاسي جرګې غړي و ،چې د افغانستان لهخوا شو روي‌دولت ته و لیږ له سو. تر هغهو روستهد اعلیحضرت امان‌الله‌خان لهخو ادپښتو مر کې دو هم‌مشر و تاکل‌سو ،او د ۱۳۰۲ش کال پهمیز ان‌او د ۱۳۰۳هق کال پهصفر کې چې‌مو لوی عبدالو اسع‌دمحا کماتو ریاست تهمقر رسو، نو سرحوم لو دین دپښتو مر کې لو مړي مشرسو، او په پښتو مر که کې یې چې کوم دخو را ډیري‌ستاینيو ړ خدمت پښتو ژ بې‌تهو کې، هغهدپښتو ژ بې دو هلوي‌مهم‌قامو سو نهتر تیبو ل و و، او لکه دهغه و خت «طلوع افغان» چې لیکی پهیو ه کې‌یې یو سل او شپاړ س‌ز ره دري لغتو نه په پښتو او پهبل کې‌یې یو و لس‌ز ره پښتو لغتو نه پهدري‌ژ به راوړل. پر هغو قا موسو سر بیره ښاغلی‌لو دین دخپل ژ و ند پېښې او خاطري هم دیوې رسالې پهشکل لیکلي وې ا و هم یې دخپل و خت د ادبي او سیاسي نو مالیو یو ه تذکره تدو ین کړې وه‌چې له بده سر غه د ښاغلي لو دین دادرې اثرهله منځه تللی دي.

د پښتو مر کې تر ریا ست و روسته د اعلیحضرت امان الله خان د حضو رسرمنشي و، چې ژ ر یې استعفا و کړهاو کندهار ته و لاړ، او هلته پخپله پلا رنۍ کو ر نۍ کې‌او سېد پهم ۱۳۰۵ ش کال‌چې اعلیحضرت امان‌اللهخان لو مړي ځل په کندهار کې ښا روالی تاسیس کړه نو ښاغلی عبدالر حمن‌خان‌یې دهغه ځای‌دلو مړي ښاروا ل په توګه وټا که چې دخپل ښه فعالیت پهمکافات کې یې د «ستو رى» دو همه درجه نښان و اخیست.

بیاپه ۱۳۰٦ ش کال د کا بل دګمرك رئیس مقر رسو او څنګه چې‌یې پهیو ه کال کې د کابل دګمرك و اردات د ۱۳۰۵ ش کال پهنسبت یو په یو نیم‌ز یات کړه نو داعلیحضرت امان‌الله خـان له خو اد«ستو ري» لو مړی د رجه نښان او دو و لس‌ز رهافغانی و رو بخښلی سوې.

خو د کو هدا منی حبیب‌الله دپاچهۍ پهدو ره کې بیادارګ ز ند ان تهو استول سو خو تر هغې دو رې‌و روسته ایله او د کابل‌دښار ښار و ال و ټا کل‌سو ،اما تر لږې‌مو دې و روسته دځینو سیا سي اشتبا هاتو قر با نی د هغه و خت دحکو مت لهخوا و وژل سو د لته ددې

بارەچی پەدريژ بەکی دده شعري قوت وبوول سی نو دده دیو مخمس څو بنده دنمونې په توګه راوړو، دامخمس ښاغلی عبدالرحمن لودین دلومړی جهانی جګړې پەوخت کی د افغانستان دمنفی بیطرفی دسیاست پەنسبت ویلی او هغه دادي:

اي ملت ازبراي خد ازودترشويد
از شرمكرو حيله دشمن خبرشويد
تاازصداي صاعقهاش گنگ وکرشويد
وانگه چورعد نعره زنان دربـــدرشويد
مانند برق جلوه کنان درنظرشويد

* * *

از يكطرف نهنگ وزديگرطرف پلنگ
هردو بخون مادهن خويش كرده رنگ
اکنون که گشتهاندبخود مبتلا زجنگ
جهدي كنيد بهرچههست اینهمهدرنگ
درحفظ راه حق همه تيغ وسپر شويد

* * *

این وقت فرصت است نهنگام جشن وسور
هرکس که فوت میکندش می شود کفور
پس در همین خلال وچنین حال واین فتور
تیزي وسعی و همت تان اینقدر ضرور
تاا زبراي چشم عد و نیشتر شويد

* * *

امروز درتمامی عالم چه شور وشر
برپا و ما نشسته از انجمله بیخبر
نیفکرسودنی سرسود ایمان بســــر
افسوس برفلاکت حال چنین بشـــر

الله عالم است که اینخصم بد سرشت
این حب حب خویش چسان کرده است کشت
تا هیچ فرق کرده نیاید زخوب و زشت
نقشی چنین بساط بباید در نوشت
ترسم خدا نخواسته زیروزبر شوید

* * *

باری بسیر سوزن ساعت نظر بدوز
در لمحه ها و لحظه و ساعت گذشت روز
همواره در تلف گذرد عمرما چو یوز
افتاده وز بهرچه استادگی هنوز
چیزی شوید یا کم و یا بیشتر شوید

* * *

زینسان که در کلاه و فراکوت و بوت نو
از رشك سی برید یکی از دگر گرو
ترسید زانگلیز چو اطفال از ببو
تا کی پس از در بزنگوئید زیرو زو
یکبار لازم است بعزم سفر شوید

* * *

این کرج راست در کمر و جیغه در کلاه
بس وضع خوب و فیشن روزاست واه واه
اما چه عیب روشن و بی همتیست آه
کین هردو محض بهرنمایش شود نگاه
باید برین حمیت خود نوحه گر شوید

از حال پرتاسف این ملت نجیب
خواهم بیان کنم بحضور تو ای ادیب
تاکی که بشنوی یا الله و یا نصیب
زین داستان نغز چنین قصه عجیب
بهر شنیدن سخنم گوش اگر شوید

* * *

گردند خائنان جفاکیش بیفروغ
اقایی زمانه همه بهر خود فروغ
جهل و نفاق و بیخبری غفلت و دروغ
انداخته بگردن ماحلقه چو یوغ
گویند در اطاعت ما گاو خر شوید

* * *

گر مستبد ز روی جهالت عتاب کرد
یا غیر حق کدام کسی را عذاب کرد
یا بهر نفع خویش جهانی خراب کرد
ناچار ش عقل عالم و آدم خطاب کرد
تاکی بکشف حال چنین خیره سر شوید

* * *

هر جا که جاهلیست پر از جهل و ابلهی
تفتیش در معارف ما میکند زهی !
چشمش پر از حرام دلی از خرد تهی
پس ای برادران چو چنین است گمرهی
بهر خدا ز حال وطن با خبر شوید

برنقد وجنس مالی ما خائنان امین
د رمجلس سیاسی ما جاهلان کمین
نی فکر و هوش و قلب نه وجدان عقل و دین
تا بهر انتباه صدا یی کشد چنین
کی غافلان زخواب تنعم بدر شوید

* * *

هر یک نشسته است بزین انچنان تلك
کش نیست غم زملت و پرواش ازملك
باصد غرور و کبر همیتاز د اسپ دك
کس نیست تابسینهٔ ایشان کند شلك
خوب ای خران چرید که تاچاغتر شوید

* * *

هر لحظه چون خیال چنین حال غم فزا
آیدبسر زجوش شود فرق سن جدا
دایم بآه و ناله و افغان کنم نگاه
اندرهجوم اشك همیگویم این دعا
کی ظالمان خاك بسر دربدر شوید

* * *

دپښتو مرکې بل غړي لالا محمدزمان خان طرزي مشهور په «خازن الکتب» دمرحوم غلامحمد خان طرزي دوهم زوي او دعلامه محمود طرزي ورور، چې د پښتو مرکې په خپرونو کی دهغی مرکې لومړي غړي بللی سوي او د«یو ازنی پښتو» دوهمه برخه همده لیکلې وه.

لالامحمدزمان خان په ۱۲۷۰ هـ ق کال کی زیږېدلی اومور یې د مهردل خان کندهاري لور وه. ده دخپل وخت متد اوله علوم په کندهار او کویټه کی دهغه وخت له پوهانو په تیره بیاله ملا اکرم اخونزاده څخه لوستلی وو، او په مستطرفه فنونو خصوصاً پـــــه

خطاطي کی یې لوي لاس د رلو د او نستعلیق خطیې ډېر ښه لیکه ، چې یوه غوره او ښکلې نمونه یې دغلام‌محمد طرزي داشعارو ښتېر دیوان دي چې اوومسوه او اته مخه یې پخپل ښکلي‌خطاليکلى دي‌دا کتاب دعلامه‌محمود طرزي دمقدمې سره دسردارمحمد انور خان په زيار او اهتمام دکراچې د«فیض‌محمدي» په‌مطبعه کی چاپ‌سوي او په‌پای کی يې لالامحمد زمان‌خان ليکلي دي: « تمت‌تمام‌شدبعون‌الملك‌المنان‌ديوان بلاغت‌وفصاحت عنوان جناب قبله گاهی امطرزي‌صاحب‌افغان‌ادام‌الله برکاته‌در کراچی بندرسندیوم چهارشنبه بیست و هفتم محرم‌الحرام سنه ۱۳۱۱ درمطبع فیض‌محمدي بسعي واهتمام برادرم‌محمد انورخان بدست خط‌محمدزمان نوشته حله طبع پوشید »

دلالامحمدزمان‌خان زوي‌ښاغلى حبيب‌الله‌طرزي په‌يوه يادداښت کی‌ليکي چې دده مرحوم پلار په شپیته کلنی کی‌پر يوه دانه‌نرى وريجې باندى«بسم لله‌الرحمن‌الرحيم» د اخلاص دښتېرسوره سره ليکه .

لالامحمدزمان‌خان دامير حبيب الله‌خان ډېر ورنږ دي مصاحب و،او څنگه چې ډېرور باندي گران‌و، نو دده‌ته‌يې «لالا» يعنى ورور ويله چې‌له‌همدي امله په «لالا» مشهور سوي دي .

هغه وخت‌چې‌دده ورور سردارگل محمدخان دکابل دماشينخانې دمطبعې مهتمم مړ سو نو دهغې مطبعې اهتمام دده‌ته وسپارل سو ، او ده‌د حلمي افندي په‌ملگري په افغانستان کی دليتوگرافي مطبعه ښېړه کړه‌او بيا‌په‌ارگ کی‌دامير حبيب‌الله‌خان دشخصي کتابتون ناظم مقرراو د«خازن‌الكتب» په‌عنوان يادسو او په‌عين حال‌کی يې دامير شخصي او خصو ـصي يادابتونه ليکل او بياچې دامير عبدالرحمن‌خان دمقبرې په ودانی کی لومړي دولتي کتابتون جوړسونو دي يې مدير وټاکل سو .

لالامحمدزمان‌خان‌ځانته مستقل آثارهم درلودل چې‌مشهور يې دا دوه اثره‌وو :
لومړي دعلامه‌شبلي د«الفاروق» دکتاب‌ترجمه ده‌په‌دوه‌ټوکه کی،چې دلومړي ټوك خرك‌يې نسته‌خودوهم ټوكيې دفاضل پوهاندرشاد په کتابتون کی‌سته.
ددي‌کتاب يوه‌بله ترجمه‌دامير حبيب‌الله‌خان ديوې مانديني« محبوب‌سلطانه اوسواوي نجف‌علي‌خان‌په‌نامه هم‌په کابل کی چاپ او خپره‌سوې ده. دلالا محمدزمان‌خان بل اثر دگو

ستاو لبو ن د«تمدن عرب» ترجمه ده ـ دا کتاب مانه دي لیدلی خو اردو ترجمه يې له فرا نسوی ژبې نه سیدعلي بلگرامي کړې ده او په ۱۸۹۸ ع کال داگرې په عامه مطبعه کې دمحمدقادرعلي خان صوفي په اهتمام چاپ شوي دي .

نو رنو دلالامحمدزمان خان دآثارو څرك په لاس رانغی خو دو نی څرگنده ده چې په ۱۳۰۸ ه ش کال په کابل کې دو باپه ناروغی مړ دي.

د پښتو سر کې بل نو میالی غړي مرحوم ملامحمدعرض بیگی مشهو ر په «افغان نو یس» د راز الدین خان زوي په خته سافی وچې د ۱۲۳۰ ه ق کال په شاو خوا کې دلغمان داحمد زیو په کلی کې زیږ یدلی او په ۱۳۰۵ ه ش کال په کابل کې مړ دي.

ده خپله لو مړنی زده کړه په لغمان کې کړې او بیا کابل ته راغلی و. په کابل کې د لوي نو میالی عالم مو لوي عبدالرؤف کندهاري دشاگردانو په ډله کې شامل او د هغه له علم او فکره فیض واخیست. بیایې دامیر عبدالرحمن خان دربار ته لاررومو ند له اودهغه امیر د دربار عرض بیگی او د پښتو منشي و ټاکل سو.

په ۱۲۹۸ ه ق کال چې دمولوي صالح محمد خان نیکه حاجی محمداکبرخان هو تك له هیو اده فراره سوي و او بیایې په پښتو ژ به په یوه منظومه عریضه کې له امیر عبد الرحمن خان عفو غوښتې وه ،امیر عبدالرحمن خان هم دهغه دعفو فرمان په پښتو نظم و رولیږه چې ناظم يې همدا ملامحمدافغان نو یس و.

دامیر حبیب الله خان په دربار کې هم عرض بیگی او دپښتو منشي و ،چې د پښتو خپرونی په دده ترنظر تیر یدلې، څو چې داعلیحضرت امان الله خان خوا د پښتو سر کې غړي و ټاکل سو.

ده د پښتو اشعار و یو دیوان هم د رلو دچې د کلام نمونه يې د کابل مجلې د ۱۳۰۵ ه ش کال په پنځمه گڼه کې دښاغلي زلمی هیو ادمل په مقاله کې راوړه سوې ده .

د پښتو سر کې بل محترم غړی میان عبدالو هاب کاسیي دمیاغلام حیدر زوی د کاسې د اخون نعیم له کو رنۍ څخه و ،چې څه موده دخپل کشرو رور مو لوی محمدیو نس خان او خپلی نو رې کو رنی سره په هند کې فراری و ،علمی زده کړه يې په هند کې بشپړه کړې او په انگر یزی د برنبه پو هیده څکه نو هغه و خت چې داعلیحضرت امان الله خان په وخت کې کابل ته راغی نو د پښتو سر کې ترجمان و ټاکل سو ، او هم يې د «یو ازنی پښتو» لو مړی برخه چې د پښتو ژ بې مفر

-دات‌دي ده‌وليکلمه. وروسته په‌جلال‌آباد کي دهغه‌ولايت دپو هني مديرو تاکل سو،او په ۱۳۰۳ ه ش کال کوم وخت‌چي له‌جلال اباده‌کاسي ته‌په‌جاله کي پوربووت جاله په سيندکي‌واوښتله او دی په‌اوبو کي‌ډوب‌اومړسو. (د«امان‌افغان»دجريدې‌پنځم کال د۱م گڼې په‌پنځم‌مخ کي دده‌پرمړينه افسوس سوی‌دی)

داوه‌د پښتو مرکې دځنو هغومحترمو غړو لنډه پيژندگلوي چي ماته دهغو په باب کي‌لږ او ډيرمعلومات‌لاس‌ته‌راغلي او اوس به و گوروچي هغې درنې مرکې د پښتو ژبې دپاره‌څه کاروته کړي دي ؟

پښتو مرکې دخپل کارپه پيل کي پرپښتو دهغې مرکې دجوړيدو زيري وکي اود «زيري‌پرپښتانه» ترعنوان‌لاندي‌يې په‌پښتوژبه يو اعلان خپورکي چي‌په‌هغه کي بې له ټولو پښتنوڅخه دپښتو ژبې دپالنې په‌لاره‌کي مرسته وغوښتله او دهغه اعلان څو جملې دادي :

«دپښتانه‌په‌ختيه کي‌که‌هرڅوښې‌دسيراني لو بې‌اخيستليدې‌چي په‌هروخت‌کي په هغو لوبو ښکاره دي،بياهم هغه‌ټوله‌په‌ښو ونه‌زده کړه‌اوږه‌نلري هرچاچي څه‌زده‌کړي يابنوولي دي‌له‌پردي‌ځايه‌په‌پردی‌ژبه‌له‌پردي‌سري‌څخه دي‌نوښه‌ښکاره ده‌چي داسې بوهه‌ټوله‌ټولي ته‌نه‌رسيږي‌او پردی‌هيڅ‌وخت نه‌خپليږي‌نن ورځ‌چي سيوري‌دښيگړي دښښتن (تعالی) پر پښتانه‌ولويده‌او دستربادار دپښتانه‌الغازي‌امير امان‌الله‌خان ايده‌الله‌تعالی باچهی دافغانستان پرمخ دمځکي څرگنده سو نو وروسته له‌سمو لو دلو يو لو يو خبرو دخپلي باچهي يې‌دپاره دلوړيدو دخپلې ټولي‌يوه‌ډله‌دپښتو په‌نامه د«مرکه‌دپښتو»په‌برج شمالي مانۍ کي د خپل « ارگ » کښينوله چي هر څه‌چي دزده کولو ، ښوولو ، کښلو دپښتو بايده وي د مرکې‌سړونه دي‌په پارسي‌وکاږي اولارد«اړولو»او« جوړولو» دخبر وديسمه ښکارەسي.. »

دادهغه اعلان دمقدمې څو جملې وې‌چي تر هغه وروسته يې‌له پښتنو څخه دا دري غوښتنې او هيلې کړې وې :

۱—دپارسي دهر نامه‌پرځاي‌دي‌پښتو نوم وليکل سي‌که څه هم ناولده او نادر نوم‌وي اومرکه‌دپښتو‌ته دي‌وروليږل‌سي .

۲ــ هر پښتو نچي پښتو ژبه کي پوهه لري او غواړي چي سرکېږته ځان ورننه باسي خپله غوښتنه دي وليکي او سرکېږته دي ورواستوي.

۳ــ د پښتنو دهري پېښې سړي دي د خپلي پښې مخصوص لغتونه چي په نورو پښو کي نه وي ېيل ېيل وليکي او سرکېږ د پښتو ته دي ولېږي.

تر دې اعلان وروسته پښتو سرکي دخپلو مهمو آثارو په ليکلو گوتي پوري کړې چي په سرغه دوه سهم اثره يې د «يوازني پښتو» او «پښتو پښو يه» په نامه هغه وخت چاپ سوه او له پده سرغه دوه مهم قاموسونه چي هغه وخت ترتيب او تدوين سوي وو، ناچاپ سوي له منځه ولاړه. «يوازني پښتو» په ۱۵۲ مخو کي په ۱۳۰۱ ه ش ـ کال د پوهني د وزارت په مطبعه کي شپږ سوه ټوک چاپ سوه دا کتاب دوې برخي لري لومړۍ برخه يې د پښتو ژبې مفردات په ۲۹ مخو کي د پښتو سرکي د ژبپوهان ښاغلي عبدالوهاب کاميي له خوا ترتيب او ليکلي سوې ده او دوهمه برخه يې د پښتو ژبې سرکبات دي چي ښاغلي لالا محمد زمان خان په شپيتو مخو کي د پښتو سرکي د لومړي غړي په قلم ليکلي سوي دي او بيا دا دواړي برخې د سرکي د وولسو محترمو غړو لاسليک کړي دي.

د دې کتاب هر مخ دوه ستونه لري چي په لومړي ستون کي پښتو او په دوهم ستون کي د لومړي ستون د پښتو ترجمه په دري ليکلې سوې ده او لوی امتياز يې دا دی چي د ليکونکو له خوا يې ز يار ايستلی سوی دی چي پښتو يې سوچه او پوه وي ځکه يې نوم هم «يوازني پښتو» ورباندي ايښی دی او که يې د عربي يادري لغت په مقابل د پښتو مروج لغت نه دی سوندلی نوې نوي لغت ورته جوړ کړي دي.

مثلاً د کتاب په لومړي مخ دري ژبې دا جمله چي: «درمطبع وزارت جليله معارف طبع شد» په پښتو داسي ليکلي سوې دي:

«په تيا پنځي کي دلوي پوهني وزرتون تاپه سو» او د کتاب په مقدمه کي چي د پښتو سرکي د لومړي مشر مولوي عبدالواسع کندهاري په لاس ليکل سوې ده هم دا روش په نظر کي نيول سوی دی چي خو جملې يې دا دي:

«دا خبره وهرپوه ته ښکاره ده چي دهر تبر ژبه خوخپلي نسي او ليکل او ليکي په خپله ژبه

نسي لوړتوب او پوره والى نسي درلود لاياو دپر دي له اړينسي وتلاي–پهتولو
تپرو کی دنړي داځبره خپره منلې سوې‌ده اړي‌دتنګولونه لري.
دپښتانه مينی(افغانستان) ډېري ډيری‌سرانی او پوره پوره‌تورپالی اوخپلوسيمه‌والوته
څرګنده کړي ديچی تولهپه‌منی –بويه چی داسی مړوچ تپرتردې پخواپه‌نړي کی په
شوبللی او په لويو تپولو اکيوکی ګټلی سوي‌واي– دونه ديچی بنسټ د هري تولنی
دګټی هرڅوک نسی ايښوداي لوسړی مشرتپرغواړي چی‌په‌کښته‌پورته‌د خپلی مينی
پوه او په تپولپوهنه دمشرتوب پوهاندوي.
دادي نن‌ورځ چی‌لوسړی پک دپښتانه دتولواکی بلل کيږی– مشربا دار پښتانه
(الغازی اميرامان‌الله خان)چی‌په ګلوزوي او په پوهانده پلاردتير سوواوا وسينيو
پښتنو دي–په دې‌رازد لوړتابه دخپل تپر اودوداني دخپلی مينی پوه سوچی‌دتوري
ستې دکښی بی‌متپه نه‌ځليږي او پردي کټ ترننګړي شپی دي‌نه‌خپليږي اود هيڅ اولس
سيړانه دپل په‌ژبه پرتپولو ځکه نه‌خپريږي نوپه وتپږي ژبه خپلی ته ځکه سوه چی هرو
سرودي خپله‌ژبه بشپړه‌سی‌او په تپولواکی اوتپولواکی کی‌دي بله‌ژبه نه شوري–تپول
پوهاند سړي دګردي ځکی ددې ووي په‌ګټه‌پوهيږي‌چی‌داخه‌پاشلی‌دي اواخيسته‌به‌په‌څه‌وي.
دادي–له‌نخښی دهغی‌انديښنی دلوي‌بادارد پښتانه دا لوسړي کمکلی برخه د بشپړي
دپښتوده چی‌له‌سرکی‌دپښتو راووته – اوترنن پوری داسی‌ليک دپښتو په‌تولهنړي‌کی
نه‌دي ليدل‌سوی چی‌د پردي ژبی څخه پرانت وي‌نو سترګه‌وال‌دي ځير ځير ګوري چی لکه
چی دپښتو ژبه خپلنی سوه امانی مينی به‌ژبه ژرله پردي تپولو اړيو دغه سی ووزي
که‌دالله خوښه‌وه».
په‌دي توګه‌په«پوازنی پښتو» کی هم‌دپښتو ژبی لرغونی زاړه لغات او اصطلاحات
خوندي سوي او هم دوخت دغوښتنی سره‌سم نوي لغتونه دپښتو سرکې له خوا وضع سوي
دي‌چی دوخت دلپروالی له‌امله پې‌له‌مثالونوڅخه تيرپرو .
د«پوازنی پښتو» په‌کتاب‌کی چی‌دقاضی‌ګل احمدپه‌اهتمام او دمير زا‌محمدامين د پښتو
مرکې دسرکاتب په‌کتابت چاپ سوي دا موضوعات راغلی اوځيرلی سوي‌دي :
د پښتو تهجی توري، دپښتو مخصوص توري ، ورځی ، قمري او شمسی مياشتی، ګلونه
اوسوسونه پښتوشميردبدن‌غړي، دنيمګړ يوغړيولرونکی خلك ، دکاليوشيان ، کورنـــی

لو شي، دليك اولوست اسباب، درنگ ډولو نه، دافغا نستان دمر وجو سکو و زنو نه، سيوي، و ني، گلو نه، دغلو ډو لو نه، کر هنه، کاسبان، وسلې، خپلو ان او خپلوا ن دډو ډي ډو لو نه ، په اسمان او ځمکې پو ري مر بو طمعلو مات، دشاهي کو رني لقبو نه، ملکي او نظا مي منصبدار ان حلال ځاروي، حرام ځاروي او ځځندې، حلال الو تو نکي، حرام الو تو نکي، داسانو ډو لو نه، مختلفي فقري او ددو همې بر خې ځلو يښت لو ستو نه .

* * *

دپښتو مر کې دو هم مهم چاپي اثر «پښتو پښو يه» يا پښتو صر ف او نحو ده دا کتاب هم دوې بر خې دي لومړي بر خه يې دعر بي صر ف او نحو پر اساس دپښتو صر ف او نحو تطبيق او خپر لې سوې ده او په دو همه بر خه کې يې دپښتو ژ بې يو زيات شمير مصد رو نه دالفبا په تر تيب مر ادف راو ړه سوي دي او دا کتاب په ۳۳۸ مخو کې په ۱۳۰۲ هـ ش کال د افغا نستان د پو هنې دو زارت په مطبعه کې چاپ سوي دي.

* * *

پر دې دوو چاپي کتابو سر بيره د پښتو ژ بې د پاره چې کوم مهم علمي خدمت پښتو مر کې کړی هغه د دوو لو يو قامو سو تر تيب او تد وين و ،چې دښاغلي عبدالرحمن خان لو دين دپښتو مر کې ددو هم مشر په همت او زيار سنځ ته را غلل او لکه چې د مخه و رته اشاره وسوه په يوه قا مو س کې يو سل او شپا ړس زره د ري لغتو نه په پښتو ا و بل کې يو ولس زره پښتو لغتو نه په دري ژ به اړول سوي او تر تيب سوي و وخو له بده مر غه هغه دوا ړه قامو سو نه همغه وخت له منځه و رك شوه او دهغه وخت د اخبا رو له خبر وځخه د اسې ا ټکل کيږي چې د کمې تو طئې په اثر له منځه و ړه سوي دي ځکه چې د ۱۳۰۶ هـ ش کال د کند هار د«طلوع افغان»په ۸۶ گڼه او د همهغه کا ل دهرات د« فر ياد په اومه گڼه کې متحدالمال ليکلی سوي دي چې:

«اعليحضرت معظم غازي که همت جهان قيمتش رابيک جدت و صميميت درآرايش و تکميل و تو سيع زبان ملی ما «پښتو »بسته يک انجمني را که مشتملبر افغانان زبان دان و اشخاصي که در تمام جز ئيات و کليات افغاني مهارت تامي د اشتند ازقبايل وعشاير متفرقهٔ سرحديه و امصار مشهو رهٔ افاغنه بقسم رسمي بااعطاي سفرخر چ وطعام و تنخواه معقول خو استه

بنام«سر که دپښتو»تأسیس و افتتاح‌فر مو ده‌گوي سبقت افغا نیت و ملیت و وطنیت را از تمام وطنخو اهان و ملت پرو ران ربو دند.

این انجمن که مر کب از زبان دانان فایق و فصحاي لایق افاغنه بود تاجائیکه شنیده ایم زبان افغانی رایک وسعت فوق العاده داده هیچیک اشکال و احتیاجی در ان باقی نگذاشته اند و براي‌همه مو ضوعات و ایجادات ومحاورات الفاظ خالص‌افغانی رابکار برده و کلمات اجنبیه راقطعاً ازان کشیده تسهیلات مهمی درحروف و املاء و انشا ء و تذ کیر و تانیث ومفرد وجمع وقرائت آن‌روي کارآورده مشکلات محدود یت آن رابر طرف ساخته یک راه‌آسانی راساخته اند.

اماتأسف‌است که باوجودزحمت کشی پی‌هم سه‌چارر سالۀاین انجمن و تصنیف شدن چندین مجلد لغات آن‌این مؤلفۀگر انبها واین دکشنري اعلی بجا ي اینکه بطبع سیر سید وبر اي تعمیم تعلیم وفراهم آوردن تسهیلات عظیم درعموم مکاتب افغانی ودوایر دولتی‌نشر وتوزیع میگردید وبعضی کتب ابتدائیه ونصاب تعلیمیه ازروي آن ترجمه وتألیف شده درمناطقیکه بلسان افغانی محاوره دارند مثل تمام حصص مشرقی ومغربی و جنوبـــی افغانستان درس داده میشدند ازخود غرض اشخاصیکه متاع خود رادر بازار این لسان ملی کاسد وجنس دانش خود رادر تحریر وگفتاراین زبان وطنی فاسدمی انگاشتند در طاق نسیان خزید وغازۀبطلان (کان‌لم‌یکن) رابر ناصیۀحر مان کشید اماجاي شکر انست که شهریاروطن دوست ملت پرورما ( الان کماکان) پیر و همان مفکو رۀسراپا حسنۀ خود بوده جدأطرفدارتر ویج وتعمیم همان زبان اجداد ونیاکان خود وعموم حامیان وفدائیان افغانستان میباشند.

مؤید اینمقال ساعلا وه‌بر نطقهاي متکا ثرۀ ایرادیۀهمایونی بزبان افغانی همانااول ــ تصویب نمودن اصل نظامنامۀ اساسی افغانستان است ازطرف عموم شرکاي جرگه سنۀ ۱۳۰۱ و ۱۳۰۳ هش‌بافغانی.

دوم—یادداشت هاي معطیه ذات شاهانه است بوزارت معارف درنتیجۀ تفتیش ولایت مغربی افغانستان که کتب‌درسیۀمکاتب ان بایستی بافغانی تر تیب‌و تألیف گردد.

سوم‌ـصدو ر امر نامۀهمایونی است بر یاست عمومی شو راي دولت دراثر نتیجۀ تفتیش

سمت مشرقی که عموم نظامات موضوعه بزبان عام فهم ساده وسلیس افغانی برای افادهٔ عموم نقل وترجمه گردد.

چهارم—هکذا انتشار خلاصهٔ رویداد جرگهٔ منعقدهٔ سمت جنوبی افغانستان بزبان افغانی

خو بیاهم دخوښی ځای دیچی دهغو لغاتو یوه برخه د مرحوم عبد الله خان افغانی نویس د مرحوم ملا محمد ساپی د ښپتو سرکی د محترم غړي د زوی لاس ته ورغله او په ۱۳۳۵هش کال یې د«افغانی قاموس» تر نامه لاندي په دري ټوکه د ري په ښپتو دپښتو ټولنی له خوا چاپ او خپرسوه او دپښتو ټو لنی دهغه وختسشر محترم استاد الفت یې په سریزه کی داسی ولیکل:

«ښاغلی عبدالله خان هغه څوک دیچی دپښتو خدمت وړته له پلاره په میراث پا ته دي او هغه وختچی په کابل کی دپښتو روزلو دپاره پښتا نه پو هاند پښتو سرکی په نامه راغونډو او دوختډیرلوي اوسشهور عالم مو لوي عبدالو اسع خان کندهاری دسرکی مشر وعبدالله خان له دغه علمی افغانی انجمن سره ارتباط او تعلق د رلود او استفاده یی ځینی کوله یعنی ددي قاموس نیلی په هغه وخت او هغه ځای پوري نښتی دي»

او همدا رنګه دآریانادایرةالمعارف په هغه خپرونه کیچی په ۱۳۳۷ه ش کال په پښتو ژبه د«افغانستان»په نامه خپره سوی ده د«امان الله خان» ترنامه لاندي په ۲۲۱ مخ کی دهغه وخت دپښتو دادب په باب کی داسی لیکلی سوي دیچی:

«وایی چی داوخت دپښتو یو ستر قاسوس هم لیکل شوي ومگر چاپ سوي نه دي خو له ښه مرغه ښاغلی عبدالله خان افغان نویس دپښتو سرکی یوه غړي دهغه قاموس یو نقل له ځان سره درلودچی څو کاله پخوا یی دځا نګړي کتاب په شکل ولیکه او داریانا ستره جایزه یی هم وګټله داکتاب دپښتو ټو لنی له خوا چاپ سوي دي»

داوه دپښتو سرکی دغړو او خپرونو په باب لنډه څیړنه.

دکتور ر. ف

# خدمت سراج الاخبار در پیشرفت پشتو

## از ۱۲۹۱ تا ۱۲۹۷ ش

نشرات سابق، و ازآنجمله کتاب «مقالات محمود طرزی درسراج الاخبار افغانیه» (۱۲۹۰ تا ۱۲۹۷ ش) که درحوت ۱۳۵۵ ش، توسط وزارت اطلاعات و کلتور جمهوریت افغانستان، به کوشش نگارنده بچاپ رسیده است راه دخول درین بحث را آماد می سازد.

درطول این سیمینار، مقالات دیگری دربارهٔ ادب پشتو درقرن ۱۹ وآغاز قرن ۲۰ تقدیم میشود، و یکعده کتب و رساله های مفید درین زمینه بچاپ رسیده است و این همه، مارا ازذکر یکعده مطالب درین مقدمه، فراغت می بخشد.

درینجا بیک مطالعهٔ عمومی و ذکر یک یک بیت از هر شعر عمده اکتفاً کرده امیدواریم روزی همه اشعار پشتوی سراج الاخبار بطور یک رساله بچاپ برسد و آنگاه بعضی سطور این مقالهٔ ما، خدمت مقدمهٔ آنرساله را اداء کند.

نظر عمومی بطور واضح سه مرحله رادرطول شش سال نشان میدهد:

- طرح موضوع پشتو دردلو ۱۲۹۱ ش (جنوری ۱۹۱۳)
- نخستین موج نشرات پشتو ۱۲۹۳ و ۱۲۹۴ ش.
- دومین موج نشرات پشتو ۱۲۹۵ و ۱۲۹۶ ش

چنانکه خواهیم دید، یکعده وقایع سیاسی، سبب تفریق این دو مرحله شده است و چون تفریق قاطع و درازمدت نیست، هر مرحله را «موج» نامیدیم.

ازمطالعهٔ این مراحل، یک عده نتایج استخراج خواهیم کرد، که این صفحه تاریخ ترقی پشتو راروشن میکند.

میدانیم که محمود طرزی، توجه بادب پشتو را از پدر به میراث گرفته بود. پدرش سردار غلام محمد طرزی افغان، با همشهریان کندهاری خود، همیشه پشتو می گفت، و محمود طرزی بخوبی پشتو میدانست. درسن ۲۶ سالگی بتاریخ ۲۱ جون ۱۸۹۱ او را مشغول صحبت با شاگردان یک عالم افغانی ملاجلند رآخند در یافا( فلسطین )بزبان پشتو می یابیم« سیاحت نامهٔ سه قطعهٔ روی زمین اثر محمود طرزی خوانده شود».

درسال دوم نشر سراج الاخبار، درشماره ۹ تاریخ ۳ دلو ۱۲۹۱ ( مطابق ۲۳ جنوری ۱۹۱۳ درمقاله یی تحت عنوان «زبان افغانی اجداد زبان هاست»موضوع راطرح میکند (رجوع شود به کتاب مقالات محمود طرزی صفحه ۷۵۶ تا ۷۶۳ )این مقاله دربارهٔ تاریخ زبان هاست : شعبه اریان سلسله کافکاسی رابیان میکند، و توضیح می نماید که این مطالب را از روی کتب (بزبان ترکی عثمانی) دربارهٔ اتنوغرافیا گرفته است :این شعبهٔ اریان درغرب کوه همالیا نمو یافت، ودرجوار کوه هندوکش ساکن بود. محمود طرزی همین مطلب کتاب علمی آنوقت راسند قرارداده مراجعه به زبان شناسی مقایسه وی میکند و پنج کلمهٔ پشتو پلار، مور، خور، وروr، ولور را به زبان های اندواروپایی مقایسه می نماید و نتیجه می گیرد که چون هندوکش درافغانستان است منشاء اریان در افغانستان میباشد. محمود طرزی توضیح می دهد، که همه این استدلالات بر حقایق تاریخیه مستند نیست ، بلکه بر استدلالات و تتبعات عمیقهٔ فکریه بنا یافته است . محمود طرزی نتیجه می گیرد: اگر چه حکم قطعی نمی دهیم امازبان افغانی جد زبان هاست .

حالانکه قضاوت علمی برین مقاله افگنیم قدرت فکر محمود طرزی را قابل قدر می دانیم. بیست و سه سال پیش از مقالهٔ محمود طرزی ، دانشمند فرانسوی ،جیمز دار مستتر بادلایل علمی اثبات و نتایج تحقیق خود را نشر کرده بود که ریشه زبان پشتو باریشهٔ زبان زند(یعنی اوستا) قرین است، و ریشه اصلی مشترک است (رجوع شود به تاریخ تلفظ وصرف پشتو -نشریهٔ مجله ادب ۱۳۵۶ ش)اما محمود طرزي از کتاب دار مستتر خبر نداشت تا بر آن استناد کرده مطلب خودرا تقویت میکرد.

[ده سال بعد از نشر این مقاله، چون در پاریس به عنوان وزیر مختار مملکت مستقل افغانستان

مقیم شد، کتاب دارمستتر رابدست آورد ومطالعه آنرا به فرزند ارشد خود عبدالوهاب محمود طرزی توصیه کرد] .

درشمارهٔ مابعد سراج الاخبار ۹ دلو ۱۲۹۱، دربارهٔ اهمیت زبان فارسی، در افغانستان و درجریان اسلام درگذشته وحال مقالهٔ مفصل نگاشته است: «مع صد ماالظهار یک تأسف و حسرتی است، چون زبانشیرین بیان فارسی راکه زبانساست وزبان رسمی دولت متبوعه مقدسهٔ افغانستان است ، با این بی بضاعه گی و بی سرمایگی علوم و فنون حاضر و عصر و زمان می بینیم که روز بروز درتنزل و فراموشی پویان میشود. هر نوع اثر بکاراست. آنسیکلوپیدی های پنجاه جلدهٔ متعدد بکاراست. بهجلد های تاریخ سیاسی وتاریخ حرب لازم است.... بجز هفت هشت اخبار(جریده) دیگر هیچ اخباری باین زبان پدیدار نیست...آه که درین خصوص بسیارگفتنی هااست» (مقالات محمود طرزی صفحه ۷۶۹ و ۷۷۰).

این بود طرح موضوع پشتو درسراج الاخبار درسال ۱۲۹۱ ( یعنی ۱۹۱۳) باذکر ضرورت ترقی زبان فارسی .( آنسیکلوپیدی پنجاه جلدی فارسی که آرزو داشت تاکنون بچاپ نرسیده است!)

نخستین موج نشرات پشتو ۱۲۹۳و۱۲۹۴ش (۱۹۱۴—۱۹۱۵)

---

پس از نشر مقالهٔ دلو ۱۲۹۱بحث موضوع رامعطل می یابیم. درسال ۱۲۹۲ نیز خبری ازین موضوع نیست درسال ۱۲۹۳ ش (۱۹۱۴م) ناگهان نشرات پشتو درسراج الاخبار آغاز میشود. این موج نخستین بیش ازیکسال دوام میکند، وسپس دراثر وقایع سیاسی وقفه یی می آید :

درشماره ۲۰ سال سوم سراج الاخبار، مطابق ۴سرطان ۱۲۹۳ (۲۵جون ۱۹۱۴) درفصل ادبیات، عبدالرحمن (لودین) محرر جریده مینگارد:

«سراج الاخبار بزبان فارسی طبع و نشر میشود. چون همواره مساعی درنشر و اشاعت علوم ومعارف است بالسنهٔ مروجه افغانستان، لهذا، سراج الاخبار افغانیه، این شماره و شماره های بعد خودرا بزبان ملی خود نیز تزئین میدهد.

اینست که درین مرتبه، بحصول یک قصیده ازجانب یکجوان بیدار دانشمند هموطن

ما، جناب صالح محمدخان، که یکی از مدرسین مکتب حبیبیه میباشد، کامیاب آمده د رذ یل به طبع و نشر آن پر داختیم. درخصوص عدم مو جو د یت حروف افغانی که معذ و ریم ، ازقارئین کرام رجای عفو داریم.

داخه عجب دوران دی چه را غلی پر افغان د ی !

رنگارنگه ترقی ده څه عجب محبوب عنوان دی .

(درهمین جا باید تذکر دهیم که درین زمان سراج الاخبار به طریق تیپو گرافی حروف چینی میشد ، و د شواری های ادای آواز حروف خاص پشتو ، درچاپ واقع گردید. قبلاً و بعدآدر پشاور چاپ پشتو ، به چاپ سنگی صورت می گرفت ، و این پروبلم آنجا وجود نداشت. این مو ضوع تاریخی مقالۀ جداگانه یی راایجاب میکند).

مو لوی صالح محمد کندهاری، فرزندفیض محمد هو تک، که درکندهار زاده بود (۱۳۰۷ ق).دران زمان بحساب شمسی ۹ ۲ساله بود، ودر مدرسه، شاهی کابل تدریس می کرد . نمو نۀ نظم دری او پنج ماه قبل (۲۲دلو ۱۲۹۲)بااین مطلع« اگر عا قلی تو ،مکن خواب غفلت»ومقاله نثر دری او درستایش علم یک و نیم ماه قبل(۲۱ثور ۱۲۹۳)درسراج الاخبار چاپ شده بود.

محمود طرزی، نمی خواست، پس ازین ، شماره های سراج الاخبار مدت زیاد بدون منظو مۀ پشتو چاپ شود. ازهمکار دیگر خود محرر جریده عبدالها دی ( یعنی عبد الهاد داوی)خواهش کرددرین راه همتی کند. درشماره ۲اسد ۱۲۹۳بزیر عنوان « احتیاج و اخبار ته»این شعر پشتوی عبدالهادی رامی خوانیم:

اخبار هر ملت ته، جانه، ضروری دی، واوره مانه!

درشماره ۳۱میزان، شعر دیگر مو لوی صالح محمد که دران ستایش امیر بمعنی استقلال افغانستان آمده است بچاپ رسیده:

شکر شکر باغ مو خپل،باغبان مو خپل دی!

درین مرحله،سراج الاخبار ، شعر پشتوی یک شاعر با استعداد راچاپ میکند ، که دران وقت بحساب شمسی ۳۸ساله بود، و آن عبدالعلی مستغنی است. شعر دری عبد العلی مستغنی راخوانندگان جریده سی سال پیش (شماره ۳جدی ۱۲۹۰) خوانده بودند (بیا ای سرو قد

لاله رخسار) . بعد از وارد شدن وسایل زنگوگرافی فوتوی مستغنی هم بچاپ رسیده واشعار متعدد دی بزبان دری ازوستا پش خوانندگان رادر داخل وحتی درخارج جلب کرده بود.

مستغنی ولدملا رمضان هوتک، دربالاحصار کابل زاده بودامانبارا ود رناخیه پشتو زبان ساکن بود، وبانجار رفت وآمد داشت . پشتو رابه نیکویی می دانست . شعر پشتو او را درشماره۲۸ ۲ عقرب ۱۲۹۳ تحت‌عنوان «تقریظ‌بزبان افغانی» می خوانیم :

دااخبار رنگین گلزار اردی، اخبارندی — چه‌هزاریی زه‌یم ،ولی گلزار اندی؟
مستغنی یم، زمانوم عبدالعلی دی — زه‌پشتون‌یم، په‌بل قوم‌ئي کارندی
فارسی‌شعرمي‌مشهوردی‌په جهان کی — په پشتوژ به می شعر شعارندی

درهمین شمارهٔمنظومه یی‌باعنوان«خطابهٔ منظومهٔافغانی» باامضاء م.ص.باتخلص افغان بچاپ‌رسیده‌است که غالباازمو لوی‌صالح محمدمی‌باشد(گرچه‌ص.م،نیامده):

خه‌احوال دی پر دنیا، — عبرت واخله ای دانا !

مو لوی‌صالح محمد نگارندهٔنخستین نظم ذوقی فکاهی چاپ شده پشتو در مطبوعات افغانستان است ودرشماره۷ ۲قوس‌همان‌سال، باامضای‌صریح‌او می‌خوانیم که دشواری کاریک کندهاری‌مقیم کابل درزمستان چیست :

په کابل کی‌چه ستیری، باربه وړی‌دصندلی !
که‌ئه لوږی‌هلا کیږی، غم‌به خوری‌دصندلی !

درشبانروزی که مو لوی صالح‌محمد کندهاری، زمستان کابل را، نشسته درپته صندلی گذرانید، گرچه شعر پشتو درسراج الاخبار چاپ نشد، مگر در روابط خارجی افغانستان تحولات‌عمده‌آمد.جنگ‌اول‌جهانی‌آغازشده‌بود.بتاریخ ۵نومبر (مطابق ۳ ۱عقرب) لاردهاردنج وایسرای هند،به امیر افغانستان اطلاع داده بود که دولت عثمانیه ، به طرفداری‌آلمان واتریش به ضدبرتانیه‌داخل جنگ شده‌است. وایسرای‌هند علاوه کرده بود، که دراینجا، سخن ازجهاد نیست‌زیرا«بزرگ ترین قدرت دوستدار مسلمانان جهان برتانیه است !» وایسرای اظهاراميد كرده بود، که امیرافغانستان‌بربیطرفی، که قبلا تضمین کرده و بتاریخ۳اکتوبر تایید نموده بود،پابرجابماند.

وایسرای، به لندن راپور محتا طانه یی نوشت مبنی بر ینکه ، مردم افغانستان طرفدار عثمانیه میباشند، واگر گماشتگان المان در افغانستان نفوذ کنند ، شاید امیر افغانستان مجبور شود راه بیطرفی را بگذارد. واقعاً لهجهٔ مقالات «سراج الاخبار» صریح یا کنایه، پشتیبانی از دولت عثمانیه بود، و بر خاطر حکومت هند بر تانوی گران می آمد. درهمین فضا بود شعر مولوی صالح محمد درشماره ۱۶ حمل ۱۲۹۴ (مطابق ۶ اپریل ۱۹۱۵) سراج الاخبار چاپ شده ، بز و دی دستگاه حکومت هند بر تانوی را تکان داد:

| | |
|---|---|
| ته کره د زمکی گوره | نظر و که زما و روره |
| دنیاده پرشور را غلی | تو رید لی قهر ید لی |
| لوی دو ل چه پر د نیادی | په یورپ که په اشیادی |
| ټول په جنګ سره اخته دی | په سرو و ینو آغشته دی |
| جرمن دې خدای ګمارلی | روس انګریزته شکارلی |
| انګریزان په ویراخته دی | ډیرمغموم خوراخپه دی |
| همت ګوره د ترکانو | د روسیانو عثمانیانو |
| ای زما برادرانو | ای جمله مسلمانانو |
| ښه فرصت دی خدای راکړی | ښه موقع دی پیدا کړی |
| چه کفا رسره اخته دی | په سرو و ینو آغشته دی |
| شکر یی و کی چه شی زیاد | کافران ټول شی برباد |

ترجمه انگلیسی — این مثنوی ۷ بیت چون به مطالعه اولیای امور هند بر تانوی رسید، نتایج عمده سیاسی ازان بار آمد.

دوسیه مکاتبات سری آن زمان اکنون در آرشیف ملی هند برای مطالعهٔ اهل دانش میسر است. استاگراسی عبدالوهاب محمود طرزی، در زمستان سال گذشته به دوسیه سندم ۶۰ و ما بعد دست یافت که نقل آنرا خواندم در ینجا نامه های ۴ دسمبر ۱۹۱۴ و نامهٔ ۳ مارچ ۱۹۱۵ وایسرا به امیر افغانستان و جواب ۲۳ مارچ ۱۹۱۵ امیر افغانستان به وایسرای در باره تایید بیطرفی آمده است. درین جا ستکه بتاریخ ۶ می ، سر روس کپل ، چیف کمشنر صوبه سرحد به ای.اچ. کرانت فارن سکرتری هند بر تانوی می نگارد که «یکنفر صالح محمد ازمدرسه شاهی

کابل» شعری بزبان پشتو نشر و بیان کرده است که، خداوند المان را در مقابل برتانیه بر انگیخته است. چون شعر بزبان پشتوست، مقصد از ان است که در صوبهٔ سرحد نیز اشاعــه یابد. پس باید اجازه اشاعه شمارهٔ ۱۶ اپریل سراج الاخبار، در قلمرو هند برتانوی داده نشود. ترجمه شعر با نگلیسی داده شده است. فضای حکومت هند برتانوی تب آلود شد. فارن سکر ـتری، به دایرکترسی آی دی یعنی استخبارات، سرچارلز کلیفلند نگاشت که سر محرر سراج الاخبار، وصایای امیر را نادیده گرفته، دوباره راه دیرینه خود را گرفته است مدیر سی آی ی در جواب نوشته است، که به عقیده او، امیر افغانستان از تحریك ملت خود برضد برتانیه دست می گیرد. به یکنفر سولابخش هدایت داده می شود تا ترجمه های انگلیسی به پشتو را ملاحظه و تصدیق کند، و او تصدیق می کند. بتاریخ ۲۰ می، وایسرا نامه شکایت امیز به امیر افغانستان می نویسد، تا لهجه خشونت آمیز «سراج الاخبار» اصلاح شود، و امیر افغانستان بتاریخ ۲ جون، جواب تحریری می دهد که به مدیر سراج الاخبار تذکر داده مقالات اشتعال انگیز نشر نکند.

ازاحوال دشوار سراج الاخبار ومحمود طرزی در این ایام و ایام دیگر، قرینانش چون عبدالهادی (داوی) خاطراتی دارند.

این جریانات سیاسی را درینجا خلاصه کردیم، زیرا سبب خاموشی موج اول نشرات پشتو در سراج الاخبار شد. ازین زمان تا یکسال دیگر، آثار مولوی صالح محمد در سراج الاخبار بمطالعه نرسیده ضمناً باید تذکر بدهیم، که بتاریخ ۷ سپتامبر ۱۹۱۵، هیئت المانی بریاست سیاسی فون هنتیگ و ریاست نظامی نیدرمایر (که از المان براه، ایران آمده بودند) از هرات بسوی کابل حرکت کردند. و بتاریخ ۲۶ سپتامبر بکابل رسیدند) (۳ میزان) سراج الاخبار حتی مجاز به نشر این خبر عمدهٔ سیاسی نبود. ز عمای ازادی خواه هندی چون مهندر اپرتاب، مولوی برکت الله، و نماینده عثمانی کاظم بیگ نیز با این هیئت بودند. بتاریخ ۲۴ جنوری ۱۹۱۶، مسوده معاهده بین این هیئت و افغانستان نشانی و دستخط شد. در اثر این جریان، یعنی اقامت چندماهه هیئت المانی و عثمانی و آزادی خواهان هند در عمارت باغ بابرشاه بر «سراج الاخبار» قیدهای مزیدآمد

دریںجا ست که‌شاعر دیگر پشتو، کا رمولوی صالح محمدرا میکند و آن غلام محی‌الدین افغان است. وی اصلاً از کندهار بود به هند تبعید شده بود. درانجا زبان‌های اردو و بعضی دیگر زبان‌های هندحتی سانسکریت را آموخته بود. (مقالات محمود طرزی ص ۶۳۵) پدر من مولوی عبدالباقی، که‌شاگرد دارالمعلمین سراجیه بود، تا زنده بود ستایش دانش، نیکو دلی، و وطنخواهی، صراحت‌لهجه و وارستگی وجوانمردی آن استاد خودرا می کرد. سرپرستی دارالمعلمین سراجیه باو سپرده شده بود. دری رابه لهجه پشتو سخن می گفت.

درشمارهٔ ۱۰ ثور ۱۲۹۳ غزل‌او بچاپ رسیده بود:

زره‌خما دك دی له‌مینی‌د وطن خپل‌وطن‌ما ته‌عزیز دی‌تر خپل‌تن

درشمارهٔ ۱۸ میزان همان سال‌قصیدهٔ ای ازوی می خوانیم:

امیدمکره‌چی‌همیش‌به‌یی‌خوشحال په دنیا کی دی‌هرخه‌لره‌زوال

محمود طرزی شاعر دیگری هم سراغ داشت وآن همان‌مستغنی بود که در شمارهٔ ۱۶ جدی ۱۲۹۳ همان سال‌این غزل راتقدیم کرده:

په‌عالم کی‌خه‌غوغاده نه‌پوهیږم چی‌دروغ ده که‌رشتیانه‌پوهیږم

محمود طرزی و همکارانش به‌ادب کلاسیك پشتو نیز توجه کردند. و درشماره ۱۸ میزان همان‌سال، خوشحال‌ختك‌معرفی شده نمونه‌های‌شعرهای‌پښتوو دری‌او رانشرشده است (مقالات‌محمودطرزی ص ۷۹۰).

خبرهای جنگ دوم‌جهان، نویسندگان وخوانندگان سراج‌الاخبار رابه‌هیجان آورده بود، ومحمود طرزی امکان چاپ این شعر غلام‌محی‌الدین افغان رامیسر دید:

زما زره‌دوینو ډك دی بیقرار نن ستم دکافرانو شو بسیار

مهمترین اقدام سراج الاخبار درین سال درشمارهٔ ۲ سنبله مشهود است. درین محرر جریده عبدالهادی، شعری نشر کرده:

پشتو ژبه ده شیرینه هم فصیحه هم متینه

درهمین شمارهٔ، محمود طرزی مقاله عمده یی درباره ضرورت تدریس زبان پشتــو نگاشته است. وی تبدیل زبان دفاتر ومحاکم رسمی را مشکل تشخیص می کند« مقالات محمود طرزی ص ۷۷۲» اماجدیا نه اصرار می ورزد که « زبان افغانی را محافظه

کنیم. در ترقی و اصلاح آن جداً کوشش ورزیم» (ص۳۷۷). «تنها سردم افغانی زبان رانه بلکه همه افراد اقوام مختلفه ملت افغانستان را واجب است که زبان افغانی وطنی و ملتی خود را ایاد بگیرند» محمود طرزی به «انجمن معارف» توصیه میکند که موضوع تدریس زبان پشتو را در نظر گرفته کتب تعلیمی را برای آموختن آن تدوین و حاضر کند و برای آموختن «کلمات فنی و صناعتی» بکوشد (ص۳۷۷).

در اخیر میگوید:

«ای نو نهالان چمنستان وطن!

زبان ملتی افغانی خود را تقدیس نمایید، و دوست دارید، و در آموختن آن بسیار کوشش کنید زبان رسمی و سیاسی فارسی خود را نیز بسیار دوست داشته، بخوبی تحصیل کنید».

باین صورت، محمود طرزی (باآنکه وایسرای هند به امیر افغانستان نامه های می نوشت مطالب عمده خود را نشر می کرد، و از آخرین حداسکان اظهار مقصد استفاده می کرد. همان بود که از غایت شوق، از ین حداسکان هم جان نثارانه پافراتر گذاشت و بتاریخ ۱۶ جدی مضمون شورانگیز استقلال طلبانه «حی علی الفلاح» را برضد برتانیه نوشت و سخن بجایی کشید که حکومت امیر آن اوراق جریده را ضبط کرد، و محمود طرزی مجبور گردید، بجای آن مقاله دیگر مضامین را برای پر کردن صفحات جریده بکار برد (صفحه ۳۷۹ «مقالات محمود طرزی») بعد از ین واقعه، نشر مضامین پشتو مدتی بکلی قطع گردید و در زمستان ۱۲۹۳ و آغاز بهار، سراج الاخبار نه شعر یا مقاله پشتو، و نه مضمون سیاسی عمده دارد.

موج دوم نشرات پشتو ۱۲۹۵ و ۱۲۹۶ ش (۱۹۱۶ و ۱۹۱۷ م)

محمود طرزی و همکارانش، در بهال سال ۱۲۹۵ برای اظهار مقصد چاره ای سنجیدند نخست، حصول امکان مجدد چاپ اشعار مولوی صالح محمدخان بکار بود. باین مقصد، شعری که نزد شخص سراج الملة هم قابل قبول بود یعنی «اطاعت اولو الامر» در شماره ۲۹۵ حمل از و بچاپ رساندند. اطاعت داولی الامر فرض عین دی .....

در شمارهٔ ۱۳ جوزا هم مخمس او را بر غزل رحمان بابا به نشر رساندند:

دوړ یر عمر تمنا کوی تر کمه ؟

غزل شمارهٔ دلو ۱۲۹۵ از مولوی صالح محمد بهمین وزن است:

تەچی زلفد یارمشكو عنبر بولی        بەداچین کی‌بە خطا کوی ترکمه؟

درشمارهٔ ۰ ۱ اسد ازاشعارشورانگیز خوشحال‌خان‌ختك انتخاباتی نشرشده :

پشتانه کەآدم زاد دی ....

قصیدهٔ عبدالرسول‌محمدزایی ازکابل درشمارهٔ ٥ قوس آمده است :

سینه راشه‌په سروا‌ږه‌وه گلگون ساغر .

درشماره۸ سنبله ١٢٩٥ میرزا عبدالرحیم برغزل فوق‌الذکرغلام‌محی‌الدین‌افغان‌مخمس‌سروده‌است دیرښادخپل مولا کړم‌چی‌اوطان‌موخپل دی‌بیوگرافی‌و یکتعداداشعارشاعربنام«عبدالرحیم‌رحیمی» ذریعه‌عبدالله‌بختانی‌تدوین‌ودرسال ١٣٣٥ ش‌طوریک‌رساله‌از طرف‌انجمن تاریخ طبع گردیده‌است درشمارهٔ ۱ قوس، زیرعنوان«حسیات‌ملی» این شعرملامحمدخان‌عرض‌بیگی(افغانی‌نویس) آمده‌است:

افغانستان خلق زمری‌په‌افکار بەشی        خیال‌دبدو رتەمکړی! نگو نسار بەشی!

درهمین شمارهٔ یك‌مخمس غلام‌محی الدین افغان، برغزل‌رحمن‌بابادرج شده:

خوکچی ورك‌له‌خپل وطن دی.....

و نیزغزلی ازخود غلام‌محی الدین :

بیکمال دبا کمال کله‌همسر دی .....

درشمارهٔ ۹ عقرب مخمس غلام‌محی‌الدین افغان برغزل رحمان‌باباخوانده میشود :

جاردی‌شم ترنام   —   راشه راشه !

درشمارهٔ ۲۰ جدی باز شعری ازغلام‌محی‌الدین‌افغان آمده است‌که بیانگریکی از عقاید عمدهٔ روشنفکران مسلمان‌آن عهد بود :

سوړ کەښه‌تعلیم‌یافته وی‌دآثار        هم‌کامل وی‌د صنعت دکارزار

درشمارهٔ ۱٦ جوزا ۱۲۹٦ زیرعنوان «رؤیای‌صالحه» مخمسی ازو بچاپ رسیده است

خەعجبه خوب‌وو‌چی‌می‌و لیده‌سحر .....

فعالیت غلام‌محی‌الدین بەدیگر زمینه‌های تحقیقات پشتو گسترده شده در شمارهٔ ٥حوت ١٢٩٥ وی‌م۰ ۱ ضرب المثل پشتو رابزیر عنوان د پشتو مشهور متلو نه نشرکرد. در شمارهٔ۹ ۱حمل۱۲۹٦ مقاله‌یی درمعرفی افغانستان نگاشت :

«...داملك‌دهندوستان‌بلوچستان‌دایران...(دراخیر)...فصاحت‌او بلاغت‌نهایت‌مشهور ردی. »

درشمارهٔ ۳۰ سرطان ۱۲۹۶ این اعلان عجیب را نشر کرد :

«که غوك غمایادبل دپشتو پهمضامینو باندی خه ایراد لری، هغه دی خپله مدعا په پشتو کی ولیکی. که بنده دهغه لهجواب عاجز شه، هغه ته به ۵ روپی بطور دانعام ورکرم.»

برگردیم بهسال ۱۲۹۵: درنزدیکی زمستان، بعدازمسافرت سالانه سراج الملة از کابل بهجلال اباد، محمود طرزی و همکارانش قدم دلاورانه دیگر برد اشتند وآن چاپ شعر «پریشان» (نام مستعار عبدالهادی داوی) تحت عنوان «بلبل گرفتار» درشمارهٔ ۵ دلو بود :

سحر گهی بشنیدم ز بلبلی بهقفس که سردم از غم و درددلم نپرسد کس

این شعر شورانگیز نزد همه روشنفکران معنی آزادی طلبی افغانستان رادربرداشت پنج ماه بعد ازین درشمارهٔ ۲ جوزا ۱۲۹۶ زیرعنوان « ادبیات ملی » ترجمه پشتوی این مسدس بزبان «افغانی شکر بار قندهار» بقلم مولوی صالح محمد چاپ شده است:

یوسحر زمادغوږشوله بلبله .....

استاد عبدالحی حبیبی (درکتاب درسی تاریخ ادب پشتو – صنف چهارم پوهنځی ادب ۱۳۳۷ ش) می نگارد که زنان کندهار این شعر رااز بر کرده می خواندند و از تاثیر محبت وطن می گریستند .

(متن کامل مسدس راحبیب الله رفیع دراخیرمقاله «پشتو ادب دپیړیو په پوړیو کی» چاپ سدیریت سالنامه وزارت اطلاعات و کلتور، درمجموعه «نقش فرهنگی افغانستان در عهداسلامی»، ۱۳۵۵ ش آورده است. )

درهمین شمارهٔ مکتوبی بزبان پشتو بقلم مولوی صالح محمد بچاپ رسیده است که دوستون را فرا گرفته است :

(.....ای لوی فاضله او په غوښتونکی دوطن.....دااول پښتو مکتوب دی په خدمت د سراج الاخبار درولیږم......)

محمود طرزی درهمین شمارهٔ ۲ جوزا ۱۲۹۶ یك سرلوحه (کلیشه) تاسیس می کند با این عبارت: «ادبیات ملی—فارسی—افغانی . هرقوم بزبان خود، هر زبان به ادبیات خود زنده می ماند.»

درشمارهٔ مابعدزیر همین کلیشه می نویسد:

«چنانکه جناب ملاصالح محمد درمکتوب افغانی بسیارسلیس و روان خودش که در شمارهٔ گذشته سبقت نمود، فرموده است، درینوقت به هیچ مکتب افغانی خوانده نمی شود، بدست هیچکس کتاب افغانی دیده نمی شود. چنین کتابی هم بافغانی نیست که انسان بدرد احتیاج این زمان استفاده ازان بکند، مگر یك چند دیوان های اشعاری که انهم در ستایش محبوب است و بس!»

محمود طرزی درهمین شمارهٔ پروگرام نشرات فارسی و افغانی اقسام شعر، اقسام نثر ضرب الامثال راطرح میکندو ضمناً نشر لهجه های هزارگی، پنجشیری ،صرف کابلی شهری، قندهاری هراتی، اوزبکی و غیره راوعده می دهد، ومی نگارد که بلهجه افغانی هر رقم غزلخوانی وچاربیت سرائی رانشرخواهد کرد(ص ۹۷ مقالات محمود طرزی) .

سراج الاخبار درشمارهٔ ۱۶ جوزا بزیر همین سرلوحه (کلیشه) شعرسیدمحسن قندهاری (متذکره فرهنگ زبان وادبیات پشتو—اثرزلمی هیوادمل—۱۳۵۶، ص ۳۰۲، راچاپ کرده است:)

پرآسمان دعزت نمردی غوریدلی......

درشماره ۱۱ سنبله قصیده افغانی ازکلام عبدالسلام آمده است

اول حمددهغه پاك پروردګاردی

چی معزد ممکنات پهمقداردی.

اوسط صفحه ۹۰۳ درفرهنگ زبان ادبیات پشتو—اثر زلمی هیوادمل ۱۳۵۶ دیده شود.

درپائیز ۱۲۹۶ یك کتابی خطی شعر پشتو وازنویسندهٔ آن بدست می آردوان «تهذیب الواجبات» است درشماره ۲۵ میزان مدحیه آنرا چاپ می کند :

فخر دین شمع دولت داحمدی ملت سراج

درشماره های مابعد دیگر اشعار «تهذیب الواجبات» آمده است:

دپشو پس خورده نهخورم.... (۹ عقرب)

دومسلکهدی پهسو بکی ...... (۹ جدی)

..... (۹ ۲ جدی)

نوآسوزه، پاکهلوحه چی لیکی..... (۹ حوت)

مولف این کتاب ملاعبدالباقی کندهاری است که از غایت تواضع به‌چاپ نام‌خود موافقت نمی کند. این کتاب بنام تبیین الواجبات بعداً در لاهور چاپ شده‌است (پشتو پانګه) — اثر حبیب‌الله رفیع—جلددوم ص ۳۸۹) نسخه‌خطی آن درخانواده‌مولوی صالح محمدمحفوظاست چنانکه می دانیم درسال ۱۲۹۷ پس‌ازچندماه دشوارشمع سراج الاخبارخاموش می شود کتاب («مقالات‌محمودطرزی» ص۵۰۲ دیده‌شود). امادرحوت ۱۲۹۷ (فروری۱۹۱۷م)عهد دیگر درافغانستان آغازمی گردد.

نتیجه :

تازمان چاپ‌سراج‌الاخبارو یادقیق‌تر بگوییم، تاسال ۱۲۹۳ش ( ۱۹۱۳ م ) چاپ پشتو درافغانستان منحصر به چندرساله کوتاه تبلیغ دولتی یادینی و یاتعلیم نامه عسکری بود، که به‌طبع سنگی به‌چاپ رسیده بود. سراج‌الاخبار،نخستین جریده وطن است که درراه‌نشر نظم (و بعضی مضامین‌نثر) پشتو قدم برداشته است. تعداد شاعران پشتو باسراج الاخبار درارتباط باشند، انگشت شماربود. جریده پیوسته طالب اشعارزیبای شعرای پشتو بود سراج‌الاخباردرخارج وازان جمله درسرزمین های محکوم‌برتانیه ، وبطور خاص د پشاور و بعضی دیگرنقاط پشتو زبان خواننده داشت( کتاب مقالات محمود طرزی صفحه ۸۳۱خوانده شود.)

بنابرین، حکومت هندبرتانوی، سراج‌الاخبارومدیرآنرا دشمن منافع خود می شناخت خاصه اینکه اظهارطرفداری سراج الاخبارازدولت عثمانیه ، منافی بیطرفی افغانستان درجنگ جهانی می‌شمرد.

پشتو نویسان سراج‌الاخبارسه دسته بودند :

—دو شاعر برجسته یکی مولوی صالح‌محمدو دیگر غلام‌محی‌الدین‌افغان.

—دو شاعر که‌گاهی شعر پشتو نشرمی کردند. عبدالهادی‌داوی‌و عبدالعلی مستغنی .

—چندشاعر دیگر که شعر ایشان درسراج‌الاخبار اندک آمده است مانند ملامحمدعرض‌بیکی (افغانی‌نویس) ملاعبدالباقی قندهاری‌.سیدمیر محسن‌قندهاری، عبدالسلام‌و عبد الرسول‌محمد زایی‌.مجمل نظریات محمود طرزی و همکارانش ، یعنی نظریات سراج الاخبار در باره زبان پشتو چنین است :

۱- پشتو و دری، زبان‌های قاطبه مردمان افغانستان بوده مال خاص هیچ قوم نیستند تا ئیداین دو زبان جزملت خواهی (ناسیونالیزم) همه مردمان افغانستان می باشد .

۲ - تدریس زبان پشتو، برعلاوه زبان دری درهمه افغانستان لازم است.

بعد از استرداداستقلال‌افغانستان‌و غلبه‌سیاسی‌روشنفکران ملت خواه درعهد امانیه، تاثیر قاطع این نظریات را، درزمینه ترقیات ادب و تدریس زبان پشتو درمی یابیم .

داکتر محمد حسن کاکړ

# پښتو او دفتر په دوو روستیو پېړیو کې

پښتو په اتلسمې پېړۍ کې دافغان ددولت په تاسیس سره سم لا سه دفتری ژبه نه شوه. یوازې دنونسې پېړۍ په وروستۍ خلورمې کې دفتر ته دننوتلو لومړي پړاو ته وختله مګر داژبه په همدغو دوو پېړیو کې دننه دافغانستان په ډېرو ولسونو کې ښه خپره شوه، او داکثریت دژبې په حیث یې بېخ لا هم ټینګ شو ددغې لیکنې مقصد د پښتو دژبې همدغه دوه حرکتونه په لنډه ډول مطالعه کول دی.

الف— پښتو په ولسی سویه

په اتلسمې او نولسمې پیړۍ کې دپښتو سیر دپښتو په دریو سترو ولسونو یعنی درانیو، غلزیو او بر درانیو ( ۱ ) کې یوشان نه و. په همدغه ډول دپښتو سیر هم د پښتنو په همسایه خلقو کې او هم په غیر پښتو ویونکوولسونو کې فرق لاره ددغه حقیقت دتوضیح دپاره په لنډ ډه مخکې زماني په نظر کې ونیسو.

---

۱— دسلیمان دغر و او شاو خوا پښتانه ولسونه لکه اپریدی، شنواری، ختکک، یوسفزایی، مهمند او نور دوی دلومړی ځل دپاره احمدشاه درانی دبر درانیو په نامه ونومول، مګر څنګه چه ددوی هرڅا نګړی ولس په خپل نامه ډېر مشهور و، په بر درانیو یاد ونه شول.

دبغدی، غور، غزنی اود سلیمان دغرو او درو، سیمی د پښتنو لومړنی ټاټوبونه دی.
پښتانه له همدغه ځایو څخه دتاریخ په اوږدو کې یوه خوا بله خواليږ دیدلی دی (۲) مګر ددوی تمیز دلوسیت له مخې تر ډېره وخته پورې ښه معلوم نه وو، په دیارلسمی پیړی کې دچنګیز خان له تندرنه و روسته دپښتنو دسترو ولسونو تمیز یوڅه واضح شو، دچنګیز خان په تندر کې له آسونه تراباسینه پورې چه یو وخت یې ازښارونه لرل مخصوصاً د ښارونو او کتو کليو او سیدونکي ووژل شول، مګر د سلیمان د غرو او درواو سیدونکی پښتانه تر ډېر حده ماسون پاتې شول. دغه پښتانه له هغه وروسته ورو ورو په لویدیځو او ختیځو سیمو کې خپاره شول.
ابدالیان (یادرانیان لویدیځی خواته ترهرات اومشهده پورې لارل، اود غلزیو څه برخې دګومل او غزنی له سیمونه ترکندهار پورې ورسیدلې د وروستیو یوڅه برخې وروسته د مشهدخواته پرارشولي په عین حال کې د دوی څو خیلونه دکوچیانو (یا پوونډوو) په نامه دبخارا او شمالی هندوستان ترمینځ سیمو کې موسمي لېږدته دوام ورکړ او یو څه یې این کلکتې او برماته تلل راتلل. ۳ یوازې د بردرانیو کتې برخې دپخوا په شان دسلیمان دغرو په درو کې په ځای پاتې شولې. مګر د دوی اضافی نفوس په وخت په وخت یوه خوا بله خوا تلل. په دغه لړ کې د نولسمې پیړی په وروستیو شلو کالو کې له دوی نه ډېر خلق د هندوکش نه اخواهوا رو سیمو کې هم مېشته شول.
په دې ډول په دغو پېړیو کې دپښتنو په خوړېدو سره دپښتو ژبه تر پخوانه ډېره له نوروژبوسره په تماس شوه په ژبني سرحدات و اوښتل راواوښتل، اودژبو د متقابل تاثیر ساحه ښه پراخه شوله.

---

۲—داموضوع دلیکونکی په دغی ناچاپ شوی رسالي کې په تفصیل سره څېړل شوی ده: افغان، افغانستان و مختصر از کوشش های افغان ها برای تشکیل دولت درهندوستان، فارس و افغانستان ،دراثر یه ازد کابل پوهنتون له خوا خپور شي.
۳—دتفصيل دپاره وګوری دلیکونکی دډاکتری ناچاپ شوی تیسس په نامه دافغانستان دامیرعبدالرحمن خان دامارت په دوره کې: ۱۸۸۰—۱۹۰۱، دلندن پوهنتون، ۱۹۷۵، مخ ۲۳ ۲ دااثر به په نږدې آینده کې دامریکې دتکساس د پوهنتون له خوا چاپېشي.

دافغانستان په‌لېږې لو ید یځو سیمو کې ددري ژبې اثر په‌پښتو پر یوت ، او په خاتیځو سیمو کې اردو او و روسته انگریزي په پښتو موثره شوه،داتاثیرات په‌ځینو سیمو کې دومره قوی و وچه دهغو په‌اثر هغو پښتنو خپله ژبه هېره کړه‌کوم چه‌له افغانستان څخه‌دباندی سیمو کې خپاره شوی‌وه لکه لو دیان ،سو ریان نیازیان او یوسفزا یې او نو ر په‌هندوستان کې،او دغلزیو یوڅه برخې دمشهد په‌شاو خوا کې دهرات په‌سیمی کې ددرانیو ځو خیلو نو – سدو زایې او نو رزایی – هم‌پښتو له‌لاسه‌و رکړه اودری و یونکې شو لې. خو په خپله‌دکندهار په‌کنو درانیو ولسونو کې مخصوصاً ددوی په‌علمی‌کورنیو دولتي لو ړو ماموړانو، او واکمنې کو رنی کې‌دري شه‌نفوذ و کړ. په‌عمو می ډ و له په‌دوی کې‌پښتو او دري یادافغانستان دوا ړو ستر و ژبو ځای و مو ند په‌دوی کې داڅه قوی شوه چه دپښتنو به ځای په دری لیکنی وکړی داحمد شاهابانه‌پرته‌چې‌هغه په‌پښتو کې اشعار ویلی نو ر و درانیو وا کمنو شاعرانو په دری کې شعرونه وو یل داسی هم په کندهاری سرداراتو کې دطرزي‌کورنی‌په دری شعرو یلو کې‌نوم وکاټه او دکندهار لو یو مو رخانو لکه سلطان محمدراني او نو رمحمدنو ری‌په‌دري کې‌اثار پرېښودل حتی په‌اوس وخت کې‌هم ددې سیمی هغو نومیالیو لیکوا لو چه‌په لوړی سر کی یوازې په‌پښتو کې‌لیکنی کولی، له‌ډېره وخته راهیسی په دوا ړو ژبو کې لیکنی کوي. په‌یوې یلي‌سو یی کی‌یعنی دکندهار په‌ځینو کوچیو درانیو کې دری‌دپښتو ځای ونیو ، داهغه درانی کوچیان‌دی چه‌دغو راتوله‌دري‌و یونکو ولسو نوسره له‌ډېره وخته راهیسی په‌تماس شوی‌دی. پروفیسر کلوس فردیناند لیکی: «په‌لو یدیځ افغانستان کې یوزیا ت شمېرمالدارو خپله اصلي ژبه هېره کړې اودري و یونکی شوی‌دی .»دی زیاتوی چی «څنگه چه‌کولتو ری اوچاپېریالي بند یز و نه نه‌شته، اسکان لري چه په‌زیاتی مو دی کې ددغو مالدارو ځینې برخې ایماق وگرزي.... لکه څنگه دا د رسکن دشا وخوا نو رزایې دري و یونکي شوي‌دی.»[۳] البته لکه څنگه چه دمخه وو یل شوه په‌یو رته‌یاد شویو ولسونو کې دژبو تاثیر دوه اړخیزه ،دی، مگر په‌دې کې شک نه شته چه‌په پښتنو باندې ددري اثر ډېر دی، او دادلاندې عواملو له‌امله:

---

۳ – کوچیتوب په‌افغانستان کی،بو دابست، کال،۱۹۶۹ ،مخ ۱۳۹

۱ — **لههر اتسره تماس:** هرات پهثقافي او ژبني لحاظ زمونږ ددري ژبې يوه ډېره با نفوذه سيمه ده، مخصوصا دمنځنيو پېړيو څخه راپه دې خواچه پښتانه ترېنه روه نه ولېږدېدل. ٥ پههرات کې ددرې کېدو عمليه دوسره قوي ده چه څه وخت چه هلته داولسمي او اتلسمي پېړۍ پهاخر او پهسر کې درانيان و اکمن شول درې هم پهدوی سخت اثر وکړ. نور قومونه هم چه د تاريخ پهاوږد وکې هلته سيشتهشول وروو روبې خپلي ژبې هېرې کړې او درې ويونکي شول خوداسي بايدفکر ونهشي پهدهرات پهسيمه کې افغاني احساس کمزوری دی نه پهدې سيمې کې دنسب ،تاريخ او احساس پهلحاظ افغاني روحيه ښهقوي ده او دغه احساس مخصوصا دخارجي يرغلونو پهوخت کې پهډېر قوت سره ښوول شوی دی .

۲ — **ملي استحکام.** دافغانستان واکمنې کورنۍ ددې دپاره چه هېواداداره او دولتي او ملي استحکام ته پوره تحقق ورکړي درې يې، دنوروو سيلو په ترڅ کې ، د بيوروکراسي وسيله وګرزوله او ددولتي ارګانو لهلارې يې دهغې په خپرولو کې کوښښونهوکړل .

۳ — **دکاروبار —** پښتنو دافغانستان پهازاد پدوسره دنورو ملکونو دنيولو ،دوطن نه ددفاع کولو او دواکمنو دپياوړي کولو پهمنظور ستر رولونهدځان کړل پهداسي حال کې چې دوې د مخهدنورو واکمنو اجيران کېدل په اتلسمي اونولسمې پېړۍ کې جنرالان (سرداران) ،حاکمان او زمينداران شول دبزګري ،کسب و کار، کتابت اوحتیسودا ګری کاردوی پهزياته اندازه لوږونه پريښود. دکاردغه وېش دکندهار پهسيمې کې مخصوصاً واضح و.هغه وخت چه درانيان د نادرشاه افشار او احمدشاه دراني په وخت کې وروسته لههغه چهدګرګين خان لهلاسه پراړشوی و و، پهکندهار کې بيامېشته شول، د دغې سيمې دوم—دريمه برخې مځکې دقومي پهاساس پهدوی باندې ووېشلې شولې .

---

٥ — افغان،افغانستان و مختصري از کوشش های افغان ها برای تشکيل دولت در هندوستان فارس و افغانستان ،دليکونکي ناچاپ شوی تاليف مخ ۲۱

او په هغه اول سر کې غير درانې قوسونو ددوی بزگری کوله ۶ قر ير يو فرانسوی سياح ليکي چه «همداچه يو افغان لهخپل سافوق شخه د کوسې مځکې امتياز ترلاسه کړی ، هغه له يو څو غويو سره فارسيوان تهسپاري، او دی يې ورته کري او ريبی .»۷ دکند هار فارسيوانانو ددرانيو سردارانو او زسينداراتو سستخدسينو په حيث ددوی دعوايد او جاگير داريو دحساب او کتاب وظيفه په غاړه لرله ۷ الف پخپله درانيو، او پهحقيقت کې په عموسی ډول پښتنو په هغه لوسړی سر کې حساب او کتاب او علم او ميرزائی تهمخه نه کوله. محمود طرزي ددې پېړی پهسر کی دهغهوخت داحال داسې بيانوي: «از طبقه عصر سابق ، هيچ يک خان زاده سردار زاده، در تمام افغانستان نيابيد، که انها از علم حساب، هندسه، ياسياق و اقوام (که بميزا يی متعلق است) وعلوم فقهه ،وحقوقيه، که بفيضله دعاوی و یاصرف، نحو، منطق (که بهسلايی متعلق است) هيچ بهره يې داشته باشد ، و اگر باشند، بسيار کمياب ، که انها هم هدف همان تحقيرها و استيزا هاشده اند، که در گذشت!۷ ب سگر لکه څنگه چې دمخه يې ذکر وشو پښتانه دتوري او سيراني په دگر کی بی جوړی وطرزی ليکي : «سردم افغانستان [ سطالب افغانان دی] خلقتا خودها را بصف شمشير سنسوب سيدانند نه قلم !اهل قلم را «سيرزا» و ارباب علم را «سلا» گفته انها را دو صنف مخصوص سی شمارند

---

۶ــ«د درانې قاسونو په باب راپور، ۹ د اپريل ۱۸۴۱ » ، هنريسی رالنسن اقتباس پهسرکزی اسيا، دو همه برخه دافغانستان دتوپوگرافی، اتنولوجی، سنابعو او تاريخ دښې پېژندنې پهبابت يوه سطالعه، سی، ام مک گريگر، کلکته، ۱۸۷۱، مخ ۳۸۲ دراپور د افغان درسمی اسناد و او دفترونو له مخې تهيه شوی دی

۷ــدافغانانو تاريخ، چې. پي. فرير ا، انگريزی ترجمه دوليم جيسی ، لندن، ۱۸۵۸، مخ ۳۲۰ فريرداهم ليکی (۳۲۰) چه دښارونو او سيدونکی داطرافی شتمنو نوکران دي

۷ الفــتاريخ سحاربه کابل و قندهار ، سنشی عبدالکريم ۱۸۴۷، دطبع ځای نامعلوم، مخ ۳۱

۷ بــسقالات سحمود طرزی در سراج الاخبار افغانيه ۹۷ــ۱۲۹۰ ش ، تولونکی داکتر روان فرهادی بيهقی موسسه، کابل، ۱۳۵۵، مخ ۲۳۲ پدی وسيله له ډاکتر فرهادی نهسننه کوم چه ددغه کتاب يو ټوک يې ماته اهدا کړی دی.

که‌بعالم افغانیت هیچ سروکارندارند .)۷ج.

دکار ددغه و پش تاثیرات ډېر او عمیق وو.په عمومي ډول پښتانه په‌اطرافی سیمو کې پاتې شول اوحکومتي ،تجارتي، اوښاري مرکز ونو ته نور و مخه‌وکړه.۷ه دښارونو داوسېدونکو داصل او نسب په لحاظ نظر اواطرافی سیموته متنوع شول . مګر په‌ښاري اوسېدونکو کې قومي اوسیمه ییز احساسات یاډېر ضعیف او یاورک شول.[۱] له دې سره درې په‌ښارونو کی قوی اوخپره شوه اوله هغوځایو نه‌څخه یې په‌اطرافی کلو ولسونو اوحتی په‌سوچه پښتو ویونکو سیمو کې هم نفوذوکړ. داسې‌هم په هغو حالاتو کې چه‌غیر پښتانه بزګران ددرانیو زمینداراتو همسایه یادهقانان شول د درې نفوذ په دغو زمینداروانو کی ډېرشو. دلته د دراینو کوچیان چه په غوراتو کې‌د

۷ج—ایضاً،مخ ۱۲۳.طرزی (مخ ۱۲۳)په حربی فن کې د یوه ځوان افغان تربیه کېدل داسې بیانوی: «...درنزدعموم افغانها یک افغان بچه آنست که چست چالاک بهمراتفنګ ،برکوه‌ها برجهد، خوب‌نشان بزند، تفنګ چقمقي یا فتیله یی خود را به بسیار زودي وچابکی، پروخالی کند ، شمشیر ، سیلاوه، پش قبض‌راخوب استعمال نمایند ! واګر ازصنف خانزاده واصیل‌زادګان باشد—برسراین چیز های ضروري التعلیم میباید که ، اسپ‌تازی ونیزه بازی، وتفنګ اندازی وشمیشیر بازی رابرپشت اسپ هم‌بتواند بعداز اتمام این سهمات اګر یک قدری خواندګی ونوېسندګی هم بیاموزد جائز است اما با زهم بدرجه«میرزایي» یا«ملا یی» نباید پیشرفت! زیرا،برای یک اصیل‌زاده وخان زاده‌افغانی ، نسبت «میرزایی»و«ملایی» ازچنان‌نسبت‌های محقرانه نبود،که‌کسی‌انراهضم بتواند!....»

۷د— الفنستن (۱۸۰۹) لیکی :چه‌اروتېا یانوته سمکن داعجبه معلومه‌شي چه په‌افغانستان کی‌بادارخلق‌په‌ښارونو کی نه‌اوسی دی‌زیاتوی چه‌دنورسن له‌یرغل نه وروسته په انګلستان کی هم همداحال و،لکه څنګه چه اوس ازبکان همداسی دی اویا ترځه‌حده په‌فارس کی‌هم همداوضع ده‌ددی‌وضع دلیل ،دده په‌نظر ، دادی‌چه حاکمو خلقو دستوداګری کسب ته‌په‌ښکته‌نظر کتل ځکه چه په‌دی صورت کی دوی باید ښارونو کی‌واوسی په‌ښارونو کی‌بوازی سترکسان له خپلونو کروسره اوسېدل،چه‌له دربارسره یې تعلق لاره د تفصیل دپاره وګوری‌دکابل دسلطنت شرح‌او بیان ،لومړی جلد،لندن،۱۸۴۲مخ ۳۳۲

مخکو خاوندان شوی، او یتیمان یې ورته کړي ، دیا د ولو ورمثال کیدی شی. ۸

مگر په‌غلز یو کې‌ددري کېدو عملیه نه‌ده‌لیدل‌شوی. معکوساً په‌هغو سیمو کې‌چه دوی دېورته یادشوی ضرورت له‌مخې دنورو ژبوله ویونکو سره‌په‌تماس شوی دی، هغوی یې پښتوویونکي کړي‌دي. داچه دهزاره جات‌یوشمیر اماسیان پښتو وایې‌دهغو پووند وو له‌برکته ده‌چه په‌هزارمجات کې مځکې لري، او اماسیان یې دهقانان‌دي.۹ حتی‌کوم‌هغه غلزیان چه‌په‌هرات کې هم سپشته شوی‌دی خپله ژبه یې‌ساتلې‌ده . ددوی پوندوو چه دبخواپه خبردنولسمې پېړی په‌پای کې هم دبخارا ،سرکزی افغانستان اوشمالي هندوستان ترسینځ‌لیږدکاوه نوري ژبې لکه‌اردو ،پنجابی، برمایې‌اساسي‌او بنگالی زده‌کړی بې له‌دې چه‌پښتو بې‌له‌یاده ایستلې‌وی ! ددوی لیکوال اوشاعران هم دنورو ژبو اوثقافت ترتاثیر لاندې کم‌تللی‌دی، لکه چه دمحهوتک له‌پټې خزانې نه‌معلومیږی :

په‌بردرانیوکې نه‌داچه ددرې کېدوعملیه بیخي ضعیفه ده‌په‌دوی کې ،برخلاف ،د پښتو کېدوعملیه سه‌قوی ده‌سره ددی چه‌په‌دوی باندې داردو اوانگریزی اثرپروت دی ،لکه چه‌یووخت دعربی اودری تاثیر پری ډېرو . دلیکنی اوشاعری په سویه دغه عملیه دبایزید روښان په‌تحریک کې‌واضحه ده چه وروسته د پښتوسترو شاعرانو اولیکوالو لکه خوشحال ختک ،رحمان بابا،عبدالحمید مومند، اوافضل‌خان ختک دغه تحریک تدنه یوازې سلی رنگ ورکړ بلکه جهانی یې هم کړپه دی باب نورد محترم لیکوال ډېرڅه وواېې ،خوهغه څه‌چه زه‌یې دلته ویل غواړم‌داده چه‌په ولسی سویه په‌بردراینوکې دپښتو کېدو عملیه له ډېرې پخوا څخه سه قوی ده . ددی مثال هغه‌کې کسبگراو بزگر،اونورکیدی‌شي چه‌دبردرانیو په‌ولسونو په‌پوري د همسایه وو

---

۸—دفردیناندیادشوی اثر،سخ ۱۳۹.

۹—دافغانستان مغلان ،اچ.اف‌شورمان ماگری ون هاون ،۱۹۶۲ ،سخ ۱۰۵.

۱۰—دلیکونکی دړاکتری یادشوی تیس،سخ ۲۳۲ .

په‌حیث په‌بیلو،بیلو نوسونو یادشوی لکه ملاگوري تیراهي ، سواتي ، شلما نی فقیر، پربه او هندکي اونور.په‌دی باب ، یو بل خای ډیرخه‌لیکلی دی، ۱ مگر هغه خه چه د لته یی ویل ضروري دی دادی چه‌دغه همسایگان دژبې ، ثقافت او رسم او رواج په‌لحاظه داسي پښتانه شوی‌دی چه‌اه‌اصلي پښتنو سره‌یې فرق بیخي مشکل دی سره‌ددی چه‌په‌ځینو پښتني ولسونو کې دهمسایه ودشمیرله‌بادار و پښتنو څخه ډیر دی هغسې چه‌د سلیمان په‌غر و اودروکې‌پښتانه ولسونو دتاریخ په‌اوږدو کې خوندی پاتي شوی دی ،داسي یی‌هم‌ژ به‌په ځای درنه پاتې‌ده، که‌څه‌هم چه‌لهجی یې‌ډیری اوسره متفاوتی‌دی . د همدغه حقیقت په‌اثر ده‌چی‌ددې سیمی معاصرو لیکوالو اوشاعرانو له‌اول نه‌تر اخره یوازې په‌پښتوکې لیکنې کړی اوشعرونه یې ویلی دی .

ب: پښتو په‌رسمي‌سویه

په‌تیرو دوو‌ډیرو‌یوکې‌افغانستان په « مملکت‌افغانی ۲ ، او دولت یې په نامه دد ولت علیه افاغنه ۳ ، یادېده په‌داسی حال کی چه‌افغنستان دیوه مملکت په‌حیث این‌له‌څو اراسمی پیری‌څخه راپه‌دی خوا پېژندلی شوې و ،چه په‌یو روایت له ایلمن څخه‌ترا ټا سینه پورې پراخ وه ۴ ، په‌دی‌ډول که‌څه‌هم‌ملک افغنستان او دولت افغان و،او په لومړی سر کې یوه پښتو ویونکې کورنۍ په‌افغنستان کې واکمنه وه، دفتري ژبه دري‌وه په‌ظاهر کې دایو تضادمعلوميږي ،مگرچه‌موضوع دتاریخ په‌رڼا کې‌وسپړ له‌شي ،ښکاره به‌شي‌چه داتضاد حقیقي نه‌دی .

---

۱ ، ایضاً،مخ ۲۳۲

۲ ، —شاه‌زمان‌دبغدادو الی‌ته،اقتباس‌په‌مقاله‌و «فرهنگ‌دو ره‌ابدالیان»دمحمدانورنیر ،په‌نگاهی برنقش فرهنگی افغانستان درعهد اسلام ،دمختلفو لیکوالو دمقالو مجموعه داطلاعاتو اوکلتورو دوزارت خپرونه ۱۳۵۵ ،مخ ۱۲۳

۳ ، —دشمس‌النهارجریده دروژی دسیاشتی ۵ کال ۱۲۹۰ ، «اقتباس»په «اسناد و یاد اشت های تاریخی»حافظنورمحمدکهگدای ،۲،اریانا،دو همه گنه ۱۳۲۲ ،مخ ۴۴.

۴ ، —ددوړن ملحقات،دافغانانو تاریخ، ملانعمت‌الله ،دومچاپ ،لندن،۱۹۶۵ مخ ۶۴

دسامانیانو او مخصوصاً دغزنویانو له‌دوري څخه و روسته دري چه په یوه نظر په پنځمی عیسوی پېړۍ کې‌یې ظهور کړی‌دی، ۵، درباری او دفتری ژبه شوی‌ده.دهندوستان ددهلی داسلامی سلطنت په‌دورکی هم‌چه دغزنویانو دفتح په‌برکت منځ ته‌راغی. دري ددربار او سلطنت رسمی ژبه وه‌او په «افغان‌فارسی» یا«فارسی‌کابلی » یادېده ۱۶ سکوساً دفارس دصفویانو دواکمنۍ کورنۍ ژبه یوه ترکمنی ژبه‌وه سره‌ددې‌چه فارسی دهغه سلک دفتري اوملی ژبه‌وه. له‌بلی خوا په‌عثمانی ترکیبی کې فارسی په واکمنۍ کورنۍ کې ویله کېده . په‌افغانستان‌کې درانیو اول‌په هرات کې‌دولت تاسیس کړ اوو روسته یې په‌قندهار کې‌هغه بیاله سره تنظیم کړ او یوه لویه مگر کم دوامه امپراتوری یې‌جوړه کړه تر هغو دمخه دهرات او کندهارد واړه سیمی د صفویانو تر اثر لاندې دی او دفترونه‌یې قرنونه په‌دري وو . احمدشاه درانی فقط همدغې عنعنی ته دوام ورکړ. داکارڅکه عملی‌او منطقی وچه،لکه څنګه چه‌دمخه دکاردویش په نامه‌یې ذکروشو، پښتنو دسیرزایی کارنو روته پری‌ایښې‌وو. له‌بلی‌خوالکه څنګه چه دوخت روحیه‌وه. واکمنۍ کورنۍ سیرزایان لکه فاسیلی نوکران ګڼل او دغه کسب ته‌ښاري اقلیتونو دپخوا په شان غاړه ایښې‌وه. پرسېره پردې څنګه چه‌هغه‌وخت دسیرزایی کار په‌عمومی ډول درباره وقف و، او دولت یوازې په ښارونو مستقیمه سلطه لرله، او داطرافي سیمو اداره کول او دسا لیاتو ټولول دولتی مشرانو په‌غاړه وو، د دفترونو دفعالیت مجموعی حجم ډېر لږ و.په اطرافي سیمو کې پښتونولی چلېده او په ښارونو کې شرعی او حکومتی مقررات جاری وو.په‌دی حال کې پښتنو دفتری کارونو ته ضرورت نه‌حس کاوه، او دوی،لکه څنګه چه دمخه یې یادونه وشوه ، سرداران ، حاکمان او زمینداران وو، او دملک دفاع یې خپله مهمه وظیفه گرزولې ده.په‌دی برخې کې دتیمور

۵ ۱ ـــ مقاله« منشاءزبان دری‌وانتشارآن» پوهنوال نگهت سعیدی ،دادب مجله ،کابل پوهنتون‌لوسړی گڼه ۱۳۵۶، مخ۱۰۷.

۱۶ ـــ مقاله«نقش‌فرهنگی افغانستان درروابط آن‌باهند پوهنوال محمدحسن ضمیر . دطلاعاتو او دکولتور دوزارت یادشوې خپرونه، مخ۱۰۲

شاه درانی سهم پهخاص ډول دپادولو وړدی. دیچه‌په مشهدکې زېږیدلی او دځوانی دوره یې‌پههرات او پنجاب یعنې پهغیر پښتوویو نکو سیمو کې تېره کړې وه،سخت ددری تر تاثیر لاندې تللی‌و داچه‌ده پای‌تخت له‌کندهارڅخه کابل‌ته یعنی‌یوه‌دري ویونکی ښارته نقل‌کړ هم‌ترڅه‌حده دهمدغه تاثیر له‌امله و، کهڅه‌هم چه دپا یتخت پهانتقال تردې ډیرنور قوی عوامل دخپل وچی دلته یې یاد ونه‌نه شایی د پښتواو دفتر دغهٔ روابط یانه‌روابط دامیر شرعلی خان‌تر دوهم امارت پورې و پائیده ،یوزاې په دې فرق چه‌که څه هم دربا راودواکمنی‌کورنی دری ژبی شوې وې، ځینې امیران پښتوویونکی پاتی شوی وو، مخصوصاً امیرعبدالرحمن‌خان چی سورا ونیایې دوا ړه پښتني وې.

دامیرشیر علی‌خان پهدوهم امارت‌کې (۱۸۶۹—۱۸۷۹) پښتو دلومړی واردپاره پـه حکومت کې ننوته او د رسمي کېدولو مړي پړاوته وچته شوه .

دادپښتو دپاره یو انقلابی حرکت و،مګر د غه عملیه د افغان او انګلیس پهدوهم جنګ کی ددولت پهړنګېدوسره پهځای ودرېده. دامیرعبدالرحمن‌خان پهامارت‌کې (۱۸۸۰ — ۱۹۰۱) پښتو له‌حکومت څخه ووته، مګر دپخوا پهشان پهاردوکې پاتی‌شوه.داانکشاف پهزرذکرشی لومړی پهدغو دوودوړوکې دپښتو دوچتېدو دعلت‌په‌باب‌بحث‌کول لازم دي .

امیرشیرعلی‌خان دځلو رو کلوداخلی جنګ (۱۸۶۳—۱۸۶۸) څخه وروسته چی د هغه پهجریان‌کې یی یوځل واکمنی هم له‌لاسه ورکړه د دوهم ځل دپاره په ۱۸۶۹ کې بیاامیرشو. ۱۷ ددغه جنګ پهاثر پهافغانستان‌کې ستر تغیرونه پیښ شول. په لومړی سر کې هغه سرداران چی یایې دامیرشیرعلی‌خان له‌مخالفانو سره همکاري کړی‌وه یایی دځانو دپاره ادعاګانې لرلې، او یایې دعنعنې له مخې دځینو ولایتونو دجاګیرداری دعوی کولې یا په جنګوکې ووژل شول ، یاپړارکړل شول، او یا له حکومتی کا روڅخه محروم کړل شول،حکومتی لوړمنصبونه ، دپخوا پهخلاف ، د لومړی ځل د پاره غیر خاندانی عناصرو ته وسپارل شول،چی پههغوکې نورمحمد فوشنجی،حبیب الله وردګ

۱۷ دتفصیل دپاره دګوری ګلشن‌امارات نورمحمدنوری‌دتاریخ تړولنه کابل کال ...

عصمت‌الله‌جبارخیل ،ارسلاح‌خان جبارخیل، ملا شامحمد کتب خیل ،او قاضی عبد القادر یوسفزایی ډېر مشهور دي .بله داچې په هغه منظم او دایمی اردو کې چې امیر شیرعلی خان د۱۷۳،٦۵پهشمیر، ۱۸ تنظیم کړ ، پښتنو مخصوصاً غلزیو او وردگو یکی ستره برخه لرله. په‌بل عبارت‌دامیرشیرعلی خان په دوهم امارت کې په اروډ واوحکومتی لوړي سطح کې درېږیې شوی سرداران‌دې یخوا په‌خلاف ، له‌دولتی منصبو څخه محروم شول، او ځای یې‌پښتو ویونکو عناصروونیو، څنگه چې پښتانه په‌ټول ملک کې په‌اکثریت کې وو، او پښتو په‌ولس کې ټینگ بیخ لاره‌دپښتو په‌برخه کې دغه انکشاف ډېر مهم ثابت شو. داول‌ځل دپاره‌دحکومتي او نظامي چارو د اسانتیا اوسوتر چار چلند په‌غرض پښتو ته ضرورت‌پیدا شو. مرحوم حافظ نورمحمد کهگدای چې یې‌دامیرشیرعلی خان دریفورمونو دمعرفي په‌باب دشمس‌النهاراو رسمي فرمانونو په اسناد داریا نادمجلي په‌لومړي او دوهم کال‌په‌گڼه کې یولړ لیکنې کړې‌دي. لیکي چې :«چونوی[امیرشیرعلی خان بقوم و زبان ملی خود فخر داشت سیخواست زبان این قوم که صلایت لفظی و معنوی رادرخود جمع دارد علمی گرددو رواج یابد ازان دوره در دوره‌دوم حکومت خویش د رقطارسایراصلاحات وموسسات وطن برای تعمیم واشاعه زبان ملی بیشتر توجه مخصوص کرده بود که ........» ۱۹ په دې کې شک نه‌شته چې امیرشیرعلی خان لکه څنگه چې‌کهگدای لیکي « بقوم و زبان ملی خود فخرداشت » ولی د پښتو د وچتیدو اصلي علت هغه ضرورت وچې د مخه یې یاد ونه وشو. دا مطلب د نظامي افسرانو له خوا هم دشمس‌النهار په یوی گڼې کې په‌دې‌ډول واضح دی. «....درسابق‌محتاج‌یک‌شخص

---

۱۸ـــ دامیرشیرعلی‌خان دفوځ دمجموعی‌شمیرپه‌باب لیکوالو مختلف ارقام‌ښوولي دي، اوکهگدای هغه ټول په‌خپلي مقالي کې‌ذکر کړې دي، مگر صحیح یې بورتنی ارقام دي چې یوه انگلیس دافغان‌اوانگلیس په‌دوهم جنگ کې‌دافغان درسمي دفترونو اوسندونو له مخې تهیه کړې‌دي، دتفصیل دپاره دې وکتل شي دلیکونکي یادشوی د ډاکټر تینس ، ـــــــــــخ ۱۹۳ .

۱۹ـــ «اسنادو یادداشت های تاریخی»، اریانا،لسمه‌گڼه،عقرب ۱۳۲۲ ،مخ ۲۸.

مجهول النسب قواعد دان بوديم، تاامو زقواعدرا بمايان بيامو زدو هزارها تعب و ذلت در حصول قواعدازدست ان سیکشیدیم. الحال به‌سبب توجه کتاب که عالیجاه‌فضایل نشان قاضی عبدالقادر رایل‌ملتری ستکرتر حسب الحکم وهدایات حضور پرنور بزبان افغانی بیان‌نمو ده‌است ، بخوبي فهمیدیم که‌درمیان‌خود مشکلات یکدیگر را حل نمائیم.» • ۲

داسیر شیر علیخان دپښتو د ریفو رمونو لنډیز دادی:

۱- دصدر اعظم او د کابینې دهیئت‌غړو دپاره‌دپښتو نومونه،

۲- له‌سپاه‌سالار نه‌ترحواله‌دار پورې دمنصبدارانو رتبه‌په پښتو کې،

۳- ټولې نظامی‌قوماندې او بولی په‌پښتو کې،

۴- دنایب الحکومه‌گانو دپاره دپښتو القاب.

دپورته القابو لست‌یو بل محترم لیکوال په‌مفصل ډول ترتیب کړی. ساهم د دی لیکنې‌په‌پای کې یو لست گوتی جوړ کړی. دلته یی یوڅومهم القاب راوړم.

| | |
|---|---|
| لوی‌ټولمختار | صد را عظم |
| لوی‌ملک | مستوفی الممالک |
| لوی‌سین‌دباندې | دباندنیو چارو وزیر |
| لوی‌سین‌دننه | داخله وزیر |
| لوی‌سین‌دغرو | دکوهستاناتو وزیر |

---

• ۲- شمس‌النهار، لمبر ۴۳، دشوال ۵ ۱۲۹۱، اقتباس‌په«اسنادو یادداشت های تاریخی ۵»، حمل ۱۳۲۳، مخ ۸. گهگدای‌لیکی: « وضع بولی‌ها به‌افغانی و مشق و تمرین ان بالای عساکر انوقت‌نسبت به‌قوماندههای غیر افغانی: برای‌سپاهیان‌و افسران تسهیلات‌پیش کرد. » پورتنې مقاله، مخ ۵-په همدې مقالې کې‌دسراج‌الاخبار(پنځم کال، دوهمه‌گڼه، مخ ۳ یوه لیکنه اقتباس‌شوی چی‌وائی‌متانت‌وصلابت‌ماما‌ن:دمتانت‌وصلابت‌خودملت‌افغان سردانه‌و پر شهامت‌سیباشد ازاین است که‌بکمال فخر و سرور می بینیم که‌زبان‌عسکری‌نظامي‌بزبان افغانی‌است. ..... و این زبان یک شان و شوکت جسورانه بقواعد عسکری بخشیده‌است. اگر بولې های قواعد عسکری بزبان افغانی سی بود بسیار سست و کشال‌و غیر موزون دیده‌می شد.»

| | |
|---|---|
| لوی کینل | دبیر الملک |
| لو تو لو نی | لوی‌خزانه‌دار |
| لوی‌تو لو ال | دچاپو تری‌یاگمرک‌رئیس |
| تو لمشر | لوی درستیز ،سپاه‌سالار |
| سر غنډمشر | نایب‌سالار |
| غنډمشر | جرنیل جنرال |
| پنځر مشر | بر گیډ (۲۱) |

دلیک په‌ساحه کې دپښتو ددغه ریفورم مسئول شخص‌قاضي عبدالقادر یوسف زایی دی دی‌چی اصلاً دپیښو ریوې مشهوري قاضي کورنی ته‌منسوب و ،یو متبحرعالم او شاعراو مصنف‌و ،دده دشخصیت او دافغانستان دوخت دسیاست په‌خصوص‌دده درول په‌باب دځینو لیکنو په‌اثر ذهنتونه مغشوش دی، او په‌دې باب‌ساپه‌یو بل ځای کې مستندې لیکنې کړی دی۲۲. په‌هرحال، وروسته له‌دې‌چی په‌پیښورکې دقاضي عبدالقادر مناسبات له‌انګلیسانو

---

۲۱ — شاعر میرزا عبدالرشیدمتخلص‌په‌رشیددعبدالله‌جان‌دولیعهدی په افتخار په یوی قصیدی کې دپښتو نوی القاب له‌عالي رتبه‌ساو رانوسره یو ځای داسی بیان کړی‌دی. :

| | |
|---|---|
| علی‌الخصوص‌وزیران‌صاحب تدبیر | که‌نام‌شان برقم‌بو دچون قمر تابان |
| نخست(نورمحمد)لو تو ل‌مختار است | خطاب‌دیگر ازاتو (صدر اعظم)خوان |
| وزیر ثانی‌آن(لوی‌ملک)(حبیب‌الله) | امیر دولت‌و (مستوفی المالک)دان |
| چه‌داشت(ارسله‌خان) ؟لوی‌مین‌دباندلقب | (وزیر خارجه) باشد باصطلاح‌جهان |
| دگر وزیر نکو رای(حشمت‌الملک)است | به(لوی‌مین‌دغرو )شهره( عصمت‌الله‌خان ) |

سپس ( حسین علی ) منصبش (سپهسالار) خطاب ( تو لمشر دا شت بیسکر یان

| | |
|---|---|
| سعیر جمله‌جز این‌لقب(لو تو لو نی) | بنام(احمدعلی‌خان) ز شاه‌یدفرمان |
| (دبیر ملک)(محمدحسن) که(لوی کینل) | خطاب‌داشت‌ز درگاه‌حضرت‌سلطان |

۲۲— دافغانستان ،دداخلي سیاسی انکشافاتو په باب یومطالعه ۱۸۸۰—۱۹۰۱، لاهور ۱۹۷۰،مخ ۲۱۳

سره خراب شول، دی افغانستان ته راغی. داهغه وخت وچی امیر شیر علی‌خان دریفورمو
ـنو دپرمختګ او دسملکت دعصری کولو دپاره لایقو اشخاصو ته ضرورت درلود نو دی د
«افغانستان‌دبا چاصاحب» او نظامی منشی (Royal military secretary) مقررشو
او د«شاو نکي»خطاب‌هم ورته کېده. ګهګدای‌لیکی چی قاضی عبدالقادر د اسی کتابونه
تالیف کړل‌چی په‌هغوکې ددری‌ګونو عسکری صفوفو: سپرو، پیاده‌وو، او توپچی د پاره
دبولی ګانو وضع او نظامی قوماندې له‌انګریزی نه‌په‌پښتو اړول شوی او په‌دری کې شرح
شوی‌دی. ګهګدای زیاتوی چی دغوقوماندو په‌لږ تغییر سره‌تر دې‌وخته (۱۳۲۳هش)پسه
افغانی اردوکې دوام لاره۳۲. په‌دی ډول قاضی عبد القادر زبرسیره پردې چی په هغه
وخت‌کې یې د افغانستان په سیاست‌کې مهم رول لوبولی دی،د پښتو په لومړنی
ریفورم‌کې غته برخه لرلې ده.
دامیرعبدالرحمن‌خان په وخت‌کې دپښتو ملکی القاب،لکه څنګه چی رومبی یې ذکر
وشو،ترک‌شول، مګر دا کارقصدی‌نه‌و، څنګه چی‌امیر عبدالرحمن‌خان دیو«مطلق العنان
حکمران په‌حیث دولتی عالی‌واک‌اود ټولو وزارتونو عالی چارې‌ځانته انحصار کړې وې
اوڅنګه‌چی‌د کابینی‌هغه‌عصری‌شکل‌چی‌امیر شیرعلی‌خان‌تاسیس کړی‌و،له‌منځه لاړ،لوی‌القاب چی
دقدرت‌بیکارندوی‌و په‌خپله‌ترک‌شول‌البته‌داصحیح ده‌چی‌دامیر عبدا لرحمن‌خان په وخت‌کی
دحکومتی اداروفعالیت په دېرید وسره دري چی یوازنی دفتری ژبه‌وه‌تر یخو اخخه ډېره
خپره شوه مګر نظامي‌القاب‌په‌لږ تغییر سره په‌ځای پاتي‌شول او برسیره پردی چی یوشمیر
تالیفات‌په‌پښتو کې‌وشول‌عسکری‌قواعدو په‌باب‌هم دلاربنود په‌حیث‌قلمی نسخی‌وتلې۳۴ له

---

۳۳ــ «یادداشت هاو اسنادتاریخی »حمل ۱۳۲۳،مخ۳ .

۳۴ــ دامیرشیرعلی‌خان او امیر عبدالرحمن‌خان په‌دوره‌کې دنظامی اصطلا حا تو اود
پښتو القابو اونومونو دتفصیل دپاره دالاندی تالیفات وګوری چی د تاریخی ارشیف په
کتابخانه‌کې خوندی‌دی .

الف : ترجمه کتاب قواعدعسکری بلسان‌افغانی، مترجم قا ضی عبدالقادر،۱۲۸۹ ه ق ،
معخونه ۳۸۲، مصور. *

ختیځو پښتنو سره داسیرتړولې لیکنی او ډېر مانونه په پښتو و و.د در بارپه‌دارالانشاکې د پښتو یوه‌لو یه‌څانګه‌وه‌چی‌مشر یې ملامحمدخان«افغانی‌نو یس»دمرحوم عبدالله‌خان‌افغانی‌نو یس پلار و.۵۰ ۲په‌های کې‌دیو څوتبصره کول ضرو ر دی .په‌پو رته‌یاد شو یو اصلاحاتو سره‌په‌پښتو او دری کی یو لړ انګر یزی لغتونه ننو تل . دا کار که څه‌هم دلومړی ځل دپاره‌د افغــان او انګلیس په‌لومړی جنګ کې‌شرو ع شوی‌وه، مګر د امیرشیرعلی خان او امیرعبدالرحمن خان‌په‌وختو کې شه‌عمو می شو. داسی لغات لکه پلټن،اسپه‌تال ،ډاکتر،او ربند،او صفرمینا

(Sappers and miners) عمو می شو ل د ذکر و ړ خبره ده چی د دغه و ښت په پښتو کې دغه ریفو رم په‌خلاف‌چی داو نبانیانو په‌وخت کې‌شوی ودعربی تاثیر ډېرلږ و ، که‌څه هم چی لیکو نکی یاستر جم یې یو قاضی و ، تر هغه ځا یه چی له ژبی څخه معلو میدی شي د دغی دو ري ريفو رم ساده و لسی رنګ لاره.دريفو رم بل خصو صیت دا

---

* ب : علم‌قو اعدلشکر ،مولفان،در یاخان‌نیا زی،عبدالر حمن‌اندرابی،ابو الحسن‌خان‌تاجک، او غلام‌حسن‌خان کرت،مصور،۵۸۰م‌مخه،۱۳۱۱ ه ق ،قلمی‌نسخه،ددې‌نسخې‌په‌دری‌مقدمه کې ذکر دی:«در این سنه..... که‌از هر طرف کفار نابکار هجوم او رده دیار و امصار مسلما نان‌رابه‌سبب‌پر اګندګی و نز اع‌ایشان انتز اع نمو دند و بفنو ن مهم مختر عه خو یش سر امد رو زګار شدندبنابر ان‌رآی جهان ارای‌پادشاه اسلام‌پناه...... امیر عبدالر حمن‌خان‌از کمال دو ر بینی متو جه بر ان ګر دید که‌بجهت دفع‌دشمن‌مبین کتاب ..... درفن علم قو اعد لشکر فیر و زی اثر بز بان صلایت بنیان افغانی بمعه‌تصاو یر چګو نګی آن ساخته اید تا سبب سهولت دریافت مهندي‌او باعث دانایی منتهی ګر دد....... پس بنابر ان‌این کتاب راجهت اد راک معلمین باتصا و یر و بو لی هاو قلعه بندی دستګري و آنچه فنو ن جنګی بو د،تالیف‌و تحر یر ګر دید .»

ج: قو اعدپلټن،مو لف‌نامعلو م،۹۵،خطی‌نسخه .

د: قو اعدعسکری،مو لف محمدابر اهیم اجیتنت، ۳۰،مخه،خطی‌نسخه .

۲۵— سر اج‌التو ار یخ،ملافیض‌محمد کاتب، کابل ،۱۹۱۵،مخ ۸۱۳

دي چې د پښتو د ژبې ځینې خاص او ازو نه په خاصو تورو لکه ډ، ړ، او ڼ سره افاده شوي دي.

خو د پرسهمه یې هغه ښکنهه ده چې په دغه ریفورم سره د ارد و او حکومت ترمنځ د ښې مفاهمې د تولید د پاره میدان ښه هوار شو. په دې باب د شمس النهار یوه لیکنه د اقتباس وړ ده

« آنچه سه جلد کتاب جهت اجنت های سواره و پیاده و توپخانه جات حسب الفرمایش شاهی از زبان انگریزی بزبان افغانی بذریعه عالیجاه معلی جایگاه مقرب الخاقان فضایل و کمالات نشان (قاضی عبدالقادر خان پشاوری) رایل ملتری سکر تر افغانستان ترجمه شد، به افسران فوج ظفر موج از عرصه یک سال تعلیم میشد، الحال به تفضلات الهی بعد از یک سال بموجب فرمان شاهی جناب رایل ملتری سکرتر بهادر امتحان آن افسران گرفت چنانچه هشصد و چند نفر افسران امتحان کامل و پوره و یاتغریف دادند.» ۲۵

د پښتو نومونه او القاب چې د امیر شیر علی خان او امیر عبدالرحمن خان په وخت کې ایښول شوي دي.

| پښتو | دری یا وغیره |
|---|---|
| لوی تولمختار | صدر اعظم |
| لوی ملک | مستوفی الممالک |
| لوی مین د باندې | وزیر خارجه |
| لوی مین د ننه | وزیر داخله |
| لوی مین د غرو | وزیر کوهستانات |
| لوی کښل | دبیر الملک یا سر منشي |
| لوی نایب | نایب الحکومه |
| لوتولوني | خزانه دار کل |
| لوی تولوال | رئیس گمرک یا چابوتره |

* * *

| | |
|---|---|
| سرامز تولمشر (خنګه چي‌و) | فیلډمارشال |
| تولمشر | لوی درستیز ، سپاه سالار |

---

۲۵ — شمس النهار، نمبر ۲۰، ۳، د اکتوبر ۱۸۷۴/ د روژی میاشت ۱۲۹۱، مخ ۵.

| | | |
|---|---|---|
| سر غونډمشر | | نایب سالار |
| غونډمشر | | جرنیل ،جنرال |
| سر مشر پنځر (پوتز ر ) | | میجر جنرال |
| مشر پنځر | | برگد |
| غندناب | | برگدمیجر |
| ز رمشر | | کرنیل |
| ناب | | میجر |
| لنداک | | سارجن |
| ناب | | اجیتنت |
| رسون | | وردی‌میجر (خنگه چی‌و) |
| سل‌مشر | | رساله‌دار |
| پرکمشر | | جمعدار |
| کوټ‌لنداک | | کوتدفعه‌دار |
| ورکودن‌لنداک | | لی‌دفعه‌دار (خنگه‌چی‌و) |
| حوښ‌لنداک | | لیس‌دفعدار |
| کرناب | | طرم‌میجر |
| نعلبند | | سرجن جراح |
| داکتر | | طبیب |

* * *

| | | |
|---|---|---|
| تاپو | Camp | کمپ |
| غند | Brigade | برگید |
| کندک‌سپور | Regiment | اجمنت |
| نیم کندک | Half—regiment | هاف‌اجمنت |
| غندک | Troo p | تروپ |
| غیرگ غندک | Squadron | سکواډرن |

| | | |
|---|---|---|
| بلك | Dinsion | دیو یژ ن |
| غبرك‌خلو ر | Fours | فو ر ز |
| پر ك | Section | سكشن |
| نیم‌پر ك | Half—Section | هاف‌سكشن |

* * *

| | |
|---|---|
| گو رشی‌سم | بطرف راست‌ببینید |
| گو رو راند | پیش‌روی؛ ببینید |
| گو ر كین‌سم | بطرف‌چپ ببینید |

پا -

پوهاند عبدالحی حبیبی

# د پښتو نثر

## له اولنۍ پېړۍ را هیسې

۱ — تر نولسمې پېړۍ دمخه:

دپښتو له پیداسو و اثارو څخه چې تر اوسه زمونږ لاس ته راغلي دي د نظم نمونې تر نثر زړې او پخوانۍ دي دنظم عمر تر یو زر کاله زیات دي خو د نثر ډېره لرغونې نمونه هغه ده چې دسلیمان ماکو په تذکرة الاولیاکې د۶۱۲ ھ کاله څخه راپاته او مونږ ۷۸۶ کاله کیږي. کهڅه هم په اسلامي دوره کې سونږ د نثر یو څو کتابونه لکه دهاشم سروانی دسالو وږمه (۴۹۰ق) او دشیخ متی دخداي مینه (۶۵۰ق) او دمحمد بن علی بستی تاریخ سوري (۶۵۰ق) او داحمدلودي اخبار اللودي (۶۸۶ق) دشیخ کته لرغونی پښتانه (۷۵۰ ق) او بیا دشیخ ملي دفتر (د ۸۲۰ق حدود ) او دخان دجوړ انیزي دپښتنو تاریخ ( ۹۰۰ ق حدود ) او دبابر خان تذکرة غرغښت (۹۰۰ق) او ددوست محمد غرغښت نامه (۹۲۹ق) او دشیخ قاسم تذکرة اولیا (۹۹۰ق) او دشیخ بوستان بړیڅ بستان الاولیا (۹۹۸ ق) او د الله یار تحفهٔ صالح (۱۰۰۰ق) پېژنو مګر دیوه دنثر نمونه هم نلرو او فقط دسلیمان ماکو دتذکري یو څو پاڼې لاس ته راغلې دي. خو چې د (۹۸۰ق) په حدودو کې پیر روښان خپل خیر البیان و کیښ او خوشبختانه یوه نسخه یې سته او دده په پیروي اخوند درویزه اود ده کورنۍ هم د پښتو د نیمچه نثرلیکنې سته چې یو ډول «فني نثر» ګڼل کیږي.

سل کاله تر روښان وروسته دخوشحال خان او دختکو د راني کورنۍ ادبي غورځنګ و پنو چې ددغه سره یو ځای په قندهار کې د هوتکو د دربار دپښتو پالنې ترسیوري

لاندي دمحمد هوتك نثرليکنه او دپټې خزانې را څرګندونه د پښتو ادب يوه غوره نه هير يدونکي پيښه ده . چې په دغه لړکې د عبدالغفار هوتك د هوتکو تاريخ او د نور محمدغلجي نافع مسلمين نوي پيداسوي اثار دي.

په همدغه وخت کې موږ وينو چې دخوشحال خان بياض دده دلمسي افضل خان په لاس کې دي او دخپل نيکه روان نثرځني رانقلوي. دخوشحال خان دفقه دهدايې پښتو ترجمه خو اوس نسته مګر ددستارنامې نثري تو تې ئې دپخوانې نثرمعياري ډول ښلل کيږي.

دختکو دکورنۍ نثر دپښتوليکنه دمياروښان له تقليده راګرزوي او بيرته ئې سخ هغې خواته وراړوي چې دمخه ئې موږ دسليمان ماکو په نثرکې وينو . دافضل خان تاريخ مرصع او پښتو کليله او دمنه او دګوهرخان ختك قلب السير دري دنثرغټ کتابونه دي او د عبدالقادرخان ختك ګلدسته خو دښکلو ګلو دسته ده او د عصام الدين احمد پښتو تفسيراو پخپله د افضل خان ختك پښتو تفسير هم منثوربښه کتابونه دي دااعثم کوفي دفتوحاتو ترجمه د مظفربن اسماعيل په قلم د ۱۱۲۶ ق کال په شاوخوا کې دراو رتې له خولې پيژ نو د اتلسم قرن په نيمايي کې چې لوي احمد شاه باباد افغانستان سلطنت په قندهار کې جوړ کې 'وموږ ګوروچې دعبدالله قندهاري فتاواي احمد شاهي او دپير محمد کاکړ معرفة الافغانې او دخانعلو م قاضي محمد غوث داحمدشاه بابادعارفانه اشعار و شرح دنثرنمونې سته چې ورو سته دنونسم قرن نثر په خپله مترقي جوله شروکيږي .

تردغه وخته پورې دپښتو نثردوه ډوله ښکاري :

لومړي : له محاوري سره نژدې ساده نثرچې نمونې ئې دسليمان ماکو په تذکرة الاوليا او دمحمدهوتك په پټه خزانه او تاريخ مرصع کې ليدلې کيږي

دوهم: فني او متکلف نثرچې جوړوونکي او خپروونکي ئې پيرروښان او دده دفکري مکتب شاګردان او بيانو اخوندده درويز اونوردډيرليکو الان او مؤلفان دي

پښتو نثردسبك او ظاهري ډول په لحاظ له ابتدا څخه تردغو تاثيرونو لاندي وده کړي ده :

لومړي: دخپلې ژبې جوړښت او لغوي او ترکيبي بانګه

دوهم: ددري ژبې ادبې تاثير

دریم: هندي اثرونه.

څلرم: دعربي ژبې دیني آثارونه.

مثلاً دسلیمان ماکو په نثري ټوټوکې دخپلې پښتو لغتونه او کلمې او دترکیب او جمله بندي اصول خود هلو په توګه اصیل ښکاري مګر ددري او عربي له خوا څخه چې کوم فرعي او پورې نښلول سوي پسولونه پرکوترم سوي دي هغه هم ښکاره دي.

امادپیر روښان نثر خو په ښکاره یو مصنوعي او جوړ کړسوي نثر دي او پخپله پیر روښان وایي چې ماخیر البیان دسورة الرحمن په توګه کښلی دي.

## ۲ - د پښتو نثر دد تکامل پړاوړي.

دنونسم قرن لومړي کلونه د افغانستان دلوي دولت لپاره خورا ناوړه او کړغیړن کلونه وو ځکه چې په همدغو وختوکې انګریزي استعمار پر هندوستان خپر یدونکی و او دافغاني شاز مان دحملو دمخنیوي لپاره انګریزانو په سیاسي د سیسو لاس پورې کړي و.

پښتو ویونکي خلك دلوي افغانستان په پراخه سیمه کې داستعمار له دغه تکړه پهلوانه سره مخامخ وو او دارو پاصنعتي مدنیت هم له شرقه او هم له شماله رارسیدونکي وو په دغه ستحوله دوره کې پښتو ادب او نثر هم تر ډول ډول تاثیرونو لاندي وده کوله. پخپله پښتانه خو دسرګ او ژوند په هولناکه جګړه کې بوخت وو. دانګریز او افغان لومړي جنګ او بیادوهم جنګ په همدغه قرن کې نښتي و واو افغاني دربارونه او حکومتونه هم خپ خپانده وو خو د تبلیغي مقصدونو لپاره هم استعمارګران او هم افغانان پښتو ژبې ته اړو ونو څخه ناخه پښتو نثر هم په نونسمه پیړۍ کې دښیړ تیا به پړلوریتي.

ادب خو دژوندانه سره تړلی دي او دژوندانه چاري دمادي اړتیا وو او اقتصاد سره پیوستون سوسي په نونسمه پیړۍ کې لوي افغانستان وران سوا او انګریزان ترخیبره او کوړکه راورسیدل دلته د پښتو ویونکو خلکو قتصادي او د ژوندانه ضروري چاري د انګریزانو له راوړي نوي صنعتي مدنیته سره ونښتي او پښتو ادب هم تر دغو اغیزو لاندي دپښتنو له ازاده مقاوسته سره - چې جنګ او زغم دواړه ئي لرل - څنګ پرڅنګ روانو او نثرچې دادب یوه غوره برخه ده هم له دغه کاروانه سره ملګري و.

دا ولسونو اجتماعي ژوند خو بېلابېل اړخونه لري او ادب هم ددغو اړخونو نما ينده
گي کوي. راسي چې دپښتو نثر هم پهشلمه پېړۍ کې دژوندانه له بېلو بېلو پلو نوخخه
وگوروچې پهلوسړۍ کاته اوهخواوي‌لري :

**۳-اوهړوله نثر :**

لومړي : دپښتو په ژوندانه‌کې دين او ديني روايات ترهرڅه ډېره اغيزه لري او په
نثراو نظم دواړوکې هر وخت ديني اثاردهغه دي. چې اخلاقي او دپند اوموعظت او د
قرآن‌دتفسير او ديني رواياتو مضامين تول پهگڼدي .

دغه نثرخوا کثرلهعربي يافارسي کتابوخخه پهپښتو را اړول سوي‌دي نوځکه ددغو
ژبو اثرهم پرلو يدلی دي. او کله‌کله هغه اسرائيليات او روايات هم اري چې ددين په
نامه پهاسلامي ليکنو راگډسوي دي .

دديړلی ليکوالوخخه يو دوست‌محمدختك دي چې په۱۲۷۵ ق کال‌ئی دواعظ کاشفي
تفسيرحسيني د«بدر منير» پهنامه پهڅند هارکي په پښتو رااړولی دي او بل هم سرادعلي
کاسوي په ۱۲۸۲ق کال دپښتو تفسيريسير کښلی دي چې دقاضي عبدالطيف سواتی تفسير
يسير (۱۳۳۹ق) او دشيخ الهنددتفسير پښتو ترجمه دمولوي برهان‌الدين له خوااو دمولانا
عزيزالرحمن سيفي دسيرت‌نبوي پښتو ترجمه هم‌پهدغوکي نسوهيرولاي.

**دوهم:سياسي اودصحافت اثرونه:**

پهنونسمه پېړی کي دنوي صنعتي مدنيت اثرونه او داروپا داستعمار پهسقا بل کې د
شرقي اولسونومقاومتونه او دنوي ژوند اونوو افکاروخپې هغه فکري اوسياسي عوامل
ووچې دپښتو ادب اونثر تهيې دعصريت نوي رنگ ورکی .

پهدي پېړۍکي مطبعه هم د هند لهخوا پښتونخواته راغله او دنوي صحافت او اخبار
ليکني اثرونه هم له انگريزي او اردو صحافته څخهپرپښتو نثروسول . پښتو اخبارونه او
مجلې پيدا سوي او د چاپخانو د ډيروالي لهبرکته خپروني او ليکني ډيري سوي .پهدي
وخت‌کې لوي افغانستان تجزيه سواو پرنگيانوله اباسينه ترخيبره اولهبولانه ترکوږ
ـ که ټوله پښتني سيمي ونيولی او هم دغه وخته دپښتنو ازادي بخښنه مقاومتونه دپرنگيی
لهاستعمارهشروسوه.

داروپا لومړی جنګ او پر هندوستان باندي دهغه درانه اثرونه داسي راوښیو ونکي او راپاڅوونکي واقعیتونه وو چي په پښتنو کي ئي یو نوي د بیداري اروا هو کي او په پیښو رکي دانجمن اصلاح الافاغنه په نامه یو سیاسي ډله جوړه سوه چي وروسته دخان عبدالغفارخان په مشري د«خدایي خدمتګارانو» په نامه یو بشپړ سیاسي ګوند سو او دانګریزانو له استعمار سره ئي دازادي مقدسه جګړه پیل کړه .

دلته نو دتبلیغي او ملي مقصدونو دخرګندو ني لپاره د پښتو و یونکو خلکو پوهنه او له سیاسته سره وروړدونه پکار وه او داکار بې له پښتو خپرونو نسو ای کیدای .

نو دلته پښتو اخبارونه او کتابونه خپاره سول او دملي اروا دو ښیو لو لپاره هر راز ادبي اثار راووتل . لیکوالو مقالي او کتابونه وکښل شاعرانو انتبا هي او په غورځنګ راوستو نکي شعرونه وو یل د پښتو نظم او نثردوا ړه مخ په نوي خوا رهي سول . په نثر کي رواني او دمحاورې سره بر ابره لیکنه چي دخوشحال خان کورني او محمد هوتک ئي تاداي ایښی و بیا راژوندي سوه او ځینو پښتنو لیکوالو له خارجي ژبو څخه په پښتو ترجمه هم شروکړه لکه دنعمان الدین کاکاخیل دابن بطوطه سفرنامه یادغلام محمد پوپلزي دمولانا حالي دمدوجزر اسلام پښتو ترجمه اودمنشي احمدجان په قلم دا نګریزي څخه دتاریخ افغانستان پښتو ترجمه چي په هم دغه وخت کي دامیر شیرعلي خان په دربار کي هم داخبره وښو ریده او تو له عسکري بو لي او نوموني ئي په پښتو راواړول او چاپ ئي کړه.

د ترجمي دغه حرکت د ځانه سره نوي فکرونه او د نوي مدني ژوند دودونه هم راوړل او پښتو نثر ئي دادبي تحول په ونډر کي راګیر کی . په ترجمه کي شاعران او لیکو ال دواړه مجبورو وچي په داسي ژبه خبري وکي چي لوستو نکي ئي په مطلب ښه پوه سي .

هم له دي جهته په نظم او نثر کي دسلیمان ساکو او محمد هو تک په څیر رواني او شګفتګي راغله او دفکري پلوه هم ځني نوي مبادي چي دملیت لاري چاري ئي ښیلي زمو ږ په نثر کي وځلیدل.دلته چي کومه و ده دپښتو داستاني ادب دقصه خواني په منظو سو خپرونو کي کړي ده هغه دپښتو داو سني ادب بیل یو فصل دي چي زمو ږ په اوسني څیړ نه اړه نلري . په سیاسي او صحافي لیکنو کي ددغه وخت سیاسي رهنما خان عبدالغفار خان لو مړی سړي دی چي دپښتون مجله ئي په چارسده کي خپره کړي ده په پښتو روان او عام فهمه نثر ز ه په جیل خانه کي او دشلمي

صدی تهذیب او نور سمون د پښتو د وینګو له پاره خپور ول او دوه ملګري ئې ماسټر عبدالکریم او عبدالخالق خلیق هم د ښو تکړه لیکوالانو څخه دي د ماسټر لیکنې تولې خوږې دي او د پښتو د محاورې او محلي ادا اصلي بڼه راښيي ځني واقعي پېښې د استاني رنګ کې لیکلي او د خلیق د ازادي جنګ هم د واقعه نګارۍ ښه نمونه ده. د عبدالغفار خان ملګرو د خپل نثر لیکلو تاداي پر هغه معیار ایښي دي چې پښتانه پخپلو حجرو او د یرو کې خبرې په کوي. دوی وایي :

لیکنه او ادب فقط د خپل اصلي مقصد له پاره چې د خلکو پوهول دي استعمالیږي او د دوي دلیل مقصد هم دغه دي چې پخپل سیاسي او اصلاحي فکر خلك و پوهوي نو ځکه هغه ژبه خوښوي چې پښتانه په خپلو حجرو کې په ږغیږي. د میر احمدشاه د ازاد پښتون مجله د اسلامیه کالج د خیبر مجله یاد سید راحت زاخیل مجله «ستړي مه شي» په همدغه ژبه او سبك خپریدل چې د پښتو د سیاسي او صحافي نثر غوره اثار دي.

د پښتو سیاسي او صحافي نثر خود کښتي پښتونخوا په فکري او ملي غورځنګ له نو نسمې پیړۍ څخه شلمې پیړۍ ته راووت مګر پر افغانستان باندې داستبداد توري کمبلې خپروې او د هیڅ فکري ښورښت او اوښت له پاره لار نه وه او مونږ وینو چې امیر عبد الرحمن خان په راولپنډۍ کې د هند د وایسراي سره خپله سیاسي مذاکره د سوال و جواب د و لتې په نامه او هم ئې نصیحت نامه امیر په داسې ګوډه شله پښتو چاپ کړي دي چې د عامو پښتنو له پښتو سره ډیر فرق لري او لیکوال ئې ملا غلام جان لغماني دی ورو سته په شلمه پیړۍ کې د کابل سراج الاخبار پر پښتو ته رناوا چوله مګر په نثر لیکلو کې ئې هیڅ و نه کړه او نور افغاني صحافت هم له پښتو څخه تښتیدلي و خو چې څه کم نیمه پیړۍ د مخه ما د قند هار له طلوع افغانه د ګرد ي پښتو نخوا د لیکوالو په همت پښتو نثر لیکل راشرو کړه او په افغانستان کې لومړی پلا پښتو اخبار طلوع افغان

په ۹ ۰ ۳ ۱ شمسي کال خپور سو چې د افغانستان په صحافت او د پښتو نثر لیکنې کې یو نوي باب دي او تر او سه پورې هغسې چاپیږي د کابل مجله هم د خپلو پښتو لیکوالو سره لکه ښاغلی امین الله زمریالی ښاغلی غلام جیلاني جلالي، ښاغلی الفت، ښاغلی خادم، ښاغلی رشتین، مرحوم محمد اعظم ایازي مرحوم نوري، ښاغلی بېنوا او ځیني ښاغلی لیکوال د پښتو د صحافي نثر په تحول کې لاس لري لکه ښاغلی مولانا محمد امین ښاغلی سلیمي ښاغلی عبدالخالق و اسعي، اخلاص جرار خواخوږي، ژواك، بختاني، محمدولي زلمي شپون، او قانع .........

## دریم تاریخي او فولکوري او داستاني نثرونه:

دغه ادب دپښتو ژبې یوه لرغوني پانگه ده چې ترنو نسمې پېړۍ دمخه هم په پښتني نقلونو کې په منثور او منظم ډول دخلکو په سینو کې ساتلې و او کله کله لیکوالو هغه د کتاب په توگه کښلې هم دي مثلاً مسعود دعبدالله زوي دآدم او د رخانۍ قصه کښلې وه او بیا سیا احمدشاه رضواني پخپل شکرستان او بهارستان او منشي احمدجان په گنج پښتو ـ دقصه خواني گپ ـ او هغه دغه کې ځنې نقلونه راوړي دي.

د تاریخي نثر یوه غټه پخوانۍ نمونه خو هغه د افضل خان ختک تاریخ مرصع دی د مولوي عبدالمجید افغاني او دفضل حق شیدا کتابونه دسیدجمال الدین افغاني په باب هم په دغه ډله کې دریدای سي. داروا ښاد محمدرفیق حبیبي دتاریخ الامت پښتو ترجمه هم غټ کتاب دي دناول لیکنې او لنډو کیسو او ډرامو فن هم په دغو وختو کې پښتو ته راغی او لومړي پلادډ پتې نذیر احمدار دوناول توبه النصوح محمدیوسف کاکا خیل په پښتو ترجمه کړه وروسته د وینو جام محمداسلم ختک و کیښ او امیرنوازجلیا د انگارپه نامه یو اخبار را و ـ یوست او ډېري ډرامې ئې و لیکلې چې او س ددي ډلې مشر پوخ لیکوال د پښتو رسیرمهدي شاه دبو ډې تال لیکو نکې او تر ده دمخه سیدراحت زاخیل هم د پښتو په داستاني نثر کې په ښه ډول قلم چلولی دي او دماستر عبد الکریم ځولۍ گلونه او دهمیش خلیل چارگل ددي ډول نثر شکلې کتابونه دي.

منشي احمدجان له انگریزي ځخه دافغانستان تاریخ په پښتو ترجمه کې او له تاریخ فرشته ځخه ئې دسلطان محمو دبرخه په پښتو راواړوله. دده نثر لیکنه قوي او دپښتو معیاري نثر ته نژدې ده. دي دشلمې پېړۍ دپښتو لیکوالو دډلې په سر کې دریږي. دمرحوم محمد گل نوري ملي هنداره او ډپروفیسر سیال کاکړ لیکلې رسالې او دښاغلي رفیع خو خپاره شوي کتابونه د پښتو د فولکلوریك نثر په لړ کې دهیرولوندي. د ښاغلي نورمحمدتره کې د بنگ مسافرت ـ سپین ـ خړه ـ او دښاغلي بینوا ځنې انتقادي او طنز یه لنډې کیسې او په طلوع افغان کې زماځنې لنډې کیسې او د ښاغلي پژواك کلمه داره وړې او دښاغلي خواجه محمد قندهاري نثرونه او د ښاغلي اکبر شاه دازادي تلاش او دښاغلي بینوا او سنې لیکوال او د

افغانستان نوسیالی او پښتنی میرمنی او دښاغلی خادم پیر روښان او پښتو نو لی. هم دپښتو په دغه ډول نثر کی دغوری پانگی په توگه سنل کیدای سی. دکبرای مظهري او ژواك او غلام غوث او فنا او عبدالعلی کیسی هم دلته دیادو لو وړ دي.

**څلرم: تعلیمی نثر و نه:**

دشلمی پیړی په لومړیو کلو کی دپښتو تدریس په حبیبیه دارالعلوم کی شروسوا و مولوي صالح محمدقندهاري دپښتو درسی کتابو نه و کښل چی په کابل کی چاپ سول ده د نثر لیکلو لار په ښه توگه او اره کړه او داخوان افغا ن دزلمیانو په توجه پښتو دسیاست او زده کړي ډگر ته راغله خو داستقلال ترجنگ و روسته دمرحوم امان الله خان په اراده په مکتبو او مطبوعاتو کی داخله سوه. او د۲۰۳ ش کال په اساسی تشکیلاتو کی ئی دپښتو مرکه دپښتو دروزنی لپاره دپوهنی دوزارت په چوکات کی تاسیس کړه چی د قندهار مولوي عبدالواسع ئی مشر او عبدالرحمن لودین او لالامحمدزمان خان او عبدالوهاب کاسوي غوندي تکړه لیکوالو او پوهانو په هغه کی برخه درلوده دوي یوازنی پښتو په نثر چه نثر تالیف او چاپ کړه دپښتو ښوونه (گرامر) او یو لوي قاموس ئی تالیف کړل.

دتعلیمی او تربیوي چارو په لړ کی دغلام محمدپوپلزي تربیه اولاد په پښتو رکی او درای صاحب دیوان رتن چندقندهاري رهنماي پښتو او پښتو لیکچر او بر تش راج په کوټه کی راوتل او دغسی هم د پښتو دزده کولو لپاره انگریزانو تعلیمی کتابونه و کښل چی دو روستو علمی خیړنو لپاره یو تادای و.

ډارمستټر دپښتو نخوا هارو بهار دپادري هیوز کلیدافغانی در او رتی گلشن روه دډورن پښتو منتخبات داسی کتابو نه دي چی ټول دزده کړي په مقصد غربی پو هانو کښلی او په اروپا او هند کی ئی چاپ کړي دي. په تعلیمی اثارو کی دمرحوم محمد اعظم ایازي لس زره لغتونه او پښتو گرامر او دښاغلی بینوا ادبی فنون او دعبدالحلیم اثر پښتو ادب او دپوهاند رشتین دادبیاتو لنډتاریخ او گرامر او ژبښودنه او دمرحوم محمد عثمان پښتون پښتو ښوونکی چی دقندهار پښتو انجمن خپور کی – او د دغه انجمن پښتو مجله هم دوه کاله وچلیده چی په پښتو نثر لیکلو کی ئی برخه لرله او بیا دمرحوم محمدگل مومند پښتو قاموس او پښتو گرامر دواړه دتعلیمی کتابو نمونی دي چی بیانو د پښتو کلی سلسله او د پوهنی د

وزارت او مرحوم پاینده محمد زهیر تد ریسي پښتو کتابونه او دمطبوعاتو او د پوهنې وزارتو پښتو خپرونې په دغه لړ کې دیادولو وړدي . او دارو اښاد عبدالله افغاني نویس قاموسونه او دښاغلو شاکر تري الهام دوست هلالي لودین پولاد، روهي، زیار دژب خیړنو اثار هم نه هیرو و .

دلته دمرحوم سراج الدین سعید ځنې تربیوي لیکنې او دښاغلي ارباب سکندرخان خلیل گلونه او ازغي او دارو اښاد محمدگل سومند لنډ کې پښتو هم نه هیرو و .

## پنځم: تحقیقي اثرونه:

دپښتو د ادبیا تو خیړنې او دادبي تاریخ لیکنې ته هم لومړي پلا په طلوع افغان کې لاس ور ته کې او دقندهار په چاپخانه کې مې دپښتو منظوم متنونه لکه دخوشحال خان کلیات او دعبدالقادرخان دیوان دمفصلو مقدمو سره چاپ کړل. په سپیڅلي پښتو کې مې د پښتو پر فقه اللغه خیړنه وکړه او ځنې بیلې رسالې مې دپښتو او پښتنو الی په تحقیق کې د طلوع افغان په کالنیو گڼو کې خپري کړي . وروسته چې پښتو ټولنې ته راغلم نو مې د پښتانه شعراء لومړي ټوک دپښتو د لویو لیکوالو په مرسته وکیښ او بیامې دادبیا تو د پوهنځي لپاره د پښتو ادبیاتو تاریخ لومړي او دوهم ټوک وکښل خو بیاپټه خزانه هم لاس ته راغله او هغه هم زما دتعلیقاتو سره دري وار ه چاپ سوي ده.

دغو کتابو دپښتو په ادبي تاریخ کې یوه نوي دخیړنې لار پیرته کړه او ددې سکتب ښاغلي لیکوالان پوهاند رشتین او پوهاند رشاد او ښاغلي خادم او ښاغلي بینوا او پوهاند الهام او له نورو ځوانانو څخه ښاغلي دوست او ځنې نور زلمیان دي ــ خو د کتاب شناسي په څانگه کې دښاغلي رفیع او ښاغلي زلمي هیوادمل کارونه هم دیادولو وړ دي .

په تحقیقي خیړنو کې دمرحوم قاضي عطا الله خان د پښتنو تاریخ دري ځلو رټوکه او دظفر کاکاخیل پښتانه د تاریخ په رڼا کې او دښاغلي رشادلو دي پښتانه ښه تحقیقي نثرونه دي ددوست محمد کامل رحمان بابا او دتاریخ مرصع تعلیقات او دهمیش خلیل کارونه پر ادبي متونو او درجالو په برخو ونه کې دنثر غوري پانگې دي . دپښتو پر اشعارو او ځینو نورو خصوصیاتو خیړنو او دپښتو دادب دارزښتو نو خرگندونه ددې ډول نثر خاصه موضوع ده چې سوږیې دادبي کره کړنې او انتقاد یوه بیله څانگه گڼو او د ښاغلي خادم او ښاغلي

شمس‌الدین مجروح او پوهاند رشاد او پوهاند رشتین او ښاغلی دوست لیکنی د پښتو د انتقادي‌نثر پانگه زیاتوي .

### شپږم: هنري نثر:

په‌شلمه پیړی‌کی هنري‌نثر هم په‌پښتو ادب کی وینو‌چی دبرق کاکاخیل ځنی هنري توټی په‌خیبرمیگزین کی‌خپریږي. د دغسی نثرونو‌به لیکوال په‌افغانستان‌کی ښاغلی الفت دی‌چی هره‌دنثرتوټه‌یی لکه یو بلیغ او شیوا شعر داسی ده.داسی نثرونه کله کله ښاغلی بینوا او ښاغلی ډاکترمجروح او حبیبی او ښاغلی خادم او ښاغلی لایق‌او نورزلمی هم لیکی. اروا ښاد محمدایوب خان خوګخانله خاص سبك د رلود په لره پښتو نخوا کی هم دسیدرسول‌رسااو‌شیدا او برق او اجمل او سیدراحت اوحمزه او روغ لیونی نثرونه کله‌دغسی‌دي .چی‌له‌یوي‌خوا هنري‌ظرافت اولطافت لري‌اوکله کله‌دطنز او انتقادرنگ هم سو‌ی چی‌دجعفر اخکزي جعفریات هم دلوستلو وړدي.دمرحوم عبدالغفور‌خروټی مضا ‐مین چی دقندهار په طلوع افغان‌یاپښتو مجله کی خپریدل هم کله‌کله دغه رنگ لري.

هنري نثر یو ډول منثور شعر دي چی له عاطفی احساسه او د انسان دلطیفوا وظریفو ادراکونو‌څخه رابهیږي نوځکه داجتماعی دردونو او الاموځنی نازکی‌توټی رابرسیره کوي او دټولنی دمحرومو او دخواشینی او بی وزلی حال راڅرگند وي .

### اووم قانونی نثرونه:

داستقلال ترجنگ وروسته دمرحوم امان‌الله‌خان په‌همت په‌افغا نستان کی یوقانونی حرکت هم شروسوچی په ۱۳۰۱ شمسی کال دحوت‌په میاشت په‌جلال‌اباد کی یوه‌لویه جرگه وسوه او دافغا نستان اساسی نظامنامه‌یی ومنله. او تردي‌وروسته په‌لس کاله امانی دوره کی‐چی ډیره‌مترقي او مثمره وه‐ په‌سووقوانین راووتل چی دگرد و پښتو ترجمه هم ورسره خپریده.

داپښتو ترجمی متاسفانه نه‌هنري پلولري او نه‌دژبی له‌اساسی قواعدو سره‌سمی دي.د ونی دفارسی تراثر لاندي ترجمه ده‌چی دامیرعبدالرحمن‌خان دوخت پښتو‌یی شرموولی ده.هغه پښتو نه‌ده چی خلکو ویله بلکی د فارسی تحت اللفظ تکی په‌تکی ناوړه‌او بیخوندہ ترجمه ده. خو دهرقانون په‌پای‌کی دپاچاپهرلري (په‌دي‌دکرنوسی) او دا ښکاره کوي

سلیمی ذوق هم وچی داسې ساده او سم عبارت یې کښلی دی. او ښایي چې دګر دو نظامه و ژباړو نکی د دغسې ذوق خاوندان نه وو.

## یوه لنډه کره کتنه:

په دې څیړنه کی زه د پښتو پر پخوانی نثر ډیر نه ږغیږم خو تش دو نی وایم چې د پخوانو نثر سوچه ساده او د پښتنو له محاوري سره سم ؤ او داخبره د سلیمان ماکو نثر ښکاري. د هجرت د لسمی پیړی په دو همه برخه کی د دري ژبی او عربی د فني نثر و نو تر اثر لاندی پیر روښان یو داسې نثر په خیر البیان کی راو یو ست چې هغه ته نه نظم و یل کیږي او نه نثر د جملو په پای کی اکثر د (ان) سجعه لري جملی یې مسجعی دي او دغه ناوړه نثر اخونددرو یزه او ځینو نورو لیکوالو ورو سته تر یوه قرنه پوري لیکه خو په یوه کی یې هم هنري ښکلا نسته او بی خونده نیمه نثر یا نظم دي.

دیوو لسمی هجري پیړی په پای کی خوشحال خان او د ده کورنی د پښتو نثر دغه عیب ته ملتفت سول او بیر ته یې په یوه ادبی بازګشت کی د پښتو نثر مخه هغی خوا ته وګرزوله چې پر هغه باندي پخوانی پښتو نثر روان و. تر خوشحال خان وروسته افضل خان ختیك او په هم دغه عصر په قندهار کی محمد هوتك پښتو نثر بیر ته خپل حقیقي رنګ ته وروا ړاوه چې له ناوړه عربی او فارسي درنو اثرو نو څخه ازاد دی. مګر بیا هم عربی او فارسی کلمات ډیر لري او کله کله که پښتو کلمی هم وي دوي یې پر ځای عربی یا فارسی راوړي. تر هجري څو رلسمی پیړي پوري د پښتو نثر پر همدغه لار روان و خو چې ځینو پخو او تکړه لیکوالو لکه د کاسی مرادعلي او د پیښو رسولوي احمد جان او رضوانی او د قندهار حاجی محمداکبر د اسې لیکنی شروکړي چې د پښتو له اصلی او طبیعی جوړښته سره برابري وي او دغه حرکت بیامولوي صالح محمد د کابل په درسي کتابو کی پسې وروزه.

په دې دوره کی د پښتو نثر حیاتی او سفکوروي ارزښت دو نی وچې د پوهولو یوه ښه اله وي خو کومه فکري د نوي ژوند انه توښه و نلري یعنی دویو نکی په مقصد سري و پو هیږي خو عقل او دماغ ته ئی یوه نوي «سفکوره» نه رسیږي.

ژ به چې دانسان عقلاني و دي او له مفکو روي ژ و نده سر مسله نه وي هغه ژ به و چه او و لاړه او په تو رتم کې منځلي پاتيږي او پښتو همدغسې و ه ځکه چې پر دو او خپلو دپښتنو و يو نکو عقلاني او فکري و ده نه غوښته او ددوی و پښتو ب ئې دځان دقدرت پاتا گټله. جهاني لو مړي جنګ څه نه ناځه پر بېدو او لسو نو باندي هم اغيزه و کړه او تر جنګ ورو سته دافغانستان د استقلال غو رځنګ دار و ابدادامان الله خان په مشري تو له بېده اسياسره راو شو رو له او په دي ترڅ کې پښتو نثر ته دصحافت ا و نشرا تو او نو و ليکنو له خوا يوه دا سې فکر ي پانګه و ر نصيب سو ه چې به افغانستان کې ئې دنوي نهضت او په پاي کې ئې دجمهو ريت لار سمه کړه او په پښتو نستان کې ئې دپر نګي داستعمار کمبله تو له کړه خو و رو سته دا سلي و سله او دپښتو ادب دخپلي ازادي په جګړه کې تر اوسه و لاړ دي.

دشلمې پيړی په ابتدا کې خوخان بهادر مولوي احمد جان پښتو خپلو بادارانو انګر يزانو ته و رز ده کو له او دفکر هيڅ پانګه نه د لو ده محتوي بېه ؤ مګر محتوي دسره و نه. خو داستقلال تر جنګ و روسته هم دپيښو رهم دافغانستان پښتو نشرات ديو ه مسلي دريځ خر ګندو و نکي دي . کوم نثر چې مو لوي عبدالو اسع ديو ازيني پښتو په مقدمه کې کاږي او بياچې کوم نثر دخان عبدالغفار خان سلګري په پښتو ن مجله کې ليکې دو اړه د يوه قو مي ژو ندانه او دافغانانو دملي ارمان ښکار ندوي دي .

دپښتو نثر چې او س په مطبوعا تو کې ليدل کيږي ياله راډيو څخه ا و ريدل کيږي د نو رو ژبو ترا اثر لاندي يو کر غيړ ن نثر دي چې با يد تصحيح او د پو هيدلو و ړ سي. دژ بې اصلي بڼه او دداډول اوقو اعدو ساتل سې ملفو ظ او مکتو ب سره ليري نسې. له ځانه جو ړ کړي کلمات يکې کو تر م نسې او که نو و لغتو نو ته ضرو رت پيښ سې هغه دي د پښتو تو لنې د علمي غو نډو تر منلو و رو سته دمخه په مطبوعا تو کې دخلکو دخبر تيالپاره خپاره سې بيادي نو راډيو او کتابو نو ته و رسول سې.

په هر صو رت او سنې نثر چې کو سې خو اته روان دي دعلمي تو لنو دتوجه و ړ دي ز ه پر دي پير يو م چې مبا به دليکوالو او عامو خلکو پښتو دو نې سر ه ليري سوي وي چې يو دبله به نه سره پو هيږي. که او س سو ړ يوه خپل بانډوال و رو رته و وا يو چې ماتصميم نيو لی دي يارو ل لو بو م اريانيږي چې داڅه وايي؟

کله کله سپکاوی کیږي کلمات هم اړوو چې د ځینو نورو خواوو په محاوره ی هغه ښکنځل ګڼل کیږي لکه تماس‌نیول، په‌ګوته کول. کوته‌نیول‌او نور.....

داسمه خبره‌ده‌چې هرڅوك دخپلې لهجې او محاورې‌سره‌سم خبرې یالیك وکي مګر که ځنې داسې کلمات یااصطلاحات وي‌چې په‌هابله خواکې بدمفهوم ولري او اړوندو نکی په‌سو تفاهم اخته‌کوي‌داسې موادباید په‌ادب‌اولیك‌کې په‌ډېر احتیاط استعمال سي‌او پرځای ئې هغه کلمې او تعبیرونه واخیستل سي‌چې‌ګرده پښتو ویونکی ښه‌په‌پوهیږي.او بدمفهوم ونلري. ځنې خلك په‌ښه‌نیت دپښتو سوچه کیدلو ته‌اړم‌سوي‌دي‌له‌ځانه کلمات‌جوړوي‌او په پښتو ئې ورننباسي چې‌نور خلك نه‌په‌پوهیږي‌دژبې دغسې سوچه‌کول – که‌په ښه‌نیت‌هم وي‌دګټې پرځای تاوان لري او یوه‌نامفهومه‌دېر یانانوژبه‌ځنې جوړوي.داکار دیوه‌سړي ندې‌ښایي چې‌دپښتو ژبو یوګړدېو هانو انجمن داکاروکی او هغه هم په‌داسې وخت‌کې چې‌دژبې عمومی څېړنه او پلټنه سوې‌وي‌او هغه کلمې چې‌په‌ژبه‌کې سو ندلې نسې بیاوضع سي.دژبې دسوچه کولو فکر لېرخه افراطی هم ښکاري ځکه چې پر کري سځکه داسې ژبه نسته چې دنورو ژبو له‌کلماتو څخه کورته سوچه‌وي .

ټ‌سې پریږدي‌چې دپښتو نثر دګردو دخیلو کلماتو سره ددې‌ورسی چې‌علمی او فکري او ادبی ګران‌او پیچلی مفاهیم اداکی چې‌علمی اوفکري‌پا نګه ئې ډېره‌سوه‌او دا خواربشر کې ئې‌لېرخه‌غټ‌اوتکړه سو بیاهرخه‌چې وغواړي زغم به‌ئې ولري مګرا ومرشید ورودونکی کوچنی ته‌دغټ‌سړي‌خواړه‌سه‌ورکوي چې‌سبابه‌ئې په‌چاره‌پوري‌اریان یو..

**یادونه:** دپښتو دنثراو ږدداستان ماله‌خپلې حافظې دلته په‌څومخو کې راښه‌کې‌ځکه چې زماد‌ی یناوخت‌هم لنډونو که‌څوك یاکوم منثو راثر پاته وي‌داکا رارادي‌ندي‌زماسهو او نسیان‌به‌وي. هغوته‌لی ښاغلو لیکوالو چې په‌نثر کې څه‌لیکلي دي‌زمو ږد سترګوتوردي دوی‌به‌ماو بخښي.

د ګرمن ارکانحرب فضل ربي

# په‌شلمه پېړۍ کې د پښتو عسکري اصطلاحات

ژ به‌یوه اجتماعي پدیده‌ده‌چې د هغې پوسیله د ټولنو ترمنځه د پوهولو او پوهېدلو له لپاره ټولنیز مناسبات او اړیکې ټینګیږي‌او یو والی مینځ ته‌راځي. هره ژبه د فرهنګي تکامل دعمومي قانونمندۍ د دنه کې د نورو اجتماعي پدیدو په‌څېر د ټولنې د تکامل سره‌سمه‌بدلون مومي، پراخیږي او د مادي‌او فرهنګي وسایلو د زیا توالي او پراختیا سره جوخته مخ په وړاندې ځي– د نورو پدیدو او فرهنګي و سایلو د پاره‌نوې مفاهیم او اصطلاحات‌منځ ته‌راځي هرڅومره‌چې یوې ټولنې کې د اجتماعي تکامل بهیر او سیر چټک وي همغومره د فرهنګ پرمختیا هم چټکه وي. همدا رنګه هرڅومره‌چې د ټولنې د وګړو د پوهې سطح لوړه‌وي د هغوی د خلاقه‌فعالیتونو د کار پراختیا دفني او ما دي بنسټ په‌جوړولو او د وګړو ترمینځه د نورو مناسباتو د تکامل زمینه لا پسې سه‌برابریږي– هرڅو مره چې د ټولنې اکثریت وګړي دیو عالي شعور په‌رڼا کې په‌عادلانه توګه د تکامل او پرمختګ پړاو وهي د معنوي فرهنګ حقیقي سرچینې او غنا تامینیږي.

د ټولنو د تاریخ په‌هره‌موده کې د هماغه زماني د مناسباتو او اړیکو متناسب، په‌اقتصادي اجتماعي او فرهنګي فعالیتونو کې‌د پدیدو او روابطو د پاره یو لړ مفاهیم او اصطلاحات موجود وي.خو داقتصادي، اجتماعي‌او فرهنګي پرمختګ او وړاندې تلنې په بهیر کې د نورو مناسباتو او اړیکو د له‌مینځ ته‌راتلو سره‌سم د مادي‌او معنوي وسایلو زیا توالی او نوي توب ته‌اړه‌پیدا کیږي نو وګړي‌مجبوردي‌چې د نورو پدیدو او وسایلو د پاره‌نوي مفاهیم او اصطلاحات‌هست او تعمیم کړي. زمونږ د خلکو وسله‌والو پوځونو کې، د پښتو ژبې و نهه

دعمومي اجتماعي و دې‌تر څنګه دوسله‌واو پوځونو د سادي او کیفي بدلون او پر مختګ او دزماني دشرایطو دتاثیر لاندې خپله نني بڼه نیولي ده. ددې‌دپارې‌چې ګر انوا و ر ډونکي زمو نږ په‌عسکري تو لنه کې‌چې‌دافغان‌ولس یو ه‌مهمه برخه جو ړ وي—دپښتو داصطلا حاتو په هکله لږ څه‌لنډمعلومات و لري لاز م‌ګڼم څنې هغه عوامل و څیړ ل‌شي کوم چې دعسکري تاریخي او جغرافیاي نظره‌ډیره‌برخه لري :

۱— افغانستان یو لرغوني هیو ادچې څو زره‌کلن او ډ ډیر تمین عسکري تاریخ لري‌د اسیاپه‌زړه‌کې دیوه‌خاص جغرافیاوي او ستر اتیژ یک موقیعت اودر یز په‌درلو دلو مجبو ر و دلرغوني زماني راهیسي و سله‌وال پوځونه و لري‌او عسکري ساحه‌کې‌یو لړ فعالیتو نه سر ته‌و رسوي. سره‌ددې‌چې دافغان‌ولس‌په‌عنعنوي ډول سوله غوښتونکي دي خو کله چې مجبو ر شوي‌دي دسولي دتامین او راوستلو دپاره یې تل دنیاو یز و جګړ و څخه په‌پراخه پیمانه کار اخیستلاي‌دي.دتیري کو ونکو او استعمار ګر و دښکیلا ک او ز بیښا ک په‌ضدیې دخاو رې‌دتمامیت،ملي‌حاکمیت‌او خپلواکې‌څخه‌ددفاع‌دپاره دملي قو تو نو تر څنګه عسکري قو تونه‌هم‌ساتلي دي.خپل څانګړې‌ملي او عسکري‌فر هنګ لري خو دلته لازم‌نبولم چې د تاریخ په‌اوږدو کې دعسکري فر هنګ دو دې او تکامل په‌باره کې و غږیږ م .صرف دومر و یل ټکار دی‌چې دافغانستان خلکو هیڅکله دپر دیو باداری‌ته‌غاړ ه‌نه‌ده ایښې او نه‌ئې ږ دې

دغز نوي محمو داو لوی احمدشاه‌دوسله‌وا لو پوځونو یو مهم خصوصیت داو ه‌چې مستقل جزوتامونه‌به‌دیوه کام‌دوګړ و څخه‌چې‌جز و تام ژ به به دهماغه کام ژ به و ه جوړ یدلې . و لې دعسکري‌ضر و رت‌او په ټولو پوځونو کې دیوي مشتر کې ژ بې دتعمیم او پیا و ړتیا دپاره‌هغه رو انه‌و ه.داحمدشاه‌باباد‌ټولو عسکر و تر مینځ دګډې ژ بې حیثیت پښتودرلو د . او په لمري سر کې څینې نو مونه او بو لې ګا نې په پښتو ژ به ټولو عسکر و کې رو اج شوي.دپښتو نومونه، بولې‌او اصطلاح‌ګانې دتاریخ په‌اوږدو کې خوځو و اره بدلې شوي دي.چې دهغې په‌باره‌کې په‌بیله مقاله کې‌مفصل معلومات و ړاندې‌کیږي.

۲— په‌دوه‌و روستیو پېړیو کې دافغا نستان عسکوي اکثر فعالیتونه جنو بي او ختیز و سرحدو نو کې و و څکه استعمار ګر و له‌همدغو خوا و څخه استعماري او استثماري لاس‌و هنې او تیري کول‌دلته یو مهم خصوصیت دادې‌چې :

د جنوبي او ختیز و پولو ته نژدې پراته خلک ټول پښتو ژبي دي او څرنګه چې دغه سیمې د استعمارګرو د مستقیمو تیریو په لاره کې پرتې وې نو د استعمارګرو د لښکرو د تیریدلو په وخت کې د نورو سیمو په نسبت ډیرې تاوانې کیدلې خلک ئې مجبور وو چې د نورو سیمو د خلکو په نسبت د خاورې د تمامیت خپلواکۍ او ملي حاکمیت نه د دفاع د پاره په عسکري فعالیتونو او ښوونو او روزنه کې ډیره ونډه واخلي. نو د غو سیمو کې بر سیره په دولتي منظمو وسله والو پوځونو، ملي او نامنظم پوځونه شته او پراخه شول د دغو سیمو ټول اوسیدونکي مجبور وو چې ځانګړې وسلې ولري او حتی په خپلو محلي سونو فکتورونو کې یې جوړې کړې نو ځکه د پښتو ژبې ګڼ شمیر اصطلاح ګانې او کلمې په عسکري تکتیکي او تخنیکي دواړو برخو کې ځای نیولی وو

۳ — همدا رنګه که په تیرو دوو وروستیو پیړیو کې د افغانستان عسکري وضع الجیش ته نظر واچول شي لیدل کیږي چې د ښمن ډلو او فرا څخه نیولې تر اسمار او بریکوټ پورې ټولې وضع الجیشي سیمې پښتو ژبي دي او پرتو پوځونو د محلي اوسیدونکو سره خپل اړیکي او مناسبات څه ناڅه د محیط په ژبه ټینګ کړي دي.

۴ — د پیړ له پسې جګړو او غزاګانو په ترڅ کې تجربه کار او ازمایلي عسکر د خپلو ښو وړتیاو په څرګندولو، منصبونه او رتبې اخیستلې دي. او څرنګه چې د سیمو ستراتیژیک اهمیت، او د وګړو د غو نیز فزیکي جوړښت غښتلتیا د دې زمینه برابره کړې وه چې تربیتي کدراو بولوندویان د همدغو سیمو څخه وي. او څرنګه چې د تربیتي او رهبري کدرونو ژبه په لاس لاندې وګړو پورې اغیزمنه دی نو د پښتو ژبې اصطلاح ګانې د ټولو عسکرو تر مینځه ګډې شوې دي. البته پورتنو رعوامل هم شته چې د رتبو او جزوتامونو نومونه بولیګانې او اصطلاح ګانې په وسله والو پوځونو کې په پښتو پاتې شي. او س به د پښتو عسکري اصطلاح ګانې د شلمې پیړۍ د پیل څخه لږ څه په مفصله توګه وګورو.

۱ — هغه وخت چې په ۱۲۸۹ ش کال کې «مکتب فنون حربیه سراجیه یا مکتب حربیه په نامې ملي آرشیف عمارت کې تاسیس شو په عسکري ساحه کې د ښوونې او روزنې په تر کې هم په وینا او هم لیکنو کې د پښتو اصطلاح ګانې زیاتې شوې

د سراج الاخبار د ځینو ګڼو څخه چې کومه نوموونه او اصطلاګانې راوتلې دي په لاندې ډول ښودل کیږي.

الف: دو ختدو سله‌و الو پو ځو نو د بېلو بېلو صنفو نو او جز و تامو نو نو مو نه:

جز و تا مو نه:—ار دو —دنني‌قو ل‌ار دو معادل صنفو نه:—تو پخانه (صحر ا—جبل) تو پچي

| | | | |
|---|---|---|---|
| لوا | فرقې— | پياده | —پلی |
| غند | غند— | اسپو ر— | سو اری‌یاسپار ه |
| کندك(مټ) | کندك | استحکام— | استحکام |
| تو لی(ر ساله— | غندك)تو لی‌بطر يه | سفر مینا ( ۱ ) | ر اه‌سازی |
| بلك | —بلو ك | ستار ه‌دو لت | —مخابر ه |
| جماعة | دلگی | مو ز يقه(باجه)—مو ز يك | |
| شی‌مټ— | کندك‌او ل | ار دل— | گار دحضو ر |
| منز نی‌مټ— | کندك‌دو م | ار دلی— | گا ر دمر کز (قو ا يمر کز ) |
| کین‌مټ— | کندك‌سو م | کو تو الی | —امنيه |

ب — در تبو نو مو نه:—

| | |
|---|---|
| قائد | قو ماندان(بو لندوی) |
| کمان | قو مانده(بو لی) |
| تعلق | تحت‌امر |
| سپه‌سالار | ستر جنر ال |
| نائب‌سالار | دگر جنر ال |
| جر نيل | جنر ال |
| بر گلی(بر گډ ير ) | دگر من‌و دگر و ال |
| کر نيل | جگړ ن |
| سلمشر | تو ر ن |
| (صو به‌دار ) بلك‌مشر | بر يدمن |
| جمعه‌دار نايك | دلګيمشر |
| اجيدان | ياو ر ق |

---

( ۱ ) از کلمه انگلیسی سو پر زایندمایفو ز

| | |
|---|---|
| کو تناب | معتمد دیپو |
| سارجن | و رضابط |

ج: خینی نو ری اصطلاح گانی:

| | |
|---|---|
| کار تفنګک | جمع نظام باسلاح |
| کار قدم | جمع نظام بی سلاح |
| مارچ پاس | رسم گذشت ـــ پریت |
| کمپنی بست | بداخل نظام تولی. |
| مت بست | کندک. |
| جباخانه | وسله پالی. |
| پریت | شو و نه او روزنه |
| چهاونقلعه | کار نیزون |
| افسر ـــ صاحب منصبان | ضابطان |
| ضرب | واحدقیاسی توپ |

پورتنی اصطلاح گانی او نورونه دسراج الاخبار دلاندنی ګڼو څخه و یستل شو یدی

ـــ سال اول شماره ۱۷، ۱ ۱ جوزا ۱۲۹۱ ش.
ـــ سال سوم شماره ۶، ۸ قوس ۱۲۹۲ ش.
ـــ سال چهارم، شماره ۳، ۳ ا میزان ۱۲۹۳ ش.
ـــ سال پنجم شماره ۲، ۲ سنبله ۱۲۹۳ ش
سال پنجم شماره، شماره ۲، ۲۷ جوزا ۱۲۹۵ ش .
سال هفتم ، شماره ۳، ۱ ا سنبله ۱۲۹۶ ش .

همدارنګه ددغو اصطلاحاتو دراتو لو دپاره دمجمل تاریخ عسکری عهدسراجیه ، مقالات محمود طرزی، چاپ کابل څخه هم ګټه اخیستل شو یده.

۲ ـ دغازی امان الله خان عهد:

نوسو ری غازی دځول عهد دپیل څخه دځپلو اکی دبیر ته اخیستلو په مقصد په وسله والو پو ځو نو کی کمی او کیفی بدلون مینځ ته راو ست دمنظمو وسله والو پوځونو ترڅنګه

دناسنظمو او مليشائي پوځونو په‌جوړولو ،عسکری تشکیلا تو او وضع الجیش کی بدلو نو نو او دګن شمیر عسکری نظامنامو جوړولو کی پخپله دپښتو اصطلاح ګانی او نومونه څو څو واره بدل شول. خاصتاً کله چی (نظامنامه جزای عسکری چی اوس و رته اصولنامه جزای عسکری و يل کيږي) د ۱۳۰۰ ش کال په‌سنبله کی له‌چاپه راو وتله دپښتو یو لړنوی اصطلاح ګانی یکی خپاره‌شول. او و روسته چی بیاد ۱۳۰۰ کال دلړم په لمړی‌نیټه‌مجموعه عسکریه مجله (نننی اردو مجله) په‌خپریدلو پيل وکړه‌دمقالو او مضمونو په متن کی ښتو عسکری اصطلاحات‌ډیر یږي.څینی هغه نوری‌نظامنامی چی دغه‌دوره کی چاپ‌شوي او عسکری‌اصطلا حات‌یکی لیدل کیږی دادي:

—یو ازینی‌پښتو ۱۳۰۱

—نظامنامه‌وزارت‌جلیله‌حربیه،طبع دایره‌تحریرات‌مجلس‌عالی‌وزراء ۲عقرب‌سنه ۱۳۰۲ (خدمات‌داخله)

—نظامنامه‌تعلیم‌ګاه‌امران‌وضابطان، ۲۹سرطان ۱۳۰۰ طبع‌سنګی شرکت‌رفیق

—نظامنامه‌مکتب‌خورد‌ضابطان، ۱۵سنبله ۱۳۰۰ طبع‌شرکت‌رفیق

—نظامنامه‌رتبه‌های‌عسکری، ۱۵سنبله ۱۳۰۰ طبع‌شرکت‌رفیق.

نظامنامه‌لایحهٔ‌تطبیق رتبه‌های جدیدو عتیقه‌عسکری ۱۵سنبله ۱۳۰۰ طبع‌شرکت‌رفیق

—نظامنامه‌نشان‌های‌ذیشان ۱۲سنبله ۱۳۰۰ طبع‌شرکت رفیق

—نظامنامه‌خلاصه‌عبارات‌و القاب .......

—نظامنامه البسه‌عسکری.

—نظامنامه‌جلب اجباری‌نفوس‌عسکری.(مکلفیت عامه)

—نظامنامه لایحه‌وظایف‌کاتبان‌دوایرلوازم‌وقطعات‌اردو.

دعسکری‌رتبو او مقامو نو نومونه چی دیو ازینی پښتو (۷۵او۷۶مخونو) څخه چی په کابل کی‌په‌کال ۱۳۰۱ش کی چاپ‌شویده دادي:

| پخوانی | نوی |
|---|---|
| وزیرحربیه | غزاوزیر |
| تولمشر | سپه‌سالار |
| لوی‌مشر | نائب‌سالار |

| | |
|---|---|
| غټ‌مشر | فرقه‌مشر |
| لوړمشر | لوامشر |
| غندمشر | برگل |
| کندک‌مشر | کرنیل |
| کندک‌ناب | کمیدان |
| تولی‌مشر | کپتان |
| بلوکمشر | صوبه‌دار |
| مپورمشر | رساله‌دار |
| پرکمشر | سرحوالدار |
| لس‌مشر | حوالدار |
| دلگی‌مشر | نایک |
| زمرلای | عسکر |
| پلټنی | سپاهی |

پورتنی نومونه په (نظامنامه‌لایحه‌تطبیق رتبه‌های‌جدیدو عتیقه‌عسکری ۵ ۱سنبله ۱۳۰۵)
کی‌په‌په‌لاندی ډول تعدیل شویدی . :

| | تعبیرات‌جدید | تعبیرات‌عتیقه : |
|---|---|---|
| سلاح‌انداز | منصبدار | افسر |
| | سپاهی | سایر |
| | دلگی‌مشر | زنایک،او لس‌مشر . |
| خوردضابطان | کاتب‌تولی | کوت‌حواله‌دار |
| | پرکمشر | حواله‌دار – لنداک |
| | سرپرکمشر | سرحواله دار |
| ضابطان | بلوکمشر ثانی | صوبه‌دارو جمعه‌دار ثانی |
| | بلوکمشر اول | صوبه‌دارو جمعه‌دار اول |
| | کاتب کندک | مهجر |

| | | |
|---|---|---|
| | تولیمشر | کپتان یا رسالدار |
| | کاتب غند | نویسنده غند |
| | کاتب لوا | نویسنده لوا |
| | معاون کندکمشر | کمیدان |
| امران | کندکمشر | کرنیل |
| | غندمشر ثاني | نائب برګد |
| | غندمشر اول | برګد |
| ارکان | لوامشر | جرنیل |
| | فرقه مشر | تاحال موجود نبوده |
| | نائب سالار | نائب سالار |
| | سپه سالار | سپه سالار |
| | ناظر حربیه | وزیر حربیه |

داستقلال دګټلو وروسته دعامه مکلیفت دقانون سره سم دهیواد ټول جلب شوي ځوانان بی له قومي توپیره سره ګډ په یو مجزو تام کي ننوتل او د پښتو ژبه دعسکري ګډي ژبي په حیث و منل شوه. او دعسکري رتبو نومونه کي دخلورو کلو دننه دوه واری واړول شو.

۳ــ دسقاو دزوي(حبیب الله) دوره کي ،عسکري اصطلاحاتو کي کوم خاص بدلون رانغی او دهیواد دنورو مطبوعاتو په شان عسکري مطبوعات هم و تړل شو حربي مکتب تعطیل شو. په ۱۳۳۸ کال کي دعسکري رتبو نومونه دعسکري عالي شورا او پښتو ټولني په ګډه سرسته واړول شو او نني بڼه ئي و نیوله دلته صرف دعسکري رتبو نومونه چي د۱۳۳۸ کال دتلی میاشتي کي اړول شوي و ذکر کومه:

| | | |
|---|---|---|
| | پخواني نومونه | اوسني نومونه |
| ارکانان | وزیر حربیه | ددفاع وزیر |
| | مارشال | مارشال |
| | سپه سالار | ستر جنرال |
| | نائب سالار | دګر جنرال |
| | فرقه مشر اول | تورنجنرال |

| | | |
|---|---|---|
| | فرقه‌مشر ثانی | بریدجنرال |
| امران | غندمشر اول | ډگروال |
| | غندمشر ثانی | ډگرمن |
| | کندک‌مشر | جگړن |
| ضابطان | ټولی‌مشر قدمدار | جگړتورن |
| | ټولمشر | تورن |
| | بلوک‌مشر اول | لمړی‌بریدمن |
| | بلوک‌مشر ثانی | دوهم‌بریدمن |
| | بلوک‌مشر ثالث | دریم‌بریدمن |
| | خورد ضابطان | واړه‌ضابطان |
| | (پخوا دار تبه‌نه‌وه) | کروړ |
| واړه‌ضابطان | سرپرکمشر سرپرکمشرقدمدار | جگړبریدګی |
| | پرکمشر قدمدار | لوړبریدګی |
| | پرکمشر | بریدګی |
| | دلګی‌مشر | دلګی‌مشر. |
| افراد | قوماندان‌قسم (گروپ) | قوماندان‌قسم. |
| | فرد | لغر |
| | افراد کهنه‌گی | یو کلن |
| | افراد جدیدالورود | نوه‌کی. |

دتکتیکی اصطلاحاتو دزیاتوالی دکبله نشم کولای‌ټولی اصطلاحګانی راوړم‌دبلکی په‌توګه دالاندي څو کلمو ذکر کوم:

| | |
|---|---|
| پخوانی | اوسنی |
| مسافه (دودی) | واټن — (لریوال) |
| ترصد (محل ترصد) | څار (څارځی) |
| موضع (موضع‌اتش) | (مورچل — (اورځای) |
| دقت! | څیرشی! |

| | |
|---|---|
| زره‌دار | زغري‌لرونکي. |
| علو انداز | اورغورزونکي |
| طیاره | الوتکه |
| ماشیندار ثقیل | درونه‌ماشینګن |
| پیاده | پلی |
| صنف اسلحه | وسله‌پالی |
| پارتیزان | داړه‌ایز |
| سرسی | سرد کي (سرد ک) |
| انداخت | ویشتل |
| محارب | جګړه‌ایز |

او داسې نور.

دزیاتو معلوماتو دپاره کولای‌شي چې دحربي پوهنتون دمجلې (د۱۳۴۹ کال) کلکسیون او داړه‌ایز وضدحر کاتو لمړی‌او دوهم ټوکونه چې‌په پای کې دعسکري تکتیکي اصطلاحګانو مفصل فهرستونه شته‌دی‌او ددې‌سیمنار په‌مناسبت‌دچاپي اثارو په‌نندارتون کې‌ایښو دل شوي‌ولو لي.

څرنګه چې‌دوسله‌والو پوځونو دبیا بیاسنبالښت او ډېر سختګ په‌اوږدو کې‌د عسکري مطبوعاتو او خپرونو،او همدارنګه دعسکري‌علمي ،تدریسي او تربیتي‌موسسو اودښوونې او روزنې ادارود کمیت‌او کیفیت بدلون‌ته‌اړه‌و دنو څکه په‌سل‌ګونو نوي‌تعلیمنامې، تعلیما ـتنامې، کتابونه او نورټوکونه په‌مسلکي او عمومي علومو او فنونو کې چاپ‌او خپاره شول په‌دغو ټولو کې هرډول قوماندې‌او ځنې تخنیکي او تکتیکي اصطلاحګانې په‌پښتو اړول شویدي.همدارنګه په‌وسله‌والو پوځونو کې دګڼ شمېر ورځپاڼو،رسالو او خلورو مجلوپوسیله چې په‌پښتو او دري‌دواړو ژبو خپرېږي دپښتو زیات‌نومونه او اصطلاحګانې استعمالیږي. دوسله‌والو پوځونو مجلې دادي :

۱ — داردو مجله(دوسله‌والو پوځونو نشراتي‌ارګان)میاشتنۍ‌مجله‌ده .

۲ — دحربي‌پوهنتون‌مجله میاشتنۍ مجله‌ده

۳ — دزیرمې‌مجله —دری‌میاشتنۍ‌مجله‌ده.

م – د تخنیک مجله – د دری میاشتنی مجله ده.

نظریات او نتیجې :

د دې د پاره چې د خلکو د وسلو او لیکوالو او نورو هیوادو والو ترمنځه دوینا، خبرو نشریاتو او مطبوعاتو لفظي او معاني یووالی او وحدت موجود وي او د افهام او تفهیم په وخت کې اشتباه گانې او ناسمې پېښې نه شي لاندې ټکي په گوته کوو :

الف: د مسلکي او عمومي قاموسونو په جوړولو او ترتیب کولو کې باید د بېلو بېلو مسلکونو با صلاحیته علمي استاذي موجود وي تر څو د کلماتو، اصطلاح گانو، مخففاتو او داسې نورو په تلفظ او ماناگانو کې یووالی او هم اهنگي زیاته شي .

ب: د نوو مفاهیمو او اصطلاح گانو ټاکل او جوړول چې په قاموسونو کې نه وي هم دیو گډ کمیسون له خوا باید صورت و نیسي.

ج: د نوو مفاهیمو او اصطلاح گانو د تعمیم او ستاندارد ولو د پاره باید لازمه تدابیر و نیول شي.

ژب اروني او لیکني چارې باید د موضوع سره سمې د مسلکي او باحتو اشخاصو له خوا و شي ځکه چې داسې ډېر لیدل شوي، او ریدل شوي او لوستل شوي دي چې په دیوالي پوسترونو او اعلاناتو، رادیویي خپرونو او مطبوعاتو کې ځنې داسې اصطلاح گانې او کلمې استعمال شوي دي چې یا اصلاً نشته او یا غلطې استعمالیږي. د مثال په توگه د بریده، هجوم، حملې ضربې تعرض، تیري، یرغل کلمې په عسکري ژبه کې د تکتیک له نظره بېلې بېلې ماناگانې او مفهومونه لري. او د رادیو او مطبوعاتو په خبرونو، تبصرو او تفسیرونو کې خاصتاً کله چې د خارجي ژبو څخه ترجمه کیږي ناسمې استعمالیږي او په دې توگه د خبر او تفسیر اصلي ماهیت کې بدلون پېښیږي.

همدارنگه د لیکوالو په عقیده د دې د پاره چې د ملي فرهنگ سرښت او غنا تامین شي د ژب اروني په ترڅ کې کمې چیرې په پښتو یا دري ژبو کې ځینې خارجي کلمو او اصطلاح گانو ته مناسبه کلمه او اصطلاح موجوده وي د دې په عوض چې خارجي کلمې استعمال او ترویج شي باید د خپلو نورو داخلي ژبو څخه چې د غو مفاهیمو د پاره مناسبې کلمې ولري گټه واخیستل شي. خو د خارجي کلمو بې لزومه استعمال ته دې ځای نه ورکول کیږي د مثال په توگه د تعبیې، تکتیک، سوق الجیشي، کانتین، گازینو، موضوع، ترصد، گارنیزون، راکټ، ب

–(ه)،سو ن–۸او داسی نو ری کلمی ته–و لی دبیلو بیلو خارجی ژ بو څخه را ننوتلی دی او په پښتو او دری ژ بو کی و رته مناسبی کلمی یاسته یا جو ړ یدلی شی و لی استعمالشی؟ البته دا کارو نه د عسکری او ملکی دو ا ړ و خو ا گانو فعالی سرستی ته ا ړ ه لری .

سمکن څینو اشخاصو ته داسو ال پیداشی چی و لی او څنگه په عسکری ساحه کی یو ا زی – قو ماندی یا څینی نو مو نه په لږ تغیر تل په پښتو ژ به ساتل شوی دی ؟ په داسی حال کی چی دپښتو ژ بی عمو می و نه په عسکری ساده کی په بیله بیله ز مانه یو شان نه وه؟

دلته یو مثال را او ړ م :

په هـ ه ژ به کی د حسابی عددو نو د پاره کلمی او لفظو نه بیل بیل دی خو کله چی دغه عددو نه په رقم لیکل کیږی یو شان شکل لری. په پښتو، دری، ار دو، عربی یا ر و سی، انگلیسی ، جرمنی، فر انسوی او داسی نو ر و ژ بو کی تلفظ جدا جدا لری خو ر قم یو شان لیکل کیږی داو لی؟ددی د پاره چی ز مو نږ دهیو اد د بیلو بیلو ژ بو و یو نکی و ر و نه عسکر په هغه شیانو او کارو نو چی دتو لو څخه دعینی او و احدعمل غوښتنه کوی بی له اشتباه او غلطی کړ نه و کړی په عسکری ساحه کی یوی گڼی ژ بی ته ا ړ ه و ه. نو څکه د پښتو ژ بی اصطلا حاتو او قو ماندو د گډوشعار و نو ، و جیز و او او امر و په تو گه منل شوی او تعمیم شوی دی. لا ز م دی چی ددغه گډی عسکری ژ بی دلا پر اختیا، و دی او تعمیم د پاره گډی هڅی او هلی ځلی و شی .

پای

خېرندوی عبد الله خدمتګار

# په دوو ورو ستيو پيړيو کښې

## د پښتو نظم ته يوه کتنه

که د دوو ورو ستيو پيړيو د ټولو شاعرانو او ناظمانو د ژوند پېښو او د ټولو د منظومو چاپي او خطي اثارو په باره کښې څه وليکو نو دا به يوه داسې په زړه پورې دقيقه او اکاډميکه خېړنه وي چه هم بايد ليکوال يې د ليکلو د پاره ډېر وخت ولري او هم يې اورېدونکي د اورېدو د پاره لويه حوصله. خرنګه چه دا شته او هغه نه نو زه بايد د دغې دورې نظم ته يوازې «يوه کتنه» وکړم او له تاسې نه د «يوې اورېدنې» انتظار ولرم.

ګرانو او درنو استادانو

تاسې ته ښه معلومه ده چې کله چې مونږ د يوې دورې په ادب، نظم او نثر غږېږو نو دا به په زړه پورې خبره وي چې ادب ځانله، وچ په وچه، د فورم او قالب له مخه او د هغې دورې د اديب د زېږېدو او مړينې د نهايتو دقيقو نېټو، چې يوه دقيقه فرق هم پکښې نه وي، يا د هغه د اثارو د شمېر او کچ مېچ په سېج، نه بلکه ښه به دا وي چې د هغه د ايجاداتو مضمون او محتوي، د هغو د تاريخي سياسي او اقتصادي محر کاتو مو ثراتو او عواملو په پس منظر کې وګورو.

نو ځکه په دوو ورو ستيو پيړيو کې د پښتو نظم ته د يوې کتنې په لړ کې بايد وګورو چې:

ددغو منظومو د ايجاد تر شا، د بشري جهاني تاريخ د کومې تاريخي مرحلې څرنګه اثر موجود دی ؟

همدارنګه دملي تاريخ په کوم حالت او کومه مرحله کي دهغي ترڅرنګه تاثير لاندې دغه منظومي ايجادشوي دي ؟

تر هر څه دمخه دموجوده ترڅېرني لاندې ادبي اثارو ترشا څرنګه ادبي عنعنه وجود لري ؟

د دغو پو ښتنو ځواب زمونږ اصلي مطلب ترلاسه کوي ، نو بياهم د ښوونځي دهغه شاګردو ينارا په يادشوه چي و يل يې: سوالونه ډير اسان دي مګر جوابونه يې ډير سخت دي. و اقعاً پو رتنيو سوالونو ته سم جواب و رکول خو هم يوه مقاله ياخو مقالي څه چي مفصلي څېړني او مستقل کتابونه غواړي، مګر شکر دی زمونږ نه زمونږ څپله خبره لاهيره نه ده، سونږ و يلي و و چي تاريخي بېسنظر ته بايد وګورو ،نو راشئ، مهرباني وکړئ چي ددوو و رومتيو پېړيو ته لږ ترشاوګورو . :

۱ - ادبي عنعنه :

ددوو و رومتيو پېړيو نه دوه پېړۍ او دنن نه څلورپېړۍ دمخه، دبايزيدروښان دملي انقلابي مترقي عرفاني حرکت په لمنه کي ډير ستر شاعران او روزل شوي او په پښتو ادب کي يې خوراباارزښته ذخيره زياته کړه .

تر دې د مخه دپښتود بې شميرو اثار ولېجملي څخه بېخي لږا ارزمونږ ګوتو ته راغلي دي «بې شميره اثار» مو ځکه و بلل چي دروښاني دورې دادبي اثارو دادبي ښکلا او قوت، د فورم دپوخوالي او دمحتوادغناله مخه سړی و يلی شي چي دا خو د يوې قوي، پخې، ادبي عنعنې پرلېسې ادامه ده چي بيادېوخاص طرزتفکر په پروسه کي يې پراخوالي او پياوړتوب موندلي دي . هغه طرزتفکر چي ډير دپردی طاقت او اقتدار په لمنه کي دخاني ، ملاکيت، ملوکيت او فيودالېزم دپر اختيا سره يې دغرې و هلي او له دغو سياسي او اقتصادي قيدونو او فشارو نو نه يې دپښتنو دملي ازادۍ دجنبش تاداو ايښی و .

بايزيد روښان او دهغه ډلې او کورنۍ ،په علمي او عملي توګه، په تورهاو قلم نژدې يو ه نيمه پېړۍ دهندد ګور ګاني سلطنت داستبداد په مقابل کي پرلېسي مبارزه وکړه ......

دروښاني دورې دپای په کلونو کي خوشحال خان خټک پيداشو چي دشعر او ادب د کيفيت او کميت له مخه دپښتو ستر شاعر ګڼل کيږي .

دخپلې زماني ننګيالي خوشحال خټک، که څه هم دخټکو خان او ددربار نوکر و ،مګر بيا

هم زماني دې مجبور کړ چې دګورګاني سلطنت دې د ان اقتدار په مقابل کې دافغان په ننګ تورو تېرې او دتورې او قلم دتوړو او سرو جنګونو یادګارونه د تاریخ او ادب په پاڼو کې پرېږدي. دپښتو ددغه ستر شاعر په لوی کور کې زیات شمېر قوي، پاخه او لوي شاعران پیدا شوي دي چې دپښتو ادب تاریخ دهر یوه په ایجاداتو په ځای فخر کولی شي.

په دې وخت پر ته له خوشحال خټک، چې دهغه شعر د مضامینو تنوع لري، دنورو په اثارو کې عموماً دمجازي عشق او تغزل لیریکه شاعري یا دحقیقي عشق او عرفان تصوفي شاعري غلبه لري. په هر صورت دخټو نه اوړې را اوړي، دپښتو شعر او ادب رنګ او رونق موندی او دروښان د ملي مبارزو خاطرات او د خوشحال حماسي ملي اثار په پښتو نخوا کې یو جنبش او بیداري پیدا کوي. خو چې په ۱۱۲۱ ه ق کال په کندهار کې میرویس نیکه ظهور کوي.

دده او دده د کورنۍ په وخت د پښتو ژبې او ادب ته توجه کیږي. ادیبان او شاعران پالل کیږي. «پټه خزانه» جوړیږي. په ۱۱۶۰ ه ق کال په کندهار کې احمد شاه بابا د افغانستان دولت کښي واګې په لاس نیسي. دې په خپله د پښتو ژبې شاعر و چې دیوان یې راپاته دی او دده په وخت په افغانستان او هند کې دپښتو زیات شمېر شاعران او مولفان پیدا شول چې د پخوانو دمجازي او حقیقي عشق پر نغمو یې سربېره ملي، حماسي، تاریخي، دیني او اخلاقي مضامینو ته هم په شعر کې پر اختیا ورکړه.

دملي تاریخ یوه پاڼه :

موږ چې ادبي عنعنه دغه ځای ته ورسوو بیا د ملي تاریخ هغو مسایلو ته متوجه کیږو چې ددغې عنعنې د سرنوشت په تغییر کې مهم رول لري. موږ ګورو چې دمیرویس او احمد شاه بابا دورونه د افرادو دژوند په بېړنو لحظو د توجه او اعتنا وړ کلونه دي، مګر دملت د تاریخ په مقیاس کې دیو رنګین خوب لیدل وو چې نه د چاپېره په یاد پاته شو او نه یې په یاد تعبیر و شو تر دوی وروسته دپردو حاکمو قدرتونو دمداخلو په اثر زموږ وطن ټوټې ټوټې او د دوی د دورو په پای کې دداخلي واکدارانو د بې اتفاقیو او خانه جنګیو ځانځانیو او ځانځانیو او د خارجي مدا خله کړو نکو د پټو او ښکاره لاسونو او دسایسو په نتیجه کې بیا هم زموږ حال نهایت خراب تراب شو. په سیاسي او اقتصادي لحاظ، هیواد ډیر کمزوری او دهرې خوا نه مخالف بادونه او جګړو نه تر پې الوتل. هرڅه ګډوډ و، نو رخو نو ر، دملي شعر او ادب رنګین

گلو نه تار په تار، جړ و پر، زپلی او سر و ړلی وو.

د دغو مخالفو یادو نو یو مخپه دارو پا له خوانه راروانه شوه او دا هغه څپه ده چې د بشري تاریخ د یوې سرحلې د وړ یانی په ترڅ کې یې زمونږ په تاریخ او سرنوشت مهم اغیز وکړه او زمونږ د ملي ادبیاتو د دوو وروستیو پیړیو سمه مطالعه باید د دغه تکې نه پیل شي ځکه چې د سیاسي، اجتماعي او اقتصادي خصوصیاتو او ادبي مشخصاتو له مخه دا یو ځانله دوره ده. که داسې وي نو تاسې لطفاً دا خبره هملته پریږدي او راځئ چې په دې تکې باندې هم لږ څه نظر و اچوو او د زماني په لحاظ لږ څه تر شا وګورو:

د بشري تاریخ د جریان د یوې مهمې سرحلې تاثیرات:

مونږ په څه کې وو او جهان په څه کې و؟

مونږ په خپلو کې سره لګېدو او دارو پانه د صنعتي انقلاب د تکامل د نتیجو جریان ورو ورو زمونږ هیواد ته مخه کوله. مونږ لا د ځان او جهان نه بې خبره په خوب اوده وو چې په داو لسمه اتلسمه پیړۍ کې اروپا د بورژوازي انقلاب د پیدا کېدو، خوریدو او بریالي کېدو صحنه وه چې په نتیجه کې یې په ځینو هیوادونو کې فیوډالیزم مات او د سرمایه داری دوې د پاره لاره اواره شوه. په فرانسه، انګلستان او ځینو نورو هغو هیوادونو کې چې هلته بورژوازي انقلاب کامیاب شوی و د سرمایه داري د پرمختګ په خوا کې صنایعو هم پراختیا مونده، پراختیا یوازي په دې معنا نه چې تولیدات زیاتیدل بلکه د هغه په خوا کې په تکنالوژي او د ماشین په اختراع کې هم دا انقلاب زمینه مساعده شوه او د صنعت د پرمختګ په صورت ماشیني کار د لاسي کار ځای ونیو. لاسي کارونه خو د کارګرو د ستې په زور سرته رسیدل او کله چې ماشین چالان شو او د کارګرو کاریګر لاسونه بې کاره پاته شول دغې سرحلې ته (صنعتي انقلاب) وایي او همدغه انقلاب دی چې تر ډیری اندازې پورې د سرمایه داری سرنوشت ټاکی. دا اتلسمې پیړۍ په نیمایي کې تر هر بل ځای د مخه صنعتي انقلاب په انګلستان کې عملي شو، هلته یې په ښکاره ډول تکامل وموندلو او په نولسمه پیړۍ کې یې نورو سرمایه داري هیوادونو ته لاره وموندله. دا تصادفي خبره نه ده چې صنعتي انقلاب په انګلستان کې پیل شو.

هلته په پیړیو پیړیو د صنعت د پرمختګ مقدمات برابر شوي وو.

هلته د بزګرانو له لاسه د زمکو ایستلو له یوې خوا په سرمایه داري اصولو د کرنې د تولیداتو

د تکامل سبب ګرځېدلی وا او له بلې خوا يې يو شمېر خلک او زګار کړي وو چې د هغو د متو له زور نه په صنعتي او زراعتي چارو کې په ارزانه بیه استفاده کېدلای شوای .

د استثماري روش په داخل کې د صنعت او سرمایه‌داری د پرمخ تګ لار اواره کړه او په خارج کې استعماري فتوحاتو هم د انګلستان د پاره د پخو مالونو د پلورلو او د اومو موادو د پېرلو بازارونه پیدا کول. دغه استثماري او استعماري حرکات د انګلستان د بې شمارې شتمنۍ او په مقابل کې د مستعمره هیوادونو د بې شمارې خوارۍ او ناداری سبب شول. د صنایعو د پرمخ تګ او د سرمایې د زیاتېدو په لومړنیو مرحلو کې اروپايي قدرتونو د اسیا، افریقا او امریکا زیات هیوادونه ونیول. په دې لړ کې برتانوي استعمار اول هند بیا افغانستان لاندې کړ. د استعمار د راتګ په وخت زموږ او لسونو په خورا مېړانه او فداکاری دفاع کوله. دغه حالات په پښتو ادب او شاعری کې هم منعکس شوي دي چې د هغه وخت د پښتو شعر په تاریخ کې یو نوی او مهم عنصر دی .

بېر ته په راشو و خپلې خبرې ته :

اوس چې د دوو روستیو پېړیو په طلیعه کې، د پښتو نظم ادبي عنعنه او د ملي او جهاني تاریخ مرحله څه ناڅه څرګنده شوه، نو موږ کولی شو چې د همدغو محرکاتو او مؤثراتو تر اغېزې لاندې د خپل ملي ادب نظم او نثر حالت او موقعیت وټاکو. د دغو حالاتو طبیعي اثر په پښتو نظم هم دغه دی چې شوی او واقعیت لري، هغه دا چې: ادب مخ په ځوړ روان شو او د پرمخ تګ او انکشاف په ځای، ځای په ځای ودرېد او د شعر او ادب بازار سوړ شو خلک د خپل وطن په دفاع اخته وو هغه هم نامنظم، بې علمه، غیر مجهز خلک چې محض د یو مشترک ملي او مذهبي احساس له مخې یې د پېرنګي له استعماري قوت سره مقابله کوله زموږ د پر طاقتونه په خپل منځي مقابلو کې له منځه تللي زموږ فردي او ملي اقتصادي حالت نهایت ضعیف او د شعر او ادب ډېوه ډېره تته وه : د دغه ادبي رکود او فتور په دې دوره کې څه چې وو، د هغې محتوا په دې ډول وه :

۱ قصه‌اي او افسانوي نظمونه

۲ دیني او مذهبي نظمونه

۳- لیریک او عشقي نظمونه

۳- ملی او حماسی نظمونه:

چې او س به په ترتیب سره دهر یو په باره کې خه نه خه و وایو:

قصی او فسانې:

دو خت او زمان دطبیعت له مخه ددغه وخت د ارنگه منظومې له خرافاتو نه ډکی او د ملی محتوانه تشې وې. نو ځکه یې یو خه پر مخ تگ کړی دی اکثره کیسی او دکیسو قهرمانان او دهغو دپیښو جریان، ملی نه بلکه دگاونډیو ژبو او لسو نو دفولکلوري یا هنري کیسو ترجمانی وه. دا بیا نو دشاعر قوت او قریحې او ذهنی رجحاناتو پورې اړه درلوده چې کیسی ته یې خنگه او خومره افغانی لباس اغوستنی شوای؟

په دې کی عشقی داستانونه خو بیخی زیات دي مگر خرافاتی مضمون او د دیوانو بلاپیریانو هولناك تصویرونه او تصورات تر هغه خوراز یات مثلاً دنیمبو لا او تیمبو لاخطرناك داستان چې په سرې باندې پیریان راولی او ددیو تراهان دهولناك داستان چې د سرې زړه بوټ وباسی او داسی نور ددغی دورې له خورا مشهورو داستانونو څخه دي

دارنگه کیسی چې لوستونکی او اوریدونکی دخیالونو په تالونو کې زنگوي د استعماري قواو او حاکمه ارتجاعي محافلو د پاره بې خطرې وې نو ځکه په پښتو ادب کې یې همدغه ښه دوران و او په هم دې وخت په ټول جهان کې «دقصه خوانی بازار» د پیښور په ښار کې ښه تودو. طباعت هم ددغو قصه و یونکو په خدمت، دتاجرانو په لاس کی، د حکومتي سهولتونو او ازادیو (؟) نه برخورداره و او دپښتو دنظم په دې نوعه کې یې زیات اثار خوندی کړي دي چې په دوو و روستیو پیړیو کې دپښتو دچاپ شویو اثارو په فهرست کې دخرگند مقام حق لري

دینی او مذهبی نظمونه:

داسې علماء خال خال پیدا کیږي چې خالص سوچه دینی موضوعات یې یا په نثر یا په نظم لیکلی وي لکه دننگرهار دکامې سرادعلی صاحبزاده (دتفسیر یسیر مولف) دلوگر د موسیٰ فیض محمداخوندزاده (دروضة المجاهدین ناظم). یاد کندهار مولوي حبیب الله (مشهور په اخوندزاده دگنجو کتابونو مولف)

له دغو استثنائي شخصیتونو او ددوي دامثالو نه چې په احترام تیر شو و ، په عام ډول ددی دوری

ډيرې سنظومې چې ديني سذهبي رنګ لري پهجعلياتو ،موضوعي احاديثو او اقوالو، ضعيفو رواياتو او حتى واهياتو اوسز خرفاتو ستکي دي چې په ډيرو دغه رنګه اثارو کې قصه پردازي ډيرده لکه داچې ددغو رنګو کيسو لهمخه: داووم دوزخ تراووسي پردې لاندې يو لوى ښامار دى چې اويازرسرونه لرى اوپه هرسر کې يىاو يازره خولى دى پههرخوله کې يىداور اويازره ژرند ىګرزى اود قيامت پهورځ يى بي لماڅان ددغه ښامارستونى تهورځي او داور پهدغو تولوژرندو کې پههر يوه کې او يااو يازره کاله دل کيږى .

داهم دقيامت کلونهديچې هر کال يى او يازرهسياشتي ،هرهسياشتيى او يازره ورځي ويچې هرورځ يى ددېدنياداو يازرو کلونو سره برابره وي. (نعوذباالله من ذالك ولا حول ولاقوةالاباالله.) دارنګه کيسې ددې دوره پهنظمونو کې زښتې ډيرى دى ، سګريوه سندره،داستاناو چاربيته خه،چېپهيو بيت کې همچانهدىفرمايلىچې : داستعمار، استثمار او استبدادښامارترډې ټرډى .

۳ لير يكاو عشقي نظمونه :

اوسبه ددوزخ دښامارداورډژرند و دهولنا کې کيسې له هيبته راشو ود دېفانى دنيادسوهوسې ليلادتو روسترګو، شنوخالونو اوسرو شونډو، دعاشق دوفااو د معشوقي دجفا،دوصل دګړيو دلنډو الى او دهجران د تورو او ږدوشپو تپوتيارو،د محبوبا نشه اي خمارې سترګو او د عاشق دانتظار نهړندو شو يو سترګو دستاينو او يادونو شکلواثاروته د دوو روستيو پيړيو په پښتو نظمونو کې (د معاصرينو له ځينو اثارونهپرته ) دغه زوړ مضمون دخپل کمال او جمال لهلوړې او ښکلى مانۍ نه، دابتذال کندې ته غورځيدلى دى.پهدىوخت کې دسرو ګلونو دخندا تشبيه داشناد سرو شونډويا دسين دزخمي زړهسره، يادغاټول دداغ تشبيهدعاشق دزړهلهداغ سره چيرتهدفارسي ادبدکوم ناظم سلاد خولې نه،دتدريس پهوخت کې او ريدل کيږىاو دګل او بلبل رنګين مضمون دپښتو ادب پسه ګلستان کې دانځردګل ځاى نيولى وي.

دېناز كمضمون خو هم چاتهتاو انندرلو دسګر :

خو ب خندا په بې غمي کيږى رحمانه!

چې پهزړهيىديارغم وي خهپهخوب کا؟

۴ـــ ملي حماسي شعرونه:

دپښتنو دا پخواني دودي چي دجنګ ميدان ته به د ولس او ننګ او غيرت او ولولو سره ټول. دغلته به اولسي شاعرانو اکثراً في البديهه ملي حماسي شعرونه جوړول او د وطن او دسو رني سره يې او رول او غاز يان به يې جګړې ته تود ول.

دا رنګه شاعران به اکثره اميان او بې سواده وو. يو نيم ملا، ملک .... لوستو نکي هم پکې پيښيده. دغه شعرونه اکثر نه ديليکل شوي مګر خلکو، په تيره بيا اولسي هنرمند و سندرغاړو زده کړي او ديوې خولې نه بلې او دبلې نه بلې ته نقل شوي او يو څه يې سونږ ته را رسيدلي دي. ډيرښه شوي چي فرانسوي پوه دارمستتر يو شمير د غه رنګه شعرونه ( د پښتو نخوا دشعر هار و بهار) نومي خپل کتاب(پاريس ـ د۱۸۸۸ م چاپ) کې خوندي کړي او زه و يا ړم چي د«هار و بهار» له کتابه او يو شمير د غه رنګه نورشعرونه مې د(تورېرېښ) په کتاب (کابل ـ د۱۳۴۷ ه ش چاپ) کې ټولنې ته وړاندې کړي دي. دارنګه منظومې د استعماري قواو د تيريو او تجاوزونو دعکس العملونو او دافغانانو دعادلانه د فاعي جنګونو د تمثيل په توګه منځ ته راغلي دي چي په هغو کې د سرتيرو وطنپرستو غازيانو شهيدانو د کردار ستاينه او دوطن خرڅوونکو، اپورتونيستو، غدارانو، سرتيجعانو، خائنانو او د پرنګيانو دتالي څټو غندنه شوې ده. دانګريزي استعمار په مقابل کې، د هندپه خاوره کې د افغانانو مقاومت، دانګلو افغان دري جنګونه ـ دافغاني قبايلو بې شميرې غزاګانې، د افغاني ځوانانو يرغلونه او فداکاري، دافغانانو دملي ازادي غوښتنې سترمشالونه دي. افغانانو دبې ساره فداکاريو او قربانيو په نتيجه کې داستعمار په قوي او پاخه ديوال دلونړې ځل دپاره درز پيدا کړ او په ۱۹۱۹ م کال دافغانستان ملي سياسي خپلواکي تر لاسه شوه او په دې صورت د افغانستان ازادي بخښونکي جنبش داسيا او افريقا دټولو ازادي بخښونکو نهضتونو مقدمه او سرمشق شو. دافغانانو دملي مبارزو انعکاس په پراخه پيمانه په پښتو منظومو کې خصوصاً د چاربيتو په فورم کې شوی دی او په دې صورت د پښتو ادب يوه داسې ارزښتنا که ذخيره منځ ته راغلي ده چي يوازې دژبې او ادبي فورم له مخه نه بلکه د عادلانه مبارزو د مفهـــــوم او محتوې دارزښت او د رنښت له مخه هم دپښتو ادب دټولو دوړو په نسبت، او هم دنولسمې پيړۍ دجهاني ادبياتو په مقايسه په خپله نوعه کې خرګند دقدر وړ مقام لري.

دافغانستان دخپلواکۍ نهوروسته، د برتانوي هند دملي ازادۍ بخښونکو جنبشونو په دوران کې، دخیبر نهآخوا پښتنو او بلوڅو خړ گندهاو مهمه برخه واخستله.

په ۱۹۲۰ م کې عبدالغفار خان د «انجمن اصلاح افاغنه» په نوم دیوې جرگې تاداو کښېښود او په ۱۹۳۰ م کې یې د (خدائي خدمتگار) حزب تاسیس کړ.

پهدې کلونو او تردیو روسته دخدائي خدمتگار و دحزب شاعرانو او لیکوالو هم داستعمار په مخالفت خپل اولس ته دیووالي، بیداري او مبارزې درسونه ورکړي او هم یې دهند دنیمي وچې دازادي بخښونکو نهضتونو په فعالیتونو کې مستقیمه برخه واخستله. ادبي نقادان او سیاسي پوهان وایي چې پهدې ملي جنبش کې زیاته گرمي او تندي دلیکوالو او شاعرانو دژبې او قلم نهپیدا شوه. ددوی سیاسي فعالیت او ادبي خدمت خواپهخوا او یو د بل سره گلهپرمخ روان و. دخدائي خدمتگار د حزب موسس عبدالغفار خان ددغو لیکوالو شاعرانو پهباره کې وایي:

«زه پهخپله دوي تهحیران یم، شعرونهدوی و یل پهحزب کې د وی فعالیت کاو مجلونه او محرو سیتونه دوی گالل، دژوند دتامین د پاره کسب او کار دوی کاوه او په ډیرمخواري او غریبي بهیې گزاره کوله. پهدنیا کې دغه رنگه شاعران نشته یاډیر کم دي.»

هو! ددې حرکت نه پیدا شوي ادبي اثار په پښتو ادب کې خورالوړمقام لري. د اهغه اثار دي چې پښتو ادب یې دجمود، خمود، رکود او فتور لهحالت نهایستلی او هغه یې د یو ژوندي، پرمخ تللونکي، ازادي غوښتونکي، منظم حرکت پهجریان کې اچولی دی. دغه اثار د ... دنیمي وچې دازادي بخښونکو جنبشونو دبریالي کولو په لار کې د قدر وړستره ... برخه لري چې په ملیونونو بې گناهو بندیانو، مظلومو انسانانو او محکومو خلکو تهیې دسپیڅلو ب دحقوقو، عدالت ازادي، برابري، سولې او دیموکراسي لار پرانستې ده.

گرانو استادانو درنو او ریدونکو!

پهدوو روستیو پیړیو کې دپښتو نظم تهیوه کتنهپوره تهډول پهلنډهتوگهوړاندې شوه، ددې وینا پهپای کې، ستاسو حضور ته ددوو ټکو له امله خپل معذرت وړاندې کوم:

لومړی داچې د پښتو دمعاصر نظم پهباره کې یعنې دافغانستان داستقلال نهراډې خوا مې هیڅ و نهویل څکهچې:

داخو زما په نظر بیله دو ره ده او بیله خیږ نه غواړي او زه فکر کوم چې په دې باره کې به کوم بل ملګري رڼا واچوي او زه دخپلې وینا وخت پوره بولم. هو ! دخدائی خدمتګار و خبر بیله ده . بل معذرت مې دادی چې ما بیخي دشاعرانو نمونه اودشعر دنومونی رانه وړی ځکه چې دوخت دکموالی له امله دو ینا د او ږدوالی نه ډاریدم. بیا هم که دیر تینګ یاست او له مانه ضرور کومه نمونه غواړی نو درواخلی دپښتو په یوه لنډۍ کې یوه لنډه نمونه: هغه لنډۍ چې یوازې زمونږ دملی ادبیاتو نه بلکه زمونږ دملی تاریخ دازادی غوښتلو د نهضت دمبارزو یوه زرینه کړی ده . هغه لنډۍ چې هم لیر یک رنګ لری او هم حماسی اهنګ، هم عالی روحیه پکښې نغښتل شوی او هم ملی تاریخی داستان هغه لنډۍ چې هم د پښتو اوپښتونوالی بو مجسم تصویر دی اوهم داستعمار په ضد دافغانی تصویر ځلاند تفسیر

هغه لنډۍ چې دنن نه پوره سل کاله دمخه دمیوند په جګړه کې دملالی له خوا ویل شوی ده .

که په میوند کی شهید نه شوې!

خدایږو لالیه بې ننګی ته دې ساتینه

کابل ـــ خیر خانه ـــ د ۱۳۵۶ ر دزمري لسمه

پوهاند محمد رحیم الهام

# دهنري والتر بیلو د پښتو ګرامر ځینې خصوصیتونه


سریزه

زما اراده دا نه ده چې په دې مقاله کې د بلیو د پښتو ګرامر ټول تخنیکي او فني خصوصیتونه د هغه ټولو بابونو فصلونو او بحثونو په مفصل ډول وښیم. په همدې توګه زه نه غواړم چې په دې ګرامر باندې د معاصرې ژبپوهنې د ضوابطو په رڼا کې کوم انتقادي نظر واچوم بلکې ما کوښښ کړی دی چې د دې ګرامر ځینې هغه ټکي په تشریحي توګه راوسپړم چې را برسېره کول یې زما په نظر د پاملرنې وړ برېښي.


۱ــ دهنري والتر بیلو د «پختو یا پښتو ژبې ګرامر» دوه ځله چاپ شوی دی:

لومړی ځل په لندن کې د «ګلبرټ او رونګټن» له خوا د ۱۸۶۷ کال د جنورۍ په میاشت.

دوهم ځل په لاهور کې د «رای صاحب ګلاب سنګ او زامنو» له خوا د «مفید عام» په مطبعه کې په ۱۹۰۱ عیسوي کال کې. نور چاپونه یې ماته نه دي معلوم.

نو اوس د دې کتاب له لومړي چاپ څخه څه د پاسه ۱۱۰ کاله او له دوهم چاپ څخه یې نژدې ۷۶ کاله تېر یږي. لومړي چاپ نسخه یې ماته ده لیدلې. دوهم چاپ نسخه یې چې د پښتو ټولنې د کتابخانې څخه ماته سپارله شوې کومه او ږده سریزه نه لري.

په یوه جمله کې د خپرونکي نوم را غلی او لیکل شوي دي چې: «د میجر سن بلیو په خاصه غوښتنه دا ګرامر تیار او بیا ټایپ کېدو په مقصد چاپ شو.»

۲ـ د کتاب ژبه انګلیسي ده پښتو کلمې او عبارتونه د پښتو په الفبې او په یوه خاصه فونتیکي الفبې لیکل شوي دي چې دوارو الفبایي سیستمونه د پښتو د اسلا دتاریخ دانکشاف له نظره څېړلو وړ دي او زه دلته خبري نه وربانديکوم.

کتاب د موضوعاتو فهرست نه لري. که داساسي برخو له جز ئیاتو څخه تیر شو په عمومي توګه دالاندي مهمي برخې په کې لیدلې کیږي.

الف: مقدمه چې په کې د کتاب دلیکلو د هدف او د پښتو ژبې د منشاء په باب خبري شوي دي.

ب: د پښتو د حروفو د پېژندګلوي چې د ګرامر لیکلو په عنعنوي سیټو دونوکې دلوونو لو ـ ژې برخاي راتله.

ج: د پښتو صرف.

د: ځیني تمریني متنونه.

په کتاب کې د نحوي برخه نه ده راغلې او دغه خلاد پښتو په ګرامر کې لاتر اوسه پوري هسې چې ښایي ډکه شوي نه ده.

۳ـ دغه ګرامر اساساً د پښتو د زده کړي له پاره په اداري او سیاسي منظور لیکل شوي دي بلیو په خپله وایي:

«د بر تانوي هند دا باسیین دپوري غاري په پولو کې د لس کلني مودي خدمت په ترڅ کې ساته داواقعیت څرګند شو چې د سرحد ډیر لږ شمیر مامورین چې ددې سیمو پر خلکو باندي حکومت کوي او ډیر هغه کسان چې ددې سیمې له خلکو سره یو ځاي او سیږي ددې خلکو په ژبه پوهیږي. حال دا چې دوا ګن او راورتې پښتو کتابونه پخواله چاپه راوتلي دي او په لسو تیرو کلونو کې د سرحد مامورینو ته معلوم دي.» په دې توګه بلیو د پښتو زده کړه په افغاني سیمو کې د بر تانوي مامورینو د اداري او سیاسي اغیزنا کې د پاره حتمي ګڼله. دې په خپله سریزه کې له یوي خوا د اباسیین دپوري غاري پر او لس او سیمې باندي دخپل وخت د بر تانو تسلط او نفوذ زیاتولو ته اشاره کوي او له بلې خوا له دې نه شکوه لري چې دا سیلابه جګړه (۱۸۶۳) کې د ګوتو د شمیر په انداز مامورین هم په پښتو نه پوهیدل. دده له وینا سره سم کله چې د ۱۸۶۳ کال په جنوري کې د پښتو ازموني اخیستلې کیدي د هند بر تانوي حکومت

پنځه‌سوه روپۍ په‌محاوروي پښتو کې دېر یالیوداوطلبانو دپاره دانعام په‌توګه و منله. بیا په ۱۸۶۵ کې دپښتو ازموینو معیار دهندي ژبې دازموینو په‌شان ترتیب شو خو بیاهم په‌ازموینه کې یوازي شپږ کسه بریالی شول. دبلیو په قول یو خو حکومت د پښتو دزده کړې د پاره ځولکه نه‌تشو یقاوه‌او بل انګلیسانو پښتوژبې ته‌دنا مفهوموګڼلوو ډ و اوازونو په نظر کتل او وبل یې چې دغه ژبه ځکه ګرانه‌ده چې منظم قواعدنه لري او ځینونسو رولاوېل چې دپښتو زده‌کول پر ته‌دوخت له‌ضایع کولو نه بله کومه ګټه نه‌لري. دې ددغوعواملوله ځیرلوځخه دي نتیجې ته‌رسیږي‌چې : « ډیرو کمو کسانو دپښتو دزده کړې ربړ پرځان ګاللې او دغه ژبه له نظره‌غورځیدلې او ناسکشوفه پاتې ده‌له دي امله دپښتو په‌باب غلط خیالات پر له‌پسې دوام مونډلی او په‌هغې باندې په‌نه‌پو هیدلو یالږ پو هیدلوسنتج شوي‌دی»
نو بلیو لکه چې پخپله هم‌ورته اشاره کړې ده د خپل ګرامر د لیکلو دپاره دوه‌هدفه درلودل:

الف) داچې انګلیسي ماموړینو ته ددوي‌دادارې‌مو ثرو الی په منظور دپښتو دزده کړې داسانتیاله‌امله یو ګرامر (او همدغسې یو قاموس ) و لیکې تر څو دوي‌په دلچسپۍ سره پښتو زده‌کړي او ورته ګرانه ونه‌بریښي .

ب) داچې انګلیسانو ثابته کړي چې پښتو ځانته منظم قوانین او ضوابط او سم ګرامر لري. دبلیو په‌عقیده د کېتانو اګن او راورتې ګرامرونه سم نه وو لیکل شوي او پښتو یې نامنظمه او ګرانه ښوولې .

۴ – بلیو ته په ۱۸۶۴ کې داسیلاله‌جګړي نه‌نژ دې یو کال وروسته دافکر پیدا شوي دي چې خپل ګرامراو پښتو قاموس پورتنیو هدفونو ته درسیدو په‌نیت و لیکي .

۵ – دبلیو ګرامر دما خذونو فهرست نه‌لري. دي پخپله ادعاکوي چې له پښتنوسره د اوږدې‌مو دي‌ژوند څخه وروسته یې پښتو په عملي توګه زده‌کړه، دو اګن او راورتې اونورمنابعو څخه یې ز یاته استفاده کړي‌او خپل راغونه کړي‌موادیې دفوربر د هندوستا نی ژبې دګرامر دطرحې پر بنا تنظیم کړي دي . بلیو ادعا کوي چې دده ګرامرنوي اسانه او منظم دي.

۶ – د بېلېو ګرامر د لیکونکي د هدف پر اساس یو درسي کتاب دی. د بېلېو په زمانه کې د ژبې د تدریس او زده کړې د پاره داسې یوه طریقه رایجه وه چې اوس یې موږ د (ګرامر – ترجمې) د طریقې په نوم یادوو. د دې میتود د تدریسي تطبیق داسې و چې یو متن به د استاد له خوا شاګردانو ته ترجمه او ګرامري رغښتونه به یې شرح کېدل. د شاګردانو د مراجعې د پاره به د (تحریري یا شفاهي) متن په څنګ کې د ژبې یو ګرامر او اساسي او زیات استعمالېدونکو لغتونو یو قاموس به لیکل کېده. بېلېو هم

د خپلې زمانې د ژبې د تدریس له طریقې سره سم خپل ګرامر لیکلی دی چې په پای کې ځینې ژبنی متنونه لري او د هغه په څنګ کې یې د پښتو انګلیسي او انګلیسي پښتو یو قاموس خو هم تدوین کړی دی. خو په خپلو ګرامري څېړنو کې یې له هغه میتود څخه کار اخیستی دی چې معاصر ژبپوهان یې د ګرامر لیکلو کلاسیک میتود بولي. په غربي دنیا کې د ګرامر لیکلو منشاء او طریقې لرغوني یونانیانو ته رسېږي. ارسطو (۳۸۴–۳۲۲ ق م.) د یونان نامتو فیلسوف د منطق د څېړنې په ترڅ کې کلمه د اسم فعل او حرف په درېیو ډولونو باندې وېشلې وه، رومي او سریاني پوهانو د ارسطو همدغه میتود د خپلو ژبو د ګرامرونو په لیکلو کې تطبیق کړ. په اسلامي دوره کې کله چې عربانو د لومړي ځل د پاره د خپلې ژبې د ګرامر لیکلو ته مجبور شول نو ابو الاسود دوئلي ( )چې سریاني ژبه یې زده کړې وه او د ارسطو له میتود سره اشنا شوی و د سریاني ګرامرلیکونکو په تقلید یې د عربي ژبې کلمې هم په اسم فعل او حرف باندې و وېشلې. همدغه میتود د بیا وروسته په ترتیب سره د دري او پښتو په ګرامري څېړنو کې تطبیق شول او تر اوسه پورې زموږ د هېواد په مدارسو کې رواج لري. خو په اروپا کې د ارسطو د میتود تر څنګ د یوناني دایونیسیوس تراکس د ۲ ق م. پېړۍ میتود چې کلمه یې پر اتو ډولونو وېشلې وه عمومیت او رواج وموند چې تر اوسه پورې دوام لري.

بېلېو خپل ګرامر نه د تراکس د میتود پر اساس بلکې زموږ د ارسطویي منطقي او میتود د پر بنا لیکلی دی دی وایي: «په پښتو کې د عربي او دري په شان د کلمو ګڼ شمېر ډولونه پر درو ډولونو یعنې اسم فعل او حرف باندې وېشل کېږي.» د نولسمې پېړۍ په یورپ کې د ارسطو تر میتود د تراکس میتود غوره بلل کېده او پوره رواج یې موندلی و. خو

بلیوچی دبرتانوي مستعمراتو دکلتور ژبی او ادب دڅیړنو دحتمیتوب له‌نظره دوګړو د موثري‌اداري‌په‌منظور دالفنستین‌دمکتب صادق پیرو دي‌دپښتو دګراسر په‌لیکلو کی دا فغانانو خپله عنعنی طریقه چی داسلام‌له لاري راغلی وه‌غوره کړه ترڅو چی برتانوي‌مامورین پښتو ژبی دزده کړي په ترڅ کی دا فغانی‌ولس‌له علمی جهان بینی سره‌هم‌اشنا کړی.

۷ – دبلیو په‌ګراسر کی دعلمی مصطلحاتو مساله هم دغور وړ بریښی ددي کتاب په ځینو برخو کی دغربی ( انګلیسی ) ګراسري مصطلحاتو سره جوخت عربی مصطلحات هم راغلی دي‌چی که راغونه‌کړي شی دګراسري اصطلاحا تو یوه وړو کی‌پښتو انګلیسی قاموس ورڅخه جوړیدای‌شی.

۸ – بلیو دخپل پښتو ګراسر په‌سر یزه کی دپښتو ژبی دمنشاءپه‌باب کی خپل‌خاص‌نظر څرګند کړي‌دي‌چی‌زه‌دهغه په‌تشریح کولو او نه‌انتقادسره خپلی خبري پای‌ته‌رسوم

بلیو په‌صراحت سره‌دپښتو دمنشاء په‌تشبیتو لو کی تیرو تلی دي. دي‌وایی چی پښتو د هندوستانی دژبی په‌شان دګراسري رغښت له‌مخی دسانسکریت یوه لهجه ده‌خو له‌دي‌اسله چی‌له‌دري‌ژبی‌څخه‌یی ګڼ شمیر کلمی اخیستی دي‌مغرسه‌بڼه‌یی غوره کړي‌ده او دخپلی دغی ادعادثابتولو دپاره‌داسی دلایل راوړي :

الف) دپښتو نوموړنه په‌اصلی‌او بهتی حالت کی‌دهندوستانی‌ژبی‌دنوموړنوز په‌شان اوړي اوګردانیږي.

ب) دپښتو صفتونه اوفعلونه‌دهندي ژبی د صفتونو او فعلونو په‌توګه دجنس‌او عددپه لحاظ خاص ګردانونه لري خو په‌دري‌ژبه کی دغه خصوصیت نشته.

ج) په‌همدي توګه دپښتو فعلونه سره‌له‌دي‌چی په -ل‌او -یدل‌له‌مصدري‌نښانوسره‌ددري له( -ن) او -یدن‌والامصدرونوسره مطابقت څرګندوي‌دجنس له‌نظره دهندي ژبی دفعلو -نو په‌شان ساختمان لري او دغه خصوصیت‌په‌تیره بیادماضی‌فعل په‌معلوموصیغو کی‌چی‌اسم په‌کی مفعولی حالت ولري‌له‌و رایه څرګندیږي.

د) داسی بریښی چی‌پښتو له‌اره‌دسانسکریت یوه لهجه وي. او سنی هندي دري بڼه یی دهندي‌او دري ژبو قبایلو دیو نابیره‌برخورد او داوړدو اړیکو له‌اسله غوره کړي‌ده او په نتیجه کی ډیري دري کلمی پښتوته ننوتی دي، دغه دخپلی کلمی یی له‌دي‌چی دپښتو په

گرا سري ساختمان باندي اغيزه وکړي پخپله په پښتو کی منجلی شوي دي او بدلون او تحول یی سوندلی دي .

ه ) پښتو خپله او سنی بڼه افغانستان ته دعر بانو له راتگ څخه مخکی او معیسوی پیړي ته په نژ دي و ختو کی احتمالاً هغه و خت غوره کړي ده چی عر بانو د هندلو ري ته و دانگل که څه هم افغانانو د اسلام دین او قوانین و منل خو دعر بی ژ بی دخو پیړ یو په لړ کی په پښتو باندي تاثیر و نکړ .

و بلیو ته داسی معلو میږي هغه سیمی چی او س (د بلیو په و خت کی ) په افغانستان کی شاملی دي دعر بو د راتگ په زمانه حتی خو پیړي مخکی د دي سیمی دشر قی او غر بی او سید و نکو له خوا په نژ یت سره اداره کېدلی او د مجموعه دغز نوي په زمانه کی (یو و لسمه پیړي) یو راجا په کابل کی پاچهی کوله بنایی چی ددغه راجا تر لاس لاندي و گړي د بو میانو او مهاجرانو له گډون څخه شوي وو ، بلیو وایی احتمال لري چی دنو رستان خلك گو جران د هندو کش او د افغانستان د شر قی سیمو نو ر قبایل او همدغه راز د کابل دلو یه یز و بر خو تاجیکان او هزاره گان چی ټول په دري ژ به خبري کوي په افغانستان کی له اسلام څخه د پخوا و ختو نو داو سیدو نکو بقایاوي .

(د بلیو پدي عقیدي باندي لمړي دارمستتر او بیا گایگر په علمی ډول انتقادونه کړي دي بلیو د خپل گرامر د سر یزي په پاي کی داخبره هم کوي چی که څه هم افغانان د هند او پارس ددو و امپر اتو ریو په منځ کی دو صل د کړي په حیث او سیږي او ددوي و طن افغانستان نوسیږي او په خپله و رته پښتو نخو و ایی له لسمی عیسوي پیړي نه یی راهیسی تبارز کړي دي په خپل ملیت باندي افتخار کوي او ددوي ژ به پښتو هم داسی یو خا صیت لري چی که څه هم ډیري غیر پښتو کلمی په کی داخلی شوي دي خو خپل ساختمان یی خو ندی ساتلی رونا پښتو عناصر بی داسی حل او هضم کړي دي چی دهغو اصل پیژ ندل په ز یاترو مـ وارد کی گران بریښی

باغ بالا — کابل
داسد ۸ — ۱۳۵۶

څېړنمل ژواک

# د ۱۳۱۶ هـ ش کال څخه تر ۱۳۵۵ هـ ش

## کال پورې د پښتو ژبې د درسي کتابو تکاملي لار

د پښتو د ښوونځيو او زده کړو مراحلو د هغو درسي کتابو له مخې چې موږ يې پيدا کولای شو د ۱۳۱۶ هـ ش کال څخه د هغه تدريسي کتاب څخه شروع کېږي چې په ۱۳۱۶ هـ ش کال کې د مرحوم صالح محمد خان په زيار «پښتو ژبه» په نامه چاپ شو د همدې کتاب متن لکه د دوه نورو تدريسي کتابو نه چې په حبيبيه کې يې تر استقلال د مخه ليکلي و تدريسي بڼه لري او د پښتو د (الف، بې) څخه نيولې بيا تر سمو متنو پورې په همدې شان د پښتو د گرامر د تذکير او تانيث ته د صفت او موصوف په تبعيت سره پام شوی دی

دا کتاب د هغه وخت يو غوره تدريسي کتاب گڼل کېږي چې د پښتو خاص مباني تورې او د تورو علايم سيواد «ځ» د تورې څخه تر او سه مراعات شوي دي يعنې يوازې د «ځ» د تورې علامه بدله شوې ده چې په هغه کتاب کې په «څ» ليکل شوې دي نورې تورې لکه «ډ» (ڼ) «ړ» «ږ» ښ او «ڼ» نن هم د هغه کتاب په رنگ ليکل کېږي

پهدغهوخت کیزمو ږ مملکت احتیاج درلو دچی دهیواد داساسی تشکیلاتو په لړ کی زمو ږمالی او اداری نظام هم پخپله د جو ړ ښت دو ره پیل کړی لکه څنگه چینن مو ږ هیو ادتهپه بیلو اقتصادی اجتماعی او علمی رشتو کی د تخصصو نو راوستنی او و دې ته ضرو رت لرو په هماغه وخت کی هم مو ږ احتیاج درلو د چیدو خت د مالی او اداری نظام دپارهدنو رو لهتجر بو او اصطلاحاتو څخه استفاده وکړو لهدیتجر بو څخه داستفادو هدف زمو ږ هیوا د ته د مالی او اداری اصطلاحاتو یوه څپه راو ستله لهدیکبله چیهغه وخت افغانستان دعر بی-فارسی او تر کی ژ بو پهاحاط کیو - نو لهدغه و خته ددغو ژ بو مالی او اداری اصطلاحات رواج شوی دیلکه چید هغهوخت د مالیی وزارت ته به یی دیو ان اعلی یادار استفاءو یل او دهغه وختدمالیی و زیر بهددیو ان بیگی مستو فی المالك و کیل الدو له و کیل الرعایا -دبیر الملك پهنو مو نو یادیده او البته د هغه وخت د مالیی و زیر دیو صدر اعظم حیثیت درلو د ددیاصطلاحاتو دو ام دامیر شیر علی خان تر زمانی او حتیداعلیحضرت امان الله خان غازیتر دو ریپو ریدو امو کړ لکهچیپه۱۲۹۸ --هجریلمر یز کال کی مستو فی المالكدمالیی و زیر اوددیو اناعلی او دیو اناستفا المالك(حر بیی)خارجه تجارت-عدلیی-پهو رار تو نو تقسیماو دیاشو .

لکه چیمعلو مه دهداعلیحضرتامان الله خان غازی دو رهپهافغانستان کی دبیلو بیلو ملی او ستر قی نهضتو نو دپیل کیدو یوه زمانهده پهدغه زمانه کی هغه شوی ده چی په نسبی لحاظ څهناڅه یو مدرن مالی او اداری نظام منځ ته راشی پهدغهوخت کی احتیاج داو چی ددغه نظام دپاره داسی مالی اواداریاصطلاحاتو ضمشیچیهغهدبیلو بیلو اقتصادی علو مو پهتیرهبیادمالیی دعلم دتعریف سره یوځهارتباط و لرلی شی .

سرهد دی چیپه دغه وخت کی د«سر کهدپښتو» دټولنی لهخوا په پښتو کی د هری موضوع او هری ساحی د پاره دنو مو نو او د اصطلاحاتو هڅه روانه وهله دی امله چی مدرن علو مو زیاتره د ترجمی دلاریزمو ږ ژ بی او کلتو رتههڅه کړی وهنو څکه مو ږ

مجبو ر و و چې ؛ يا تره علمي اصطلاحات په خپله اصلي بڼه کې ځنگه چې په جهاني سو یه سره شهرت لري را او ار دي کړ و

دبحث موضوع داده چې په عربي-دري او نو روژ بو کې چې کوم اصطلاحات را غلي دي هغه دا قتصادد علوموپه تیره بیا د مالیي د علم د محتوی سره کاملاً توافق نلري دمثال په توگه خصوصي ملکیت او شخصي ملکیت تر مینځ چې کوم فرق شته په پښتو کې دهغه مراعات نه دي شوی لکه چې دي دوار وساهیتونو ته دوی ( ځانگړی ملکیت ) وايي په داسي حال کې چې دادواړه سره تفاوت لري دمثال په توگه هغه ملکیت چې خوک یې دخپل ځان دمعشیت دپاره په کاراچوي او پخپله کار پکي کوي هغه دده شخصي ملکیت دی خو هغه ملکیت چې دگټې و تې دپاره په استثمار ي توگه په کاراچول کیږي هغه خصوصي ملکیت بلل کیږي په دې لړ کې بله دبحث وړ خبره داده : چې موږ دعلمي پوهیدو او پوهولو دپاره احتیاج لرو چې دنورو ثقیلي اصطلاحگانې په پښتو اړوو خو دا کار که څه هم ضروري او گټور دي مگر ډیره دقت غواړي دمثال په توگه موږ ته دذخیرې دپاره دوې کلمې پاسره او زیرمه لرو – له هر څه نه د مخه دادوې کلمې باید د پښتو د اشتقاق او ریښه شناسي له نظره په شه توگه تحلیل شي او بیا دي دعلمي مفاهمي دپاره دمعنی له نظره دتفاوت هغه درجې څرگندې شي چې داد واړه کلمې ئې یودبله سره لري .

په داسي وخت کې چې په پښتو کې دمالي او اداري اصطلاحاتو دروا جیدو او رواجولو مساله مطرح ده موږ ته له هر څه نه دمخه دژبې دیووالي موضوع ډیر اهمیت لري موږ او د لري پښتو نخو اخلک چې په حقیقت کې یو او لس ، د یوې ژبې خاوندان یو هر څه مو شریك دي خو دنو روژ بو اصطلاحاتو موږ سره دافهام او تفهیم په ډیره ضروري عملیه کې سره بیل کړي یو .

او س موږ په خپل اداري لټریچر کې د« دولت» کلمه د«ستیټ» دپاره په کا راچوو په داسي حال کې چې ز موږ لرني ورو نه هغه د«ثروت» دپاره په کار اچوي که چیرې موږ د خپلې ژبې له شته منیو نه کار واخلو بیا به مجبو ر نه وو چې موږ «شته مني »ته«ثروت»او دوی

همدغه ماهیت ته «دولت» وایی ځینی نوری داسی کلمې هم شته چی د اقتصاد په ضروری ساحو کی ئی زموږ مفاهمه مشکله کړی ده.

مثلاً موږ امریت یو اداری مشرتوب ته وایو خو دوی دیکترشپ ته امریت وایی موږ امپریالیزم وایو دوی سامراج وایی موږ استعماری وایو دوی نوابادیاتی وایی موږ د استثمار کلمه استعمالوو دوی ورته د استحصال کلمه په کار اچوی هغه څه چی موږ اضافی ارزښ بولو دوی ئی «قدر زاید» بولی خصوصی ملکیت ته دوی نجی (پرائیوت) ملکیت وایی شخصی ملکیت دوی ذاتی ملکیت بولی وارداتو ته دوی درامدات وایی صادرات دوی برامدات بولی هغه څه چی موږ ئی سرمایه گذاری بولو دوی ئی سرمایه کاری بولی فیودالی ته دوی جاگیرداری وایی اقتصاد ته دوی معشیت یا معاشیات وایی بودجی ته بجټ وایی تولید ته پیداوار وایی کارگر ته مزدور او بزگر ته کسان وایی موږ بی مالیات بر عایدات بولو دوی هغه ته انکم ټکس وایی

له پورتینو څو نمونو څخه څرگندیږی چی د یوی ژبی ویونکی د پردی ژبو اصطلاحاتو د افهام او تفهیم په ضروری عملیه کی څومره سره جلا کړی دی او دا هغه مشکل دی چی له یوی خوا د علم زده کړه له مشکلاتو سره مخامخ کوی او له بلی خوا ژبه د یووالی په ځای د بیلوالی سبب گرځی

ښایی په دی برخه کی ځینی اغراض موجود وی چی په هغه باندی موږ ټول پوهیږو او زه په دی ځای کی د موضوع څخه د وتلو په مقصد د هغه په باب څیړنه نه کوم خو زه داسی موضوع زه د علاقه مندانو د غور او تعمق د پاره پریږدم

دا خبره حتماً د هر چا د پاره په زړه پوری ده چی د ژبی د بیلوالی عوامل له مینځه یوړل شی او ژبه د یووالی پړاو ته ورسوی له ښه مرغه زموږ په هیواد کی د دی ضروری ساحی د پاره مسلکی علاقه مند کسان پیداشوی دی او دوی د دی د پاره چی د نورو ژبو اصطلاحات په اقتصادی او اجتماعی چارو کی زموږ ملی مفاهمه صدمه ونه رسوی شپه او ورځ هڅه کوی چی په پښتو کی د مختلفو علومو د پاره اصطلاحات وضع کړی که څه هم دا کار بی گټی نه دی خو که چیري د یو منظم لوی پروگرام له مخی سرته ونه رسیږی نو د گټی په ځای زیانونه ډیر دی

د مثال په توګه د استثمار د کلمې د پاره چې عرب یې په ځای د استغلال کلمه چې د غلې د اخستلو لغوي معنی لري په کار اچوي په دې توګه هغه کلمه چې د عربو د دنیا د اقتصادي اصطلاحاتو له کورنۍ نه شړل شوې دي موږ ته یې په دوو بڼو ځان ښودلی دی چې یوې ته یې استثمار او بلې ته یې استحصال ویل کیږي که موږ د یو پېښو ریو رو ربه مخ کې د استثمار کلمه په کار و اچوو شايي د هغه خوله له خوږ وږ که شي او فکر وکړي چې د میوې اخستلو مقصد دی او که دوي زموږ په مخکې د «استحصال» کلمه یاده کړي نو موږ ته د ښو حاصلاتو اخستلو تلوسه زیاتیږی اماد (اکسپلاتاشیه یا اکسفولیشن) مفهوم په ځای پاتې کیږي

د همدغسې یو ضرورت له مخې زموږ لیکوال مجبور دي چې د داسې کلمې د پاره ز بیښا ک او لوشل کلمې په کار واچوي

خو حتمي داده چې د دې دوو کلمو په ځای یو یې وسنل شي او یاد دواړو په ځای کومه بله اصطلاح وټاکله شي داچې هغه دي څنګه وي زه فعلاً یې پیشنهادنه کوم داځکه چې د اصطلاحاتو وضع کول د یو سړي کارندی د پوهاند حبیبي د یوې

څیړنې نه په استفاده باید د اخبره یاده کړم چې په عربي دنیا کې دنویو لغاتو او اصطلاحاتو د وضع کولو د پاره یو لوی انجمن په کار بوخت دی که چیرې زموږ په هیواد کې دنویو لغاتو او اصطلاحاتو د وضع کولو او په دې وسیله د ژبې دیوو الي د پاره داسې انجمن جوړ شي نو زموږ مشکلات به حل کړي

البته زه باور لرم چې د تیرو لوسو اقفه به داوي چې په د غه انجمن کې د ژبپوهانو په ګډون د مختلفو علومو پوهان برخه ولري دا هغه مهم مطلب دی چې زه و ربانه خپلې خبرې پای ته رسوم.

ستاسو د توجه نه تشکر

«داکتر محراب الدین»

م . ابراهيم عطائي

# دحقوقي او جزايي تعاملاتو له نظره د پښتو ځينو

## فولکلوريکو ادبياتو ته يوه کتنه

د روان سمينار دعلمي څېړنو سره زما دمقالې موضوع خواږخيزه اړه لري د پښتو د چاپ شوي اثارو څخه چې د دوو روستيو پېړيو په دوران کې کومه احصائيه زن په لاس کې لرو د هغو يوه لويه برخه د پښتو د فولکلوريک ادب سره اړه لري د دغو اثارو په چاپولو او خپرولو کې چې د پوهنې څېړونکو مسوو او څېړونکو پوهانو کوم هاند کړيدي نو اصلي او اساسي هدف يې داؤچې د افغاني ټولنې د کلتورپېژندنې په برخه کې د يوه مهم اړخ يعنې فولکلور سره اشنايي عامه شي دا کار ته که زموږ د فرهنګي مؤسساتو يادباندنيو علمي مؤسساتو او پوهانو پاملرنه پيل شوي يادوام لري نو د کار ارزښت يې دادي چې په دغه برخه کې موږ د ولويې انساني فړي ديوې سترې علمي تحقيقي موضوع له پاره به زړه پورې مواد لرو .

د کلتور پېژندنې پوهنه د انسان د ټولنيز تاريخ د پوراينې (تکامل) په برخه کې خاص مواد ترڅېړنې لاندې نيسي چې يوه ستره برخه يې د ولسونو فولکلور تشکيلوي فولکلور زموږ ته په وضاحت د هغو حقايقو هنداره په لاس راکوي چې د پړاونې انساني ټولنې د ټولنيزو مناسباتو ننداره پکښې کيدلای شي

د پښتو فولکلوريک ادب چې د ولس د فکر - تخيل او ژبې محصول دي نو ځکه ولس مينه ورسره لري ده او هغه يې په ډېره درناوي د سوونو او حتى زرګونو کالو راپه دې خوا ساتلي دي دغه لوي ميراث يوه نسل و بل نسل ته د ژبې پر سر پرې ايښې ترڅو چې د ليکنې او بياد

چاپ شوی ټه‌لو یه‌لی دي. په‌دغه فولکلوریک ادب کې چې‌دطبیعت توصیف‌اودیوی‌پاکې او بې الایشه سینې منظری‌یوی‌خواته کړو نو دټولنیز و مناسباتو داسې تصاویر پکښې براته دی‌چې هغه موږ ته‌په‌یوه ټاکلې مرحله کې ددغې ټولنې دټولنیز تاریخ ټاکلې پړاو نه راښیی.دپورتنیو خوکرښو دمطالب په‌نتیجه کې نوویلای سوچې دپښتو په فولکلوریک ادب کې دپښتنې ټولنې دحقوقي‌جوړښت‌په‌باب‌داسې ټکې موندلی سوچې د هغو په څیر نه ددغې ټولنې پروني چهره دخپل ټوله کم او کیف سره پیژندلای‌سو. زمادڅیړنو موضوع همدغه برخه‌ده چې‌په‌لاندنیو عناوینو کې‌به‌خبرې‌پر و کړم:

## عوامي قضائي مؤسسه :

دادپښتو دعوامي ادب‌یو خاص امتیاز دی‌چې دټولنیز ژوندانه تصاویر ډیر څرگند پکښې منعکس سویدی. ددې‌له‌پاره چې دغه‌ټولنیز مناسبات وڅیړو او ویې پیژنو نو موږ ته‌په دو برخو کې کافي مواد په‌لاس راځي چې یو پښتو شفاهي کیسه‌یاداستان‌دی‌او بل متلونه دي دپښتو ادب‌شفاهي کیسه او متلونه کوم معلوم مبدا او منشانه‌لري اود پیړیو په دوران کې زموږ دخلکو په‌خولو کې دی‌او په‌دغه‌برخه کې دلوړ‌نی قبیلوی ژوندتصویر ډیر روښانه دی.په‌قبیلوي‌مناسباتو کې قبیلوي قضایي موسسه دصلاحیت په لحاظ دټاکلو کوډونو په‌پیروی‌مکلفه ده‌او همدغه موسسه دجرم او جزاحدود ټاکي.هغه کوډونه چه‌ر په‌دغه‌موسسه کې دقبول سوی‌احکامو په‌حیث تراجرا لاندې نیول کیږی‌یو لړ تعاملات‌دی چې قبیلوی ژوند شیرازه‌یې و رله ټوله ساتلې وی.هغه قبیلوی عرفي نظام‌چې دعوامي قضا -یي موسسي په‌احکامو چلیږی بقایایې نن موږ دپښتنو په کوچیانی ژوندیاپه هغه کلیوالي ژوند کې لیدای‌سوچې په‌غرونو‌محصور پاته سوی‌وی‌داقبیلوی نظامونه چې‌دتمدن په‌متر و -که(شلاخه) وروورو له‌منځه‌ځي ډیرروښانه او بې غشه‌اشکال‌یې موږ دپښتو په‌عوامي ادب کې لیدلای‌سو .

## په پښتو شفاهي کیسه کې دقبیلوي نظام‌څهره :

دلته‌به‌زه‌دپښتو دقبیلوی‌ژوندانه دحقوقي مناسباتو په‌برخه کې داموضوع دپښتو په‌دو مشهورو شفاهي داستانونو کې وڅیړم او په‌دې ترڅ کې‌به‌دجرم‌او جزاپرحدو دو یوڅه رڼاواچوم.دادوه‌شفاهي‌داستانونه‌یو د(ادم‌خان‌او درخانۍ) او بل‌د(موسی‌جان‌او گلمکۍ) دی

دی دو اړو د استانو نو د پښتنو دقبیلوی ژوند ډیر ښه تصویر ونه په ځان کی ساتلی دی. په دی شفاهی داستانونو کی ټول برخورد ونه په حقوقی لحاظ د قبیلی دقبول سوی حقوقی تعاملاتو تابع دي او واقعات که د تصادف له مخی هم پیچلی رنګ خلی خو د قبیلی حقوقی حریم د هغه حدو د تیا کی.

## دوی شفاهی کیسی د نمونی په ډول :

دادم خان او درخو یا درخانی کیسی دقبیلوی خانیو په ماجراو کی راز یږي په قبیلوي ټولنه کی حواث پر ځان راپیچی او په هم دغو برخورد ونو کی موږ دحقوقی تعاملاتو څرګند ډیر ښه ایستلی سو. ادم خان دیو بالاستحقاقه خانزاده په حیث دقبیلی دیوه خان (باز ید خان) پیغله خو رو ینی او هغه یی خوښیږي او کله چی یی پلار خبر یږی نو ادخان بی مصلحته هغه ورغواړی. څرنګه چی ادم خان پخو اتر دی پر یوه بله نجلی (درخانی) مین دي او ددي مینی کیسه هم په وطن کی خپري سو یدی نو (باز ید خان) دخپلی خو ر (تو تیا) پر و ر کړه منکر کیږي او ادم خان ته د (تو تیا) دو اده مخالفت کوی دلته نو د (ننګی) مسئله منځ ته راځی او دناموس د اری مسئله چی په قبیلوی مناسبا تو کی دشمرزی نو د (ننګی) مسئله تمنځ ته راځی او دناموس داری مسئله چی په قبیلوی مناسکتو کی د شمرزی حکم لری ادم خان ته اجازه و ر کوی چی غوښتل سوی ښځه به په جنګ و خپل کو رته راولی د قبیلوی تعاملی قانون له مخی څرنګه چی (باز ید خان) له قول څخه ګر زیدلی دی نو د جرم مر تکب هغه بلل کیږی او ادم خان چی په جګړه خپله ښځه کو رته راو ستلی ده د خپلو حقوقو دفاع یی کړ یده. د تعامل سر مسم داسی ئله نو ره ختم ده او حق و حقدار ته رسیدلی دي ولی د قبیلی تعاملی قانون ددی له پاره چی په قبیله کی د ننه نظم ساتل سوی وی او داسی دښمنی نو ره دوام پیدا نکړی نو پر ادم خان د (پو ر ) الز ام لګوی چی خسر خیلو ته باید (ننو اتی) و کړی او د ښځی پلر ګنی هم په دی مکلف ګڼی چی ننو اتی قبول کړی. که چیری دا (ننو اتی ) قبول نکړی نو (پړه) و خسر خیلو ته و راوړی. دلته قضیه د (پو ر) په الز ام کی د هغی قضیی سره کامل تو پیر لری چی کوم چا بیله لو مړی (هو کړی) څخه کو مه پیغله بیو لی وی. په هغه صو رت د پیغلی پلر ګنی مختار ده چی ( ننو ا تی ) و نه منی ځکه د جر م ا ر تکاب د ښځی د تښتو و نکی خو اته متو جه وی. دادم خان په داستان کی د (پو ر ) داالز ام چی پر ادم خان راځی نو هغه دقبیلی قا نون ته غاړه ایږ دي او دادي دلته به په اصلی داستان کی ددي پر یکړي یادو نه و ړ اندی کړ و :

«...یو څو ورځې چې تیرې شولې ادم خان ویلو خان او نورو یارانو ته وویل چې راشئ بازیدخان دوی پخلا کړو. ښځه مو هم په زوره ترې راوستله او مړي مو هم ډیر ځني وکړه د پلار سره یې صلاو کړه پلار یې وویل تر دې بله ښه خبره نسته باره د جمعې په شپه یې یو امن یو مریی او څه روپۍ راواخیستلې د بازیدخان کره راغله داشیان یې بازیدخان ته ورکړه د بازیدخان څخه یې بخښنه وغوښته پخلا یې کړ وروسته سره خپلوان سوه کراره کراری سوه.»(ملي هنداره د پېښو ر چاپ ۲۰۲ مخ).

په دغه ټاکلی قضیه کې د (ننواتې) حدود هم معلوم دي آس - مریی او روپۍ او د جمعې شپه تو له یوه ثابته مقرره ده. د جرم عو اسل او حدود او د هغو ازاله او د دوستۍ اعاده تر دغه ټاکلی تعامل لاندې په عمل راځي.

د دې داستان په دوهمه حادثه کې هم محور پښتني ننګه ده چې په دې ځل کې یوه پرشوره مینه هم ورسره ګډه سوې ده. تاوزخان خپله لور (درخانۍ) د قبیلوي رواج په لړ کې د حسن خان یوسفزي زوی (ادم خان) ته په اوني کې ور کړې ده. کله چې هلک او نجلۍ ځوانۍ ته رسیږي او ترمنځ یې مینه پیدا کیږي نو د ادم خان پلار چې د انجلۍ د ځان یعنې د ادم خان بولي پلار ته یې مرکه ورلیږي چې ښځه ادم خان ته وروا ده کړي خو کله چې تاوزخان د (توتیا) سره د ادم خان په واده خبر یږي و دې ته زړه نه ښه کوي چې لور یې د داسې چا میرمن سي چې هغه بله مایینه لري.

د لته نو تاوزخان هم د قول څخه انکار کوي او ادم خان ته د مینې په اړخ کې د ننګې مسله هم ورمخ کیږي. قبیلوي قانون بیا هم تاوزخان د جرم مرتکب بولي. د ادم خان خوا چې په جرګه او مرکه د اجنجال حل کولای نسي نو د قبیلوي تعامل په حکم لاس په جګړه پورې کوي داجګړه د قبیلوي قانون له مخې د ادم خان حق دي. تاوزخان د دې لومړني جرم په تعقیب د یو بل جرم مرتکب هم ګرزي او هغه دادي چې خپله لور (درخانۍ) چې د ادم خان د ناموس حکم لري یو بل خان (پایو خان) ته ورکوي دا جرم نو ډیر درونددي د دې څرګندتیري جبیره نو بیله مرګه او وینې څخه بل څه نسي کولای ادم خان بیا هم د خپلې قبیلوي ننګې پر ځای کو او له باره جګړه کوي خو په دې لړ کې مري او درخانۍ هم د هغه پر قبر ځان مړ ګ ته سپاري .

دلته تاوزخان په دوو جرمونو محکوم دی او همدغه محکومیت یې د دوام داره نفرت ده ته په نصیب کړیدي چې هرڅوک دا کیسه اوري هغه ادم خان حق په جانب او تاوزخان ملامت بولي دوهمه شفاهي کیسه چې یو معروف د ننداري پښتو پوهاند هغه د اتنوګرافي موزیم په شان ستایلی ده د(موسی جان او ګلمکۍ ) کیسه ده

په دې داستان یا کیسه کې قبیلوي روابط د خانخانۍ په سیه پخه مرحله کې دي ، تولید په شکل او ماهیت کې پر مختیا قبیلوي روابطو خپلې اغیزې لاندې نیولي دي مځکه کرنه او د راکړې ورکړې مناسبات تر ټولو نه دېخې خانې پر محور حرکت لري او په داستان کې ټوله تیپونه طبیعي او ډیر څرګند موقف لري

لوي خان او کوچني مځکه وال په مبارزه کې دي او تاجر هم ورو ورو د پیسو په نفوذ دخان اړه په ځان پورې پیدا کوي په دغسې چار پیریال کې د حقوقي مناسباتو حریم د لوي خان له خوا پایمال کیږي خو عکس العمل ته یې کوچني مځکه وال حاضر یږي په دغسې ګرما ګرمه فضا کې خان هم ستړی کیږي خو د کوچني مځکه وال ټوله کورني قرباني کیږي څو د دغې کورنۍ یوه پیغله پر دې بریالي کیږي چې دخان په وژلو خپل غچ واخلي په دغه شفاهي کیسه کې لوي خان چې د اقتدار مظهر دی د موسی جان ښځه او مینه (ګلمکۍ) ګرزوی او دولیجان د مځکې د غصب حکم کوي په دادو اړو کارونو کې خان د قبیلې پر قانون تیری کړیدی

موسی جان او اره کیږي خو ولیجان دخان ښځه تښتوي دلته موږ په قبیلوي تعاملاتو کې د اسې کوډ نه لرو چې د یو تیري کوونکي په مقابل کې باید په ناموس غچ و اخیستل سي خو څرنګه چې دخانخانۍ اقتدار چلوونکی دا حریم په خوا الله سنځه وړي دی نو په مقابله کې یې هر څو سره شدت راپیل سو یدی په دې کیسه کې د بیلابیلو تیپونو برخورد ډیر تو ند دی او په ګوریلای شکل دخان تهدید روان دی او خان هم دخپل تیپ په حکم ورځ تر بلې په تیری کې شدت راولي کوچني مځکه وال (ولیجان) د(سهیلي) په خاني قانع نه دی او ځان د هغه (ساري) بولي نو ځکه کله چې دخان له خوا مسموم کیږي خپل زوی ته پر ځنګدن وصیت کوي چې زما(ساري) واخله د(ولیجان) زوی(میرولي) هم پلار ته په دې کلمه د ادور کوي چې زه به(هله) واخلم دادوې کلمې (ساري) او (هله) دقبیلوي تعاملاتو په قانون کې دوه عمده اصله دي او د(ننګي) په کوډ کې دهغو نه پر ځای کول په قبیله کې دموقف تیټوالی راولي و لیجان

چې د خان په تحریک د ده وي یو ډېر ځله خوا په ناپامۍ کې زهر خوري نو خپل ساری پېژني او د ا ورته معلومه ده چې سهیلي وژلی دی نو زوی ته یې وظیفه ورد غاړې کېږي چې باید د پلار غچ د ساری په قانون او اخلې دلته په ظاهري قاتل یعنې یو ډې کار نه لري او د اصلي قاتل د سر په سو دا کیږي

سهیلي خان د ه لپاره دي کړېده . ولیجان پوهېږي چې خان سات کړېدي او د دې له غچ د میرولۍ وظیفه ده . په دې ماجرا کې میرولی هم سر پا یلې خو د غچ اخستلو وظیفه پای ته نه رسېږي بلکه کله چې نارینه مري نو ښځو ته دا وظیفه انتقال پیدا کوي څو د میرولی عمه د ولیجان خور (تاتو) په دې غچ اخیستلو بریالی کیږي خان وژني او د ه له حساب پرځای کوي خان چې کله د واده په شپه د ولیجان د خور ا (تاتو) سره یو ځای کیږي نو د ې د قبیلې په پخوانی تعامل کې هیڅکله دا فکر نه کوي چې یوه ښځه به د ې د توری جګړې ته ورد عوت کوي او نو ځکه غافل کیږي په دې کې داشک نسته چې په رښتیا نوی کار کوي خو لوی خان چې د قبیلې د قانون محور دی او ځي خپل ځان ګرزولی دی نو دا حرکت د ده د قدرت د شرایطو زېږنده دی لوی خان د جرګې او مرکې قانون له منځه وړی دی نو د دې کار په عکس العمل کې دا تعامل هم ایجاب سو یدی چې ښځه هم د غچ په کار کې برخه واخلې .

داداستان د یوې قبیلوی خانخانۍ ټولنې ډېر د خېړنې وړ خبرې لري او په حقوقي ساحه کې د هغو پراخه څېړنه زموږ د ټولنیز و مناسباتو د تاریخ یو ډېر مهم پړاو پکښې څېړل کیدای شي .

## د پښتو د قبیلوی عرفي نظام څېره په متلو نو کې :

د پښتو شفاهي ادب د ټولنیز ژوندانه سره خوله په خوله ځي نو ځکه د ټولنې تصویر په ډېر پاکې په هغه کې تجلا لري.

په شفاهي داستان کې موږ د قبیلوی حقوقي نظام پر څو کو ډو نو رڼا واچوله دادي او س نو په لاندې لنډه څېړنه کې بیا هم دا موضوع په متلونو کې تر بحث لاندې نیسو.

دلته ز ه د مثال په توګه یو څو هغه متلونه را اخلم چې د اسمدستی د خلکو په خولو کې دي او د تاریخ په لحاظ باید د ډېر و لرغونو زمانو د کلام میراثونه وبلل سي. البته دا کار په کمال اختصار کوم، خو باور لرم چې د څېړنې له پاره یې پر مواد و په کلونو اساسي کار

کیدای سي.ددی له‌پاره چی دقبا کلي موضوع په‌برخه کی موخیږنه په‌پښه ترتیب سره راپالليوي‌دخیړنی له‌پاره دقبا کلي متلونو مفاهیم په‌لږ و ډیر تفسیرکړم .

**۱- حق :** متل:«حق‌نه‌پټیږي»—دقبیلي په‌عرفی حقوقی نظام کی‌حق پټ‌شی‌نه‌دی او داد یو راسخی عقیدي نمایندګی کوی‌چی حق څرګند یولی.

دقبیلی هرفردنه‌یواځی دخپل حق‌په‌ساتنه مکلف دی‌بلکه دخپلی توانی د حق ساتنی زسه‌هم‌برغاړه‌لري... کله‌چی‌دقوانی حقوقی مناسبات‌تردغسی‌اصل‌لاندی‌راسی‌نو طبعا د حق پقولو صلاحیت هیڅکله دبحث موضوع کیدای نسی.

حق‌کوم مجرد مفهوم نه‌دي بلکه هرخوک باید دهغه حریم و پیژنی اوویی منی مثلاو ایی:متل—«حق‌په‌تا—حق‌له‌تا»

څنګه چی‌ته حق‌لری هغسی له‌تاڅخه هم‌حق غوښتل کیږی .ته‌هغه‌وخت حق لری‌چی‌ته‌هم حق ورکړی‌دایو اجتماعی‌قرار داددی اونو ځکه داعقیده عامه ده چی:متل: «حق خپل‌ځای نیسی» —«حق اخیر حقدار ته‌ځی»

پرحق تیری‌نه رغمل کیږی. که‌داتیری دقبیلوی تعاملو دقانون سره سم جبیره نسی نو په عامه اصطلاح وا رپر ینبودل بی غیرتی‌ده او دغسی خوک دقبیلی په‌ساحه کی موقف‌بایلی او عزت یی له منځه‌ځی‌نو ځکه دواراخیستلو په‌کارکی پښتانه بخښونکی روحیه نه‌لری ولی‌داکار په‌سړه سینه اوحوصله کوی.

وایی: متل: «پښتون‌سل کاله وروسته واروا خیست ویل‌اوس می‌هم تلوار وکړ. »

**۲- نرخ :**

متل « دوطنه‌وو زه له‌نرخه‌یی‌سه‌وزه». نرخ‌قانون‌دی هرخوک‌چی‌په‌قبیله کی‌ژوند کوی دقبیلی دحقوقی نظام قانون هم بایدومنی. کوم خوک‌چی‌نرخ نه‌منی‌نو بیله وتلو بله‌چاره نه‌لری نرخ دجرم اوجزا حدود ټاکی او دقبیلوی عرفی نظام‌دهلبندی حیثیت لري. دنرخ سیستم په‌تولو پښتنی قبیلوکی‌ستیه او هغه کسان چی ددغه سیستم قضایی چاری ورسپارل کیږی هغو ته‌په عام اصطلاح (نرخیان)وائی.

نرخیان بالمعوم په‌قبیله کی‌دنرخ په‌تعاملی قانون خبراو پوه کسان وی‌اوداننو عموماً(سپین‌ږیری)وی .

دنرخ څخه غاړه غړول درانده مجازات لري . په‌دي‌لړ کی درتلو (شړلو) څخه‌نیولی

دکورترسوځلو پوري جزاګانې کيږي:

په ځينو پښتني قبيلو کې نرخ ته (تيره) (کانړی) يا (تول) هم وايي. او (نرخيان) (تولګو) بولي خو په عامه اصطلاح کې دنرخ کلمه ډيره رواج ده :

چيرې چې نرخ ته د (تول) کلمه استعماليږي نو دغه تعاملي قانون ته (تله) هم وايي او دامتل د (تول) بې طرفي او عدالت ښيي :

متل: «تله دچاسخ او څټنه ګوري . »

## ۳ـ مساوات :

متل: «ټکري او پګړی ساری دی» ټکري دښځې پروني دي او پګړی دنارينه لنګوټه ده په دې متل کې مطلب ښځه او نر دي چې دحقوقو لحاظه يې تعاملي قانون مساوي بولي .

دامتل البته دحقوقو په تولو موارد وکې يوشی نه دي بلکه دميراث په برخه کې تو پير لري خو د جرم او جزا په برخه کې تو پيرنه لري بلکه د جرم په مقابل کې ټاکلې مجازات ورکول کيږي.

دهمدې مساوات او برابري سره دمشر او کشر حساب هم معلوم دي لکه چې وائي:

متل : « مشر مشره برخه لري او کشر کشره برخه.»ـ«برخې ويشه ميړونه ګوره.»

## ۴ـ روغه:

متل:« په سره سينه چې کيږي په جنګ کله مونډل کيږي . »

دپورتني متل له فحوا څخه بوره څر ګنديږي چې دپښتنو په قبيلوي ژوندکې روغې ته ترجګړي ترجيح ورکول او په ډيرو ځايونو اوو ختونوکې دجګړي څخه مخ اړوي لکه چه وايي:

متل :« تروژلي وروروري ايښې ګوسل ښه دي.»«ويني په وينو نه مينځلي کيږي» «تير په هير».

## ۵ـ متقابله:

متل:« ښه به ښه دي بد به بدو .:ـ څو مرچې روغه لما نځل کيږي نو دمتقابل احترام لمانځنه هم ضروري شرط ګڼل کيږي. وائي :

متل:« کاسه په کاسه ده ـ کرده په کرده. »

**٦-پور :**

متل « پورد بد و برخه‌ده » - د پور تعریف پخپله په دغه متل کی ډیر ښه ځای سو یدي . هر څوك چی دجرم مرتکب کیږي هغه پرخپله ذمه یو پور اخلی. متل :

«پور په ورکړه خلاصیږي». دپور نه پر یکول بد عواقب لري‌مثلاً و ایی:متل «پور چی ځنډنی سی جنګړی سی. »

**٧-مرکه:**

متل: «مر که‌دمیړ و هنر دي» مر که په قبیلوي نظام کی دجو ړي یوه محکمه چی‌دتاکلی نرخ له مخی په لازم وخت کی فیصله کوي .په دغه غونډه کی دجرم اوجزا حدود ټاکل کیږي.

په مر که کی‌په څرګند ډول‌بایدخپل مطلب‌و ویل‌سی او کوم څو ك‌چی‌په‌مر که کی پټه‌خوله کښینی هغه دمر کی نظم ته زیان رسوي.

نو ځکه و ائی: متل-«پټه خو له‌دمر کی لیوه دي»:په‌مر که کی‌چی څو ك کښینی هغه بایدپه‌حدئه او نرخ باخبره وي او دبی خبره‌سړي و رتګ و داسی ټو لنی ته زیانمن تلقی کیږي‌نو و ائی: متل-«ناخبره دمر کی لیوه دي.»

دپښتنو مر که‌په دوه‌دو له دچی‌یوي‌ته‌یی (دژ بی‌دښو ریدو مر که) و ایی‌او بلی ته‌یی «دو اك مر که» .

دا دو اړي‌مر کی دتعاملی قانون‌له مخی دنرخ په‌تطبیق کی آزادي‌لري. دژ بی‌دښو ریدو په‌مر که کی مدعی‌او مدعی علیه دو اړه دالزام او دفاع دلایل و ایی‌او مر که چیانو غوږ و رته نیولی وي‌او دو اك مر که هغه دچی دو اړي‌خو اوي اختیا رو مر کی ته و رکړي.

**٨-پړ :**

متل:«پړ سی که‌سړ سی که» پړ سلامت دي. هغه څو ك‌چی دمر کی له خو ادټا کلی‌نرخ له مخی‌سلامت‌سی‌پړ بلل کیږي. پړ دخپل‌جرم په تناسب خپل مقابل خو اته د(تاو ان) په و رکړه مکلف‌دی.

کله‌چی‌یو سړي سلامت وي‌خو بیاهم‌دلایل و ایی او دلایل‌یی هم که‌د منلو و ړنه وي

نو وايي: متل-«پړ هم یوه و راشه لري.»-پړ په قبیلوي ژوند کی اعتبار ات پایلی نو ځکه وايي: متل:« په سلو و هلی ښه‌دي‌نه‌په‌یوه پړ.»

**۹- تیږه:**

متل:«تیږه‌چی چیرته‌پرته وي‌هلته درنه وي.»-تیږه یاډبره په حقوقی تعاملاتوکی‌د ستار کی یوه نښه‌ده‌چی‌په قبیلوی‌ساحه کی ددوو طرفو ترمنځ‌بدي پیښه سی‌نو سپین ږیري تیږه ایږدي او ددي‌سره‌سم‌جرګه او مرکه شروع کیږي .

کله بیاجرګه‌یامرکه په خپله فیصله کی دستخاصمو طرفینو دوران کی دواړي‌خواوي و روغی‌ته و رسیږي.درنه‌تیږه دامفهوم‌افاده کوي‌چی‌دوامدارەوي.

**۱۰-ایلچی :**

متل-«ایلچی لرەنه‌بندسته نه‌زندان »-ایلچی‌هغه نماینده‌دي چی د متخاصمو طرفینو څخه یوو بل خواته لیږل کیږي. کله‌چی‌بدي پیښه سی نو د خبر ومخه د تعاملی قانون له مخی بندیدای نشی. ایلچی مصئونیت لري او هیڅ خواته داحق نسته چی دایلچی‌مخه و نیسی او داهم‌دروند جرم‌دي‌چی ایلچی ته‌بی احترامی و کړي‌یایی بندي کړي.

**۱۱- بدرګه :**

بدرګه هغه دحفاظت لپاره سړي یاډله ده‌چی دیو سړي یاڅو کسو دامنیت لپاره‌تیاکل کیږي.بدرګه چی‌له چاسره ځی هغه ګواکی دهغی قبیلی په تضمین‌کی دي. دیو بدي داره سړي سره‌چی بدرګه روانه وي نو که ددښمن دکوره‌په‌مخ کی‌هم‌تیر یږي هغه‌څه‌نه‌ورته وايي.

په‌عام‌ډول‌هر څوک‌چی دقبیلوله سیمی څخه تیر یږي بدرګه باید ورسره واخلـی ترڅو زیان و رو نه رسیږي.

**۱۲-چغه:**

متل:«دنیمی شپی‌چغه بی‌څه‌نەوي»- چغه یاناره‌یاغږ هغه په خاص انداز ده‌ول و هل‌دي چی‌دخطر په‌وخت کی ډاکار کیږي .

کله‌چی قبیله‌د ناڅاپی خطر سره مخامخ سی نو ډولچی پر یوه لوړ ځاي ودریږي اوډول

ووهي. له دې مراسمو باید هر څوک له خپلې وسلې سره د ولځاي ته ځان ورسوي. داکسان چې را ټول شي نو ډول داتن لاره ونیسي او په دغه اتن سره د جګړې خواته روان شي.

د قبیلوي تعامل او قانون له مخې که څوک په دغه وخت کې ځان پټ کړي ډیر سخت مجازات ورکول کیږي په مجازاتو کې یې داخبره پوره شامله ده چې کور یې سوځل کیږي.

دا وه یو څو مثالونه چې په لنډه ول د تعاملي قوانینو له خوا تر څېړنې لاندې ونیول شول.

په دې باب د پښتو د فولکلور ریک ادب داپر خه یعنې متلونه یوه لویه خزانه ده چې د هر څو مره څېړنې لپاره مواد لري.

ددې مقالې په پای کې باید ووایم چې زما څېړنه صرف د نمونې په ډول وه خو باور لرم چې په اساسي توګه د پښتنو د قبیلوي ژوند واقعي څهره په شفاهي ادب کې ډیره روښانه ده او څېړونکي ته ناتمامه مواد په لاس ورکوي.

حبیب الله فرهمند

# تحقیقات پشتو در اروپا

## در زبان المانی

در المان الهام از ادبیات پشتو و آشنائی به آن برای اولین بار توسط یوهانش شیلتبرگر (Johan Schieltberger) (1) یکی از جهانگردان این کشور در قرن ۱۴ صورت گرفت ولی بخاطر اطلاعات وسیع و دانستن فرهنگ و ادبیات شرق و از آنجمله آشنائی با زبان های افغانستان در این دیار زندگی اختیار نموده است. علاقمندی دانشمندان المانی از قدیم بزبان پشتو بوده و از سالیان درازی بدینسو درپی تحقیق و مطالعه آن برآمده اند انتشار اولین اثر راجع به زبان پشتو در سال ۱۷۹۱ بوسیله گولدنشتت (Guldenstadt) (2) صورت گرفت که گزارش سفرش را در رسالهٔ بنام Reise durch Russ land نوشت. وی قاموس مقایسوی لهجه هارا نیز برشتهٔ تحریر آورده که درسال ۱۷۸۷ انتشار یافته است. کلاپروت دانشمند و شرقشناس معروف معلومات گولدنشتت را مورد استفاده قرار داده و بعدا در سال ۱۸۱۰ خودش پیرامون زبان پشتو مطالبی را بدست نشر سپرد. جولیوس فون کلاپروت Klaproth (Julius von) (4) درجلد اول اثرش که در بارهٔ ادبیات آسیا میباشد در مورد تاریخ و مبدأ اصلی زبان پشتو تحقیق نموده و سلسلهٔ Avghanisches Vocabularium را تهیه نموده است. وی در تحقیقات خود بو ضاحت می نویسد که پشتو زبانیست که به خانوادهٔ هند و اروپائی ارتباط دارد. کتاب گرامر پشتو کلاپروت درسال ۱۸۱۰ انتشار یافته است.

---

1— Naumann: Reise des Johannes Schiltberger aus Muenchen in Europa, Asia and Afrika, 1394—1427, Muenchen 1859.

2— Gueldenstaedt, Reise durch Russland 1791.

3— Klaporth, Julius. Ueber die Sprache und den Ursprung der Aghuan, 1810.

درست درسال ۱۸۲۳ در برلین نشریه چاپ گردید که توسط دکتور ادوارد ایورسمن (Eduard Eversamann) (1) تهیه شده بود. این دانشمند با گروپی از علما ازطرف پوهنتون برلین مؤظف شده بودند که گزارش سفر شانرا از اورنمبورگ تا بخارا (Reise Von Orenburg nach Buchara) تهیه نمایند ایورسمن کلمات و لغات پشتو را جمع آوري نموده و

آنرا بزبان هاي تاتاري روسی و المانی ترجمه نموده است و هم کلماتیکه فوق کلا پرت گردآورده بود دبا سایر زبانهاي آسیایی مقایسه نموده است اثر این دانشمند درسال ۱۸۲۳ دربرلین بزبان آلمانی انتشار یافته و مقدمه کتاب مذکور را مستشرق دیگري بنام( Lichtenstein ) نگاشته است.

هنریس ایولد( (2) (Heinrich Ewald) یکی از مستشرقین نامدا رقرن نزده که ازسال ۱۸۳۸ در پوهنتون توبینگن تدریس می کرد اثر علمی دربارهٔ زبان پشتو (
(Ueber das Afghanishe Oder Paschto
درمجلهٔ معروف «هنر مشرق زمین» نوشت که درسال ۱۸۳۹ درشهر توبینگن انتشار یافته است- پروفیسور فریدوریش مولر ( (3) Friedrich Mueller) درجلسهٔ علمی اکادمی وین درسال ۱۸۶۲ کنفرانس علمی دربارهٔ زبان افغانها یعنی پشتو ( Ueber die spache der avghanen
ایراد نمود وی در کتاب خود که دربارهٔ زبان پشتو است مطالعه مفیدي انجام داده و زبان پشتو را از زمره زبان هاي اصیل اریایی و شرقی می شناسد.

ارنست تروممپ ( (4) Friedrich Mueller) اصلا جرمنی است و اولین دانشمندي است که باصالت و استقلال زبان پشتو اظهار نظر کرده و می نویسد: زبان پشتو زبان اصلی آریایی افغانستان است و از کدام زبان دیگر منشعب نگردیده است تر وسکل مه یکت ریگو ید

---

1— Eversmann, Eduard: Reise von Orenburg nach Buchara, 1823.
2—Ewald, Heinrich: Ueber das Afghanische oder paschto, 1839.
3— Mueller. Ueber die BerwSprache der Afghanen (Paschto), Wien 1862.
4— Trumpp, Ernst: andschaftsverheal tnisse des paschto Berlin 1867.

را پښت و پښتون دانسته وآنرا بصورت علمی تحلیل می دارد . وي درسال ۱۸۷۳ کتاب (Grammer of the pashto or language of the Afghans) رابزبان انګلیسي نوشت که درشهر تووبینګن نشر شده است ـ اګر چه این اثر بمشکل یافت میشود اما از اینکه بسیاري از زبانشناسان المانی از این اثر استفاده کرده اند میتوان این کتاب را خیلی با ارزش خواند ـ بتأثیر را د بی

افغانستان در او اخر قرن ۱۸ در المان پی برد . دورن ( Dorn ) (۱) که درسال ۱۸۰۵ در المان تولد یافته و تحصیلات خود را در رشته شرقشناسی در پوهنتون (Leipzig) که اکنون بنام شهر کتاب د را لمان د یموکر ا تیک مو قعیت دا ر د ـ بپا یا ن رسانیده است.

د و ر ن نخستین دا نشمند یست که د ر خصو ص صر ف و نحو زبان پشتو (Grammatische Bemerkung ueber das paschto) تحقیقات مفیدی راانجام داده است. ضمایم ګر امر زبان پشتو ( Nachtraege zu Grammatik der Afghanischen Sprache ) اثر دیگر دو رن است که در پو لینن ا کا دمی علوم روسیه پیتر سبو رګ درسال ۱۸۴۲ منتشر شده است دو رن درسال ۱۸۲۹ بهروسیه سفر کرد و درانجا در پو هنتون خار کوف استاد زبان شناسي بو د ـ وي بعد از سال ۱۸۵۵ در پو هنتون پیتر سبو رګ سمت استادي زبان پشتو را حاصل کرد. درون آثار زیا دي درباره زبا ن پشتو وګر امر زبان پشتو بلسان هاي جرمنی انګلیسی و رو سی نګاشته و در تهیه و جمع آو ري نسخ خطی پښتو نیز بذل مساعی نمو ده است.

و یلهم ګایګر (Wilhelm Geiger) از دانشمندان او اخرقرن ۱۸ و او ایل قرن ۱۹ المان است که درسال ۱۸۵۶ درشهر نو ر نبو رګ تو لدیا فته و دردو رۀ جوانی بز با نهاي شرقی علا قه پیدا کردو بمدت کو تاه در رشتۀ زبان هند و ارو پائی کفایت بسز ائی پیدا کرد.

ګایګر در سال ۱۸۹۴ به همکاري ار نست کو هن کتا ب ایتمو لوژي زبا ن پشتو رانو شت که درشهر مو نشن چاپ ګر دیده است. وي دراثر ش لغات پشتو را به تر تیب حروف تهجی باسانسکر یت و اوستا و د ري قدیم و جدید مقا یسه نمو ده و اصالت زبان پشتو و قرابت

---

1—Dorn, Bernhard: Ueb erdes Paschto oder die spra che der Afghanen, Peters burg, 1840
grammatische Bemerkung en ueber des paschto oder die spracha der Afghanen, Peresburg.

2— Geiger, Wilhelm: die Sprache der Afghanen Geiger, Wilhelm: Etymologie uns Lautlehre des Afgh anischen Muenchen, 1894.

آنرا بالسنهٔ مذکور ثابت میکنند .

پروفیسور مورگن سترن از آثار ویلهم گایگر استفاده نموده و کتاب لغات پشتو خود را به گایگر تقدیم داشته است .

گایگر که یکجلد اثرش در شعبهٔ افغانستان شناسی کتابخانهٔ عامهٔ کابل موجود است تازمان عروج نازي‌ها در المان زندگی میکرد و علاوه از زبان پشتو دربارهٔ سایر زبان هاي شرقي نیز مطالعه داشت. براي محققین که دربارهٔ فیلولوژي زبان مطالعه می دارند. آثار گایگر راهنمائی خوبی محسوب میگردد.

پس از پایان جنگ اول جهانی ـ یکی از کوهنوردان المانی بنام ولفگنگ لنش Wolfgang Lentz (1) اثر جامعی دربارهٔ زبان پشتو و اساسات قرائت پشتو نوشت که درسال ۱۹۳۷ تحت عنوان ( Ein Lateinalphabet fuer das Paschto ) دربرلین انتشار یافته است .

این اثر بعد آنتوسط بزبان شناسان ودانشمندان تعقیب گردیده یکی از مستشرقین اطریشی که بزبان المانی و انگلیسی آثار ارزندهٔ پیرامون زبان پښتو نوشته دکتور هربرت پنزل است .دکتور هربرت( (2) (Penzel)) درسال ۱۹۱۰ درنیو فیلدن اطریش چشم بجهان کشوده تحصیلات خود رادرشقوق فلالوژي ـ زبان شناسی و زبان هايژرمانیک درپوهنتون ویانا بپایان رسانید ودرسال ۱۹۳۸ براي نخستین بار درامر یکادست به تحقیق زبان پشتو زدو کتاب ( لهجهٔ کندهاري ) را چاپ کرد . دوکتور پنزل زمانی استاد زبان پشتو د ربو هنتون مشیگان بود وآثار علمی زیادي دربارهٔ زبان پشتو نوشت کتاب (گرامر پشتو ) پنزل بوسیلهٔ پوهاند محمد رحیم الهام بزبان پشتو ترجمه گردیده و براي علاقمندان پشتو خیلی با اهمیت میباشد .

پروفیسور دکتور پنزل عقیده دارد : هرگاه زبان پشتو بازبان هاي خانواده آسیا می

---

I— Lentz, Wolfgang: Ein Lteinalphabet fuer Das Paschto, Berlin 1937.
Die paschto Bewegung, leipzig 1941.
proben Afghanischer Volqspoesie, 1954.

2— Penzel, Herbert: A reader of pashto Universit yof michingan
A Grammer of pashto, Translated into Pashto, 1961.

مقا یسه گرد د بو ضاحت معلوم میگردد که زبان پشتو در ساختمان صوتی و هم ساختمان صرفی عناصر و وجوهی راحفظ کرده‌است که دیگر زبانها سالهاي پیش از دست داده اند. پنزل زمانی بحیث استاد در پو هنتون کابل کار میکرد. بیشتر علاقمندي درمو رد گرامر پشتو بخصوص صیغهٔحال ـماضی استمراري فرق گذاري درجنس مؤنث ومذکر و اسما وضمایر پشتو نشان میدهد.

پس از پایان جنگ دوم جهانی- روش شرقشناسی در المان تغیر یافت ـ انستیتوت ها ومراکز تحقیقاتی ایجادگردید وشیوهٔ تحقیقات وشرقشناسی بیشترساحات اقتصادي‌اجتماعی وفرهنگی رادربر گرفت. درسال ۱۹۶۶ گروه مطالعوی افغانستان تشکیل یافت.

درهمان سال دانشمندان رشته هاي مختلف بشمول زبان شناسي درپو هنتون هایدلبرگ مطالعات تحقیقی شانرا پیراسون افغانستان قرائت نمودند. درسال ۱۹۶۷ «روز کلتور افغانستان»درپو هنتون روهر بو خوم گشایش یافت.

درهمین پو هنتون در ارشیف افغانستان کتب وآثار بارزشی جمع آوري گردیده که مرکز بزرگ ادبیات وفرهنگ افغانستان درالمان محسوب میگردد درسال ۱۹۷۲ روز کلتوري افغانستان توسط افغانستان شناسان تجلیل گردید درهمان سال کتاب افغانستان که دران تاریخ ـجغرافیه‌ـفلکلور ـاقتصاد و معارف افغانستان مورد مطالعه قرار گرفته است ، پروفیسور دکتور بودروس ((Georg Buddrus (1)) فصلی را براي زبان وادب پشتو ودري‌تخصیص داده‌است. پروفیسوربودروس (Buddrus) آسر سمینا راند و نو ژي پو هنتون ( Mainz ) بوده تحصیلات خود را درپو هنتون فرانکفورت در رشتهٔ مقایسه زبانها وشرق شناسی بپایان رسانیده و درسال ۱۹۶۱ بحیث پروفیسور شرق شناسی در پو هنتون تو بینگن ایفاي وظیفه میکرد.

پروفیسور بودروس از دسامبر ۱۹۵۵ تافبروري ۱۹۵۶ دربارهٔ زبان پشتو بخصوص زبان درهٔ کنرها مطالعه نموده و درسال ۱۹۶۷ کتاب Die Sprache von San in ost Afghanistan بهسلسلهٔ نشرات علمی زبان شناسی مو نشن چاپ گردید. وي دراین کتاب دربارهٔ قواعد زبان ـاسماوضمایر صحبت نموده‌است. (Buddrus)دربارهٔ زبان پشه‌ئی وجغرافیه زبان‌هند

1 — Die Sprache von san in ost Afghanistan,1967.

و کلتور و زبان هندي مطالعات مفیدي انجام داده است .

گروه مطالعوي افغانستان و انستیتوت شرقشناسي المان با همکاري مرکز اسناد معاصر شرق در انستیتوت شرقشناسي در شهر هامبورگ و کمک هاي علمی انستیتوت تحقیقات علمي پوهنتون روهر بوخوم بیوگرافي (۱) با فهرست جامعی از کتاب ها و مقالات مربوط به افغانستان را تهیه کرده اند. این بیوگرافي در دو بخش و هر بخش بنا بر احتواي موضوعات گونا گون به ۲۶ فصل تقسیم شده است.

جلد اول آن اثاري که بزبانهاي اروپائي نگاشته شده و جلد دوم آثاري را که به زبان هاي شرقي میباشد معرفي میکند. کتابها و مقالات جلد اول بیشتر بزبان هاي الماني ـ انگلیسی فرانسوي و تعداد کمیهم بزبان روسي است.

اگرچه بعضي کتابهاي که بزبان هاي اروپائي درمورد زبان پشتو میباشد فراموش گردیده مانند نشریه دنمارکي چاپ هرنینگ درسال ۱۹۶۷ کتاب لغت پشتو ـ روسي اثر اسلانوف چاپ ماسکو درسال ۱۹۶۶ یا کتابهاي انگلیسي مانند مختصر دستور زبان پشتو هاگ درسال ۱۹۶۳ و یا کتابهاي امریکائي مانند «دورهٔ مقدماتي زبان پشتو :چاپ مشیگن ۱۹۶۲ و همچنان اثر هربرت پنزل بنام «قرائت پشتو» نشر مشیگن درسال ۱۹۶۵ در این بیوگرافي ذکر شده است. امابازهم دراین دو جلد معلومات لازم وخوبي گرد آوري شده و براي تحقیقات افغانستان خیلي باارزش میباشد. دراین بیوگرافي کتب مفیدي دربارهٔ زبان و ادب پشتو جاداده شده است که براي محققین مأخذ خوبي به حساب میرود .

درسال ۱۹۶۲ ـ انستیتوت جنوب آسیا پوهنتون هایدلبرگ ( Haidelberg ) (SAI) South Asia— Institute بحیث یک مرکز علمي در چوکات پوهنتون هایدلبرگ تأسیس گردید که در ان روي موضوعات جغرافیه ـ اقتصاد ـ حقوق ،طبابت ،نژاد شناسي باستان شناسي فلسفه ـ ادیان و زبان مطالعه و تحقیق میگردد. درسال ۱۹۶۷ شعبهٔ کابل این انستیتوت در کابل تهداب گذاري گردید واکنون دانشمندان اروپائي و امریکائي از طریق همین شعبه

---

1 — Bibliographie der Afghanistan—Lieratur 1945; 1964, Hamburg 1968.

تحقیقات‌علمی‌شانرا پیرامون‌افغانستان دوام‌میدهند. ( Willi Steul (1) ) که مونوگراف خود درباره افغانستان نوشته‌اکنون کتاب‌پشتنولی‌خود را تکمیل‌نموده وعنقریب‌نشرمیشود.

دراوایل سال۱۹۷۳ ، مجلهٔ‌افغانستان‌ژورنال‌درشهرگراس‌اطریش شروع به‌نشرات کرد. اعضای مسلکی این مجله‌بیش از ۳۰ دانشمند رشته های مختلف و از ملیت های مختلف می باشدو تحقیقات شانرا درباره افغانستان در این مجلهٔ علمی بزبان های انگلیسی المانی و فرانسوی انتشار میدهند. علاوتاًبه همکاری انستیتوت تحقیقات علمی پوهنتون بوخوم و به کمک گروه مطالعوی افغانستان ـ کتابهای که بزبان های اروپائی درباره افغانستان نگاشته شده معرفی میدارد و سعی میگردد که بیوگرافی افغانستان تکمیل گردد.

دریکی ازشماره های مجلهٔ افغانستان‌ژورنال ( (2— Alfred Janata:) مدیرموزیم وین‌مقالهٔ‌درباره‌پشتنولی نوشته‌ومفاهیم‌ننگ‌ـتوره‌تورـیالی‌ـناموس‌جرگه ـنرخ‌بدرگه‌،ننواتی‌را تشریح‌و تفسیر نموده‌است.همچنان‌پروفیسور‌مورگن‌شترن( Georg Morgenstierne (3) دانشمند ( ۸۵ ) ساله ناروویژی‌که درمورد زبان های افغانستان و پښتو تحقیقات زیادی نموده وآثار زیادی به زبان های‌المانی، انگلیسی و ناروویژی دارد، اخیراًمقالهٔ علمی در بارهٔ اشعار فولکلوریک پښتو و دری درمجلهٔ افغانستان ژورنال نوشته است و در بارهٔ اشعار خوشحال ختک و رحمن بابا مطالبی نوشته است.

مجلهٔ افغانستان ژورنال درشماره چهارم سال ۱۹۷۵ ، خوددواثر را معرفی میدارد، که دوکتور پنزل بزبان المانی دربارهٔ ان نقد نوشته است ، یکی ان ترکیبات‌اسمی‌در پښتو اثر دوکتور زیار است‌که‌درانستیتوت‌زبان‌شناسی‌پوهنتون‌برن‌نشرشده‌است‌و دیگر ان‌اتلس زبان‌افغانستان است،که‌کاران توسط‌پروفیسوردارشارل‌کیفر و ثناالله(سنا)تکمیل‌گردیده‌است.

---

1 – Willi steul: Eigentumsprobleme Innerhalb Plaschtunischer gemeinschaften Paktia — Afghanistan. He ideberg 1973.

2— Alfred Janata: Ghairat Afghanistan Journal jg 2, man-der gute Paschtune, heft 3. 1975.

3— Report on a linguistic mission to Afghanistan, Oslo, 1926.

Morgestierne, Georg: ic mission to Afghanistan, Volksdichtung in Afghanistan, Afghanistan Journa, 1975.

دعبدالباری ایکنه

# ملی هنداری ته نوی کتنه

## مقدمه

داادعا به ډېره بې ځایه وي که چیرې و وایم چې دیوې لنډې مقالې په وسیله ښه د ملي هنداري دټولو نکلونو شکل، مضمون او ماهیت افاده کړای شم. خو دونه ویلای شم چې ددې مقالې په وسیله به لږ خو اداخبره دمغزو و وزي چې دملي هنداري نکلونه د ژوندي داو دومره شپې دلنډو لو وسیله بللی کیږي او یادهغو غیر واقعي افسانو په سترګه ورته کتل سوی دي چې و خت وربانديي تیریدي دخلکو دسات تیري وسیله ده او په هغه سرعت چې غوږ ته ور اغلی دی په هغه سرعت هیر یږي. له بلې خوا که چیري و نه کړای شم چې ملي هندارو د شکل او مضمون له مخې پوره تشریح کم دونه خو به وی چې ددې لنډې مقالې په وسیله به نو رلیکوالان دپښتنو د کلچرد پار زښتنا که اثرته تر پخوا یو څه په درنه ستر ګه وګوري او ددې اثر دتیاره کونجونو دلاروښانو لوله پاره به دهمت ملاو تړي. دغه بول غواړم چې ددې مضمون په وسیله به لږ ترلږه ددې نکلونو دمؤلف ، مجهول نو ري یو څه حق هم پر ځای کم. هغه لیکوال چې ژوندي یې تو له دپښتنو دفو لکلور دراغونډولو او له سینو او ژبو څخه پر کاغذ باندي دپیاده کولو په لار کی تیر کی او دې کارته یې خپله ټوله ژوندۍ انرژي وقف کړې وه. خو نه یې څوک په کفن خبرسوه او نه یې چاپر قبر او ښکی توي کړې. دې نامتو لیکوال دخپل دې ستهو راثر دریم ټوک هغه وخت چاپ سوي و لیدي چې دمرګ په بستر کی پروت و او پردې نړی باندي یې فقط د خومحدودونفسو نو دایستلو پوردرلودې.

او مونږ به تر هر څه دمخه یو وار د فولکلوریکو نکلونو شکل او مضمون په عمومي صورت وڅیړو او بیا به د ملي هنداري په باب څه ناڅه وغږیږو.

نکل د شکل او مضمون له مخې آزاد دی. دا د کوم خاص لیکوال له خوا نه دی تهیه شوي چې ځانته د لیکنې او افادې خاص قوانین ولري او یا دې پر یوه خاص سبک روان وي. نکل د خلکو د خولې ویل شوي او د زماني د تیریدو سره یې په مضمون کې پر له پسې تغیرات راځي هره تاریخي دوره او هر تمدن خپل خاص مهر او نښان ور باندې ایږدي او د خلکو د ژوند سره یو ځای ژوند کوي. د خلکو سره یو ځای حرکت کوي، مختلفې تاریخي پېښې او اجتماعي حالات د مختلفو ضرورتونو له مخې هضموي.

د نکل قهرمان د یوه لښکر زور درلودلای شي (فتح خان بړیڅی). کیدای شي چې د یوې ښځې په ښرا اکبر پاچا پیلان په یوه تبه مړه شي (د دلي او شهو نکل) کیدای شي چې د سلنګ په لکړه سینځه په باغ کې له یوې ونې څخه شپیته دانې منې راوغورځوي او هره ښځه چې یوه دانه منه وخوري خدای یو زوی ور کي (فتح خان بړیڅی) د یوې توري سره خپل قهرمان د اژدها په خوله کې ور کي او اژدها سر تر پایه پوري څیري کي (مومن خان او شیرینو) په نکل کې هر څه په مجرد شکل څیړل کیږي، ښائیست، زور، لښکر، پیسې، جګ والی او هر څه یې مجرد او ذهني دي. د پاچانو م اخیستل کیږي خو د دربار او د هغه د عظمت په باب څه پکښې نسته. د لښکر نوم اخیستل کیږي خو د دې لښکر سره یو سړي هم مقاومت کولای شي ښایست پکښې یادیږي خو د ترسیم درک پکښې نه وي. له بده مرغه د پښتو د ادب او سني داستانونه هم پر دغه شکل ترتیبیږي چې د پخوانیو نکلونو سره یې چنداني تفاوت نه لیده کیږي.

له دمخه چې مو وویل د نکل ویونکی معلوم نه وي او د زماني د تیریدو سره یې سم تغیر کړی وي وړې پېښې په لویو اوښتي وي او کرار کرار یې د مبالغې پله درنیږي. معمولاً تجارتي اړیکو مهاجرتونو او یو بل ته د قومونو د نژدې والي په نتیجه کې دیري حوزې فولکلور او نکلونه و بلې حوزې ته نفوذ کوي، یو پر بل باندي تاثیر پریږدي او فولکلوریک نکلونه له خپل سوچه والي څخه راباسي. د مثال په توګه: د شاتر حسن په نکل کې د ایران د ملت قهرمان، انوشیروان عادل، د پښتنو فولکلور ته رانوتلی دی خو د واقعیت څخه یې کاملاً متفاوت ژوند کړی دی نه یې د عدالت نوم یادیږي او نه یې د هوښیاری څه پکښې ویل شوي

دي حتى برعكس ډير بې‌عقل‌سړي‌دي‌خو پښتنو په‌خپل يوه‌نکل کې‌دپاچادنامه سره يوځاى دانو شيروان نوم موښلولی‌دي او دنکل په‌پاى کې لاخپله پاچهي‌و شاتر حسن‌ته لاهم ورتسليموي.داځکه‌چې پښتنو په‌دې‌وخت کې‌پاچانه‌و درلودلی‌چې دپاچهي په‌قدر‌دي پوه سوي‌واي ځکه يې‌نو خپل دنکل قهرمان په‌خوراسادګی دې ته‌ګمارلی دی چې پاچهي دي وخپل نوکرته‌ورکي.

کله‌کله‌ديوه‌نکل‌مکان او زمان دواړه‌ورکه‌سي، ديوه‌قوم فولکلوريک‌نکلو نه‌سرتر پايه په‌کامل ډول بلې‌ژبې ته‌ننوزي او پس له‌څه‌مودې‌يې هغه دوهم او بياپه‌وروسته کې دريم اوڅلورم قوم دخپل ځان‌اوټاټوبي نکل بولي.

کله‌کله‌يوه کلتوري‌حوزه دبلې کلتوري‌حوزې پاحوزو تر تاثير لاندې کيږي د هغو دنلکونوله‌وسائلو څخه استفاده کوي او پرخپلو نکلونو يې ترپې لکه دپښتنو په نکلونو کې چې‌اژدها ،پيري، ديب‌جادوګرا ونور خارق العاده وسايل خوراز يات ليده‌کيږي په‌داسې‌حال کې‌چې‌نکلونه پردي نه‌دي‌داددوي خپل فرهنګی ميراث‌دی چې سينه‌پرسينه ورته رانقل سوي‌دي ځکه دنکلونو پيښې او اجتماعي حالات کاملاپښتنو دژوندديوي خاصي تاريخي زماني نمايندګي کوي. خو نکل که‌هرڅوسره تغير وکی‌تر هر تاثير لاندې که‌راشي بياهم پرخپل ځان‌باندې ديوې ټاکلې اومشخصې کلتوري حوزې مهر اونښان لري.دمثال په‌توګه دمومن خان اوشيرينو نکل ته که‌هرڅه اژدهاوردا خل شي‌او يادپوه اژدها (ښامار) پرځاي په‌سو ونښاماران ديبان اوجادوګران ورد اخل شي . بياهم دنکل مضمون چې‌پرولوراوتر بورګلو‌يو ولاړدي او دپښتنو يوه‌خاص‌اجتماعي او اقتصادي حالت نمايندګی کوي‌پرخپل ځاي پاته‌دي.

نکلونه په‌عمومي صورت دخيراوشر ترمنځ دمبارزې‌په‌منظور منځ ته‌راغلي‌وي.خو هيڅ وخت‌دخيردبرياليتوب لپاره‌له‌منطقي وسائلو څخه کارنه‌اخلی يعنی نکل‌ويونکی‌د دخيرا وشر ترمنځ‌په‌مبارزه کی‌هيڅ وخت‌بې‌طرفه نه‌وي. که‌چيري دشر دمغلوبولو دپاره منطقي وسائل په‌لاس کی‌نه‌وه،نکل ويونکی دملنګ دعا،دزمرپانو همکاری ،دسيمرغ دوستي خارق‌العاده زور،او داسی‌نور روشيانو ته پناه وړي.نکلونه طبعا د اومنبور يا لسيکو داستانونو پرسبک نه‌دي ترتيب سوي چې بيلو بيلو اجتماعي نيمګړتيا و ته‌دي‌په منطقي‌توګه ګوته ونيسي او دمختلفو اجتماعي پرله پيچلو مسئلو ريښې دي‌وښيي‌او دحل منطقي لار

دی پیشنهاد کیږي. نکلونو د اجتماعي نابرابرۍ، د زمانې د ناخوالو، استبداد، او تیري څخه د خلکو د خلاصون دپاره مبهمې اوله خوشبینۍ څخه ډکې لارې پیشنهادوي دغه علت دی چه خلک په خورا حرص غوږ ورته نیسي او په یوه وار اوریدلو یې سرتر پایه پورې ذهن ته سپاري. د ملي هنداري تقریباً اکثریت قهرمانان تر ډېر له پسې زحمتونو ګاللو وروسته خوشبخته کیږي. د ږیږ بانې شاپیري په نکل د نکل قهرمان (ګوروان)، د یوه داسې هدف پر لور رهي کیږي چې هرچاته ناممکن بریښي خو نکل ویونکي په خورا بې پروایي د ګوروان په لاس کې داسې وسائل ورکوي چې بالاخره خپل هدف ته په خورا کامیابۍ رسیږي. د شاتر حسن په نکل کې وزیر د شاتر حسن دپاره داسې پرابلمونه خلقوي چې حلول او ترسره کول یې د هیڅ چا په وس نه دي پوره خو څرنګه چې شاتر حسن په نکل کې د یوه وفادار نوکر رول لوبوي او صادق سړی دی نکل ویونکي یې تر ټولو پرابلمونو بریالی راباسي. او حتی ترڅو یې د وزیر د غوښتنې سره سم مختلف پرابلمونه ورته خلق کړي نه دي شاتر حسن ته دا اجازه نه ورکوي چې اصلي قضیه او د وزیر مقصد دې پاچا ته بیان کي.

کله کله معلومیږي چې که څیري د نکل قهرمانان په ژوند کې خوشبخته نه سي نکل ویونکي د مرګ پر وخت یا تر مرګ وروسته د خوشبختۍ زمینه ورته برابروي. د ښادي او بیبو په نکل کې کله چې ښادي خان خو ګاله پر له پسې خواري ګالي او اوس یې نو هیله ده چې خپله محبوبه بیبو له نژدې و وینې او بیا واده ورسره وکړي. له بده مرغه په لار کې ناجوړه کیږي او سړي بیبو له خپلو خپلوانو څخه غوښتنه کوي چې دا او سړی دی یو ګړی یوازې سره پریږدي خپلوان یې د بیبو خبره مني خو کله چې یو ګړی وروسته بیرته ورته راځي بیبو د ښادي خان تر څنګه مړه پرته ده، خپلوان یې هم تصمیم نیسي چې بیبو او ښادي په دغه یو ګمبته کې ښخ کي. او په دې وسیله دوي دواړه تر مرګ وروسته وصال ته رسیږي. د غه ډول د مومن خان او شیرینو نکل کې د پاچا لور د مومن خان تر تراژیک مرګ وروسته په قبر له مومن خان سره یو ځای کیږي. د طالب جان او ګل بشري په نکل کې د پاچا لور د طالب د مرګ په ورځ سري او هوري یې څنګ ته ورسره ښخوي. د موسی جان او ولي جان، قطب خان او نازو، ادم خان او درخانې نکلونه ټول له پر دغه ډول ترتیب سوي دي.

دې ډول نکلونو د خلکو پر روحیاتو او د دوي پر اخلاقو او تربیه باندې ډېر ښه تاثیر درلو

دلی او دغه علت دي چې دملي هنداري دنکلونو تر ترتیب پورې تړوله نکلونو مینه پرمنه فولکلوریکي خزانې په خیر له یوه نسله څخه بل نسل ته را انتقال شوي دي د تړو لو پښتنو په کورونو کې په تیره بیا د کندهار په ښار کې خو ډیر لږ داسې کورونه پیدا کیږي چې دملي هنداري کتاب دې ونه لري. اوس به په اند ډول دملي هنداري مختلف اړخونه وڅیړو.

۱ - دملي هنداري اجتماعي اړخ

دملي هنداري په نکلونو کې کلتوري او عنعنوي مسائلو ته خورا زیاته اشاره شوې ده لکه ولور، تربورګلوي، قبیلوي جنګونه، په کوچنۍ والي یاحتی دمور په نس کې دماشومانو نیکاح کول او داسې نور. خو څرنګه چې دا کیسې دخلکو له خوا څخه راوتلي او خلکو دې شیانو ته په خپله عقیده درلوده نو خورا بې طرفانه او به احتیاط برخورد ورسره شوي دي، حتی داسې معلومیږي چې په دې نکلونو کې پورتني مسائل حق بال شوي دي خو انتظ هغه چا چې په ظالمانه ډول ولور اخلي او یا دیوه مظلوم یا بې ګناه سړي سره تربورګلوي او دښمني کوي درمز په ژبه یادنګل دنتیجې په وسیله بدو یل سړي دي دمثال په ډول دموسی جان او ولي جان دنکل دایوه برخه را اخلو.

په پخوانیو وختونو کې یو پاچا و ددې پاچانوم مهیالی و څلویښت مالدیني یې درلود د دغه پاچا په وختو کې دوه ورونه وه چې دیوه نوم فیروز او دبل نوم یې نوروز و. دفیروز او هلو نی وې اودنوروز اوه زامن وه. دوي دواړه سوداګري کوله دواړه ډیر مالدار او دولت مند وه. یو وخت فیروز او نوروز دواړه په سوداګري ولاړل دوي چې تالل ددواړو ماندیني حمل داري وې دوي پر لاري وویل چې هر یوه ته که خدای زوی ورکي او بل ته یې لور ورکړه دغه لور به یې دهغه بل دزوي وي دفیروز بیا لوروز بیا له دنوروز زوي پیدا سو دنوروز زوی نوم یې موسی جان او دفیروز دلور نوم یې ګل مکۍ کښیښود. دمتی بې دموسی جان او ګل مکۍ نکاح سره وتړل. خیر عمر دي تیر بړی، یو واس دوو اس کاله تیر سوه موسی جان او ګل مکۍ دکوچني والي څخه سره مینان وه. کاروانه دخدای دي دغه فیروز مړ سو. فیروز خو زوي نه درلود نو دموسی جان مور نوروز ته وویل چې ورمه دانجلۍ محیني راولاړه که مبابه یوه بده بیرانه پیښه شي. نوروز دګل مکۍ کرد ورغی، چې نه څه په لاس راکي. ګل مکۍ خو په کوچنۍ والي پلار زماوي ته راکړي ده. او فیروز هم دغسې وصیت

کړي دي. دګل مکی خو ندو او مو ر یې و ر ته و یل چې دمړ و خبري پهمړ و پسی ولاړي که تاسي مونږ ته پوره ولور راکوی خو ښه که نه و ی نه سره رسیږی دوی ناهلا جه شو چه ولور بی و رکی خه پاتی شو و یل بی هرو خت چې موهغه نوروټو رهم را کی نوبی و اده کی خهو خت و روسته د موسی جان پلار مړي. موسی جان دګل مکی د ولو ر ګټو په خاطر په مز دو ري پسی و ر کیږي دنکل تر اژ یدي لهدغه ځایه څخه راشر و ع کیږي او د نکل تر پایه پو رې دو ام پیدا کوي

دمو من خان او شیر ینو دنکل تر اژ یدي هم له دغه ځایه څخه راشرو ع کیږي چه دشیر ینو مشرو رو ر زبر دست خان له مو من خان څخه د رو ند ولو رغو اړي ا و هغه مجبو ره کیږي چې دو لو ر د ګټلو پهخاطر خپل وطن پر یږدي او دهندوستان خوا ته و لاړ شي. تر اژیدي د نکل تر پایه پو ري دو ام پیدا کوي تر څو مو من خان دزبر دست خان له لاسه و ژل کیږي.

پهدې او پو رتنیو نکلو نو کی له یوي خوا یوي اساسی قبیلوي مسئلي ته اشاره سوې ده چې هغه داناږو ګامی Indogamy (پهقبیله کی دننهو اده) مسئله ده. ددې مسئلي په باب هیڅ تشو یش نهدي ښو دل سوی او دو رایه څرګندیږي چې داستیم دهغه و خت پهقبیلوي نظام کی غالب دي کهڅه هم اوس هم دپښتنو پهټولو قبایلی علاقو کی داستیم رویکارده اوخلک منتهی کو ښښ کوي چې خپله ښځه له خپلی خاصی قبیلی څخه دباندي و ادهنه کی. بلهمسئلهپه کوچنی والی کی دنکاح کو لو مسئله دهچې هیڅ ډول بد برخو ر دنهدي و رمره سوي. کهڅههم پهنکل کی دولو را و تر بو ر ګلوي نوم پهبده نهدي اخیستل سوی خو دنکل دمتن لهمخی لهو رایه څرګندیږي چې درانه ولو راو پر مظاوم باندي ظلم کو لو ته بد و یل سوي دي.

(۲) دملی هنداري قهرمانان :

پهملی هنداوه کی تپا کلی خلک هر وخت مشخص ا و ټپا کلی رو لو نه پر غاړه لري. دلته ډیر د ا سی نکلو نه لیدل کیږي چې سو چه د پښتنی فولکلو ر نما ینده ګی نه کوي او د نکل لهمتن او و و سائلو څخه لهوا ریه دابر یښی چې دانکلو نه بایله دهمسایه ګانو د کلتو ر او فرهنګ نماینده ګی و کړي او یالږ تر لږه دهمسایه ګانو پر لاس دپښتنو کلتو ري حوزې ته رانو تلی وي او یاپښتنو دخپلو خاصو اجتماعی او تاریخی شرایطو پر بناخپل اجتماع مسائل پکښی څرګند کړي او خپل دفولکلو ر مشخص قهر مانان یې باندې تر پلی وي. لکه پا چا، وز یر، ګو روان، بو ډی، او داسی نو ر خلک چې د پښتنو پهټولو فولکلو ریکو نکلو نو

کی عمده‌رولونه‌پرغاړه لري. خو ددې خبرې معنی دانه‌ده چی‌موږدې دالماکور یك نکلونه تصفیه کواو یادي‌پخپل‌لاس‌خپل‌فرهنګی میراث ونوروته دروبخښو. ځکه دې نکلونو دپښتنو دژوند په خاصو اجتماعی او اقتصادی شرائطو کی ټاکلی رولونه درلودلی‌دی او پښتنو پخپل نوبت ددې نکلونو په‌تکمیل کی‌رول درلودلی دی. دې نکلونو د ژوند دهمسفر په‌خیر ددوی سره‌یوځای ژوند کړی دی او ددوی د ادبیاتو، اصطلاحاتو ، اجتماعی هدفونو، دبیان طرز، لهجو، او ژبې، څخه‌یې اوبه‌څښلی دی .

په‌هرصورت اوس‌به‌خپل اصلی موضوع ته‌راسو :

دسلی‌هنداري دنکلونو قهرمانان یو بل ته‌ورته رولونه‌لري دمثال په‌توګه:

(الف)پاچاته‌هروخت دبې عقل‌او کله کله دمستبد او عیاش سړي‌په‌توګه ګوته‌نیول سوي ده‌هروخت دوزیر په‌خوله‌کوي اوداسی کارنسته چی پاچادي دوزیر د مشوري څخه غاړه وغړوی.معمولاًخلویښت مانه‌ینی لري بیله دې‌چی‌درعیت ژوندته‌دي پاملرنه وکړي په‌خپلو عیشونو کی ورکوي اوسربیره پردې خلویښتو مانه‌ینو بې دبل ښځوته‌لاهم سترګی نیولی‌وي. دموسی‌جان او ولی جان په نکل کی، مهیلی سربیره پردې چی خلویښت مانه‌ینی لري بیاهم دګل مکی دپلاس‌راوړلو لپاره‌خو وارەدبې ګناه خلکو په جنګکو روزي ولی‌جان په‌زهرووژني ،میرولی په‌یوه ګنده‌کی‌اچوي، موسی‌جان په‌چل‌او تزویر له‌منځه وړي، بالاخره دولی جان دکورپرښځوباندي حمله کوي ترڅو دولی جان د خورتانو له‌لاسه وژل کیږي .

دعلیبیك او شاپانی په‌نکل‌معصوم خان‌دیوه‌غریب مسافر سړي دښځی‌دیه‌زوره تصاحب کولو په‌لار کی ډیر ظالمانه تلاش کوي‌ترڅو دعلیبیك دښځی شاپانی له‌لاسه په‌قتل‌رسیږي. دپاچازوي‌سالدارداو، په نکل کی پاچاحتی د زوي والی او پلاروالی ترمسلی هم تیریږي اوغواړي دخپلو رور مړندوسره واده‌وکی دې هدف‌ته‌درسیدو په‌لار کی‌خپل زوي په سترګوړندوي خو مړندو په مقابل کی مقاومت نسی کولای ترڅو دخپل زوي له‌لاسه وژل کیږي .

د شاترحسن نکل د پاچا دبې عقلی ډیر ښه‌اثبات دي په دې نکل کی وزیر د پاچا دمانه‌ینی سره جوړوي (غیرمشروع رابطه سره‌لري) او په‌دې مسئله باندي شاتر حسن په

يوه‌ترخ کي خبر يږي.شاتر حسن دپاچا ډير وفاداره نوکر دي چې دهيڅ امر په مقابل کي تنبلي نه‌ښيي او هرخو مره‌ناممکن کارچې‌وسپارل شي‌نه وايي چې‌نشي کيدلاي. وزير ددې دپاره چې‌شاتر حسن دده‌نامشروع روابط پاچاته رسوا نکړي دشاترحسن دله‌منځه وړلو لپاره پاچادوسره نامعقوله کارونو او امرونو ته گماري چې‌رښتيا يې‌هم‌بيا‌له‌دغسي پاچابل څوک نسي‌منلاي .

مثلا: وزير پاچاته وايي چې‌شاتر حسن ته‌امروکه، پردې تورد ښت باندي يو لوی ښار جوړ کي ځکه شاترحسن داسي کمالات لري، چې دهر کاروړته ووايي کولاي‌يې شي‌پاچابيله‌دې چې‌په دې‌مشوره کي‌دې ځه‌فکر وکي شاتر حسن ته‌امر کوي چې‌په يوه هفته کي‌بايد ساته پردې دښت باندي يو لوي ښار اجوړ کي.

يامثلا: ورته وايي چې‌په دې ښار کي بايد دخنداوژړاوني ولاړي‌وي چې يوې‌ته‌وايي وخانده هغه‌خاندي چې‌هابلي ته‌ووايې وژاړه هغه‌ژاړي.پاچابيله‌دې‌چې‌ځه‌فکر دي‌وکي شاترحسن ته‌امر کوي چې‌دخندا اوژړاوني راته راوړه.

دپاچادا‌ستبداد مثال دجلات خان‌اوشمايلي په‌نکل کي ښه ترليدلاي سو. په‌دې‌نکل کي خونکار پاچا دخپلي لوردواده کولو په‌لار کي ډير غيرممکن شرطونه ايښي دي. هرڅوک که‌غواړي دپاچا دلورسره واده‌وکي بايد لاندني شرطونه پرځای کي.

۱ــداوسپني کونده‌په‌دلرگي‌په‌تبرماتوي.

۲ــد شمائيلي‌ژړه‌غواچې‌شکر يې‌په‌الماسو کي‌نيولي‌دي‌دابه‌اوشي .

۳ــداغواچې ولوشي شيدي به‌يې دريو‌اره په‌ځغاسته‌وبام ته‌خيژوي.

۴ــشيگي‌اوايرد نې‌يې‌سره‌گډ کړي دي‌نيمه خونه‌يې‌په‌ډ که کړي‌ده دابه‌سر دجلا کوي.

۵ــدپاچادزمري‌سره به‌زمري‌جنگوي.

۶ ــدشمائيلي(دپاچالور) دېنکلې‌لاربه‌پيدا کوي .

که‌چاداشرطونه پرځاي کړ دشمائيله يې‌وکټله او که‌نه‌سر به‌يې پرې کيږي .په‌دې لار کي دخوراډير ځوانانوسر ونه‌پرې کيږي. ځکه‌لوړ نۍشرطې‌دونه‌غيرممکن‌دي‌چې‌هيڅ‌عقل يې نه‌مني دلته‌له‌يوي خوادپاچاحماقت اوله‌بلې خوادپاچا مطلق استبداددم څرگندوي دنکل په‌پاي کي‌خونکارپاچا دخپلو ظلمونو په‌بدل کي دجلات‌خان له‌خوا په سترگوړنديږي .

ب–وزیر هرځای دهوښیاري اوعقل او په‌ځمن کی دشیطانت اوتزویر سمبول دی.
پاچا په هرکار کی مشوره ورځخه غواړي او داسی کار نسته‌چی وزیر دی وړ باندی ونه‌پوهیږي. زما په‌عقیده وزیر دلوي خان دناظر دپاره دسمبول په‌حیث په کارلویدلی دي ځکه ناظر دي چی دخلکو سره‌له نژدي تماس لري او دخلکو په‌خیر اوشر کی مستقیم‌رول لویو لاي‌شي. ناظر ته‌دنصیحت کولو او دبدي آینده ځخه دبېر ولو په‌خاطر په‌ټکل کی دده‌بدعاقبت ته‌اشاره کیږي. دغه ډول پاچا دقبیلي دخانو اولویو مشرانو دپاره‌دسمبول په‌حیث په کار لویدلی دي. خودرعیت په‌اداره کولو کی دعدل ځخه کار واخلی او یوازی په‌عیش اونوش کفایت ونه‌کی.
ج–یوډی معمولا دشیطانت اوسکاری سمبول دي. دغه علت دي چی‌په عوامو کی دیوډی شیطانت اومکر خوراډیر شهرت لري. خرنگه چی‌دسلی هنداري نکلونه کاملا دپدرشاهی پرروحیه باندي ولاړدي نویې هیڅ وخت دیوډی په‌مقابل کی‌یوډاپسپین ډیري ته‌بدنه دي ویلی او نه‌یې په‌سپکه سترگه ورته کتلی دي. یوډی خصوصاً دسوسی‌جان اوولی جان په‌ټکل کی‌ډیره سکاری او شیطانت کوي. ولی‌جان ته‌زهرورکوي. دولی جان دمړینی اوسوسی جان دلیونتوب ځخه سیهیلی خبروي او داسی نکلونه ډیرځی لږلیدل کیږي چی‌هوري دي دیوډی‌شیطانت‌ته‌اشاره‌نه‌وي‌سوې. مگر دیوډی ځخه یې مراد هره زړه ښځه نه‌ده‌بلکه‌دهر دپاره دیوه‌سمبول په‌حیث په کارلویږي.
د–ښځی ته‌معمولا دبې عقلی‌خطاب‌سوی دی خودالف لیلی‌د نکلونوځخه یې روحیه‌ډیرځی توپیرلری‌په هغونکلونو کی ښځه‌نه‌یوازي‌داچی مکاره ده‌ډیر مخته بې‌وفاده چی دخپلو شهواني غرائزو دارضا په خاطرتر هرڅه تیرده دسلی هنداري په‌ډیر ونکلونو کی ښځه ډیره پاکه او وفاداره ښودل سوې‌ده.چی‌په‌دې مسئله کی پښتني‌ننگ او ناموس او دمیړه‌پر نامه باندي ترسرگه د کښېنستلو پښتني‌عنعنه‌له‌واریه‌پریښی. دظریف‌خان اومابی‌په‌ټکل کی‌ما بی دوولس کاله دظریف‌خان پر نامه کښېنی که‌ځه هم خان یې‌هرخوسره‌تهدیدوي او په‌زوره بې له‌خان سره واده کولو ته مجبور وي په‌پای کې‌یې له‌کوره هم‌باسی او په‌کوډل کی گذاره کوي بیاهم نه‌تسلیمېږي، ترخو ظریف خان بیرته خپل کلی ته راځی او دخپل اکاخدری ځخه کسات‌اخلي.

دموسی‌جان‌او ولی‌جان په‌نکل کی‌گل‌مکی ترسرگه دې‌ته‌نه‌حاضرېږي‌چی دمهیلی پاچسا سره‌واده وکړي کله‌چی موسی‌جان‌سړي هم‌داله واده‌کولوڅخه انکار کوي، خو کله‌چی یې سهیلی په‌زور ره‌مجبوروي‌گلی‌مکی فقط دموسی‌جان‌دزیارت‌لید لو اجازه‌و رڅخه غواړي او په‌پای کی دخپل مین پرقبرغوزارېږي‌اوسري. دمومن‌خان‌او شیرینو، علیبیگ‌او شاپاړی، طالب‌جان‌او گل‌بشري،ادم‌خان‌او درخانی،شادی‌او بیبو،نکلونه تر له ددې مدعا داثبات دپاره ښه مثالونه دي. دامسئله دملی هنداري په‌اکثرونکلونوکی څرگنده‌ده‌چی پښتانه که دیوی خوا پرخپل ناموس باندی‌سروركوي‌له‌بلی خوا دخپلی ښځی پروفاداری هم مطمئن دی چی هیڅ وقت‌دخپل میړه نوم‌په‌بل نه‌بدلوی .

یوه‌خبره چی زما‌په‌عقیده‌د یادولو وړ ده‌هغه داده چی ځینو د پښتنوا د ب څېړونکو دملی هنداري دنکلونو پرنا رواستنا د کړي او هغه ښځی چی‌دغه‌ناری‌یې کړی‌دي د پښتنو شاعرانو ښځو په نامه‌یادي کړي دې . لکه بیبو، مابی، شاترینه، درخانی،گل‌بشره،شهو، کل‌مکی‌اوداسی‌نور خو په‌مقابل کی‌دملی‌هند اری دنکلونو په‌استناددهغو نارینه‌و نومونه هیڅ‌چادشاعرانو په‌جمله کی‌نه‌دي‌راوړي،چی ځینی ناري‌یې کړي‌دي‌لکه :

شادي‌خان،طالب‌جان ،ظریف‌خان،ادم‌خان،مومن‌خان،موسی‌جان، بلو، او میرو، خیشکیار او داسی نور. او علت یې هم شایې داديچی موږ په‌پښتوژبه کی نارینه،شاعران ډیرلرو او پردې‌نکلونو باندي استناد ته‌هیڅ ضرورت‌نسته.

خوزه‌پخپله په‌دې‌عقیده‌یم،لکه دملی هنداری دنکلونو اصلی و یونکی چی‌معلوم‌نه‌دي لکه دستلونو او اصطلاحگانو ویونکی چی‌نه‌دي‌څرگند، لکه‌دلنډیو او کاکړي ناروو یونکی چی هیڅ‌څوك‌یې نه‌پیژنی. دغه‌ډول مابی،شاترینه،او یابل‌دغه‌ډول ښځی‌ته‌شاعره و یل چی نه یې دزیږیدو ځای‌نه‌یې کال او نه‌یې مړینه راته معلومه ده‌صحیح نه‌ده‌ځکه داتقط هغه‌خیالی شاعرانی دي‌چی پښتنو ښځو دخپلو مختلفو احساساتو دبیانولو په‌خاطر خپلی خبري ددوي په ژبه کړي او خپل محرومیت یې منظوم بیان کړي‌دي.

ه : موداگر ته‌یوازی‌دیوه دولتمند سړي په‌خیر اشاره کیږي، ډیر کمزوری‌دي او معمولا یې کوردپاچادکور ترڅنگ نیولی وی . څود پاچاتر نیژ دې‌حمایه لاندي وي‌او د خلکو له ضررڅخه یې‌ځان ساتلی‌وی. هروخت چی‌پاچاله‌خپل قصرڅخه په‌دوربین کی گوری‌دسوداگر

پرلو ریا مانند ینه یې سترګی موښلی او بانډي سین کیږي. معلومیږي چې دسوداګر یاتاجر طبقه ډیره نوي سنځ ته راغلی ده، نو ډیره لږ اشاره ورته کیږي، ځکه چې دانوي رازیږ یدلی طبقه تر دغه وخته پورې لا په اجتماعی مناسباتو کی دونه رول نه لري چې دملی هنداری پــــه نکلونو کی دیقاطع رول ورکړه سی.

و : کسب کار و ته ډیره لږ اشاره کیږی او دامی بر یښی چې د پښتنو په ژوند کی دا طبقه هیڅ رول نه لری. پخوانی پښتانه یوازې په جنګ او زراعت مشغول وه حتی کسب ته یې په ډیره بده سترګه کتل په تیره بیا دسوچی، چمیار، او جولا، کلمی خو فقط یو بل ته دښکنځلو کولو او تحقیر ولو په وخت کی استعمالیدلې. دغه علت دی چې دی طبقی د پښتنو په اولکلوریکو نکلونو کی هیڅ انعکاس نه دی پیدا کړي .

۳- په ملی هنداره کی دیارانو مسئله :

په ملی هنداره کی ځو ځایه دیارانو نوم اخیستل کیږی او البته داهغه نکلونه دي چې په ادمخان پوري اړه لري لکه په ځپله دادمخان او درخانی نکل، دخیشکیار او شاتر ینی نکل، دقطب خان او نازو نکل، او دغه ډول دفتح خان بړ یڅی نکل، سر تر پایه پوری پر دغه مسئله ولاړ دي دخیشکیار او شاتر ینی په نکل کی: کله چې خیشکیار دادم خان زور و رمز لی غوزاروی او هغه ادمخان ته احوال راوړي چې یو ځوان ستا په شپیشتو کی آس بې اجازې ایله کړي دي. زه یې هم غوزار کړم او تاته یې هم بدردوویل . ادمخان هغی سړکی ته ورځی او دځوان څخه دښکنځلو په باب پوښتنه کوي هغه په جواب کی ورته وایې زه پښتون یم زه ښکنځل نه کوم. ادمخان هم لامبو رو غځاوه و یل یې افرین پښتون یې. راځه کلاته زما او رور یی چې کلاته یې بوت ډوډی یی ورله راوړه چې ډوډی و خوړه سوه وروسته ادمخان پوښتنه ځینی وکړه چې ځوانه د کوم ځای یې؟ نوم دې څه دي؟ په ختېه څوک یې؟ ده ورته وویل چې د کند هار دخیشکو یم او په ختېه هم خیشکی یم نوم مې یار دي. ادمخان ورته وویل چې زه څلو بښت سلګری لرم، ته هم زما سلګری یې دوباره دې تاخیشکیار بولی.

دادمخان په نکل کی یو ځای دامی لیکل سوي دي .

دتوتیاپلرګنی په خپل کور کی لس تنه وه . څه یې تربرونه و رسره و دریدل لښکر یې جوړ کی بایزیدخان یې دمخه سو دادمخان پر کلایې مخه کړه ادمخان ته حال راغی چې د

بایزید خان لښکر راغی خبردار!

ادم خان دستي پرمیر واو بلو ډغو کې نارې پرو کړې:

بلو پاڅه سر او چت کړه — چې تنګسه وي زسو ډسل او سه مدت کړه

د تو تیاپو ځو نه راغله — پر یارانو بانډي ډغ کوه همت کړه

بلو خان راو غورځید پر یارانو یې ډغو کې چې ملاوي وتړي آسونه یې زین کړه پر سپاره سوه دادي راغله په لښکرو رګیه سوه جنګ شروع سو. بلو په وارخوتنه په تورو هي.

یا بزید خان ته ورورسید چې او مښه یې واهه بایزید خان ناره پرو کړه:

ځوانان دي سړ ني دي — در ته وایم یو تر بله ګړندي دي

دغه خپل بلو در نیسه — دغه ستا د بلو سترګی دخونی دي

ادم خان پر بلو ډغو کې چې بس. بلو هم سخ ځیني راو ګرځاوه پر آمښپو ردي سترګی لکه دزمري داسي اړوي لښکر يې مات کړه د بایزید خان دخوا خو سوه کسه مړه سوه او ادم خان د خوا هم څو تنه سړه او ژوبل سوه بار ه یي جنګ بس کي.

د پښتنو په متلونو کې هم دیار کلمه ذکر سوي ده لکه:

چې خان یې په یاران یې که یاران نه وي تو ري خاو ري د ببیان یې

زوړ یار زین کړي امن دي .

دیار کلمه دسنځنیو پیړیو دارو پاد Knight نایټ او دشوالیه او شهسوارد کلمي معادله ده. په سنځنیو پیړیو کی ، په ارو پاکی د Serfdom یا سینو راو و اشال دسیستم د موجودیت په وخت کی ، مختلفو خانانو او جاګیر دارانو دخپل ځان دساتلو، سالیا تو راټو لو لو، ددښمن سره دمقابلي کولو، لوي خان یاسینیو رته دجنګ په وخت کی د لښکرو لیږلو، ددښمن دهستي دلو ټو لو او نو رو اهدافو دسر ته رسولو لپاره دنایټ څخه کار اخیستی . نایټ، شپه او ورځ دخان په خدمت کی و، او خان هم دتل دپاره ددوي دژوندتو ل وسائل و ر ته مهیا کول. شوالیه یا نایټ هیڅ کله کار نه کاوه. وظیفه یې یوازي او یوازی، ښکار، پر اسونو سپریدل، تو له و رځ استراحت، پهلواني او تفریح او دجنګ یا امر په وخت کی اماده ګی و ه. د ژوندتر پایه پوري یې حتی کله کله و اده هم نه کاوه او وظیفه یې فقط دخپل ولینعمت دمنافعو ساتل وه. دادم خان او فتح خان بریخی په نکلونو کی دیارا نونوم په عین پورتني مفهوم

ذکر شوېدی او دا ښيي چې په هغه وخت کې فیوډالی مالکیت دومره وده او رشد کړی و چې د مسائلو د پاره يې د یارانو په نامه د کوچنیو او لویو لښکرو د موجودیت ایجاب کاوه. د ملوک الطوائفی په نظام کې هر پښتون خان مجبور وو چې یا خان د تربور په لمن کې ور اچوی او د جنګ په وخت کې یې ښیا خدمت ته حاضروی او یا باید د یارانو یا غریبو تربورونو په وسیله خان حمایه کې . دادم خان په نکل کې بل ځای داسې لولو

« ادم خان به نصیحت ورته کاوه چې بده کوه بدنه دی ښه باو به ورته ویل چې زه پوهېږم چې بدنه دي ښه او د خدای په لار پوهېږم مګر ته د پلار یو زوی یې تربرونه دی ډیر دی په قصد دغه کارونه کوم چې د دښمن ستر ګه د رخځه وسوزی ، نو ادم خان هم لکه ورور داسې ساتي ، خو راپر ګرانو . ادم خان سل کسه یاران او مجلسیان درلوده په دغو یارانو کې مشهوره خیشکیار او قطب خان و چې بیل بیل نکلونه لری. ادم خان خو ښه عراقی اسونه درلوده دادم خان اس مجنون نومیده چې خالص شیدې یې خوراك و ، د بلو اس اذر نومیده او د میرو خان آس پرده نومیده. ادم خان خوراشوقي سړی و . ښه رباب یې واهه په رباب وهاو کې یې جوړه نه درلوده تل مدام به د شالامار په باغ کې چې دادم خان مخصوص باغ و دغه تولهیاران وه خپل مجلس او ساتیری به یې کول او هر جمعه به په ښکار وتل» .

دفتح خان پر يغي نکل مرتر پایه د یارانو پر مسئله باندی ولاړ دی. نه پخوم پر یغ دفتح خان یاران دي چې دفتح خان په امر د بست څخه کوچ کوی خپل کورونه پرېږدی . د شمس الدین پاچا په جنګ ورځي او په شپیتو ورځو کې تولهیو په بل پسې په جنګ کې مری . دفتح خان په نکل کې یو ځای داسې لولو :

«فتح خان راپورته سوه سهار وختي دی لمونځ و نه یې وکړه که ګوری ځانګه د هندوستان پرلور کړه ده فتح خان وویل ، کړه د خدای دی یارانو ورځي مخ د هندوستان پرلور باندی کوچ دی تول یاران تیار سوه د هندوستان پرلور رارهی سوه.» بل ځای داسې وایو :

«فتح خان کرمی ته وویل چې ته ورشه ګرده یاران راټول که چې سلا و رسره وکو. کرمی ولاړ پر دل خان، دفتح خان اخښی او نور یاران یې ټول راوستل. فتح خان یارانو ته وویل چې دا په څنګه شی؟ دازموږ نیت او د اګواریان څنګه به یې کوو؟ ټولو یارانو ئې وویل چې خو ښه ستاده هر ډول چې یې کوي زموږ دا سره خو ښه ده. آبس فتح خان ورته وویل چې باني او

چەو خم‌نەدي‌په کار. سها رو رته وو ايست چي‌د کلاشخه وو زي که نه وي گيله مو بياد ځانه ده ........»

البته يارانه بايد دعيارانو سره اشتباه نشي يار او عيار يو له بل‌څخه بيل او جلامفاهيم‌لري عياران دمختلفو استبدادي‌رژيمونو او بيگانگانو په‌مقابل کي يو ډول منظم خالك‌دي‌چي کله دعين‌رژيم او بيگانه په‌مقابل کي ديوه رهبر ترلاربڼود نې لاندي عمل کوي او کله په‌متفرق‌او پاشلي شکل خپلو اعمالو ته دوام ورکوي. دعيارانو د نهضت په مثال ديعقوب ليث‌صفارجنبش‌دى. دغه ډول‌عياران خپل ځانته ځيني خاص‌اصول لري‌چي هغه اصول‌ديارانو اوشواليه گانو ترمنځ نشته يارانو اوشواليه‌گان فقط دخپل وليعنعمت دگټو ساتلو په خاطر دهر امر منلو ته تيار دي‌ددوي‌لپاره‌مظلوم ،ظالم‌خپل او بيگانه مفهوم‌نه‌لري. دژونه په‌مسير کي دخپل ځان دپاره‌هيڅ شيوه او اصول‌ورته په کار نه‌دي. په‌داسي حال کي چي عياران دظالم دله‌منځه‌وړلو او دمظلوم‌دحق‌اخيستلو دپاره دژوند خاصه شيوه‌لري درهبر اطاعت تر هغه ځايه‌پوري کوي چي رهبر ددوي‌داصولو سره سم دوي‌ته رهنمايي او لاربڼود نه کوي او په متفرق‌او پاشلي شکل ژوند کوي هم هر يو دخپلو اصولو کلك متابعت کوي که‌نه‌عيار نه‌ورته ويل کيږي‌عياران معمولاً دخلکو او په‌تيره‌بيا دمظلومو خلکو ترټينگي حمايي او ملاتړ لاندي‌وي‌په‌داسي حال کي چي‌ياران‌فقط دخان وسله‌او اله ډله‌ده‌چي دخلکو او اجتماعي مناسباتو سره هيڅ ډول اړيکي نه‌لري. زما په فکر دکندهار دمنطقي پايلوچ او دلته بل او مزار کاکه‌گان عيناً دعيارانو دپرله‌پسي جنبشو نو ادامه ده. دکندهار پخوانيو پايلوچو خپل ځانته دژوند کولو خاص اصول‌درلوده‌دمثال په‌ډول:

۱ - دشادخوا پر دښمن‌واري‌نکول .

۲ - دچاپه‌ناموس‌غرض‌نه‌درلود او حتي ددښمن ناموس‌ته‌په‌درنه سترگه کتل.

۳ - ددښمن پر داسي ځاي‌زخم‌نه‌ايښود دل‌چي‌هغه‌و رباندي‌معيوب‌شي اوبيابيادانتقام‌اخستيلو توان له‌لاسه ورکي.

۴ - تښي‌دښمن‌ترکوره‌رسول .

۵ - هميشه لڅي‌پښي گرځيدل .

۶ - دمشرانو او په‌تيره‌بيادمذهبي خلکو مطلق اطاعت او احترام کول.

۷ - دزنااو لواطت خخه ترمرگه‌پر هیز کول.

۸- پر کمزوری‌باندی‌واری‌نه‌کول اوحتی دکمزوری‌حمایه‌کول، که‌څه هم و بې نه پیژنی.

دااصول‌عیارانو هم پېژوندکی درلوده چی‌یوخویې دمثال په‌توگه را اخلو:

۱- مالگی ته مطلق‌احترام‌درلودل. کله‌چی به‌یوه‌عیار دچاډوډی‌وخوړه که‌به هغه هر څه‌بدی‌و رسره کړی‌وه‌ده‌ددښمن‌حق‌نه‌درلودی(په‌دی‌باب‌دیری‌مبالغه‌امیزی‌افسانی موجودی دی).

۲- په‌تونډلمراوتوندیخ کی‌دباندی‌گرځیدل، خود مشکلاتو سره بلداو د سبامبارزی‌ته امادگی ولرل.

۳- دیوډول خوړو څخه پېژوندکی پر هیز کول دمثال په‌توگه دغوښوا و یا مالگی څخه.

۴- دمظلوم دحقوقو څخه دفاع کول که‌څه‌هم دی‌به‌یې پیژنی یابه‌یې‌نه پیژنی.

په‌هرصورت دادیارانواوعیارانو ترمنځ هغه (اساسی توپیرونه دی‌چی بایډ یاران‌او عیاران‌ورباندی بیل شی.

دبلی خوا دیار کلمی هم دکلونوپه‌مسیرکی خپل مفهوم ته‌تغیرورکړی‌دی. کله چی په‌هیوادکی متمرکز نظام‌ایجادشواوملوك‌الطوایفی سازمانونه وروروړنگ شوه‌خان له‌خپل ځان‌څخه ددفاع لپاره‌یارته ضرورت‌نه‌درلودی او دغه ډول‌یی نه‌شوای‌کولای چی دیارانوپه‌وسیله(دخلکوهستی ولوټی دیارمفهوم‌دانډیوال،اشنایی ملگری‌او رفیق ومفهوم ته راوښت اوددی‌نوروکلموسره معادله وبلل شوه .

۴- دملی‌هنداری‌دنکلونوهدف:

فولکوریك نکلونه معمولا دخلکو دپنداوعبرت اخیستلو په‌خاطر ایجاد شوی. د خیراوشر ترمنځ په مبارزه‌کی معمولا دخیرپله‌درنه وی دنامردی اومردی ترمنځ په شخړه‌کی هروخت نتیجه دمردی‌په‌گټه وی. دحلالی مزدوری ثمر تر هرڅه زیات وی‌بیځایه دودونه اورسمونه که‌څه‌هم په‌وازمخوله نه‌غندل کیږی خودنکلونونتیجه معمولا غندنه‌یی .

دملی هنداری‌نکلونه‌هم پرپورتنی اساس ولاړدی. دفتح‌خان پریڅی نکل دپښتنو دمور ـال دتقویه کولو په‌خاطردیوه دیرنامکن تصوراوشجاعت بیان‌دی. دمرداونامردپه‌نکل

کې دمړ دې نتیجه او دهغې ښه اینده او په مقابل کې دنامردۍ کولو بده نتیجه او شوم عاقبت ښودل کیږي. دسپیر کونګۍ او فیل په نکل کې که څه هم فیل پر سپیر کونګۍ باندې بیخي ډیر قوي دی او دهغه ځالګې تر پښو لاندې کوي. داسې معلومیږي چې سپیر کونګه به دفیل څخه هیڅ ډول انتقام وانه اخیستلای شي خو سپیره کونګه دباز څخه مرسته غواړي او باز دفیل سترګې په منګولو ړندوي او سپیر کونګه ړوند فیل خطاباسي او په یوه لویه کنده کې یې اچوي څو چې هورې مړ شي. په ملي هینداره کې ځینې ډیر داسې نکلونه لیدل کیږي چې دپښتنو سوچه فولکوریك نکلونه نسوورته ویلای .، دمثال په ډول :

دانار ژړان او سیب خندان نکل چې سر تر پایه ددیبانو او شاپیریانو پر مسانه تکیه کوي او دغه ډول دنیمبو لال نکل چې ټول دپیریانانو رول پکښې ښودل شوی دی.

یوه خبره چې سړی ددې نکلونو د سوچه والي په هکله په شك او تردید کې اچوي هغه د ترسیم نه سوجه دیت دی. ددیب نوم اخیستل کیږي خو داچې دیب څه ډول شی او یا څومره غټ او زورور او یا شاپیرۍ څرنګه سوجه دو هیڅ نه ویل کیږي. په هرصورت دملي هنداري نکلونه دمختلفو اجتماعي اهدافو لپاره ویل شوي دي که څه هم ځینې نکلونه یې په لومړي سر کې هدف نه لري او پر یوه سلسله حقایقو او وقایعو ولاړ دي خو وروسته دخلکو دپند او عبرت اخیستلو په لار کې پکار لویدلي دي. ظلم، تیری دملاماتونکي ولو راخیستلو نتیجې دچل او تزویر عاقبت او دغه ډول نورو اجتماعي مسائلو ته هرځای ګوته نیول شوې ده دانار ژړان او سیب خندان په نکل کې دیوې دمکر او دپاچا دګرانې ماندینې د ظلم نتیجه داده چې یوه ورځ او دپاچا ګرانه ماندینه ددیب په خوله کې ور کول کیږي خوري یې او هغه واړه ماشومان چې یوه ورځ پردشت غورځولي و په هغه شپه مالدار باندې پېښېږي کورته یې بیایي لویوي یې او په پای کې دښاپیریانو پاچاهي لاهم په لاس ورځي.

دزیږ باني شاپیرۍ په نکل کې ښودل شوي دي چې دانساني ارادې په مقابل کې هر ناممکن ممکن کیدای شي که څه هم یو عاجز کوروان د کوه قاف دشاپیریانو ( زیږ باني شاپیرۍ ) د سرغوړیو غواړي په داسې حال کې چې دهغو قلمرو ته دیبان هم نشي ورتلای او پر یې پکې سوځي «دوهم رونه په یوه رنګ نکل کې ښودل شوي چې انسان باید په لږ شي باندې قانع نشي دیته څه د ښه تر تلاش و کې آرامې حرکته ژوندلالهانده خو دحرکته څخه یو ژوند بهتر دی

په هر صورت سلی هندار هغه کتاب دی چی مولف یې په خورا احتیاط د ټکلو په راټولو کی زیار ایستلی دی. د ټکلو نو په لهجه یې ډیر لږ غرض د رلود لی دی او ډیر لږ یې خپل ادیبانه الفاظ پاندی تړلی دی.

اکثره ټکلو نه کټ مټ د خلکو په لهجه راټول سوی چی دا کار زما په فکر اسانه نه دی او په حپله د ملی هنداری مولف هم په دی باب هم داسی یو نظم و یلی دی :

داسیانو څه لیکلی ماقصی د ی  دمینو بی خویې ناری پکښی دی
نه زیادت او نه کمبو د می پکښی کړی  دهم هغه ټکل چی دخولې جملې دی
د هر قوم راز سعلومیږي د قصو نه  دهر چا هندار مخپلی افسانی دی
که څه زیات یا کم غلط درسی په ستر گو  عفو غوارم ځکه دا د بل دخولی دی
محمدګل نوری له دغه فخره بس دی  لګی کړی یې د پښتو په خدمت پښی دی

خو له بده مرغه دا کتاب د ګند هاردیوه تاجر له خوا پیښور ته یووړه شو او هوری د دی پر ځای چی چاپی غلطی دی و لری په کلی ډو ل مسخ سو. د ملی هنداری له دی چاپ څخه یو ازی هغه کسان مفهوم اخیستلای شی چی پخوا یې د ملی هنداری ټکلو نه او ریدلی او یا یې اصلی چاپو نه ویلی دی.

د مثال په ډول د پیښو ر له چاپ څخه یو څو ناری را اخلو:

په کتاب کی داسی لولو:

موسی و رو ره چی پر مخ دی سپر ګی ګرځی
دادلی و ردر کی خو می مړ دی که ژ و ندی

اصلی ناره داسی ده :

داولی و رو ر کی می مړ که ژو ندی ګرځی

بل ځای د اسی لولو:

میر و لیه پر سمه که پګړی یمه
یو می ساری د سهیل و اخله د موسی جان د پاره ګل مکی را و له

اصلی ناره داسی ده:

میر و لیه پر سر سمه که پګړیه

یو می ساری دسهیل و اخله سومی جان سره بل راوړه گلمکیه
بل ځای داسی لولو:
سهلیه تانو سره دمکی سپینه
تانو سره ده گلمکی مه پریږده یو و اری سر غلرو یقینه
اصلی ناره داسی ده :
تانو سره کوتلی زردی سهیلیه مکی لاړ د مرغلرو
یاداچی:
تانو سره کوتلی زردی گلمکی می مرغلره ده یقینه

دیوه خورا لویه و یاله پهیری پرځای یی یوه خورا پهیری دوه رته چوك سو پرځای و رته ځیر سو - دخوښی پرځای خوخه سوښه خوښه دری سره لیکل شویدی. دښیلی پرځای خپله راغلی او داسی نور. که دسلی هنداری دپیښور دچاپونو غلطی په گوته کوو یوه بله د غلطیو سلی هنداره په ورڅخه جوړه شی ځکه نو په دغه غلطیو اکتفا کوم او دپښتو ټولنی د ریاست څخه خواهش کوم چی دی ارزښناک اثر ته په سپکه سترگه و نه گوری او دبیا چاپولو په لار کی یی یو واربیا دهمت ملاو تړی خو ورځی مخکی می د«داستانهای مردم» په نامه یو کتاب په سترگه سو هوری ددری ژبی یو ښو کیسی پکښی دی او دپښتو په برخه کی دسلی هنداری دری دیر مفصل نکلونه ټکی په ټکی رااقتباس کړیوه . سر بیره پردی چی ددی اثر لیکوال پردی نکلونه باندی دتبصری صلاحیت نه درلودی دهغه نکلونه یې هم اقتباس کړی خو نه یې د کتاب او نه یې دمولف نوم پکښی اخیستی و . زما په نظر ددغسی سو استفادی دمخنیوی په خاطر هم ددی کتاب تجدید چاپ لازم دی ځکه که چیری دا کتاب په کابل کی ددری ترجمی سره چاپ شی ښایی دغسی لیکوال لږ ترلږه دچاپ دنوی والی په خاطر یو څه حیا وکی .

(پای)

پروفیسور دوریانکوف

# په شوروی اتحاد کې دفیلالوژۍ په برخه کښې

## دافغان پوهنتون ته هلې ځلې

گرانو پښتو پوهانو!

په اوسني شوروي علم کې دفیلالوژۍ په اصطلاح افغان پیژندنه دپوهې او زده کړې داسې څانگه ده چې دپښتو ژبې او ادب څیړنه کوي. داڅیړنې هراړخیزې ، کمپلکسي او مرکبې دي. زمونږ په هیواد کې دداسې څیړنو عنعنې او مې دوه سوه کلن تاریخ لري . روسیه په اروپا کې په رښتیا چې دپښتو پیژندنې زانگو بلل شوې ده. خو ددې خبرې سره سره زمونږ دشوروي افغان پیژندونکو اوسني نسل ته یوازې په هغو عنعنو یاړو، بلکه زیارموو یوست چې په علمي او عملي توگه دې مشهورې عنعنې ته دوام ورکړو او هغه مترقي کړو. نو ځکه په وروستیو دیرشو کالو کې دتیرې څه د پاسه یوې نیمې پیړۍ په نسبت دپښتو ژبې او ادب په باره کې سو ډیر علمي آثار ترتیب او چاپ کړي دي. مونږ دخپلو خلاقه وظیفو په اهمیت ښه پوه شوي یوو او هم دالاندې خبره منو:

ددې لپاره چې دپښتو په څیړنو کې دعلم پخواني شهرت وساتو، نو یوازینۍ لار دا ده، چې په خپلو اثارو او علمي څیړنو سره یې نوره هم پسې بشپړه کړو.

هغه څیړنې چې زمونږ په هیواد کې په شوروي دوره کې، او په تیره بیا په وروستیو دیرشو

کالو کې دافغانی فیلولوژي په دګر کې ترتیب او چاپ شوی په نړۍ کښې ترټولو لومړی په افغانستان او بیا په اشیا، اروپا، امریکا نورو هیوادونو کې د قدر وړ ګرځیدلي دي .

څرنګه چې د دې سیمینارپه وېناو او مقالوکی او هدارنګه پر ته لدی نه په مختلفو وختونو کې د افغانستان په ورځپانو او مجلو کې ډیر ځلي دا خبره ثابته شوی ده چې دشوروی پوهانو څېړنی د پښتو ژبی او ادب دپاره ستراوزښت لری زه خو په دې باره کښې به هیڅ نوری نه وایم

ولی ټول دا خبره کوی چې دشوروی علم دانکشاف په ٦٠ کالونو کې دافغان پیژندنې په څانګه کې ستر علمی موفقیتونه ترسره شوی دی. ولی باید وویل شي چې په دې دوره کی د شوروی افغان پیژندنې علمی کارونو دوه خصوصیته په نظرکی ونیول شی . د دې علمی کارونو لومړی خصوصیت دادی چې هغه څیړنې په پرله پسې ډول د سوسیالیستی بشر دوستی په پرنسیپونو بناوې او په همدې ترتیب دوام لری. زما په شخصي علمی کارونو، لیکنو، چاپی او ناچاپی اثاروکی د پښتو ژبې او ادب دودې لپاره د اولسیتوب عقیده اساس و ګڼل شوه لس(١٠) کاله مخکی زما د ډاکتری تیزس عنوان دا سی و: « دافغانستان په اوسنیو اشعاروکی د اولسیتوب پرابلم» همدغه مسئله زما په نورو مقالو او نطقونوکی وڅیړل شوه. د «معاصر افغانی اشعار» په نوم سره په ١٩٦٠ کال کې ماد ختیځ پیژندونکو په ٢٥ بین المللی کنګرس کې خپله مقاله ولوستله . په ١٩٦٢ کال کې مې هم خپله بله مقاله «دپښتونستان مسأله او افغانی نظم» تر عنوان لاندی ولوستله همدغه موضوع زه ډیر مهمه ګڼم.

دپښتو پیژندنې دوهم مهم خصوصیت په شوروی څیړنو کی دادی، چې هغه په تیره بیا په وروستیو شلو کالونو کې دافغانستان له پوهانو سره د همکاری په علمی او دوستانه فضا کې منځ ته راغلی دی. زه بښنه غواړم چې اکثره مثالونه له شخصي تجربې څخه رااخلم، مګر بیا هم ددې خبرې لپاره نور دلایل هم ډیر دی .

باید ووایم چې په تیرو دیرشو کالونو کې زما پښتو څېړونې ددې دوستانه همکاری په فضا کې ترسره شوی دی او ستاسو دهیواد دداسو پیاوړو پوهانو د مشورې سره لکه: استاد ګل پاچا الفت، استاد عبدالحی حبیبی، استاد عبدالروف بینوا، استاد صدیق اله رښتین، استاد قاسم رښتیا، استاد ارسلان سلیمی، استاد قیام الدین خادم او نورو سره په مرسته تکمیل شوی دی او د

هغوی اثار زما لپاره د پوهې او الهام منابع گرځېدلې دي . همدارنگه ما استادانو د هېواد د منځنی نسل له پوهانو سره لکه : استاد عبدالشکور رشاد، استاد محمد صدیق روهی، استاد بها و الدین مجروح، او استاد عبدالله خدمتگار، استاد رحیم الهام او نورو سره گډه علمی همکاری کوله. د پښتو پېژندنې د تازه نسل پوهان هم زما همکاران، زما شاگردان او په عین وخت کی زما د پښتو معلمان دی، چی د ډېر احترام په سترگه ورته گورم. چی د دوی له جملې څخه : ډاکتر گل محمد نورزی ، ډاکتر محمد صادق فطرت ناشناس، ډاکتر زیور الدین زیور، ډاکتره شریفه عصمتی، ډاکتره زرغونه رښتین د یادولو وړ دی .

زه دا خصوصیتونه او همکاری په شوروی اتحاد کی د پښتو پېژندنې مهم اساس گنم، دا ځکه چی په همدغو نیکمرغو شرایطو کې زمونږ په هیواد کې پښتو پېژندنه مخ په وړاندې درومی، د علمی وظیفو تر سره کولو لپاره ښه امکانات برابروی . که رښتیا و وایم نو د راتلونکو موفقیتونو د پاره بشپړه علمی همکاری ته ضرورت موجود دی .

مثلاً د پښتو فونیټکی سیستم د څېړنو په هکله مونږ یو سلسله اثار لرو، تعلیمی مواد شته دی په چاپ شوو پښتو قاموسونو کې د اوازونو، تورو تلفظي او فونیټکی علمی څېړنې موجود دی دی.( ۸) کاله مخکی زما پخوانی اسپرانتی میرمن شریفې عصمتی د پښتو د ښار د خصوصیاتو علمی تخنیکی تحقیقاتو عملی کړل هغه تجربوی معلومات چی هغې حاصل کړی دی ، د پښتو اوازونو د څېړلو د پاره ډېر مهم دی . برته له دینه زمونږ په لاس کې د پښتو فونیټیک هغه آثار چی ښاغلی یاری ښاغلی، الهام، ښاغلی هلالي او نورو افغانی پوهانو هم لیکلی شته دی. په اروپا او امریکا کې ځینو پوهانو لکه ښاغلی بیچکا، ښاغلی پنزل ، او نورو هم په خپل وار سره پکښې برخه اخیستی ده. دا هم ښکاره خبره ده ، چی د پښتو په فونیټیک کې ډېر مسایل پاتی دي او تحقیقات یې نیمگړي دی . ښکاره خبره ، خو دا ده چی نورې فونیټکی څېړنې هم په کار او په مخکی دی. په موجوده معلوماتو کی هم اشتباهات شته او هم ځینی مشکلات چی مونږ یې باید رفع کړو ، په اوسنیو شرایطو کی مونږ به کوښښ وکړو ، چی په نږدی کالونو کی شوروی پوهان دغه معلومات راټول او بشپړ ئې کړی او نورې څېړنې به هم وړاندې زیاتی کړی. د دې لپاره چی په یوه وړوکی کتاب «د پښتو ژبی فونیټیکی سیستم» ترتیب او چاپ کړی . مونږ امید کوو چی دا څېړونه به نه یوازی علمی او تعلیمی ارزښت ولری بلکه ه

پښتو دتقويې دپاره به هم مفيد گام وي.

بيا هم په دې توگه وايو چې په تېرو ۳۰ کالو کې شوروي پوهانو د پښتو گرامر او نحو په څېړنو کې زياته علمي توجه فعاله کړه او پر پښتو اړوند څېړنو کې فعاله زياته کار شوی دی. ځيني خلک په ښتياو اخلي چې پښتو فعل يعني پيل نيمه دنيا د ژبو لوته ښه معلومه ده چې په شوروي اتحاد کې دپښتو گرامر په څو کتابونه چاپ شوي دي. زمونږ پښتو پېژندونکو لکه : مرحوم استاد اسلانوف، دولتشاه فيوف، ليبېديف او نورو دپښتو گرامرونو کتابونه ليکلي او خپاره کړي دي دا کتابونه اکثراً تعليمي او د نورم خاصيت او پراکتيکي وظايف بشپړ سره لدې چې لاتر اوسه دتيوري په اساس لوی علمي پښتو گرامر زمونږ له خوا نه دی خپور شوی، خو بيا هم مونږ کوشش کوو، چې ډېر مهم گرامري مسايل په علمي او عملي توگه حل کړو، پاخه معلومات را ټول کړو، په انفرادي تيزسونو ژورتحقيقات منځ ته راوړو، چې په پای کې به بې شکه ددې راغونډ شويو معلوماتو څخه مهم گرامري اساس لاس ته راشي، بيا به په هغه بانډی دگڼو زيارونو په نتيجه کې پوره علمي پښتو گرامر په روسي ژبه باندی ترتيب کړو. بيا هم دغه کار زيارونه او کالونه غواړي. پدې سلسله کی به په تېرو دي دوو کالونو کی زما پخواني کتاب «پښتو ژبه» چې ۱۷ کاله پخوا په روسي ژبه خپور شوی و، تر اهتمام او زياتوالي وروسته به نوی چاپ په انگريزي ژبه خپور شي. زما شوروی علمي ملگري به دغه رنگه دپښتو گرامري خصوصيات، وڅېړي، او دمقالو په توگه به يې هم خپاره کړي. که دتېرې ديرش کلنۍ دورې په اوږدو برخه کې دپښتو دڅېړنې په ځانگړې برخه کې زياتره علمي پاملرنه دپښتو دگرامر پلوته وه، نو دشپېتمو کالونو په سر کې ډيره علمي علاقه دلغت پېژندنې او دپښتو کليمو دڅېړنې خواته راواوښتله. داقانوني او منطقي بدلون او جريان و، کله چې قاموس ليکنه دپښتو اشعارو، سبک پېژندنې علمي څېړنې دپراکتيک او ژوند لپاره لازم گڼل شوي دي. په علمي کارونو کی دلوړې احتيا جاتو منځ ته راتلل، دلوی پښتو - روسي قاموس خپرونو غوښتنه را منځ ته کړه. همدغه رنگه مونږ بی له ځنډه دپښتو د لغاتو په ادبي تحقيقاتو لاس پورې کړ، په تېره بيا مو له هجوي کلمات او اصطلاحات په نظر کی ونيول. لدې دوارو منابعو څخه استفاده او گټه اخستل دقاموس ارزښت نوره هم لوړ کړه. سره لدې چې دقاموس دچاپ له وخته څه دپاسه لس کاله

تیریږي. ولې یو کوم داسې قاموس چې ټول د پښتو لغتونه ولري، نه دی خپور شوی. دغه قاموس زه د خپل استاد اسلانوف علمي کارنامه بولم، او د نورو ملګرو سره ټوته د قدر په سترګه ګورم. مونږ به زیار و باسو چې د پښتو لغوي خېړنو ته هم دوام ورکړو.

د پښتو ژبې او ادب په لړ کې ډېر ښه د افغانستان د خلکو او هم د ګونډو هیوادونو د تاریخ پلټنه امکان نه لري ځکه چې د پښتو ژبې او ادب نه یوازې د پېړیو پېړیو تاریخي بېښې له ځان سره ساتلي دي بلکه د خلکو کلتور، ژوند، عقیدې او آرزوګانې په ښه توګه څرګندوي. ځکه نو په شوروي اتحاد کې د پښتو ادبیاتو په تحقیقاتو کې نیکه او عنعنوي لار روانه ده. نوي دوره ئې د برش کاله مخ کې شروع شوې ده کوم وخت چې مرحوم استاد اسلانوف خپله مقاله چاپ کړې ده چې عنوان ئې دی: «افغاني فولکلور» او په شوروي اتحاد کې د دغه څېړنې او پر همدې موضوع باندې ئې خپل علمي تېز پسې ئې دفاع کړ. خپل محترم استاد اسلانوف دا پښتو څېړنې زه علمي کارنامه ګڼم په تېره بیا ځکه چې دغه دوه ډنې ځګړې په کالونو کښې ترسره شوې. په کاله وروسته پر دې اساس باندې د ختیځ پېژندنې په موسسه کې د افغان پېژندنې شعبه تاسیس شوې ده. دغه یو هغه چې هلته کار کاوه او کوي ئې د پښتو ادب په څېړنو کې ملاو تړله. او ځینې کتابونه او مقالې ئې هم چاپ کړې دي. خلک ښه پوهېږي چې ئې له نویو عنعناتو څخه پخواني عنعنات هم معنی او مفهوم نه لري.

څو کاله کېږي چې په ټولو شوروي تعلیمي موسسو کې د لکچرونو مخصوصه سلسله او ستله کېږي په نامه د خارجي ختیځ د ادبیاتو تاریخ او په هغه کې پښتو برخه هم شته. د دې موضوع د پاره درسي کتابونه هم چاپ شوي دي چې ستاسې بنده یکې هم د پښتو ادبیاتو برخه لیکلې ده. دې خبرو مونږ ته اعتماد راکوي چې د پښتو په تحقیقاتو کې زمونږ لارنه ختمېږي او نوي ځوان څېړونکي په هغه کې هم خپل زیار او استعداد را ښکاره لري او عمومي پانګې ته خپل سهم وسپاري. دا خبره هم دو یلو وړده چې د پښتو معاصر ادبیات په ډېر دقت او پېرا ختیاسره اکثراً زمونږ په هیواد کې تر نظر او څېړنو لاندې دي. په نژدې آینده کې د پښتو د ادبیاتو په باره کې یو څو نوي کتابونه له چاپ څخه وو زي.

دادې زما په نظر کې په شوروي اتحاد د افغان پېژندنې په فیلولوژۍ کې تېرې، آینده او پر له پسې هلې ځلې!

دانه یوازې زموږ شخصي پلانونه دي او نه فقط زموږ انفرادي کارونه دي. د مسکو، لېنن ګراد تاشکند او دوشنبه په ښارونو کې خوشاله پښتو پېژندونکي هم زیار باسي چې په دې څنګه کې خپلې علمي او دوستانه وظیفې پوره کاندي. دا به بې شکه لویه زمینه وګرزي چې زموږ د دواړو هیوادو خلک یو د بل په ژوندانه وزره کې نور هم پسې ښه وپېژني او د سکه ورونو دوستي به هم تینګه شي. اوس په افغانستان کې په پښتو کې ډېر نوي کتابونه خپاره شوي دي او خپرېږي او دا زموږ د ډېرې خوشحالۍ باعث دی موږ د داسې خپرونو ورځي یو او ادبي لویه زموږ د پاره خطرناکه ده. د ټولو مخکې موږ همکارۍ ته اړ یو مګر علمي همکاري خاص د کتابونو په تبادله پوره نه کېږي. لکه پښتو متل چې وائي: «ټمپله د دواړو لاسو خېژي!» موږ دې اړ یو چې د نظریو او علمي افکارو مبادله کوو. همغه کلتوري او علمي روابط چې زموږ د دواړو هیوادونو ترمنځ موجود دي او س هم تینګېږي راته امکانات برابروي چې د پښتو پېژندنې په لار کې زیاته همکاري ترسره کړو او دا همکاري به هر وخت زموږ د دوستۍ او ورور ګلوي کلک کړي. د پښتو لنډۍ په الفاظو وایم :

همکاري په تګ راتګ کېږي    کله ته راځه کله به زه درځم مینه

سید قاسم رشتیا

# کلمات دخیل پښتو در زبان دری

تحقیقات تاریخی و زبان شناسی ثابت نموده است که زبانهای دري و پشتو هر دو از یک اصل و سر بوطبه خانوادهٔ زبانهای هندو اروپائی بوده و بهشا خهٔ اریائی آن تعلق دارند همچنین این هردو زبان یکسان درسرزمین اریانای قدیم یاافغانستان امروزه بوجودآمده اند و درهمین آب و خاک نشو ونما نموده و از همین جا اولی بسمت غرب جانب ایران و دومی بسمت شرقی از اطراف کوه سلیمان به استقامت وادي سند گسترش یافته است. (۱)

---

(۱)-جیم دارمستتر (ترانه های ملی افغانها قسمت اول) منشأ مردم و زبان افغانها، چاپ پاریس ۱۸۹۰ م این عالم فرانسوي پشتو را یک لهجهٔ مستقل در بین لهجه هاي خانوادهٔ هندي و خانواده ایرانی میداند واعقیده دارد که نسبت به (زند) به (پراکریت) که از زبانهاي عمده خانوادهٔ زبانهاي هندي بشمار میرود نزدیک تر است و بسیاري از علماي زبان شناسی معاصر او نیز از قبیل داکتر (ترومپ) و (شپیگل) و (هانري) و (میولر) درمطالعات و آثار خود همین نظریه را ترجیح داده اند.

«کتاب فوق الذکر صفحه ۱۳» دربارهٔ مهد اول پشتو نها دارمستتر بحواله کتاب (تحقیق ماللهند) علامه ابوریحان بیرونی موجودیت قبایل پشتون رادرعهد ساسانیها درکوهستاناتیکه سرحد غربی هند راتشکیل میدهد (مراداز کوه سلیمان) تائید مینماید و عقیده دارد که چارقرن بعد قبایل پشتون به آنطرف رود سند انبساط یافته اند لیکن درحصهٔ اول قرون وسطی قسمت عمدهٔ قبایل پشتون د راطراف کوه سلیمان میزیسته اند (کتاب فوق الذکر صفحه ۱۵-۱۴).

بعبارت دیگر این هر دو زبان از ادوار قدیم تاامروز زبانهاي عمدهٔ افغانستان بشمار میروند وسانند گویندگان خود در این سرزمین تاریخی در کنار همدیگر بسر برده و امروز هم دوش بدوش بحیث دو رکن بزرگ ادب و فرهنگ ملی راه انکشاف و تکامل راسی پیمایند.

در تحت چنین شرایط طبیعی است که این دو زبان باداشتن منشأ واحد و فرهنگ وتاریخ مشترک و امیزش مداوم گویندگان خود و دیگر عوامل طبیعی و موثرات اجتماعی در مرور زمان یک بر دیگري تأثیراتي وارد نموده ولغات و اصطلاحات یکی در دیگري دخیل گردیده باشد. (۱)

چنانچه مظاهر این اختلاط با همی درهر دو زبان به کثرت موجود است تا آنجا ئیکه از لحاظ ادبی و افاده مطلب آنها رامکمل یکدیگر میتوان خواند.

فی المثل همینکه یک شخص پشتو زبان دراداي مقصدي براي یافتن کلمهٔ مناسب دچار اشکال گردید بطور غیر شعوري به ذخیرهٔ کلمات ولغات زبان دري که در مغز او موجود است متوسل میشود ـ همین قسم گویندهٔ دري زبان در بسا احوال که میخواهد معنی خاصی را بطوردقیق افاده نماید به کلمات و اصطلاحات مخصوص پشتو مراجعه می نماید که اکثراً معادل آن درزبان دري موجود یامتداول نمیباشد مثلاً دراین جمله «بعد ازشنیدن این خبران شخص (دوپ) شد» کلمهٔ دوپ که اصل آن درپشتو (ډوب) و ازمصدر (ډوبیدل) یعنی غرق شدن است در اینجا ازهر کلمهٔ مرادف دری (وحتی عربی) بهتر حالت روحی شخصی را که ازشنیدن یک خبر پریشان کننده و غیر منتظر غرق اندیشه و تشویش فکري میگردد تمثیل نموده میتواند.

بهر حال پس ازاین مقدمهٔ عمومی دربارهٔ یگانگی منشأ این دوزبان عمدهٔ افغانستان و همزیستی آنها در کنار همدیگر چه درار یانای کهن وچه درخراسان قرون وسطی وچه درافغانستان امروزه که خود زادهٔ وحدت نژاد وتاریخ وفرهنگ وعنعنات وارمانهاي گویندگان آنها می باشند اینک بیک سیر اجمالی درچگونگی نشوونماي هر دو زبان و

(۱) نزدیکی ژینا لوژیکی و تیولوژیکی «شباهت ساختمانی» آنها ثابت میسازد که یکی ازدیگري تأثیراتی گرفته اند.

ادوار مختلف انکشاف و تکامل آنها سیر دازیم.
بطوریکه درمقدمه اشاره شد، زبان دري که اصلاً درحوالی قرن پنجم میلادي از بلخ نشئت نموده و از اینجا به ایران رفته در زمانهٔ قبل الاسلام درصفحات شمالی مملکت مروج بود (۱) حالانکه مردم باقی حصص افغانستان خصوصاً مناطق کوهستانی شرقی و جنوب مملکت بزبان پشتو که آنهم زبان اصلی مملکت است تکلم میکردند. بعد از فتوحات اسلامی هردو زبان مزبور بسرعت تحت تأثیر زبان عربی که تمام عوامل تأثیر وحاکمیت را دربر داشت واقع گردیده و بموجب احکام اکید امراي عرب (۲) زبان مذکور زبان رسمی وحکومتی شناخته شد، امادرزمان سلطان محمود غزنوی این پادشاه بزرگ بایک اقدام جسارت کارانه بمقصد احیاي زبان وفرهنگ ملی - زبان عربی را از رسمیت ساقط نموده و زبان دري را که درانوقت از لحاظ علمی وادبی غنی وشگوفان بود بجاي ان رسمیت و اهمیت بخشید و توأم باین اقدام - وزیر خود احمدبن حسن میوندي رامأمور ساخت تا الفباي براي زبان پشتو که ظاهراً تاآنوقت فاقدان بود (و یا اینکه الفباي اصلی آن فراموش شده بود) توسط دانشمندان در بار ترتیب نماید که اینکار را قاضی سیف الله درانداک زمانی انجام داد وفی الجمله راه براي انکشاف آیندهٔ زبان پشتو بازگر دید و این همان الفبائی است که با تغییرات و اصلاحاتیکه وقتاً فوقتاً دران بعمل آمده تاامروز مروج ومعمول میباشد (۳) لیکن باز هم زبان پشتو راه دور و درازي را در

---

(۱) - مقالهٔ زبانهادرافغانستان از قلم فاضل مولوی یعقوب حسن منتشره درسالنامهٔ ۱۳۱۳ کابل .

(۲) عبدالملک بن مروان درسنه ۸۱ هجري درافغانستان وایران امرتبدیل تمام دفاتررسمی رابه عربی داده بود.

(۳) - درمورد اصلاح حروف پشتو بامر خواجه بزرگ احمد بن حسن میوندي قاضی خیر الله نو بهاري مؤلف کتاب (خیر اللغات) طبع (۱۹۰۳م) درحصهٔ اول مقدمهٔ این کتاب می نویسد (قبل از آمدن اسلام زبان پشتو حروف تهجی مخصوص نداشت و پشتو تنها زبان شفاهی بود مگر درزمان سلطان محمود غزنوي وزیران سلطان احمدبن حسن میوندي قاضی سیف الله را گماشت که الفباي زبان پشتو رابسازد - قاضی موصوف که زبانهاي عربی - پارسی - پنجابی و سندي رامیدانست بکمک الفباي زبانهاي مذکوره براي صدا هاي زبان پشتو حروف تعیین [illegible] ترتیب براي اولین بار الفباي پشتو بمیان آمد (ترجمهٔ پوهاند رشاد بحوالهٔ خیر اللغات که درسال ۱۳۵۳ شمسی درمقدمهٔ خیر البیان صفحهٔ ۶۰ طبع ونشر گردیده است . )

پیش داشت تامقام خود را بحیث زبان علمی و ادبی سملکت احراز نماید ـ اما باوصف این سحد و دیتها زبان مذکور محض از بر کت استحکام خصوصیات ذاتی خود (۱) نه تنها تو انست موجودیت خویش رادرمقابل سلطهٔسیاسی ـمدنی و ادبی زبانهای حاکمه در کوه پایه های بلند متکلمین خویش گردید ـبدرستی حفظ و استقلال ادبی خویش راوقایه نماید(۲) بلکه بر علاوهبقوت همین استعداد ذاتی بتدریج درزبان دري نیز نفوذ نموده تأثیرات روزافزونی بشکل کلمات و اصطلاحات دخیل از خوددران وارد کرد ـ چنانچه موضوع نگارش این مقاله رانیز همین تأثیرات زبان پشتو بر زبان دري تشکیل میدهد و هر چند بطوریکه گفتیم امروز بسوی یهٔقانوناساسی هردو زبان درمملکت داراي رسمیت ومقام مساوي میباشند باز هم خالی از دلچسپی نخواهد بود اگر تأثیرات زبان پشتو رادر زبان دري مروج افغانستان بادرنظر گرفتن این حقیقت که تأثیرات مذکور از لحاظ یگانگی خاك و تاریخ وفرهنگونژاد گویندگان آنها صبغهٔ متقابله داشته و دارد مورد مطالعه قراردهیم.

---

(۱)بر طبقنظر علماي زبان شناسی یکی ازخصوصیات پشتو اینست که نسبت به اکثر زبانهاشاخهٔ اریایی دراساس محافظه کار تر بوده و بنابران بزبان (مادر) نزدیکی بیشتري راحفظ کردهاست ـ درحالیکه در فونولوژي (علم الصوت) متحولتر میباشد.

(۲) ـ اینکه امروز در پشتوي شهري بسالغات فارسی ـعربی ـترکی واردو را مشاهده میکنیم اولا این عناصر خیلی حادث ونو پیدا بوده و اغلباً ازسه صد سال باینطرف دراثر اختلاط بیشتر قبایل پشتو زبان باسایر طبقات دري زبان درپشتو نفوذ کرده واکثر این لغات عربی ـترکی و اردو واز راه دري( بحیث زبانهاي اسلامی) وارد پشتو گردیده است چنانچه امروزهم عناصر مزبور مخصوص شهر هابوده در کوهستانات اصلی پشتو زبانها ده یك آنهم مروج نیست بلکه جهت افادهٔ مطلبیکه زبان شهري براي آن لغات دري ـعربی ـترکی و هندي حتی اروپائی رابکار میبرند درسراکز اصلی پشتو زبانها لغات خالص پشتو مروج بوده وجمع آوري همچو لغات یکی ازوظایف ملی افراد منور و مؤسسات علمی کشور بشمار میرود.

نو یسنده معتقد است که مظاهر نفوذ زبان پشتو د رزبان دری بسرحدات فعلی افغانستان منحصر نبوده بلکه کمابیش درسایر لهجه های دری ناطق شمال شرق ایران (که قسمتی ازخراسان تاریخی میباشد) و همچنین درلهجۀ تاجیکی - بخاراودیگر بلاداسیای میانه نیز رسیده خواهدبود - و ازطرف دیگر نفوذ مذکور درزبانهای افغانستان هم منوطبه لغات و اصطلاحات نه بلکه در روح زبان یعنی درجمله بندي و طرز افادات نیزیقیناً اثر کرده خواهدبود.

امادراین قسمتها نارسائی و عدم دسترس بمنابع موجوده - مانع ازانست تاعجالتاً د لائل و نمونه های ثابتی عرضه گردد. بنابرآن این قسمت رابه ایندگان و مخصوصاً بان علاقمندان و دانشمندان جوان که سرمایۀ معلومات شان بیشتر و وسایل تحقیقات انهاوسیع تر است، وکول نموده و نیز ازعموم فضلای وطن ارزومنداست تادرتکمیل این فهرست که باوصف تجدید نظرمکرر و کمک عدۀ از همکاران صاحب صلاحیت (۱) هنوز خیلی ابتدائی و محدود بوده و تکمیل آن و ثأئق مزیدیرابرای این مدعا تشکیل وضمناً موضوع د لچسپی رااز نقطۀ نظرمطالعات زبان شناسی عرضه میکند - از همکاری دریغ نفرمایند. ضمناً باید واضح ساخته شود که در این مبحث مقصد ازتدقیق ریشه های لغات و کلماتیکه اززبان پشتو درزبان دری طرف استعمال قرارگرفته است نمیباشد زیراان بحث علمی جداگانه ایست که مارااز مطلب دور میبرد - بلکه منظور نویسنده محض نشان دادن امثلۀ چنداز لغات وجملات و اصطلاحاتی است که اززبان پشتو بمرور زمان به زبان دری وارد ومعمول و متداول گردیده ولو که ریشۀ اصلی ان بدیگر السنۀ اریایی ربطداشته باشد.

درخاتمه از همکاری دوستان گرامی مخصوصاً پوهاند عبدالشکوررشاد - استادعبدالرؤف بینوا

---

(۱) نو یسنده درشمارۀ (۳۰۱) سال ۱۳۱۸ مقالۀ تحت همین عنوان درمجلۀ کابل نشر نموده وعده داده بودم که فهرست لغات دخیل پشتو رادرزبان دری درآینده بکمک دیگر علاقمندان تکمیل خواهم کرد - برعلاوه قرارمعلوم رهبران شاغلی عبدالرزاق زهیر نیز د راینباره مضمونی نوشته وفهرستی جمع اوری کرده که درمجله و یمه نشرشده است لیکن بد بهی است هیچکدام ازاین فهرستها مکمل گفته نمیشود و هنوزوقت ومساعی بیشتری لازم است تا این فهرست ممکل تهیه کردد.

- خیر ندوی عبدالله خدمتگار و دکتور مجاور احمدزیار که با یادداشتهای قیمتدار و عالمانهٔ خود در تهیهٔ این مضمون باسن مساعدت فرموده اند صمیمانه تشکر مینمایم.

فهرست کلمات دخیل پښتو در زبان دری

| لغت پښتو : | ترجمهٔ دري: | مورد استعمال: |
| --- | --- | --- |
| اپن ( اپن ) | ناازموده - بیکاره | بسیار اپن است. |
| اتڼ | رقص | برخیزید که اتن کنیم. |
| اندیوال | هم‌اطاق | ما با هم اندیوالی داریم |
| اوچت | بلند | او را از زمین اوچت برداشت. |
| ایل و غیل | محرم - خودمانی | انها با هم ایل و غیل اند. |
| بیخی | کامل - بکلی | این شخص بیخی دیوانه است. |
| بولی | فرمان دادن - اصلاء اصطلاح عسکری است اما در مورد دیگر هم استعمال میشود بولی خود را بده که رخصت شویم. | |
| بریالی | فاتح - مظفر - کامیاب | بحیث اسم استعمال میشود |
| پل | نقش پای | پل پای او را گم کرده |
| پټ (بضم اول) | مخفی | سرت را پټ کن |
| پروت (از مصدر پر تیدل هم افتاده | | خود را پروت انداخته است |
| پرله پسی | مسلسل | پله پسی آمده میرفتند |
| پلمه | بهانه | برادر پلمه نکن |
| پور | قرض بمعنی منت اسعمال میشود | پور کسی را سر خود نمگذارم |

---

| | | |
| --- | --- | --- |
| پلپوت (در لغت پل پټ) | ردگم کردن | بسیار پلپوت مکن . |
| پچاری (شیاره - بندپای) | رسنیکه در پای اسپ می بندند | این شخص جلو پچاری را کنده است. یعنی از حدو دخو د تجاوز نموده . |
| پرتله (پرتول) | مقایسه | اول خوب پرتله کن و بعد جواب بگو |

---

۱ ـ این کلمات دخیل بعضی منفرد و برخی مزدوج و ترکیبی می باشند خواه هردو جز پښتو باشد خواه یکی پښتو و دیگری دری

| لغت پښتو : | ترجمهٔ دری : | مورد استعمال : |
| --- | --- | --- |
| پرو (اصل لغت پراو) | مقیاس مسافت | دو پرو راه زدیم تا که رسیدیم. |
| پره (بفتح اول) | طرف - جنبه | این شخص پره و جنبه ندارد. |
| تپ (بفتح اول) | تحمیل کردن | خوب سرش تپ کرد. |
| تربور | پسر کاکا | در فارسی کابل مقابل اودرزاده. |
| تال | معطلی | بسیار تال نده که ناوخت میشود. |
| تندر | غرش صاعقه | چه تندر باریده. |
| تلوسه | تلوسه - تشویش | بسیار به دلم تلوسه میندار. |
| تکاندن (مصدر لغت تکول) | بشدت حرکت دادن | بتکان که خاک دارد - خوب تکاندش. |
| تیت و پرک | پراگنده | سال ها تیت و پرک بود. |
| (تیکه) | اجاره | مثلیکه تیکه کرده باشه |
| پیغور | طعنه - ننگ | پیغور افغانی را بجا کرد. |
| پلوغتی (پلو - غتی) | گره پهلو | چادرعروس که گوشه های انرا گره میزنند. |
| پیکی | کاکل روی پیشانی | در این چهاربیتی - همو پیکی - که تو داری گل من. |
| پخپل سر | خودسر - بی مراعات | هر کس پخپل سر روان است. |
| تکک اصل لغت (تکک) | بسیار پر | جوال تکک شده. |
| تنگ تنگی - (تنگ - تنگی) | فریبکار که خود را ساده جلوه دهد | خود را تنگ انداخته. |
| تیله (اصل لغت تیله و تمبه) | فشار مردم درازدحام | در بازار یقدر تیله و تنبه زیاد بود که راه را یافته نتوانستم. |
| تول کردن (از مصدر تلل) | وزن کردن | نه تول انگور - این گندم را تول کن. |
| توته (توته) | پاره - حصه | یک توته نان بمن بده. |
| تنگ (لغت پښتو تینګ) | محکم | کمر خود را تنگ بسته بود. |

| لغت پښتو: | ترجمه دری : | مورد استعمال: |
|---|---|---|
| تو ریالی | شمشیری | بحیث نام استعمال میشو د. |
| تو رو تلوار (اصل تو ره و تلوار) | شمشیر و حربه | تو باساتو رو تلوار گرفته ئی . |
| تیت و پرک | پراگنده | لشکر تیت و پرگ شد . |
| تیر (تیر) | رد کردن ـ شدن | خوب تیرش کرد |
| تیر و بیر | از هم جدا ماندن بهم نرسیدن | در راه از یکدیگر تیر و بیر شدیم . |
| جولی (لغت پښتو ځولی) | یک نوع خورجین | جولی این مرکب ها را درست کن . |
| جرگه | مجلس مذاکره | از رسوم قدیم و اصلی پشتونهاست که برای حل وفصل مسائل قومی باهم مجلس میکنند . |
| جر و بر | بهم مخلوط ـ درهم و برهم | |
| جو په | گروه ـ دسته | مردم جو په ـ جو په می ایند. |
| جو ر | صحت | جانمن جو ر هستم |
| جو رامدن جو ر کردن | از جور بدل ـ موافقه | درست کردن. |
| جتکه (جتکه) | تکان | سارا بسیار سخت جتکه داد. |
| جگ (به کسر اول) | بلند بالا | یک جگ ادم است. |
| جگره | چانه زدن | بسیار جگره نکن. |
| چتی (چتی) (با السنه هندی بیمعنی ریشه مشترک دارد) | | چتی گوئی نکن . |
| چت (لغت پښتو چیټ) ز بر پا فشردن اصطلاح پهلوانی است که فلان شخص چت شد . | | |
| چاپیر | چاپیر ـ دو ر ا دو ر | چاپیر مرا گرفتند |
| چرت | فکر ـ اندیشه | بسیار چرت نزن خدا مهربان است. |
| چل | فریفتن ـ فریبکاری | نخود چل چل را دوست ندارم ـ فلانی بسیار چل باز است ـ تو چه چل میکنی. |
| چپلی (څپلی) | یکنوع پاپوش | در تابستان چپلی پوشیدن خوب است. |
| چتل (چټل) | کثیف | بسیار چتل ادم است. |
| چم | حیله ـ فریب | بسیار چم بازی مکن. |

| لغت پښتو : | ترجمهٔ دري : | مورد استعمال: |
|---|---|---|
| چوکی چوکی دار (څوکی) | تنها - پهره | چوکی دار این باز ار کیست. |
| « باالسنه هندی ریشه مشترک دارد» | | |
| خدای د پاره | برای خدا | ندا است برای استرحام . |
| خت (اصل لغت ختیه) | گل و لای - اب ناصاف | ازمیان خت مگذر - این اب خت است. |
| خ:ک (به کسر اول و فتح دوم) | گلو - حلقوم | از ختکش گرفت. |
| خوشی (با یای مجهول) | معمولی - بی اساس | خوش گپ است. |
| خو | که | شما خو خواب بودید. |
| خیل و ختک (خیل او ختیه) | گروه - قبیله | خیل و ختکشان بسیار است . |
| دبنگ | کلفت - قوي | دبنگ ادم است. |
| دکه (دکه) | تیکه و تکراب - صدمه | در دریای کابل دکه ها ساخته اند. |
| دود (ډوډ) | رسم و رواج | دود و دستور ما چنین است. |
| دند (دنډ) | آب ایستاده - حوزه | در سرکها آب دند شده دند چهار دهی. |
| دپ (دوب) | زق شده - حیرت زده | از شنیدن این سخن بیخی دوپ شد . |
| راکول (لغت راشکول) | کلوخ شکنی | از الات زمین داري. |
| روغ | اشتی | باهم روغ هستید. |
| زوزات (ځوځات) | زوی - زاد | او لاده (زوزات تو بسیار است. |
| زرغونه | سبزینه | بحیث اسم مؤنث استعمال میشود. |
| زبل (زوبل) | صدمه دیده - مجروح | بیچاره زبل شد . |
| سم | راست مستقیم - برابر | حالا سم شده است. |
| سپل (اصل لغت څپړ) | کف پای اشتر | سپل سپل پا دارد. |
| سرغنه | سر دسته | سرغنهٔ دزدان گرفته شد . |
| سرخون (زرغون) | کبود | در مورد جامهٔ اسپ استعمال میشود. |
| سد | هوش - خودی | این شخص بسد افتاده . |

| لغت پښتو: | ترجمه دری: | مورد استعمال: |
|---|---|---|
| سمال (سمبال به کسر اول) | توجه - احتیاط | او بچه سمال جانته بکن. |
| سیال - سیالی | همچشم - هم حیثیت | سیال پدرت خو نیست - سیالی وشر یکی در بین است. |
| شورمشور (شورماشور) | قیل و قال | بسیار شورمشور است صدای شمارا نمیشنوم. |
| شلمبو (شلمبی - دوغ) | مایع ابگین - دوغ | بسیار شلمبو شده مزه ندارد. |
| غولاندن | فریبدادن | خوب غولاندش. |
| غاور | غالب | بالایش غاور است. |
| غت (به فتح اول) | کلان - قوی | غت و چهار شانه آدم است. |
| غټ مغتول (غت مغت - تول) | درهم و برهم باهم مخلوط | دنیا غت مغتول شد. |
| غلی (غلی یای مجهول) | خاموش و مخفیانه | غلی کرده بر امد. |
| غند (به کسر غین) | جمع یکجا | این چیز هارا غند کن - نوکر شما جمع و غندخانه را یاددارد. |
| کشال - (کښال - کښاله) | دراز - دامنه دار | گپ کشال شد. |
| ککر (ککړ) | گرفتار - آغشته | به چه بلا ککر شدیم. |
| کټ و ست | عیناً | کټ و ست مثل پدر خو داست. |
| کوت | توده - بسیار | یک کوت مال دارد - گندم کوت شده. |
| کند (کنډاو - کنډو اله) | چقوری - خرابه | این خانه بیخی کندو اله شده. |
| کودلی | کلبه | یک کودلی ګکه داریم. |
| کوته (کوټه) | خانه - اطاق | کوته شما کدام است. |
| کاچی | یک خوراک سر کب از خمیر و روغن از خوراکهای مخصوص افغانهاست. | |
| کندوکپر (کندواو کپر) | ناهموار شکسته و ریخته | این سرک بسیار گندوکپر است. |
| گنکس | بیهوش | امروز بسیار گنکس هستم. |

| لغت پښتو : | ترجمه دری: | مورد استعمال: |
|---|---|---|
| گند | دسته | اینها یك گند میباشند. |
| گندو گندبازی(به‌ضم اول) | جنبه‌و پره | گندو گندبازی در هر کار خوب نسیت |
| گډ‌گډ(به‌ضم اول) | لنگ | گدی شوی. |
| گدوله(گدواره) | در هم و برهم چند چیز مخلوط | اگر چند زبان را یکجا بخوانند گدوله میشود. |
| گدود(گډ-ود) | مخلوط | گل و اب را بهم گدگن-گدو دزان مخور |
| لروبر | از اینطرف و انطرف | از لر و بر ش میزند. |
| لند(لنډ) | کوتا مختصر | لند بگو-لند و کوتا میگویم. |
| لمبه | شعله | لمبه‌های اتش بلند شد. |
| لیتی | یك قسم خوراك که مرکب از آرد و روغن است | این خوراك را به زنهای زچه میدهند و مخصوص افغانهاست. |
| لگید(مصدر لیگیدل) | چسپ کردن | چل‌ها بجانش نلگید. |
| مات(ماتول) | شکستن-ساکت کردن | ماتش کرد(در فارسی هم استعمال میشود اما مات فارسی از مات و مبهوت آمده و اصطلاح شطرنج بازی هم است. |
| موچی(از لغت موچن پیزار) | پیزاردوز | بازار موچی‌ها در سر پل است. |
| مخامخ | روبرو | مخامخ برو. |
| ناچاپ(ناڅاپ) | ناگهان | ناچاپ گیر امد. |
| ننوات(از ننواته) | تمنا-عذرخواهی | یکی از عنعنات ملی پښتونهاست که در وقت ضرورت یك قبیله یا یك فرد نزد قبیله و خانوادهٔ دیگر رفته در یك مورد مخصوص از انها مطالبه امداد یا عذرخواهی میکنند. |
| نیغ | راست-مستقیم | نیغ ایستاده. |

| لغت پښتو: | ترجمه دری: | مورد استعمال: |
| --- | --- | --- |
| ننگیالی | غیر تمند | بحیث اسم استعمال میشود . |
| ورسره | همراهش | بماخانه و جاه سید هند تنخواه هم ورسره . |
| ور -(ور) | لائق - سیال | این کار ورش نیست. |
| وند | حصه | این از وند ماست - وندشما چند است . |
| واک | اختیار | زبانش بواکش نیست. |
| وار | نوبت | اکنون نو ارمن است. |
| وربل | کاکل روی پشیمانی درین | چاربیتی |
| | بیت | سرو ربل سیاه سی رو پیه کلدار داری .. |
| ویش (ویښ) | بیدار | ویش و بیدار یک ادم است. |
| هر و سرو | خواه و مخواه | ارو سر و او رابر دند . |
| همزول (از همزول) | مشابه - هم عمر | احمد و محمود همزول یکدیگر ند. |
| هله | ندای زود باش | هله زود باش برخیز . |
| هک - پک | حیران | هک و پک ماند . |
| هیله | امیدواری | هیله خدا کرده نشسته ام . |

چند نمونه از جملات ضرب المثلهای پښتو که عیناً در زبان دری افغانستان مستعمل میباشد:

زه پور غوارم - دي نور غواري. — من قرض خود را میخواهم او دیگر پول هم از من میخواهد.

په گاز رنه یم به خر پیی یم — به زردک علاقه ندارم صدای ان برایم اهمیت دارد.

دو دی زما خوری خاتو تو په سلاح خانه. نان از من میخورد قوقو خود را به سلاح خان میکند .

له خیر مسره. — مرادف بخیر باشد.

* * * * * * *

دراین فهرست از القاب و اصطلاحات عسکری و دیگر عناوین رسمی و دولتی که در یک قرن اخیر یعنی از عصر امیر شیر علیخان تا امروز در مملکت مروج شده و بهمه معلوم میباشد از لحاظ طوالت کلام صرف نظر بعمل آمده است .

په نونسمه پېړۍ کې

د پښتو د عسکري اصطلاحاتو

تاریخچه او څېړنه

لیکوونکی: جګتورن محمد صدیق «رازقي» نهیوال

# مقدمه

ښاغلي لوستونکي ته به ښکاره وي چې حربي پوهنتون دلومړي ځل دپاره د جمهوري دولت دوسله‌وال پوځ په نمايندګۍ دهيواد دنورو علمي او فرهنګي موسسو ترڅنګه په دووو روستيو پيړيو کې دپښتو دچاپي اثارو په دې پرتمين نړيوال سيمينار کې ونډه واخسته‌چې دا موضوع زموږ دپاره بېخي نوى والى لري‌او بيا هر‌نوې پديده که څه هم مترقي وي،ودې‌او تکامل ته‌اړتيا لري .

موږچې ددې‌سيمينار په‌لړ کې په‌لومړني ګام کې يو‌علمي او تحقيقاتي هسې عمل ته اقدام وکړه‌چې زموږ دمسلکي زده کړو سره ښکاره بيلوالي لري ، بېخي نوى او لوى کار دى .دا ځکه په دغه برخه کې موږ نه‌يوازې دتحصيل،تخصص، تجربې اوسابقې‌درلودونکي نه يو بلکه ډېر لږ لاس مو هم نه‌درلود.دبلې خوانه ددې مقالې دبرابرولو دپاره دضرورو موادو خوراته لومړى خه‌پته نه‌وه او بياچې راته کوم محدود اثار په‌لاس راغلل هغو زموږ د مقالې دمحتوياتو دليکلو دپاره کافي عناصر نه‌درلودل. داوه‌چې زموږ دڅېړنو ډېر اړخونه د دغې مجبورۍ له‌مخې نيمګړي او بې بيانه پاتې شو.

دپورتنيو معذرتونو له‌مخې هيله کيږي چې زموږ دمقالې دليکنې موضوع زموږ ددغه ډول تحقيقاتي فعاليتونو پيل او مبداء بللې او نيمګړتياوې مو دمجبورۍ‌له‌مخې وګڼي.موږ ددې‌مقالې دموادو په‌ليکنو قانع نه‌ياستو او ښايي چې‌ستاسې په‌مرسته به‌بشپړ شي.

په‌درناوى(ليکوال)

## دافغانانالوغریزوی عسکری استعداداوو په تیا :

طبیعی اغیزو، جغرافیوی شرایطو او تاریخی پېښو افغانان تېنګک، سرښند ونکی زړور او په ازادی مین روزلی دي .

یوازي زموږ د ګران هیواد غرونه له برمه ډک او په نړی کی هسک او د ننګ نه دي یوازي زموږ د ښکلی هیواد د سرد روا وتا ترونه رابهیدلي سیند ونه مستاو ځپاند نه دي. یوازي زموږ دهیواد پراخې دښتې اولویی کرونده له ستر والي او دبډ بې خخه ډکی نه دي...... بلکه زموږ دخلکو پرګنی هم زموږ دهیواد ددغه سرلوړیبا استعداده او قهرمانه طبیعت اصیله زیږنده ده، د دغو غرونو اورغونو په شان د رندې او با شهامتې دي، د دغو نخیدونکو سیندونو په څیر دځپلواکی او سرکښۍ روحیې خاوندې دي او رښتیاچی زمونږ دوګړو زړونه زموږ ددښتو نو او کروندو غوندې لوی او پراخ دي. لکه څنګه چی زمونږ دګران هیواد طبیعي جوړښت ډیر ښکلی او غنی دی............ لکه څنګه چی زموږ د ښکلی وطن (بلخ) «دښارونو سور» او (غزنی) بیا «دښارونو ناوې» د ه........

لکه څنګه چی زموږ دګران هیواد هرات» دعلم او فرهنګ کانون دي «باسیان» او «ننګرهار» او کاپیسا کې ډزاره‌ټه‌ډ ن ای کلتوري‌اتوبی دی او ددې ترڅنګه «کندهار» او «پکتیا» د باتور انو دسیر نتوب سرچله او «بدخشان» دقیمتی لالونو افسانه ده .

همداوجه دهچې زموږ دګران افغانستان داوسیدونکو قابلیتونه، غوره مشخصات اوانسانی خصوصیتونه هم خورا لوړاوسپیڅلي دي:

عفوه، سیلمه پالنه ،شجاعت، وطنپرستی، سرښندنه، میړانه زړورتوب، ناریتوب او داسی نورچې دپښتو او پښتنولی په تکی کی لنډیدلای شی زموږ د خلکو هغه غوره ممیزات دی .

چې زموږ دملی تاریخ غوره جهتونه تاکی او زموږ دملی هویت هسی ویانده معرف دی لکه زموږ دهیواد دطبیعت دا ښکلی واقعیتونه چی یې پوره ښکاروند ویه دی. دپوړتیو ذهنیتونو څخه د انتیجه اخستل کیږی چې زموږ ملی مشخصات زموږ د هیواد د طبیعی خصوصیتونو سره پوره جوړښت لري او دې ټکی موږ ته د احقیقت را په ګوته کړی دی چی دتاریخ په اوږدو کی دخپلی خاوری سره چې شګی یې موږ ته ترسرو زرو څخه ډیر ارزښت لري خوسره صادقانه عشق او ژوره مینه په اثبات ورسوو، په میړانه ترې شهکاره دفاع

و کړو او دښکلي ازادۍ په خاطر یې په‌یوه لو یشت خپل سر او مال و ښند و ....... زمو نږ دملي تاریخ دحقا یقو د څېړ نو څخه داخبره جو تیږي چې افغانانو پر ته‌له‌دې‌چې یو ه‌منظم او عصري و سله‌وال پوځ یې تشکیل کړي نرو او ښځو یې په داو طلبا نه، قهرمانا نه او وطنپر ستانه تو گه دوطن او خلکو په وړاندې تاریخي دپرو درندو مسئو لیتو نو ته ا و ږه و ر کړې ده‌او په‌ډېره ښه و جه‌دهغوی‌له‌عهدې څخه و تلي ،ستر بر یالیتوبو نه او ا فتخارا ت یې په بر خه شوي‌دي .

په‌افغانستان کې دمنظم او عصري‌و سله‌وال پوځ (اردو )لنډه‌تاریخچه :

داچې په‌افغانستان کې‌و سله‌وال پوځ څنګه او څه و خت تشکیل شوی دی، دموضوع د سکلفیت او نه‌او ږ دیدلی له‌مخې پرې‌څه و یل نه‌غواړم‌خو ددې‌مقالي دار یکو په اساس به دا غو ره‌وي‌چې په‌گران افغانستان کې دمنظم او منسجم و سله‌وال‌پوځ دمنځ ته‌راتگ په‌تاریخچه یو ډېره لږه‌رڼاو اچوم، دا ځکه لکه چې د مخه وو یل شو افغا نا ن ا و عسکر یت مرو دیځي بو پر بل کې اخښل شوي دوي‌مقو لي دي‌حتی داحمدشاه باباا‌و ...رو ...مر لښکرا له د ورو څخه د مخه‌و خت ته‌داتاریخچه را ښکدل کیدلای‌شي .

## ١-١: امیر شیر علي خان په‌دوره کې دافغانستان دوسله‌وال پوځ حالت :

کله‌چې په ١٢٨٥ق– ٦ ١م کال امیر شیر علي‌خان په‌افغانستان کې ددوهم ځل لپاره‌پاچا شو

## په افغانستان کې دمنظم او عصري وسله‌وال [ اردو لنډه تاریخچه :

«تر څو پورې چې دیوه‌هیواد‌خلک دملي قوت،ملي شتمنۍ او قومي پوځ له پلوه‌ښه منظم نه وي هیڅکله و رسره دنړۍ نو رو لسو نه نه‌یوازې همدردي او خواخوږي نه شي‌کولای بلکه ددوی‌سره‌ددوستۍ تینګولو او دیووالي دمنځ ته‌راوستلو خیال هم نه‌شي ساتلای.»

(دپښتنو تاریخ - دریم ټوک        مخ

امیر شیر علي‌خان دپو رتني مفکو رې‌او عقیدې‌له مخې یې یو گام‌و اخسته او پو رتني هدف ته‌درسیدلو دپاره‌یې په کال١٨٦٩م کې ( چې ١٢٨٩ق=١٢٤٧ل کلونو سره برابر دی ) دافغانستان‌دیوې پر مختللې، منظم او منسجم و سله‌وال پوځ دسنبالو لو بنسټ کیښود.

نو موړي‌امیر تر هر څه‌نه‌لومړی دخپل پوځ د هستو گنې دپاره‌دیوې چونۍ په و دانو لو پیل و کړ او دشېر و کلونو د کار څخه و روسته هغه‌سر ته‌ورسیده چې «شیر پو ر»یا«شیرآباد»

په‌نامه یاده شوه.

دغه وخت دده‌وسله‌وال پوځ دلاندنیو قوتونو څخه تشکیل شوی و:

۱- (۷۲) پلټنی (      ) چې د (۵۰) زروتنو عسکرو څخه عبارت دي

۲- (۱۵) رسالې (      ) چې د (۱۰)   »   »   »   »   »   »

۳- ملیشایي عسکر.

م- پلی   »   »  (۶۰)   »   »   »   »   »

۵- سواره   »   »   »  (۹۵)   »   »   »   »   »   »

۶- ۳۷۹ میله توپونه.

۷- ۵۰ زره میله‌توپکونه.

امیر شیرعلي‌خان دلوسړی ځل دپاره په‌افغانستان کی دوسلی جوړولو بوه‌لو په فابریکه په‌بالاحصار کی جوړه کړه چې توپونه، توپکونه او توسانچي به‌پکښي جوړیدلي.

دده‌داردو دوسلی یوه‌برخه دهمدغی فابریکی محصول و. دده‌دسلطنت‌په‌دوره کی‌په‌اردوکی د خدمت دوره‌دوه کاله وه‌او داردو دښه‌سنبالښت او دهوسایني دپاره‌ددولتي بود جي ښلوره برخه په‌هغی لګیدله.   (دپښتنو تاریخ دریم‌توک.....مخ)

داميرشيرعلي‌خان دسلطنت په‌دوهمه دوره کی لاندني چاری‌سرته ورسیدلی چې زیاتوی دوسله‌وال پوځ (اردو) پوری‌اړه درلودله او هغه په‌لاندی ډول دي:

۱- په‌کابل کی یوه‌چاپخانه پرانستل شوه‌چې په‌هغی کی‌دپوځی قواعدو ځیني کتابونه له‌انګلیسي نه‌ددري‌ژبي داړوني له‌مخی په‌پښتواو دري‌چاپیدل.

۲- عسکري ښوونځی پرانستل شول چې عسکری پر... ونل‌به‌پکښي دعصري پوځي پوهی له‌مخی په‌ښه‌توګه روزل کیدل.

۳- یوسنظم وسله‌وال پوځ (اردو) یې تشکیل کړچې دعصري تجهیزاتو اوتشکیلاتو درلودونکی و.

**دااردوداوغانستان په‌لاندنیوسیمو کی میشته‌وه**

| | | |
|---|---|---|
| ۱- کابل | ۳- شیرآباد | ۵- کورم (پکتیا) |
| ۲- جلال‌آباد | م- کندهار | ۶- هرات |

۷ - سیمنه

۸ - بلخ

داامیر شیر علی‌خان ددوړې اردو له‌لاندنیو ټولګیو څخه تشکیله شوې ده :

۱ - پلی: (۶۲)غونډه‌چې هر یو یې (۶۰۰)تنه‌او ټول ۳۷/۲۰۰ تنه‌وو

۲ - سواري: (۱۶)غونډه‌چې‌هر یو یې (۶۰۰)تنه‌او ټول ۹/۶۰۰ تنه‌وو

۳ - دفیلانو، اسانو، کچرو او غویانو دتوپخانې نونفر ۵/۱۹۰ تنه وو

په‌دې‌حساب دده‌ټول منظم وسله‌وال پوځ په ۱۸۷۲ع کال کې ۵۱۸۹۰ تنو برسېره ۸ زره‌پلي‌او ۱۶ زره‌تنه سپاره‌وو.

دده‌داردو وسلې په‌لاندې ډول او شمېروې :

۱ - افغاني او انګلیسي توپکونه ۸۲۵/۰۰ میله

۲ - افغاني او انګلیسي توپونه ۳۶۹ میله

خوښاغلی سیدقاسم رښتیاد(په ۱۹ پېړۍ کې‌افغانستان) کتاب په ۳۳۹ مخ کې دپورتني موضوع په‌لړ کې داسې لیکي:

«..... امیر شېرعلی‌خان په‌وطن کې‌عسکری شوونځی جوړ کړل ، دتوپونو او توپکو جوړولو کارخانې یې ودرولې، یومنظم پوځ یې تیار کړ چې دده‌د سلطنت په وروستیو وختونو کې یې په‌ټول هیوادکې شمیر یې‌له ۶۰ زرو تنو څخه تر ۸۰ زرو تنو پورې اټکل کیده‌چې دهغه وخت په‌معاصره او اعلیٰ وسله سنبال و.

امیر شیرعلی‌خان سلې ژبې پښتو ته‌پوره‌پاملرنه وکړه په‌دغه ژبه یې رسمي نوسونه ، عنوانونه او عسکرې‌قوماندې(بولې) وارولې‌دشمس‌النهار په نوم‌لومړنۍ اخبار یې چاپ کړ ، دتیږو لیتوګرافي چاپخانه یې جوړه کړه.»

لکه چې‌لیدل کیږي ددغو یادو شوو معلوماتو په‌کمې (کمیتې) برخو کې یوڅه توپیر لیدل کیږي خو دکیفي پلوه داخبره په محققه توګه ثابتیږي چې امیر شیرعلي خان دنورو په‌لړ کې اردو او پښتو ته نه‌هیریدونکي خدمتونه کړي‌دي چې تاریخي پوره‌ارزښت‌لري.

دپښتو اصطلاحاتو په‌برخه کې علمي‌ګام‌ایښودل:

داچې تر یوه‌حده‌سو په افغانستان کې داامیر شیرعلي خان ددوري پورې مربوط دجهز

وسله‌وال پوځ (اردو) په‌لنډه تاریخ څه رڼا واچوله نو اوس به غو رموي چې د هغه وخت
دپښتو عسکری اصطلاحاتو په‌باره کې‌هم وغږیږم .

په‌هر هیواد کې عسکری ځینې اصطلاحات دعسکری سپیڅلی مسلک د مقرراتو او محرمیت
په‌وجه‌ناماݩو مڼدی‌او په‌ورځنیو محاوروکې پرې ډېره لږه‌استفاده کیږي ،نوښه‌به داوی‌چې
ددو اړو خواوو په نظر کې نیولو سره (عسکریت‌او سیمه‌ینار) په دې‌برخه کې‌څه وړاندی کړ

## عسکری ژبه:

د علم‌او تخنیک‌هره څانگه او موضوع ځانته یو لړ مخصوصې اصطلاح‌گانی لري چې د هغې
توکل خصوصو نه پرې اوا ده کیږی او په‌واقعیت کې‌داد هغوی مخصوصه ژبه‌ده.

نو موړی اصطلاحگانی چې زیاتره‌دمفاهمو په‌شکل تری کاراخستل کیږی‌ډېرې لږی د ملې
رشتې داصطلاحگانو سره‌ورته والی لری .

دمثال په‌توگه لکه د میانس ژبه، طبی‌او اقتصادی ژبه، دټولنپوهې او ادب‌ژبه او د اسی
نورې ژبې.ددې ټولو ژبو یوه ستره بیلگه داده‌چې ډېری لږی دملی ژبو سرا بقت منی په دې
ژبو کی یوه‌هم عسکری‌ژبه‌ده‌چې ځانته خاصوالی او محرمیت لري ، په ورځنیو رسمی او
غیر رسمی محاوروکی ډېره محدوده استعمالیږی.

دعسکری ژبی ارزښت په‌دی کی پروت‌دی چې له‌یوې خوا دیوه هیواد درسید لوځوانا
نو پوړې اړه‌لري او دبلې خوا دهغه هیواد دهرگوټ دسوادخاو ندان‌او بې سواده‌هغه زلمیان
پرې هم روزل کیږي‌چې دخپل ملی بیرغ دلاندی‌دمکلفیت دټاکلی دورې د پاره راټولیږی
(اجیران‌هم)داژبه‌چې‌زیاته‌برخه یې(بولی)قوماندي‌او اصطلا حات تشکیلوي د شعارونو حیثیت
لری‌او طبیعی ده‌چې شعاردیوی ټولنی په‌منځ کی خومره ژوندی‌او اغیزمن رول لوبوی .

داچې عسکری‌ژبه دیوه‌هیواد دیوی خاصی ډلې ژبه‌ده کومه‌چې د پرې بیلگی بې محرمې دي
نو که‌څه‌هم له‌یوی خوا په‌محدودچوکاټ کې پرته‌ده‌دبلې خوا نه دیوه‌هیواد د هرې څنډی
او سید ونکی ورسره اشنا کیږی . زموږ په‌گران هیواد افغانستان کی لکه څنگه‌چې د
وسله وال پوځ تاریخ ډېر لرغونی او حتی فطری دی . . . . . او بیادمنظم او عصری اردو
مترقی بنسټ د امیرشیرعلی‌خان له خوا ایښو دل شوی‌دي همدارنگه دعسکری اصولی ژبې
ایجاد هم ددغه پاچادتجدد پسندی محصول دی .

دپیادگانو پلټنی (کنډکه) دقواعدو دشرح دکتاب (دا کتاب د پښتو ټولنی په کتابتون کی شته دی) لیکو نکی قاضی عبدالقادر چی دامیر شیر علی خان دعصر یو عالم شخصیت دی د نوموړی کتاب چی په ۱۲۸۹ ه کال د کابل د دارالسلطنتی په مطبعه کی د محمد صادق په اهتمام طبع شوی دی داسی لیکی:

«امیر شیر علیخان په افغانستان کی دیو منظم و سلهوال پوځ ونود سنبالو لو سرشته وکړه چی تر دی پخوا لکه بنات النعش (پروینی، )غوندي له بې نظمی څخه خپاره وو.

نوموړی امیر په دېره لنډه موده کی په دې بریالی شو چی نژ دې شپېته پلټنی (کنډک) تشکیل کړې، ددې اردو افراد په هر ډول تجهیز اتو او حربی الاتو مجهز شول. امیر یوه ورځ ماته وظیفه را کړه چې دپیادګانو (پلیو) د قواعدو کتاب دانگلیسی (Packet book field excrcise) له کتابه څخه په اسانه فارسی –او احکام (قوماندې) یې په پښتو ترجمه کړم.

سالهٔ ۷۱ و رځو نه په لږه موده کی و کړ ای شول چی نوموړی کتاب په پښتو ترجمه او امیر ته یې وړاندی کړم....» (نوموړی کتاب ۵-۷ مخونه)

دا کتاب چې داوسنی جمع نظام خصوصیت لري دهغه وخت قوماندې او نظامونه پکښی په خورا مفصله توګه بیان او تشریح شوی دی.

یو بل خطی کتاب چې داهم دپښتو ټولنی په کتابتون کی شته دی په دې موضوع کی غوره مطالب لري او دامیر شیر علی خان د وخت عسکری قوماندې په کی ښو دل شوی دی په حقیقت کی دپورتنی نوموړی کتاب هغه لنډیزدی چې یوازې پښتو قوماندی د هغوی د انگلیسی معادلو کلمو سره رااخستل شوی دی. متاسفانه ددې کتاب نوم پرې تو لې هغې پاڼگی نه دي چې کاره چی د اثر نوم –مولف- دچاپ نیټه او نوری ضروری محتویات و ښودلای شي دادی په دې مقاله کی د پښتو داصطلاحاتو دخیرلو په برخه کی له دې دواړو یادو شوو اثارو څخه ګټه اخستل شوې ده.

## دپښتو عسکری اصطلاحات:

په عمومی توګه عسکری اصطلاحات په لاندینو برخو ویشل کیږی:

۱- بیلابیلی مسلکی اصطلاحگانی.

۲- دموضوع له مخې تخنیکی او تکتیکی اصطلاحگانی.

۳- دمحرمیت‌او پټوالی‌په‌اعتبار اصطلاحگانی .

۴- د مخفو نو مو نو » .

۵- دجزوتامونو » .

۶- درتبو او مقامو نو » .

۷- دټولگیو اوسلکو نو » .

۸- په‌پای کی‌قو ماندې(بولی).

چې دېړ و رتنیو مو ادو په‌ل‌ړ کی دمقالی دلنډ یز له‌مخې‌ړو ازې په‌هغو برخو اغلو غیږیدل غو اړم چې کلی‌او هرخو ک و رباندی پو هیږی .

دغه ساده‌اصطلاحگانی په‌لاندنی توگه دي:

۱- دجز و تامو نو نومو نه.

۲- دمسلکواو صنفونو نومو نه

۳- در تبو نو مو نه.

۴- دمقامو نو نومو نه.

۵ — بولی.

**۱- دجز و تامو نو نومو نه.**

| پخوانی‌نو مو نه | او سنی‌نو مو نه |
| --- | --- |
| سکشن | قسم |
| دلگی(سکواد) | دلگی |
| بلوک | بلو ک |
| ټولی | ټو لی |
| کنډک | کنډ ک |
| غنډ | غو نډ |
| پلټن | سپو راو پلی‌مستقل کنډ ک |
| رساله | سپو رټو لی |
| پوځ | (پوځ)فرقه |

نوټ: اوس هم دا نوموونه په ډېر کم بدلون سره زموږ په وسله وال پوځ کې رواج لري.

۲- رتبې او د صاحبمنصبانو نوموونه :

داچې په عمومي صورت هر جزوتام، قطعه او اردو دیوه مشر در لودونکي ده نو په عسکرۍ ژبه ورته قوماندان (قوماندهورکوونکی) ویل کیږي . یا په بل عبارت هر یو جزوتام د یوه صاحبمنصب د کماند (قومانده) لاندې سوق او اداره کیږي، نو دادې چې درتبو او دهغوی پورې دمنسوبو صاحبمنصبانو نوموونه هم د هر جزوتام د نوم سره دمربوطې لاحقې (پساوند) په زیاتولو افاده کیږي البته دا قاعده او دستور حتی زموږ په ملي او کلیوالي ژوند کې هم پوره رواج لري دمثال په توګه :

کلي چې دا وسیدلو ځای ترې مراد دی، مشر ته یې کلي مشر ویل کیږي. همدا رنګه ولسي مشر، ملي مشر جرګې مشر خطاب د همدغه ژبني قانون له مخې دی.

دپورتني یادونې په اساس دژبپوهې ددودسره سم د( لازمي ) لاحقې په زیاتولو د رتبې او صاحبمنصب نوم اشتقاقیږي که چیرته د هر جزوتام د مشر د کلمې سره د نسبتي سفکس (لاحقې) ددوهم ځل د پاره ونښلول شي دلته د رتبې نوم هم راښيي په لاندینو کرښو کې دا مطلب په وضاحت سره لیدل کیږي .

| دجزوتام قطعی نوم | دمشر نوم پخوانی | اوسنی نوم | پخوانی رتبې | اوسنی رتبې |
| --- | --- | --- | --- | --- |
| دلګی | دلګی مشر | دلګی مشر | دلګی مشري | دلګی مشري |
| بلوک | بلوک مشر | بریدمن | بلوک مشری | بریدمنی |
| بلوک | بلوک اول | لومړی بریدمن | | |
| » | بلوکمشرثاني | دوهم بریدمن | | |
| » | بلوکمشرثالث | دریم بریدمن | | |
| ټولی | ټولی مشر | تورن | تولیمشري | تورني |
| | ټولی مشرقدمدار | جګتورن | | |
| کنډک | کنډکمشر میجر | جګړن | کنډکمشری | جګړنی |
| غنډ | غونډمشر کرنیل | ډګرمن | غونډمشری | ډګرمنې |
| لوا | لیوا مشر برګید | ډګروال | لیوا مشري | ډګروالی |

| دجزوتام قطعی نوم | دمشر پخوانی نوم | دمشر اوسنی نوم | پخوانی رتبې | اوسنی رتبې |
|---|---|---|---|---|
| فرقه | فرقه مشر ثانی جرنیل - | برید جنرال - | فرقه مشری | جنرالي |
| | فرقه مشراول - | تورن جنرال | | تورن جنرالي |
| | نائب سالار | ډگرجنرال | نایب سالاری | ډگر جنرالي |
| | سپه سالار | ستر جنرال | سپه سالاری | ستر جنرالي |

۴،۳ - درتبو او مقامو نو نومونه:

ښکاره ده چې په عسکری ژبه دمشر کلمه په حقیقت دقوماندان کلمه ده . او هر قوماندانی د خپل اهمیت او وظیفې له مخې یو مقام دی چې دقوماندانی په نامه یادیږی لکه چې :

| | |
|---|---|
| ددلګی قوماندان | ددلګی قوماندانی |
| دبلوک قوماندان | دبلوک قوماندانی |
| دټولی قوماندان | دټولی قوماندانی |
| د کندک قوماندان | د کندک قوماندانی |
| دغونډ قوماندان | دغونډ قوماندنی |
| دپوځ قوماندان | دپوځ قوماندانی |

۵ - بولی (قوماندی) الفاظ حکم:

دعسکری ښوونې او روزنې په مسئله کی تر هر څه زیات الفاظ حکم (قوماندې) یا بولی زښته زیات اهمیت لري دا ځکه چې دا اصطلاحګانی هغه کلمې دي چې فوراً اجرا غواړي یعنی کله چې ددې کلمو غږ له خولې راووځی کیدل یې شرط دی (فوراً او روسته) کله یوې خوا عسکری (پوځې) ټول حرکات او سکنات دښوونې او روزنې قوی اړخ لري ددې سره جوخت داحرکتونه ټول نمایشي هم دي او د انمایشي ورته ځکه وایو لکه څنګه چې وسله وال پوځ دیوه واحد ، سپیڅلي ، لوړ او ګډ هدف د پاره چې په ځانګړی توګه دیوه هیواد دازادی ، سولې ، امنیت او دهیواد والو دحق دتمامیت څخه او په عمومی توګه دسولې ، ازادی ، امنیت د پاره په پوره سربښندنه صداقت او ایمانداری جوړ کړی همدغسې دارډو ( وسله وال پوځ ) غړی یادغه متحد هدف په خپلو حرکاتو او نظامونو کی هم په یوه متحد فورم ( شکل ) تمثیلوی دمثال په توګه که ددوی عسکری لباس ، تجهیزات او تشکیلات دواحد فورم ( یونیفورم ) څخه جوړشوی دی همداغسې د دوی حرکتونه هم ددغه یووالی تابع او سمبول ګڼل کیږی یعنی د

دوی دو ریدل (نظام ته داخلیدل) په نظام کی تلل (مارش کول) وړاندی تګ او داسی نور هم واحدشکل لري حتی پر دښمن باندی بریدا او یرغل کول هم په یوه واحد ه قوماندهٔ اجرا کیږی له دې څایه قوماندي په عسکری ژوند، ښوونا تو، روزنه او ښوونه کی ډیر لوړ مقام لري او ترڅو چې داردو هر یو غړی که افرادوی او که صاحبمنصب په دغو «قوماندو» او په «اجرا» یې ښه ونه پوهیږی او د دوی سره سم خپل حرکتونه د قوماندي مطابق منظم، چټک او برابر نه کړی تر هغی پوری وړ ته د واقعی عسکر او یا افسر پ نوم خطاب کیدای نه شي.

لکه څنګه چې یونیفورم دیوه هیواد وال عسکری کړ کتربیتی به همدغه ډول دیوه عسکر پر ځای او سم حرکتونه هم دهغه دعسکری روزنی او ښوونی پوره ښکارند و یاده څرنګه چې دعسکری قوماندو سره اشنا کیدل او بیا دهغوی دذکر سره داجرا دمطابقت ساده کار نه دی، دډیر وخت دپاره مشق او تمرین غواړی نو له دې امله هرهغه څوک چې نوی اردو ته داخلیږی که په علمی هره سویه کی وی بیا څان وړته پوره نااشنا او نابلده ښکاری ددغه قوماندو او ریدل او وهغو سره جوخت داجرا حرکات سرته رسول وړ ته اسان نه ښکاری.

دعسکری سالمه روزنه او ښوونه له جمع نظام څخه پیل او په تیت نظام باندی (داد عسکری ژبې مهمی اصطلاحګانی دی) ختمیږی و صفحو پ او پ دو کی پای ته رسیږی.

ښکارده چې ټولي قوماندی هم ددې دواړو ډولو نظامونو تابع دي. دپورتنو ذ هنیتو نو په نظر کی نیولو سره سخکی تر دې چې عسکری ته یو جد یدا لورو د نظر دجمع نظام او تیت نظا م دا ړوندي روزنی او دهغوی متعلق قوماندهٔ داجراء پارهٔ څه شی دامیرشیرعلی خان دسلطنت په دوره کی ددې مقصد دپاره یو لړ مقدماتی ادمان ته ورته حرکات اجرا کیدل چې دقوماندو برخه له همدې ځایه په لاندی ډول پیل کیږی:

| | |
|---|---|
| پوندپورت | (گړی بلند کنید) |
| پوند کیژ د | (گړی بگذارید) |
| وړو تیاراوس | (اهسته به کار اماده باش!) |
| تیارشی دشی لاس و کار ته | (اماده شو یه دست راست بکار) |
| تیارشی دکین لاس و کار ته | (اماده شو یه دست چپ بکار) |

تيارشي د دو اړو لاسونو کار ته (اماده باش هر دو دست بکار)

لاس تک (لاس د نامه خو ژته داسي قات کړي چي

و رغوي يې پورته او سوتې يې نښتلي وي. . . . ) تيار شي!

لاس خلاص (لاس خو رنديږي) ارام شي!

| | |
|---|---|
| گو د شي | ( ښي خو اگو ر ! ) |
| گو د کيڼ | ( کيڼ خو اگو ر ! ) |
| گو رو ړاند | ( و ړاند گو ر ! ) |
| شي مخ | ( ښي گر ز ! ) |
| کيڼ مخ | ( کيڼ گر ز ! ) |
| شي شامخ | ( له ښي خو اگر ز ! ) |
| کيڼ شامخ | ( له کيڼي خواگر ز ! ) |
| شي نيم مخ | ( ښي نيم گر ز ! ) |
| کيڼ نيم مخ | ( کيڼ نيم گر ز ! ) |

څه رنگه چي عسکري روزني او ښوونيو ري سر بوط حر کتونه ډېر زيات دي نو ښکاره ده چي هر يو يې اړونده قوماندې لري، نو په تفصيل سره يې خبرې و شي موضوع ډېره زياته اوږديږي ددې دپاره چې د ښاغلو اوريدونکو او لوستونکو علاقه سو په نظر کې نيولي وي د اوږدو تفصيل څخه تير يږو او څو عمومي قوماندې هغه هم د مثال په ډول راوړو.

| | |
|---|---|
| دريږ | (دريږ ) |
| ړاو | (مارش) |
| څاو | (مارش) |
| و رو قدم | (قدم) |
| ژر قدم | (ژر قدم) |
| تګ اوږد | (اوږد قدم) |
| تګ لنډ | (لنډ قدم) |
| دروم | (وړاندې) |

و دوځاو (عادي‌قدم)

دوه‌گړای‌ځاو (مارش،مارش)

پښه‌پرځای‌و دریږ او (پښه‌پرځای . . . . )

قراراوس (ارامشی)

دریږ کیڼ ارخ ځاو (دریږ کیڼ‌مارش)

قدم‌شاځاو (شاکوچ)

کوږ ځاو (کیڼ کوچ)

ښی‌نیم‌مخ‌ځاو (ښی‌نیم کوچ)

کیڼ نیم‌مخ ځاو (کیڼ‌نیم کوچ)

ښی‌نیم‌گرز (ښی‌نیم‌گرز)

کیڼ نیم‌گرز (کیڼ‌نیم‌گرز)

وړاندگرز ( وړاندگور)

داهغه قوماندې وې چې پرته له‌وسلې ویل کیږی، او دادي هغه قوماندي چې دوسلې سره‌ویل کیږی.

اوږه‌پکه (سلاح اوږه)

تندپکه (معاینې‌و ضعیت‌نیسی)

په‌پښو پکه

دلار پکه

پرځای‌پکه

برچه‌پکه (برچه پکه)

پرکاږ

ښی‌پکه

تیار هله (تلو ته‌چمتو شی)

پکه‌توږل.

نیس‌پکه

وژنه کاژ

وژنه ځای

ګړ زای

وراند صف تیار

وروست صف تیار

ډکځو راندصف زنګون کیږد

ټولی ډکول ته تیارسی

غبرګځاو رشروع کی لهشی خوا

غبرګځاو رشروع کی له کینی خوا

غبرګځاو رشروع کی لهمنز

او ربند دسپر وو کارته جوړسی

تیار اوس پورېکئ پونډ کوژ

شی مخ پورېکئ سانسات

تارپهتار (پای دوز — پهخپلسر).

هوش (دقت)

پرپورت (دامنیتحلقهرا کاږی)

پر کیږد کتلپکئ (دامنیتحلقهقیده کړی)

خاطره: څرنګه چې هغهوخت عصری وسلهنهوه او پهعمومی صورت ددرودتو پکووو خځه کاراخیستل کیده نو لهدی امله دوسلی سره قوماندې هم ددغه ډول تو پکئ د خصو صیتونو مطابق استعمالیدلې او همداو جهده چې اوس دهغو قوماندو معادل لې قوماندې ډېرې لږې پیدا کولی شو.

دپورتینو قوماندوڅخه داهم ښکاریږی چې نومړی قوماندی دهریو حرکت دپارهځانله په کاراچول کیدلې او دوی پورهنیمګړی تیاهم پهدې کی وهچې دحرکت د چټکتیا (داجرا ژروالی) او پهاغیزمن وخت دوظیفی دسرته رسیدلو قابو (فرصت) یې لهلاسه ورکاوه، خو بیاهم دناهیت لهپلوه ددې قوماندو پهپښتو اړول پرخپل وخت او خپل مورد کی یو

ډېر قيمتداره او ګټور کار و او زيات اهميت يې په دې ټکي کې دی چې نننۍ قوماندې د هغو قوماندو اصلاح شوی او اختصار شوی شکل دی. دا ټولې قوماندې له يوه سپاهي (نفر) څخه نيولې تر غونډ او بلوک او تام پورې د هغوی د ټولو په زياتولو او لږولو سره ويل کېدلې، په اصلي ماهيت کې يې هيڅ ډول بدلون نه موندو . . .

د ښوونې او روزنې په صفحه کې د دې قوماندو اجرا د يوه نوي (جديد الورود) عسکر د سويې او قابليت سره سمولو د پاره ډېر ښه معيار دی. نو له دې ځايه د امير شير علي خان په دوره کې د يوه کندک (د مثال په توګه) افراد په درو مختلفو درجو ويشل کېدل او په نوموړو درجو نومولای شول چې هغه په لاندې ډول دي:

۱- لومړۍ درجه: په دې کټګورۍ کې د کندک هغه افراد شاملېدل چې زيرک، تکړه او هوښيار به وو.

۲- دوهمه درجه: په دې ډله کې غبيان او عيبجن افراد شامل وو چې په هيڅ ډول به يې د لومړۍ درجې د سپاهيانو سره په يوه ټولګه جمع نظام نه شو کولای.

۳- دريمه درجه: په دې کټګورۍ کې هغه کسان را تلل چې د ښوونې او روزنې په منځ کې به عيبجن شوي وو يعنې په روغتون کې به د ناروغۍ، بنديخانې کې به د ناموس له کبله له تعليم او تربيې څخه وروسته او يا محروم پاتې شوي وو.

يادونه:

څرنګه چې له يوې خوا د امير محمد يعقوب خان د سلطنت دوره دومره اوږده نه وه او د بلې خوا پرته له ګندمک د منحوس معاهدې څخه يې د يادونې بل تاريخي کار نه دی کړی نو له دې امله دلته د دې دورې پورې مربوط د عسکري پښتو اصطلاحګانو د موضوع برخه تشه پرېږدو.

۲- د امير عبدالرحمن خان د سلطنت په دوره کې عسکري پښتو اصطلاحګانې:

امير عبدالرحمن خان په (۱۷ شعبان ۱۲۹۷ = ۲۷ جون ۱۸۸۰ م) کې خپل سلطنت اعلان کړ څرنګه چې ده ته ثابته وه چې د اردو (وسله وال پوځ) سمبالول د ده د اقتدار ساتلو د پاره بوخوړي کار دی، نو نوموړي د خپل اردو د سمبالښت او بيا ورتيا په مقصد اقدام وکړ هغه چې د امير شير علي خان له خوا ايجاد او تشکيل شوی و.

امير عبدالرحمن خان په افغانستان کې د سکې وهلو، کارتوسو، توپکو او توپونو جوړولو

نوري ډېر ښکلي جوړي کړې ، همدارنګه ده په کابل کې یوه مطبعه تاسیس کړه او د عسکري هغو پښتو اصطلاحګانو ته یې خورا ښه وده او انکشاف ورکړ چې د امیر شیرعلي خان په دوره کې یې رواج موندلی و . نوموړي امیر د هېواد په لاندې نیو برخو کې خپل اردو (وسله وال پوځ) ځای په ځای کړی و .

۱ - کابل

۲ - هرات

۳ - کندهار

۴ - بلخ

۵ - جلال اباد (ننګرهار)

۶ - دامو سواحل

۷ - د ایران او هند په سرحداتو کې (د هغه وخت متعلق تاریخ ته د دې د علاقې په صورت مراجعه وشي) .

د امیر عبدالرحمن خان وسله وال پوځ د لاندینیو قوتونو څخه تشکیل شوی و :

۱ - پلی: (۸۰) غونډه هر غونډه (۷۰۰) تنه او ټول ۵۶/۰۰۰ تنه

۲ - سواره: (۴۰) غونډه هر غونډه (۴۰۰) تنه او ټول ۱۶/۰۰۰ تنه

۳ - د توپخانې بطرېي هر یو (۱۰۰) تنه د پاره (۶) توپونه چې ټول ۱۰/۰۰۰ تنه

۴ - د پاچا د پاره خاص پلي (ګارد)، (۴) غونډه چې هر غونډ ۱۰/۰۰۰ تنه کېدل او ټول ۴۰/۰۰۰ تنه

۵ - د پاچا د پاره خاص سپاره (ګارد) (۴) غونډه چې هر غونډ ۸۰۰ تنه کېدل او ټول ۳/۲۰۰ تنه

۶ - د پولیسو اضافه قوه ۲۰/۰۰۰ تنه

۷ - سپاره ایلجاریان ۱۰/۰۰۰

په دې ډول د ده د ټولو وسله والو قوتونو شمېر ۱۳۸/۴۰۰ تنو ته رسېده

(د افغانستان لنډ تاریخ ۲ ټوک ۱۳۱ مخ)

د پوهاند عبدالحی حبیبي تالیف

د پورتنیو معلوماتو څخه جوتیږي چې د امیر عبدالرحمن خان د وسله وال قوتونو ځینې نور

په پلیو، سپرو او د پولیسو او سپرو ایلجاریانو څخه عبارت و .

همدارنګه څه‌شي چې ددې‌په‌عسکری قواو کې نوی لیدل کیږی هغه دپاچادپاره‌خاص پلی سوارداو دپولیسو صنف (شاهی‌ګارد) دی .

## پښتو عسکری قواعد او پښتو اصطلاحات:-

ددې‌دپاره‌چې پدې‌موضوع مؤسستنده‌او مدلله رڼا اچولي وي‌نوښه به داوي چې دامیر عبدالرحمن‌خان دسلطنت ددورې هغه‌خطي شکلی اثرته مراجعه وکړو چې «دعسکری‌قواعدو» کتاب نومیږی .

## دعسکری قواعدو کتاب:

دا کتاب‌یو ډیر په‌زړه‌پوری او ارزښتنا که خطي نسخه‌ده چې داطلاعاتو او کلتوروزارت دخطي اثارو په‌کتابتون کې شته‌دی.

ددې‌کتاب هنري ارزښت په‌دې تکل کې دی‌چې نه‌یوازي دامیر عبد الرحمن‌خان ددورې دعسکری‌قواعدو په‌باب یو لړ په‌زړه‌پوری‌او ګټورمعلومات لري بلکه دااثر دهنری ارزښت‌له مخې چې‌درسامی او خطاطی دفن خور اقیمتداره او بې ساری‌نمونه ده‌او ویلا ی شوچې نه یوازي په‌هغه عصر کې بلکه همد ا اوس ددی اثر هنري اهمیت او ارزښت ډیرلوړدی ،ددې دپاره‌چې خپله داادعاسی ترممکنه حده‌ثابته کړی‌وي‌نو دادي‌چې دنوموړی کتاب له (۷) مخ څخه لاندنې متن کښې‌ټ دهغه دورې‌په‌دری ژبه‌رااخلو:

«. . . . این کتاب راجهته اد را که متعلمین باتصا ویرو بولی هاوقلعه بندی وسنگری و انچه فنون جنگی بود بهزارجهدو کوشش وسعی بشری حسب الامر همایونی به‌تهذیب و تالیف در باخان نیازی‌و عبدالرحمن‌اندرانی و ابوالحسن تاجیک و غلام‌حسن‌خان کرت و غیره کارگذاران این فن به‌تصویرنگاری محمد عزیزا بکم و خطی نمط فقیر میرسیف الدین المتخاص به‌عزیزی‌او لادبی و قوف‌حضرت شیخ سعدالدین الانصاری‌نویسنده‌و ملازم چهاپ خانه‌بسار که‌عجالتاً ترسیم و تحریرگردید، امیداز ناظرین این کتاب فوایدا کتساب آنست که به‌تصویرظاهری‌آن فریفته نشده به معنای باطنی آن که سراسر حکمت و هنراست پردازند تا درهنگام کارزاربااهالی کفاروفجارسرامد روزگاروستوده خالق جبارگردند. . . . . . »

په ۱۳۱۱ ه کال کې امیر عبدالرحمن خان دپورتنی اثر دلیکلو فرمان ورکړی واو د دغه کتاب‌محتويات په‌لاندني ډول (دکتاب‌دمتن سره سم) بیو دل کیږی.

۱ - باب اول کاردلگی

۲ - باب دوهم کارتولی

۳ - باب سوم کارتو پکک په لاس

۴ - باب چهارم کارکنډک

۵ - باب پنجم کاراخهور

۶ - باب ششم کارغونډ (غنډ)

۷ - باب هفتم کارمتفرقه

دنوموړي کتاب محتویات که دامیر شیرعلي خان ددورې دپښتو عسکری اصطلاحگانی سره پرتله شي نو داخبره ښه جوته کیږی چې د دې اصطلاحاتو په برخه کې د یرلږ بدلون راغلی او هغه هم د بولي په باره کې دی او دا نتیجه هم تر لاسه کولای شو چې د دې کتاب محتویات په حقیقت کې دامیر شیرعلي خان د عصر دپښتو عسکری اصطلا حگانو د دوه ویاد شوو اثارو (عسکري قواعد ساندي او دپیاده گانو د قواعدو دشرحې کتاب چې دپښتو تولنې په کتابتون کې شته دی) یوه متکامله او نژدې اصلاح شوی شکل دی .

ددواړو شخصیتونو د دوروبوری اړوندو جزوتامونو ،رتبو ، ستامونو مسلکونو ، - او صنفونو نومونو کې دیادونې وړ هیڅ بدلون نه لیدل کیږی له همدې امله به همدا اکافي وي چې دامیر عبدالرحمن خان دعصر دځینو بولیو سره اشنا شو ، دا په لاندینی خو ډیر ملندهتوگه روانده کیږی .

مخکې تر دې چې یو نوی عسکر دنورې عسکری روزنې او ښوونې سره اشنا شي تر ټولو دمخه ورته سمو دریدل ښودل کیږی داسم و دریدل دعسکری تعلیم او تربیې بنسټ تشکیلوی چې په عسکری ژبه ورته «داسامی وضعیت» و ایي .ددی اصلاح لومړنی یادونه هم دعسکری قواعدو په کتاب کې لیدل شوی او ځای لژي چې داتعریف نوی منځ ته راغلی دی او دادي.

«یوندی نژدې، پنځی خلاصې، سینې کشلي، دواړه لاس خلاص.»

- لاس تک په شمار (یو ،دوه ،درې، څلور)

- لاس تک ژر

- سلامي دشی لاس پشمار (یو ،دوه ،درې، څلور)

- سلامي دشي لاس په ژر

سلامي او رسم تعظيم هم په نورو ورځو کي دلوبو ځلونو دپاره ليدل کيږي .

- دمخ کار په شمار. (يو، دوه، درې)

- دمخ کار په ژر.

- ودوخاودريځ تګ او ږد پښه پرځاى

- کيڼ اړخ نژدې ژر خاودريځ

- پرصف شي جوړ يو مستوى صف دلګى کين اړخ ژر خاو دريځ.

- پرمنږ (منځ) نژدې شي او کين اړخ ژر خاو دريځ

- دلګى تګ پر مخ ژر خاو بدل کړى ځاى پرشي دلګى شي خرخ دريځ.

- دلګى کيڼ ګرزد(دې) سرغبر ګک کيڼ خرخ وړاندى ګرزدريځ .

- دلګى ګوروړاند شي مخ ژرخاو وړاند جوړه دلګى دروم دريځ سم .

- کار دتو پکک په لاس په شمار (يو، دوه، درې)

- کار دتو پکک په لاس په ژر

- اوژه پکک، پشو پکک، تندى پکک، ځنګل پکک، لاس تکک، لاس خلاص زنګون پکک، تخرګ پکک شکر پکک، برچه پکک، شي پکک، لار پکک، بدل پکک، لنډ پکک، پخکک پکک، نيس پکک، تول پکک، پورت پکک، برچه کاژ، اوژ پکک، مات مات.

- تيارشي د(دې) د کولو کار ته تيار (ودوست خلاص، وزنه کاژ، وزنه ځاى، وروست کيژ د، مخ، اور.

يادونه: دپورتنيو قوماندو ځنځه بکاريږي چي دغه قوماندي دهغه عصر سر بو طې وسلې (دروتو پکک او . . . . ) په اعتبار و يل کيدلې.

- تولى ګوروړاند شمار، شي شمار دغبر ګک شي پر کک بلوکک د معلوم کړلندا کک نشان شمار غبر ګک شي

- تولى ګوروړاند دتولى پر ليکک.

- تولى ګوروړاند اوژه پکک پرمخ ودرخاودريځ

- تولى ګور وړاند اول پر کک پرمخ پاته پر کک شي خرخ لار پکک ژرخاو.

- پرشي جوړ تولى او پر کک شي خرخ دريځ.

خاطره:

لکه چې ولیدل شول دغه ټولې قوماندې ډېرې اوږدې دي او په اوسني وخت کې یې ډېرلږ معادل شکل موندلای شو له دې اسله موږ نه کړای شول چې دهغو معناوې ولیکو.

دپلي خوانه په دغه قوماندو هغه وخت پوره پوهيدلای شوچې دغه قوماندې دپورتنی کتاب د هغو تصویرونو له مخې ولوستل شي. کنه یوازې د کلمو د معنا له مخې پرې یوځه پوهېدلای شو او بشپړه افاده یې گرانه ده (دعلاقې له مخې نوموړې ته کتاب ته مراجعه کولای شی).

* * *

۳- دامیر حبیب الله خان په دوره کې:

ددې دورې دځینو خپرونو څخه مخصوصاً له سراج الاخبار ه ښکاره ده، چې ځینې انگریزي اصطلاحات په عسکرۍ کې رواج وو، مثلاً جیتن، کمیدان- جرنیل- کرنیل. چې لوړ ئې نائب سالار او سپه سالار بلل کیده. او ددربار خاص عسکری ځلک (گارډ) سراو مس یا پروانه او، چې مشر یې سراومس- سرسراو مس باله کیدی.

په سراج الاخبار کې دېنې مټ، کېن مټ، ..نځي اصطلاحات لوستل کیږي. ددې اصطلاحات او دعسکرۍ تدریس کتابونه خپرنه جلاو مستقله مقاله ایجا بوي هغه ماخذونه چې ددې مقالې په برابرولو کې ترینه گټه اخستل شوې ده:

۱- «دپښتنو تاریخ» دریم ټوک دقاضي عطاء الله خان اثر

۲- «په نولسمه پیړۍ کې افغانستان» دبناغلي سید قاسم «رښتیا» اثر

۳- دافغانستان لنډ تاریخ ۲ ټوک دپوهاند عبدالحی «حبیبی» اثر

۴- دامیر شیر علی خان دوخت عسکری قوماندې (مولف یې نه دی معلوم) خطی اثر دی.

۵- شرح قواعد پیادگان . . . کتاب دقاضي عبدالقادر خان ژباړه (له انگلیسي څخه).

خاطره: پورتنی دواړه اثرونه دامیر شیر علي خان ددورې پورې اړه لري.

۶- دعسکرۍ قواعدد کتاب خطی اثر دي چې دامیر عبدالرحمن خان ددورې پورې اړه لري.

۷- اریانادایرة المعارف

۸- دح، پ مجله او اردو مجله.

۹- دوسله وال پوځ پورې مربوط ځینې مسلکی تعلیماتنامې

زلمی هیواد مل

# دپښتولومړی اخبار (طلوع افغان) دژورنالیزم داصولو په رڼا کې

زموږ په هیواد کې اخبار لیکنه نظر په ځینو خاصو وجوها توچې تفصیل یې دلې نــــه ځائیږي دسیمې دنورو هیوادو په پر تله وروسته پیل شوي ده، خودنولسمې دپېړې دوروستیو کالونو سیاسي او اجتماعي اوضاعو دافغانستان امیر دې ته اړ کړ چې په هیواد کې یو اخبار جاري کړي هماغه ؤچې دامیر شیر علیخان دسلطنت په دوهمه دوره (۱۸۶۸-۱۸۷۸ع ) کې دشمس النهار په نامه یو اخبار په افغانستان کې جاري شو.

دامیر عبدالرحمن(۱۲۹۷-۱۳۱۹ هق) دسلطنت په دوره کې سره له دې چې په هیواد کې مطابع ووا و هم سره له دې چې امیر عبدالرحمن په تاج التواریخ کې کاږي چې خلکو ته یې دنیمه رسمي اخباردایستلو اجازه ورکړي وه مګر بیاهم پدغه وخت کې دکوم اخبار د چاپ خبره پته نه لګي.

دنو موړي امیر تر مړینې وروسته ـ دهیواد روشنفکرو خلکو د تحول آوازاوچت کړ او دانجمن سراج الاخبار په منځ ته راتګ سره دنوي فکري حرکت پنسټ ټینګ شو. او دسراج الاخبار افغانستان لومړۍ ګڼه په ۱۳۲۳ هق کال دمو لوي عبد الرؤف خان کاکړ (۱۲۶۸ هق زو کړي) په مدیریت خپره شوه ـ خو څرنګه چې دهغه وخت شرایطو او په منطقه کې

مسلط استعما ري طاقت دیوه داسی اخبار دخپر یدو تحمل نه درلود ، نو یی لو مړی گنه و روستی گنهشوم-اوتر هغیچی اروابناد محمود طرزي( ۱۸٦٥ - ۱۹۳۳ع ) په ۱۲۹۰ش کال دسراج الاخبار افغا نیهمنظم نشرات نه وو پیل کړي، دشپږ و کالو په سوده کی بیاهم افغا نستان منظم نشراتی ارگان نه درلود .

امانی ځلاندهعصر (۱۳۳۷ - ۱۳۴۷ هق)چی دافغا نستان دمطبوعاتوپه تاریخ دخپرونو د کمیت او کیفیت په لحاظ دیوي روښانه دوري په توگه منل شوي- ددي‌دوري له نوو منځ ته راغلو اخبا روڅخه یوهم دطلوع افغان اخباردي-چیپه ۱۳۰۰هش کال یی دکندهار په ښارکی دمر حوم‌صالح محمدخان هوتک (۱۳۳۹هش‌مړ ) په مدیریت په هفته کی یوځل (هره چهارشنبه )په خپر ونو پیل وکړ. دغه مهال ددغهاخبارنشرا تی ژ بی پښتو اودريوی دغهوخت‌دي‌جریدي‌هغه وظیفه چی په سراجی دوره(۱۳۱۹ - ۱۳۳۷هق) کی سراج‌الاخبار (۱۹۱۱-۱۹۱۹ع )دپښتو ادبیاتو دخپر ولو په‌برخه کی سرته رسوله -په ډیره‌ښه‌توگه ترسره کړه-ددغه اخبار په پاڼو کی‌دکند هار دشاعرانو اوادیبانولیکنی‌او شعر و نه‌خپریدل سر بیره پر دي‌یی دمرحدله نشراتو څخه‌هم دژو ندیو ادیبا نو نمونی انتخابولی .

دوخت‌له غو ښتنو سره‌سم دلسم نشراتی کال له اتمی گڼی د( ۱۳۱۱ ش‌کال د و شنبه دو ري اول)وروسته دغه اخبارټول په پښتو ژ به په خپلو خپر ونو پیل وکړ- یوازي په لو مړي مخ کی داخباردنامه کیڼی خواته د اشتراک شرح او ادرس یی‌په د ري ژ به پاتی ؤ-او داهغه وخت ؤچی‌دپښتو مطبو عاتو په افق کی یو نوي ستو ري‌وځلید- او دغه ژ به‌دلو مړي ځل‌لپاره دیوه مستقل اخبار تبښتنه شوه-په‌دي وخت کی دطلوع افغان مسئول مدیر لوي استاد پو هاند حبیبی ؤ-موږدلی داخبار په پخوانی‌دوره څه‌نه لیکو-اوله هغه وخته پري بحث کووچی ټول‌پښتو شوي دي.

په‌دي‌لیکنه کی‌دغه اخبارله‌دغو خواووڅیړل کیږي:

۱ - داخبار لیکنی دخصو صیاتو له پلوه.

۲ --دصحافت او ایډیټنگ له نظره.

۳ - دو رڅپانه لیکنی داساسو نوله نظره.

۴ - دجمعی مفاهمی دوسایلو دوظایفوله نظره.

۵- دمطبوعاتو د تیوري له نظره.

لومړي دغه اخبار دو رځپانه لیکنې دخصوصیاتو له پلوه مطالعه کوو- او دا ښیو چې دغې خپرونې تول هغه خصوصیات لرل چې د ورځپانو او اخبارونو لپاره تاکل شوي دي کېدیه.

دفن محققین دیوي منظمې ورځپانې او یا جریدې خصوصیات په لاندې ډول ښیي:

۱- لږترلږه باید په هفته کې یو ځل خپره شي.

۲- دماشینې وسایلو په ذریعه له چاپه راووځي.

۳- دهر چالپار مخې یې دپیسو په مقابل کې غواړي پرته له کومې خاصې ملاحظې دپیسره وي.

۴- دعامه خلکو دعلاقې وړ مواد خپاره کاندي.

۵- له عامه ادبي معلوماتو سره برابره او سازګاره وي.

۶- دوختغوښتنې باید په ښې توګه دتخنیکي انکشافو په سیوري کې تعقیب کړي.

اوس دغه خصوصیات دطلوع افغان په پښتو اخبار کې لټوو- اوګورو چې دغه خپرونه تر کومې اندازي دغه خصایص لري.

طلوع افغان له پښتو کیدو وروسته هم دېخواپه شان په هفته کې یو ځل خپر یدله دنشر ورځې یې مختلفې دي. کله ددوشنبې ورځ- کله دشنبې ورځ دسه شنبې ورځ دچهارشنبې ورځ او کله هم دپنجشنبې ورځ په تفا ریقو خپره شوي ده- او په نشراتو کې یې ئې یې موازنه ګي غالباله طباعتي ستو نزو پیښه وي.

۲- طلوع افغان دهمدي ورځپانې په ډیر ینه مطبعه کې دلیتو ګراف دماشین په وسیله خپر یدله.

۳- هرچاته یې دپیدا کیدو شرایط هم مهیا وو- او هر چاکو لاي شول چې داشتراک او یا نغد و پیسو په بدل کې دغه اخبار تر لاسه کي.

دطلوع په اول مخ کې داخبار دنامه ښې خواته داشتراک شرح په پښتو او کیڼې خواته په دري کښل کیده- داشتراک او ېې تفصیل یې په دې ډول وو: «قیمت دیوه کال دقند هار

په ښار کې خلور افغانۍ په قندهار پورې محالاتو کې پنځه افغانۍ په دننه مملکت کې شپږ افغانۍ په بهاندې مملکتو کې پنځه کلداري یو شماره پنځ پوله».

۴ـ طلوع افغان په خپلو پاڼو کې له داخلي او خارجي خبرونو سربېره سرمقالې تبصرې ادبیات ـ تحقیقي لیکنې ـ توکې ـ دولتي فرمانونه ـ رسمي د مختلفو حوادثو خبرونه او نور خپاره کړي دي ـ چه دغه ټول مواد په خپل وار سره د مختلفو علمي او ادبي سویو د خلکو له ذوق سره برابر مطالب دي.

۵ـ دغه موضوع چې جریده او ورځپانه باید له عامه ادبي پوهې سره سازګاره وي د دغه پر نسیب تطبیق د طلوع په پاڼو او محتویاتو کې یو څه دروند غونډی کار دي ـ او دا ځکه چې د دغې جریدې محتویاتو که ادبي وو که تحقیقي او که معلوماتي په یوه معین ستندرد تهیه کېدل او له چاپه راوتل ـ چې پوهېدنه یې د لږ سواد لرونکې لپاره له ستونزو خالي نه وه. دغه پروبلم چې خپرونې خصوصاً جریدې او اخبارونه باید د خلکو په ژبه او د عامه خلکو له سویې سره برابرې خپرونې وکړي معاصره ورځپانه لیکنه کې هم پیښ دي. په نظري لحاظ د فن علما دا تأکید کوي ـ چې اخبارونه او د جمعي مفاهمې ټول وسایل باید د خلکو په ژبه او د دوي د ذکاوت له درجې سره برابر وي ـ مګر په عملي لحاظ دغه تیصه د زیاترو پرمختیایي هیوادو په مطبوعاتو او نشراتي وسایلو کې ـ چې هلته د لږ سواد او بیانه سواد لرونکي خلک ډېر وي ـ موجوده ده.

۶ـ که چېرې له پښتو کېدو وروسته موږ د طلوع افغان پاڼې مطالعه کړو په ښکاره توکي څرګندېږي ـ چې دغه اخبار په خپلو پاڼو کې د وخت غوښتنې د تخنیکي انکشافاتو په رڼا کې تعقیب کړي دي. طلوع په خپلو خبرونو نظریاتو او حتی ادبي موضوعاتو کې د نوي عصر په غوښتنو او د تخنیک پرمختیایي نشرات کړي دي د مثال لپاره د ۱۳۲۱ کال په ۱۲ ګڼه کې د کابل د اور لګیتو د فابریکې او د غوربند د برو د سکرو د کان خبرونه د همدغه کال د ۵ او ۹ ګڼو په سرمقالو کې د زراعت په اهمیت د دغه په پرمختیا او په کورنیو صنایعو خبرې او د طلوع په مختلفو ګڼو کې د معاصر واد بیانو لکه مرحوم حاجي ولي محمد مخلص (۱۳۲۱ ش مړ) محمد رسول مسلم ـ سالار رحمت الله (۱۲۵۰-۱۳۲۹) سیدحسین او د نورو ملي وطني او اجتماعي شعرونو خپرول زموږ د دې مدعا د تأیید ښه لاسونه وته دي

اودارا څرګند وي چې دغې خبر و نې په خپلو پاڼو کې دوخت غوښتنې منعکس کړی دي او س چې مو دو رځپاڼو اوجریدو ټول خصایص په دې اخبار کې پیدا کړه نو لازمه ده چې په دوهم پړاو کې دغه اخبار د متن ـ صحافت او اړ یتنګ له نظره وګو رو:

متـــــــــــن:

دطلوع افغان په متن کې لکه چې لو ړ ه مو هم و رته اشاره و کړه داخلي او خارجي خبر و نه، سر مقالې، ادبیات، دپښتو ادب او دپښتنو دتا ریخ په خصوص کې تحقیقي لیکنې تو کې او اعلانو نه او دو لتي اعلامیې او فرامین خپر یدل.

داخلي او خارجي خبرو نه د« کو رخبري» او« خارجي خبرو نه» تر لو یو سر لیکو نو لاندې راتلل دخبري لیکنې اصول یې داسې و و چې خبر و نو ته عنوان نه و رکول کید ه او د خبر روح دخبري ارزښت لرونکو خبر و اختصاریې دعنوان ارزښت درلو د ـ لکه ددغو خبرو نو په عنا وینو کې:

غلا ـ مستخدم الماني ـ په ارغنداب کې ـ او نو ر... په خا رجي خبر و نو کې هم دغه لاره تعقیبید له دخبرلیکنې شکل یې عنعنوي او پخواني ؤ ټول داخلي او خارجي خبر و نه په کرو نو لوجیک شکل پکې لیدل کیږي ـ مګر دهر م معکوس ځینې شکلو نه یې هم سړي په ځینو پاڼو کې پیدا کو لاي شي .

دخبر لیکنې معاصر اصول او په خبرو نو کې دخبري ارزښت مر اعات چې د فن محققینو تا کلي دهغو تطبیق دشرایطو او ځینو ستو نزو له پلوه ددغه اخبار په خبرو نو کې نه شي کیدلاي مثلاًمسلـ کـ حکم کوي چې دخبر روح اوجالبې نقطې دي دخبر دعنوان په توګه دلو ستو نکې دجلبو لو لپاره راوړل شي حال داچې د غه طر یقه دطلوع په خبرو نو کې نه ده کارشوي او د خبر دیوې یادوو کلمو په راوړلو دخبر دعنوان په توګه اکتفاء شوي البته دابايد هیرنه کو ـ چې د کلمو اهمیت یې تل دخبر و نو په عنوان په انتخا ب کې ساتلی دي.

دو هم داچې خبرو نه باید افتتاحیه ولري او د خبر ټول مهم ټکي پکې نغښتل شوي وي او دخبر په متن کې باید پاراګراف په پاراګراف دمو ضوع اهمیت لږ شي ، حال داچې دغه

خصمو صيت دطلوع افغان په خبر و نو کې نشته، او خبر و نه‌په‌قصه يې ا و کړ و نو لوجيک دول راورل شوي دي.

د ريمه سو ضوع چې دخبر، خبر ليکنې ر و ح تشکيلوي ، هغه د خبرې ا رز ښتو نو سر اعات دی ، په دغو ارزښتو نو کې دسو ضوع نو يوالی، اهميت او د لچسپی دری سهم تو کی دی، چې ددغو دريو ارو تو کو نو خيال د طلوع افغان په خپلو تهيه کړو خبر و نو کې تر يوې‌اندازې پو رې‌ساتل شوی دی، مگر د هېواد دنو رو سيمو ا و خارجي خبرو نو کې‌يې تطبيق دې‌سايلودنشتوالي اودجريدې‌دنشراتي جر يان دخرنگوالی‌له امله نه دی‌شوی.

په‌سحلي خبرو نو کې‌يې‌دعامه خلکو د دلچسپی وړ تازه او سهم خبرو نه کړي ، لکه د لسم نشراتي کال‌په ۱ ۲گڼه کې‌د کندهار دهواد وضعي، په کلات کې دباران ، او د کند هار د سکاتبو ازسو ينې تول داسې خبرو نه دي،چې خبري ارزښت لري. علاوه له دغه دول سهو او دلچسپو خبر و يې‌د کندهار دخلکو د خبر تياله پاره تل دگاو نډيو هېواد و درادیو گانو پروگرامونه‌هم په خپلو پاڼو کې ثبت کړی‌دی، ځکه چې هغه وخت زسوږ هېوادرا ډيو نه درلوده.

طلوع‌خبر و نه‌زياتره له اصلاح، اتحاد مشر قي، بيداراو د هېوا د له نو رو خپر و نو څخه اخيستي دي،دخارجي خپرو نو داخيستنې مرجع‌يې نه معلو سيږي،خو په ځينوگڼو کې يې له خارجي اخبا رو نو څخه دغه دول اقتباسات کړی‌دی. د طلوع په ستن کې تر خپر و نو او تبصرو و روسته دپښتو ژبې او ادب، دپښتنو دتاريخ‌په با ب خپرنی تر ټولو سهمې د ي . دغه دول خپرنی دطلوع‌افغان له پښتو کېدو نه و روسته ـ تر هغې چې پو هاند عبد الحی حبيبي‌ددې‌جريدی چلو ونکی‌ؤ(۹ ۳ ۱ ش)په دې اخبار کی ډېرې خپر يدې. تحقيقي ادبی او تاريخي‌مقالی پخپله دپوهاند عبدالحی حبيبی له‌خوا کښل کېدې، خو په ځينو کی يې د سر حد او کابل له خپرونو هم مقالې اقتباس کړې دي.

دولتي‌فرسانونه اوحکو ستي ابلاغيې دعامه خلکودخبر تياله پاره معمولاً اخبار د لو سړی مخ په دوو و روستيو ستو نو نو کې خپر يدل ، اودطلوع د ستن له سهمو سوادو څخه ددغو ابلا غيو، اعلاسيو اوفر سانو نو خپر يدل گڼل کېدل.

اعلان:- اعلان چې‌دجمعي سفاهمی دوسايلو دانکلشاف د يوې سترې وسيلې په توگه يې

د نولسمې پېړۍ له وروستۍ نيمايي نه د ورځپاڼه‌ليکونکو او د کتلوي مفاهمې د نورو وسايلو د متصديانو لپاره زيات اهميت پيدا کړی دی ، اوس موږ هم د طلوع په پاڼو کی د اعلان ځرک لګوو، او د اعلان په شکل يې خبرې کوو .

د طلوع افغان په ټولو مسلسلو ګڼو کی د اعلان پته نه لګی ، بلکه په ځينو محدودو ګڼو کی يې موږ اعلانونه مومو - دغه اعلانونه د خپلې نوعې له پلوه دولتي اعلانونه دي، چې د کندهار د دولتي مؤسسو له خوا چاپ ته سپارل کېدل.

خو تجارتي اعلانونه چې د ورځپاڼو او جريدو لپاره ګټه‌ترې متصوره ده ، په دې اخبار کې ډېر لږ ليدل کيږي

اعلان يې د اعلان کښنې د ننني اصولو خلاف عنوان نه لري، او د «اعلانونه» تر لوی سرليک وروسته يې صرف د هغې مؤسسې د نامه په راوړو چې اعلان يې خپرولو ته سپارلی دی- د عنوان په‌نامه اکتفا کړې ده- لکه د لسم کال په ۳۲ ګڼه کی:«له فرقهٔ عسکری څخه د قندهار- له رياست بلديه څخه»خو سره له‌دې هم دغه اعلانونه د پښتو د قديمو اخبارې اعلانونو بو لګی تر ګوتو کوي .

صحافت او صفحه بندي:

طلوع افغان له ۱۳۱۱ ش کال نه راپدېخوا - يعني له پښتو کېدو وروسته د پخوا په نسبت په‌لويه کچه خپره شوه ، طلوع افغان د نشراتو له شروع نه تر هغه وخته چې موږ پرې خبری لرو (۱۳۱۱ - ۱۳۱۹ هش) په ډېرين چاپ د طلوع په مطبعه کی خپرېد له.

دغه اخبار څلورمخه او څلور ستونونه درلودل ، چې ستونونه‌يې د اوسنيو اخبارونو په خلاف «دری‌سربی» او دوه نيم سربی نه‌دي، بلکه هر ستون يې تر دری‌سربی څلور يا پنځه ښته لوی دی ، ستونونه يې يو له بله د نريو تور وجدولو په وسيله بيلېدل ،

طلوع افغان په ښکلی او خوانا خط کښل کېده، د خط‌ډول يې نسخ ؤ. د اخبار په لومړی مخ کی په جلی خط د اخبار نوم (طلوع افغان ) کښل کېده ، د اخبار نوم د صفحې په منځ کی ؤ، د واړو خواوو کی يې يوې خواته د مسئوول مدير نوم او بلې خواته د اشتراک شرح او ادرس کښل کېده ، د پښتو کېدو په اول کال يې ښی خواته په پښتو او د کيڼې خوا په

پارسي کښل کېدل خو په و روستيو کالو نو کي ددغو سطا لبو شکل بدل شوی دي.

داخبيار نوم اوستن ددوه کر ښيزو تو رو جدو لو نو په و سيله يو له بله بيل شوی دي ، داخبار دلو سړی سخ په لو سړ يو دووستو نو نو کي سر مقالي راغلي، اوحتی دغو سرمقا لو په ځينو گڼو کي داخبار ټول سخ نيولی دی .

په عموسی توگه دلو سړیسخ په دوولو سړ يو ستو نو نو کي فرامين ، دولتي ابلاغيـې او ځيني وختو نه راغلي ليکو نه خپاره شوی دي.

ددو هم سخ په لو سړ يو د ووستو نو نو کي معمو لا تحقيقي مقا لي او په د وو نو روستو نو نو کي ادبيات راتلل، ددوهم سخ په پای کي کله کله د اخلي خبرونه هم راغلي دي .

ددريم سخ دېرنيخو اپه څلو رستو نو کي داخلي خبر ونه کله کله د پښتو دزړواشعارو منتخبات او په کرزنيبرخه کيبي دپښتو ادب دتاريخ په باب تحقيقي څېړ ني او کله هم له خارجي منابعو تر جمې چاپ شوي دي.

دڅلو رمسخ په لو سړیستو ن کي داخلي خبرو نه (په اکثرو گڼو کي معمو لا د کند هار او دهندهدسر بو طاتو سحلي خبرو نه) راغليدي په دو هم او دريم ستو ن کيخارجي خبرونه په څلو رم ستو ن کي تو کي کله کله اعلانو نه ا و نور بو ختو و نکي سطا لب را غلي دي دغه سطالب دځينو گڼو په مخو نو اوستو نو کي تغيير کړي .

داخبار د مضا سينو نو اوسختو ياتو عنوانو نهله ستن نه فرق لري خو د خبرو تر عنوا نو لاندي يي خطونه کښلي دي د اخبارقطع صحافت او کاغذ او خط دو خته له نو ر و اخبا رو نو ته هراړ خيزاوجوت تو پير لري. او کهله وا قعيت نه تيرنه شو دغه اخبا ر په هغه وخت کيبه ډېر ين ماشين په داسي صحافت چاپ شوي چي دطباعت دفن له پر مختيا سرهسره اکثر سحلي اخبا رو نه اوس هم په هغه صحافت نه خپر يږي.

پهاخبار کي دطباعتي ستو نزو له امله عکسو نه ډيرنه د ي چا پ شوي خو په ځينو خاصو گڼو لکه داستقلال او نو رو خو شحاليو په گڼو کيبي رسم شوي عسکونه هم چاپ کړي دي . چه کاتب ئې هنرمند خطاط اروابناد عبدالو دودؤ.

۳- دو رځپانه ليکنې داساسو نو له نظره :

دفن متخصصين اودنړۍ ورځۍ دور ځپانهليکنې اساسپه خبرو نو او نظر ياتو پو رې سر بو ط گڼي

کله چې یو سهم خبر په ورځپا نه کې خپر یږي نو دغه خبر و دفکر او عقیدي داظهار سبب گرځي هغه نظر یا ت چې د خبرونو تر څنگه په ورځپا نه کې خپر یږي څلور ډوله دي:

۱ – دو رځپانې نظر - سر مقاله .

۲ دمتخصصینو نظر ستون ـ یا کو منتري .

۳ دلو ستو نکو نظر راغلي لیکو نه .

۴- نظر یات دتصا ویر و په کالب کې کارتون چې دغه ټول مطالب داخبا ر په یوه مخ کې چې دنظر یاتو مخ دي خپر یږي .

او س موږ دطلوع په پاڼو کې ددغو اساسونو دتطبیق څرک لگوو ـ چې ایا دغه اخبار ددي اساسو نو پیر وي کړي که یه :

خبر و نه خو سو لکه چې لو ړو لیدل په دي اخبار کې تر دریو کټگو ر یو لاندي خپر یدل. داخلي محلي ـ خارجي . همدارنگه و ینو چې دطلوع هره گڼه سر مقاله لري مگر دغه سر مقاله له خبر و نو نه وي رازیږ یدلي بلکه داخبار دمدیرلهطر ز فکسر مسم په یوې موضوع بحث شوي یي دغه سـقالي سمو لا دخپلې نوعې له مخې محلاتي او کله کله هم بیاني و صفي ـ اود جغرافیه له پلو مـ محلي ـ و لایتي ـ ملي او سنطقوي او حتی کله کله بین المللي دي. سر مقالي دطلوع دلو مړي مخ په لو مړي ستون کې خپر یدي .

۲ –دمتخصصینو نظر: ستون یا کو منتري په او سنی مفهو م په دي اخبار کې نه لیدل کیږي البته په ځینو خاصو علمي ـ ادبي او اجتما عي مو ضو گا نې یې دصلاحیت دخاو ند انو نظر یاتو خپاره کړي چه دهغه وخت له شر ایطو سره سم یې ستون یا کو منتري بللاي شو.

دغه نظر یات داو سنۍ ورځپانه لیکنې په څیر تل له سر مقالي سره په یوه مخ کې ندي راغلي ـ بلکه کله په لو مړي مخ کې ـ کله په دو همه او دریمو مخو نو کې خپاره شوي دي.

۳ راغلي لیکنې :

دطلوع په ځینو گڼو کې «لکه دلسم نشراتي کال په ۱۷ گڼه ) راغلي لیکو نه خپا ره شوي

دي. دغه لیکونه هم دلو ستو نکوله خوا داخبار په خبر ونو دنظر په خر گند وني اوه نه لري بلکه داسی لیکونه دي چی مو ضو عات یی زیاتره په اخبار(طلو ع)پښتو اوملیت پالنی پوري تړلی دي-دراغلو لیکونو دچاپ په برخه کی‌دټو لو فنی موازینو خیال ساتل شوي دي -او راغلی لیکونه دسر مقالی دمخ په دو همستون کی خپاره شوي او دگر دي پښتو ن خوا څخه راغلی دي.

۳- کار تون:

کهڅه‌هم دهغه و خت طباعتی شرایط او فنی مشکلات ددي اجازه نه ورکوي چی کار تون دي‌په اوسنی معنی په طلوع کی خپو رشويوي مگر دطلوع دهغه وختنی فکور او مطلع مدیر(پو هاند حبیبی) په ابتکاردغه کار په هغو شر ایطو کی هم دطلوع په ځینو گڼو کی شوي - کار تو نونه معمو لا په څلورم مخ کی خپاره شوي -لکه :دلسم نشراتی کال په ۲۳ گڼه کی داخباردسو ځو ع کارتون .

ددي‌بحث په نتیجه کی و یلاي شوچی طلوع دو رځپاڼه لیکنی داساسو نو پیروي دو خت له شرایطو اوغو ښتنو سره‌سمه کړي دمـگر ځینی فنی نیمگړتیا وي دمواد و دتد و یر او تنظیم په برخه کی لري.

۴- دجمعی مفا همی دوسا یلو دوظا یفو له پلوه:

دژو رنا لیز م‌متخصصین عقیده لري چی دجمعی مفاهمی یوه وسیله په عمومی توگه دغه لاندي څلو روظیفی لري:

۱-خبر ورکول

۲- تعلیم ورکول

۳- پو ختول

۴ . روح ورکول

مو ږ په‌دي لیکنه کی دغه خبره زیاتو و-چی ایا طلوع افغان په خپل نشر اتی جر یان کی دجمعی مفاهمی دیوي وسیلی په توگه دغه څلو ر وظیفی سر ته رسولی که څنگه ؟

۱-دخبر و رکو لو په برخه کی طلوع دخپل نشرا تی څر نگوالی سره په خپلوپاڼو کی داهغه کړي‌چی‌خپل لو ستو نکی له محلی ملی او بین ا لمللی مسا یلو خبر کړي تل یی په

خپلو پاڼو کې محلي سنطقوي مسلي او بین المللي خبر و نو خپرو لو ته ځاي و رکړي دي.
۲ - که چیري دطلوع مسلسل گڼې تر نظر تیري شي داپه ښکاره معلو میږي چې دغه اخبار دخپلو لو ستو نکو دمعلو ماتو دزیاتوالي او علمي سو یې د او چتو لو لپاره تل علمي تحقیقي او معلو ماتي لیکنې او ژباړي په خپلو پاڼو کې وړاندې کړي دي ـ او دغه وظیفه یې چې تعلیم و رکول دي ـ تر یوي اندازي پوري سر ته رسولې ده.
۳- بو ختول : دطلوع په مسلسو گڼو کې دلو ستو نکو سر گرمۍ لپاره دمعا صرو او زړو ادبیاتو منظومې او منثو رې ادبي نمونې تو کې ـ کا ر تو نو نه او نو ر مطالب چې د سرگرمۍ په مطالبو کې راځي خپاره کړي دي.
۴- روح و رکول :
دطلوع افغان دېر له پسې گڼو په سر مقالو او ادبي برخو (معاصر ادبیات ) کې ځینې دامې مو ضو عات رانغښتل شوي چې دغه اصل ځینې افاده کیږي یعنی داچې طلو ع تل په سر مقالو او ادبي برخو کې داهڅه کړي چې خلکو ته دسبا رزي وطن پالنې او داجتما عي عدا لت د تأسین روح و رکړي او ددغه اصل په اجراء او پیروي کې هم مؤفق اخبارگڼل کیږي.
۵- دمطبو عاتو دڅلو ر و تیو ر یو له نظره:
دژو رنا لیزم دفن له پر مختیا او په دې خصوص کې د نو یو تحو لاتو په سنځ ته راتګ سره ددغه فن علما وو دنړۍ دټو لو هیواد و نشرا تي سیستمو نه په بیلا بیلو پوړیو کې په څلو رو کټګو ریو وو یشل چې په علمي لحاظ یې د مطبو عاتو څلو رتیو ري بو لي:
۱- مطلقه مطبو عات.
۲- آزاد مطبو عات.
۳- داجتماعي مسئو لیت تابع مطبو عات.
۴- کمو نیستي مطبو عات.
دغه څلو ر تیو ري ځانله ځانګړې ځانګړتیاوې (خصایص) او شر وطري چې مو ږ د ټو لو تفصیل د لي نه شو راوړي صرف گو روچې زمو ږ اخبار سر ه له دې چې یو دو لتي اخبار دي د کو مې تیورۍ په بنا یې خپر و نې کړي دي ددغه اخبار مطالعه په یقین سره څرگند وي چې نشرا تي کړ نلاره

يې په عمومي توګه دلومړۍ دوهمې او څلورمې تيورۍ په رڼاکې نه دهتنظيم شوي بلکه داجتماعي مسئوليت دتيورۍ پير ويېي تر يوي اندازې پورې کړي د دغې تيورۍ اساسات په ۱۹۴۷ ع کال دشيکاګو پهپوهنتون کېدمطبوعاتو دآزادي کميسيون طرح کړيددغې تيورۍ له مخې دواقعاتو په راپورکې حقايق لکه څنګهچېدي هسېبايدبيان شي - داخبارلیکونکي خپل نظريات او احساسات بايد په خبرکې شامل نه شي که دطلوع محلي خبرونه او نوري ليکنې چې پخپله داخبار په اداره کې تهيه شوي و ګورو د غه خصوصيت لري مګر دمنطقوي او ملي خبرونو او موضوعاتو په نشراو اشاعه کې دغه اخبار تر څه حده دلومړۍ تيوري تابع کيږي.

سراجع او مأخذ:


۱- دپروفيسور رهو لمګرين دژورناليزم لکچرونه (دپوهنتون ګستتنري نسخه).

۲- تاريخ مطبوعات افغانستان ددا کتر ظاهر صديق د۱۳۴۷کال دپوهنتون چاپ.

۳- سير ژورناليزم در افغانستان دکاظم آهنګ د۱۳۴۹ کال چاپ

۴- روزنامه نګاري دخالد روښان د۱۳۵۵کال دکابل چاپ.

۵- اساسات ژورناليزم دپروفيسور جالفدکابل چاپ.

۶- ژورناليزم عملي دخالد روښان دکابل چاپ.

۷- قواعد عملي خبر نګاريدکاظم آهنګ ترجمهد۱۳۵۴ کال دکابل چاپ.

۸- تاريخ صحافت هند و پاکستان دډاکتر عبدالسلام خورشيد طبع ۱۹۶۳ لاهور

۹- اصول روزنامه نګاری ترجمهيين دخت صبا طبع ۱۳۳۸ تهران.

۱۰- روزنامه نګارينګارشدکتر کاظم معتمد نژاد دکترابو القاوسم منصفي طبع تهران.

۱۱- روزنامه ونقشآن دررژيم ديمو کراسي دوين برادلي -. ۱۳۵۰ ه

۱۲- تبليغات بازرګاني طبع ۱۳۵۱ تهران.

۱۳- اساسات اماده ساختن چاپ روزنامه - حبيب الرحمن هاله - طبع کابل.

۱۴- تاريخ مختصر افغانستان جلد دوم - پوهاند عبدالحی حبيبي ۱۳۴۹ کابل.

لیکونکی: سنو هرسنګه بتهرا

# دپښتو نوعیت او اهمیت

پښتو دنړۍ دژبو په دریاب کښې یوه سوچه سرغلره ده او یاد ستورو په ډک آسمان کښې یو ځلند ستوری دی ددغې ژبې ویونکي خلک چه پښتانه نومیږي داسې خلک دي چه تل یې دحالاتو او واقعیاتو په لوړو او ژورو کې خپل [illegible] ساتلي دي اود خپلو معناتو او دخپل کلتور او ملي برم دمحفوظ ساتلو دپاره هرې قربانۍ ته تیار شویدي هر کله چه استعمار چیانو په پښتنو یرغلونه کول او دخپلې سلطې دقایمولو هڅه یې کوله نو پښتنو دخپل ملي یووالي په اساس ددغو هڅو دناکامه کول لپاره ملاو تړله او خپل موجودیت او نوم یې په ښه شان سره وساته دپښتنو دقوت او طاقت، همت اوشجاعت دعواملو څخه یو ددوی ژبه پښتو پاتې شویده ژبه د کلتور یوه نه جلا کیدونکې برخه ده او ملي کلتور په ټولو افغانانو ډیر ګران دی، هر کله چه دغه کلتور دلویدیز داستعمار او یا دبل چادتهدید سره مخامخ شو او سخت فشار ور باندې راغی نو پښتنو دخپلو اختیاراتو او ملي ممیزاتو دخوندي ساتلو په غرض دخپلې ژبې پښتو دټینګتیا او ګلګوالي په اساس نړۍ ته خپل موجودیت په ښه شان سره ښکاره او څرګند کړ ددې خبرې څخه انکار نشي کیدای چې د نړۍ نژاد پوهانو او ژبپوهانو دپښتو نقام داصل او نسب اودپښتو دبنسټ په باب بیلې بیلې نظریې درلودې لاکن دتاریخ دپاڼو داړولو او داوږدو مطالعو او پلټنو څخه دعالمانو او ژبپوهانو په مکمل

اطمینان داخبره ثابته‌شوې ده‌چه پښتون‌قام یولرغونی‌تهذیب او تمدن لري او پښتو یوه سوچه او سپېڅلې ژبه‌ده چه‌دخپل پرمخ‌تګ‌لپاره‌یې کومې‌بلې ژبې ته هیڅ احتیاج نه‌دی‌لرلی .

دنړۍ‌دډېرو پوهانو دژورې مطالعې او دټینګو دلائلو په‌اساس دپښتو دلرغونتوب او ددې‌دشتمنۍ ثبوت خلکو ته ورکړ شوی دی پښتو یوه‌پوره مکمله او سالمه ژبه‌ده دادهیڅ یوې بلې ژبې جوګه‌نه‌شي کېدای دګرامر او الفاظو په‌لحاظ پښتو یوه‌داسې ژبه‌ده چه‌ددې په‌واسطه دژوند دهر اړخ او دهرې خبرې بیان په‌ښه‌شان سره کېدای شي هرفکر او هر خیال پکښې په‌اسانۍ سره څرګند کېدای‌شي دپښتو نثر او نظم او ښکلاو بشپړ والی په‌لحاظ دنړۍ دنورو پرمخ تللو ژبو سره‌ښه‌مقایسه کېدای‌شي‌لکه‌څنګه‌چه سنسکریت یولرغونې ژبه ده‌پښتوهم‌یو هندواریني‌لرغونې‌ژبه‌ده‌او ددې ثبوت‌دریګوېدا په‌شان په‌یوه‌مستند اثرکښې موجود دی چه‌ورکښې‌دپښتو داصل په‌باب یعنې پښت‌پکتهـ ذکرشوی دی.

په‌تېره دوو پېړیو کښې‌افغانستان د تاریخ‌دډېرو مهمو پړاونو ښخه تېرشوی‌دی لویدیځو استعمارچیانو پرله‌پسې هڅې‌وکړې چه‌خپلې پښې په‌دغه‌سیمه خاوره ښخې کړي لاکن دپښتنو غیور ملت دخپل‌ملي اجتماعي او کلتوري بقالپاره دنورو روښیانو ښخه پرته دخپلې ملي‌ژبې پښتو دپرمخ تګ په‌لیاره کښې خپلې هلې‌ځلې تل‌جاري وساتلې .

په‌اوسني دوره کښې دنړۍ په‌بیلوبیلو هیوادونو کې پښتو ته‌توجه ډېره‌زیاته‌شوې‌ده په‌یوشو زیاتو هیوادو کښې‌په‌رسمي سویه دپښتو دپلټنې او تحصیل په‌کارونو پیل شوی‌دی او ددوی‌په‌ملي راډیو ګانو کښې دپښتو خپرونې او ریدلی کېږي ددې‌خبرې افتخار هندته ترلاسه‌ودي چه‌په‌خارجي ژبو کښې پښتو هغه لومړی ژبه‌ده چه‌دال انډیا راډیو څخه‌یې نشریات‌شروع شول د۱۹۳۹ع کال داکتوبر میاشت وه‌چه هند دپښتو دپروګرام په‌خپرونو پیل وکړ او په‌تیرو اته وپنځوس کالو کښې دغو خپرونو ډېره وده‌موندلې‌ده پدغو خپرونو کی دخپرونو تبصرو ومقالو معلوماتي پروګرامونو قصه او دهندي او پښتو موسیقي ښخه پرته پرله‌پسې ادبي پروګرامونه‌هم نشر کېږي په دغوادبي پروګرامونو کښې درحمان باباو دښاغلي خوشحال خان‌ختګ دخوږو او په‌زړه پورې اشعارو ښخه پرته دپښتو داسمان دنورو ځلاند وستورو رڼا ګانې هم‌خپرېږي دال‌انډیا راډیو دپښتو په‌پروګرامونو کښې دمعاصرو شاعرانواو لیکوالانو لیکنو ته هم‌دروندځای

و رکول کیږی ددی‌نه‌ثابته دمچه هند دگران دوست هیواد افغانستان دادب او کلتو ر سره ژو ره دلچسپی لري‌او په درنه سترگه و رته‌گو ری داخبره صحیحه دمچه‌په هند کښی دپښتو ژ بی دآثاواچاپولودپاره پدی‌وخت کښی‌باقاعده او پو ره و سیلی نشته‌لاکن‌دووپښتو ځلمو چه‌په‌دهلی کښی و رته‌داو سیدو موقع تر لاسه وه‌دپښتو دوه کتابو نه دنوی دهلی په‌چاپ خانو کښی‌چاپ کړ یدی‌او دا کتابو نه ډیر مننه‌ښه‌لری .

دوه خبره‌ددلچسپی و ړده او هغه داچه که‌دشرو ع نه‌راهیسی‌دال‌انډیارادیو پښتو خپر و نی تر چاپ لاندی نیو ل شوی‌وای نو تر او سه‌پو ری‌به‌ډیر لوی‌لوی گو دامو نه دپښتو د مطبو عاتو ځخه‌ډ ک شوی وای‌دال‌انډیارادیو ځخه‌دپښتو او هندی درمن دتیرو یوځو کالو راهیسی پرله پسی دوا م لری اودادبی شمیره او ریدو نکو په‌گټه تمام‌شویدی.

په‌تیرو دوو پیړ یو کښی دپښتو دچاپ شوو آثارو دسمینار په‌دی موقع کښی یوه‌خبره ډیره ضرو ری گنم‌او هغه داچه که‌څه‌هم دپښتو دزاړه او عصری اثارو خپر یدل ډیر ز یات اهمیت لری‌لاکن داخبره‌دغو رو ړ دمچه باید نو ره نړی‌هم ددغو اثارو دشتمنی او قدر او ار ز ښت‌ځخه‌خبر شی .

و ئیلی شی‌چه درو یشت میلو نه خلك په‌پښتو گړ یږی دا کافی نه‌ده‌چه‌یو ازی دغه‌خلك‌د پښتو دبی‌بها او نادرو لیکنو ځخه استفاده و کړی باید دی چه‌په میلو نو نو ر خلك هم‌ددغه لوي میراث سره‌آشنایی او دپښتو درو ښانه لمر پلو شی او رڼا و کو ری دا کار یو ازی دپښتو دآثارو دژ باړنو په‌و اسطه سر ته‌رسو ل کیدای‌شی‌دامنو چه‌دی پلو ته دځینو مستعدواو صلاحیت لرو نکو عالمانو پا م‌راگر ځیدلی‌دي او ځینی هځی شو یدی لاکن زمانه‌نظر په‌دی‌کار ته دنو ری پاملرنی او تو جه ز یات حاجت دی‌اعتراف کو مه چه‌پدی سمینار کښی‌محترم رئیس ښاغلی عبدالحی حبیبی دوه‌ځله‌و یلی‌دی چه په کابل کښی دپښتو د انکشاف بین‌المللی مر کز به‌دتر جمو کار په غاړه و اخلی لاکن مو نږ به‌په‌انتظار کښی او سو چه کله‌به‌پدی کار کښی کامیابی و شی ماځپله‌یو شمیر ز یا ت پښتو اشعار په‌انگلیسی‌اړو لی‌دی‌او خپار ه‌شوی‌هم‌دی.

خو پدی‌پو هیم چه‌دغه هځی کفایت نه کوی او دنو ر کو ښښ او ز یارضرو رت‌دی.

یو بل‌لوي ضرو رت دادي چه دنو رو ژ بو ځخه په پښتو کښی ترجمی او ژ باړنی و شی

یو څو پښتو (ادبیاتو انګلیسي هندي او نورو آثارو پښتو ته اړولي دي چه‌پدي کار کښې پښتو ټولنې لو یه برخه اخستې ده. خو زما پیشنهاد دادي‌چه ددغه دراته سیمینار په موقعه پدي نظر یه‌په شخیدګی‌سره غور وکړي شي‌چه پښتو دافغانستان څخه دباندې‌هم شهرت او نوم پیدا کړي او ټولو له ښې خپل ځان د دغه عظیم میراث دوارث په حیث وګڼي.

لکه څنګه‌چه زما دژوند ملګري دنوي ډیلي دجواهر لال نهرو دپوهنتون‌پوهاند ډکتور رام‌راهول وئیلي دي‌په هغه‌پو هنتون کښې دتیرو یو څو کالو راهیسې دپښتو درس ورکړ کیږي‌ـ ددي‌نه ښکاره‌ده‌چه‌هند دافغانستان دکلتور سره دټینګو او کلکو روابطو دساتلو لیواله دي‌او غواړي‌چه دغه ارتباط نور هم لاټینګ اومضبوط شي.

که موږ دهند او افغانستان پخوانی تاریخ ته نظر واچوو نوو به ګو رو چه دکا ونډ یتوب‌دغه‌نژ دي‌روابطو ژوندانه‌په ټولو برخو کښې‌ددوا ړو هیوادونو دخلکو ترمنځ موجود وو دکلتوري او فر هنګی ارتباط په سلسله کښې لو یه خبره دا ده چه د پښتو ژبې زیات آثار په‌هند کښې‌چاپ شو یدي‌دغه شان په هند کښې‌ډیره پښتو پوهانودپښتو دپاره ډیرمهم آثاراو دشعر ونو دیوانونه لیکلي دي‌لکه دنواب محبت خان ریاض‌المحبه دالایا رخان عجائب‌الغات او انور دکاظم شیدا غوندي نازک خیال شاعر خپل د یوان په رامپورکښې سرته رسولي دي.

ځینې داسې نور پښتو دیوانونه هم دهند په کتابخانو کښې شته‌چه تر اوسه ورسره‌ټوله پښتنې دنیا نه‌ده‌آشنا شوي‌لکه دصدیق دیوان دسلاعلم اپریدي دیوان دحبیب الله دیوان او نور ـ درامپور پټنې کلکتې او دډیلي په کتابخانه کې‌دپښتو ډیري‌قلمي نسخې‌موجودي دي‌چه‌څو کاله‌پخوا دپوهاند رښتین‌له خوا دکابل په‌مجلو کښې معرفي‌شوي دي لنډه داده چه هندهم‌دپښتو دپالنې او روزنې زانګوه او هلته هم دپښتو ډیرو ادیبانو دخپل ژوند خوږي ورځې تیري کړ یدي ـ دمیر زاالنصاري دولت لوانی او ارزانی دیوانو نه په هند کښې لیکل شو یدي او داوجه ده‌چه‌په دغو دیو انونو کښې دسنسکریت ځنې‌الفاظ هم‌موجود دي‌له بله‌پلوه‌لکه چه ګو رو دهند ډیرآزادي‌خو اهان د خپلو مبا رزو په لړ کښې افغانستان ته راغلي دي‌دلته ورسره‌مرسته اوکړ مکونه شوي‌دي اوله دې‌ځای‌نه‌یې دخپلې آزادي

غږ د نیاته رسولی دیدا کلتور ی علمی سیاسی او نورارتباطونه همیشه موجود وواو پس له دي بههم وي په اوسنی وخت کښی هم ډیر افغانی زده کوونکی په زده کړه بوخت دي په مقابل کښی مو نږ هم دافغانی اخبارونو مجلو او کتابو نوڅخه زیاته ګټهاخلواو زموږ نږدرادیو پښتو څانګه هم په دي ستکی ده څو په دي برخه کښی زما یوعرض دادي چه د پښتو اوسنی لیکوالو د په اخبارونو او مجلو کښی ډیر سخت شو یدي ـاو خپله روانی یی له لاسه ورکړي دهتر دي چه زموږ نږدرادیو په پښتو ترجمه یی هم اثر اچولی دي نو څکه هیله کیږي چه باید دلته هم وظیفه لرونکی مؤسسی خاص پښتو ته لنه دغه پلو ته پاملرنه وکړي.

تشکر

پوهاند رښتين

# د پښتو چاپي آثارو ته يوه کتنه

خرنګه چه د ژوند د پاره ادب لازم دی د غسې د ادب د پاره کره کتنه هم ضروري ده. که څيړي يو ساليار خپل باغ هم داسې پرېږدي او ډللون پکښې ونه کړي نو هيڅکله به تري ګټه او ښايسته وانه خيستلی شي.

دغه شان ادب هم دی نو ځکه ئې چه سونږ د هميشه د پاره د کره کتنې په محک د پښتو ادب کره او کوټه سره معلوم کړو او په دې صورت د ادبي تنقيد لاره آزاده وساتو لکه چه ښکاره ده د پښتو په پخواني ادب کښې دغه روح له پخوانه موجود دی لکه دا خوشالو نه.

د سير زا شعر په دروغ وولي دريغه - په وحشي الفاظو ده کړه يران شعر

پير محمد کاکړ

راستګو يان لکه سر آتش يدا حيران دي - په هر لور د زماني سخن سازي ده

( کاظم شيدا )

د پښتو په اوسني ادب کې هم دغه روح تر ډيره حده ژوندی دی او کاله کاله يو نيم شاعر د ژوندانه کمزوري اړخونو ته ګوته نيسي او وايي :

هيڅه چه د لاقت بت ته سجده کړي       عا د تي که نمازي وي په داخه ؟

نږدې شل کاله پخوا د لار مجلې په پښتو رکښې يوه تنقيدي کره خبره کړې وه په هغې کښې صديق رحيمن مومند، حمزه شينواري او کامل مومند په عبارت تو نو د پښتو او محاوري له حيثه اعتراض کړی ؤ او ليکلي يې و وچه کامل مومند په نثر کښې دومره او بردې فقرې ليکي چه لوستونکی پکښې حيران شي. دغه شان د کابل مجلې هم دوه ديرش کاله پخوا د تنقيد او کره

کتنې غوره مضامين خپاره کړي او په خپله خان باندې يې د تنقيد و رخلاص کړي ؤ ديو ناڅاو پوخ ليکوال په نظر کښې ژبه او ادب ، قام او ټولنه ډېر اهميت لري نو ځکه د هميشه دپاره د خپريدو نکو اثار و څارنه کوي او کوم شيان چه د ژبې او قوم دپاره سود من نه وي هغو ته ګوته نيسي او د اصلاح او سمون لاره يې ښيي ان ناطولي ادرانس وايي چه ناقد د فن په باغ ونو کې ګرځي بې کاره او بې فايدې بوټي تري باسي او د ښکلا او ښايست دپاره يې زيار او کوښښ کوي (۱) ».

نو دا دی د دې اساسي ضرورت له مخه غواړم چه د پښتو په چاپي آثارو يو نظر واچوم او ځيني کمزوري ارخونه يې په عام ډول څرګند کړم.

دلته باید داخبره هم وکړو چه شل دېرش کاله پخوا چه کوم کتابونه ليکل شوي دي د معلوماتو او مأخذونو د نشتوالي په وجه ورکښې ځينې کمزوري او غلطي پاتې شوي دي هر کله چه اوس ورځ په ورځ نوي معلومات زياتيږي نو پکار دي چه پخواني تير و تني سمي او اصلاح کړي شي ترڅو چه راتلونکي څيړونکي په تياره کښې پاتې نه شي .

۱ — په يوه پخواني تذکره کښې قلندر اپريدي (د خانله سبک خاوند بلل شوي دي حال دا دی چه دی ځان د حميد مومند د سبک تابع شاګرد دبولي لکه چه وايي فضل د سبحان په قلندر د شعر و شو – دا و اړه سبب فصيح بليغ ؤ د ماشو (۲) په دی ډول په دغه تذکره کښې د مير زا انصاري نوم فتح خان او قوم يې يوسفزی ليکل شوی دی خو بيا وروسته داخبره معلومه شوه چه مير زا انصاري د نور الدين زوی د بيار وښان نمسی او په قوم اورمړ دي)

په دغه تذکره کښې داخند درويزه په نامه يوه مثنوي راوړل شوې ده چه اول بيت يې دا دی

راشه وا ورزماو رور ه فضيلت د صبر ګوره .

خو اوس معلومه شوه چه دغه شعر داخند درويزه نه دی بلکې داخوند عبد الکبير دی چه دده په (جنت الفردوس) نومي کتاب کښې راغلی دی.وروسته بيا د پښتو تاريخ اعثم کوفي د افضل خان ترجمه بلل شوي ده. حال دا دی چه دغه کتاب محمد مظفر قريشي د افضل خان په وينا ترجمه کړی دی.چه داخبره د دغه تاريخ له سريزې نه ښکاره معلوميږي .

---

(۱) (۱۳۲۲) کال د کابل مجلې ۵ ګنه .

(۲) ماشو د حميد د کلي نوم دی چه د ماشو ګګر په نامه ياديږي.

ددغې تذکرې پهیوځای کښې د(لټار) معنی نهده څرګنده شوی خو اومن ماو.ه شو.ه چه «لالټار» په هند کښې یو پښتو ن شاعر تیرشو یدی چهد یو انیې دهیلې پهملي کتابخانه کښې موجود دی.(۱)

دپښتو پهیو بل کتاب کښې منشي احمدجان او مولوی احمدیو تن ګڼل شوی دی حال دادی چهدغه دو اړه جلاجلا کسان دي. مولوی احمد داشنغر دتنګي او سیدو نکی ؤ په (۱۳۰۱ ه) کښې وفات شوی دی او د(ګنج پښتو او تاریخ فرشته) لیکو نکی دی.

مګر منشي احمدجان د «هغه دغه قصه خانه ګپ» کتابو نه لیکلي او د افغانستان تاریخ یې هم پهپښتو ترجمه کړي دي. دي په(۱۳۷۱ هق) کښې مړشوی دی.

دپښتو ادب پهیو بل کتاب کښې.(ښندل) تهلازمي اختیاري او ښندیدل تهلازمي غیر اختیاري ویل شوي دي. خو داخبره ناسمه ده ولې چې ښندل دتړل په شان یو متعدي مصدر دی او ښندیدل پهمحاوره کښې استعمال نهلري.

دغه شان یوکښې دپټکي تړل محاوره پښتو نهده بلل شوي او پټکي وهل ته پښتو ویل شوي دي. حال دادي چهخوشحال خان پهدستارنامه کښې وایي:

چې دستارتړي هزار دي ‌‌‌‌‌‌‌‌‌‌ ددستارسړي پهشمار دي

له دی نه معلومه شو.ه چې دادب او محاوري لهمخه د پټکي تړل محاوره سمه ده.

پهدغه کتاب کښې دلوړ رحقونو پهباب دنثر یوه ټوټه دافضل خان بلل شوي ده حال دادی چهدغه نثر د خوشحال خان دی چه په دستارنامه کې راغلی دی په دي کتاب کښې داشعارو دقسمونو ډیر معلومات او مثالونه دپښتو ادبیاتوله مقالي څخه اخیستل شوي دي چهپه۱۳۱۸ش کال د کابل په کالني کښې خپره شوي ده مګر پهیوځای کښې همحواله نهده ورکړ شوي دغه شان یوکښې میرزاخان انصاری تهدپښتو لومړي عروضي شاعر ویل شوی دی حال دادی چهلومړي عروضي شاعر اکبر زمینداوری دي چهپه(۱۷۷ه) کښې تیر شوی یدی اود شعر یو پوره دیو انیې درلود.

۳- پهیوه بله تذکره کښې لیکل شوي دي چهاخند کریمداد داخو ندرو یزه زوی په پښتو شعر یو دیوان لیکلی دی.

---

(۱). دسلالټار ددیوان یکرو قلم پښتو ټولنې تهرسیدلی دی.(خدمتګار).

خو داخبره همسمه‌نه‌ده‌او په‌نو سو نو کښې اشتباه‌پیښه شوی‌ده .

ددیوان خاوند کریمداد په‌اصل بنګښ‌او دسیا رو بیان دسلسلې یو شاعر دي چه دهند په په‌شمس ا باد کښې اوسیده مګر اخون کریمداد لخانله د یوان‌نه‌لري یوازی په‌مخزن کښې یې‌یو څه منظوم ټوله‌وینا راغلې‌ده .

په‌دغه کتاب کښې یې‌نیک بخته‌او بې‌بې‌ګله دیوی‌بی‌بی‌نو سو نه‌بو د لشوی‌دی.حال دادی چه دو اړه سره یېلې دی .نعمت‌الله هروی په مخزن کښې ښکاره وا یې چه شیخ قدم دوه میني‌درلو دی یوه‌بی‌بی نیک بخته نو سیده او بله‌ساه بی‌بی و زیره وه.نو کوم شعرچه‌په دغه کتاب کښې‌دبی‌بی‌ګلې په‌نامه راغلی دي.هغه دبی بی نیک بختی‌نه‌دی بلکې ددې دو همې بی‌بی‌شعر ګڼل کیږی .

په‌دغه کتاب کښې شیخ قا سم افغان او اخون قاسم‌دیوه‌سړی نو مو نه بلل شوي دی .

وخ داخبره هم‌سمه ده شیخ قاسم افغان دشیخ قدم زوی‌دی‌چه‌په (١٠١٦ ه) کښې مړ شوی د او اخوند قاسم پاپین خیل دي‌چه‌تر(١٠٧٢ ه) لاژوندي ؤ او د(فوايد الشريعة) مؤلف دی .

دغه‌شان پکښې سیدحسین دجنګنامهٔ حسنین مؤلف او حسین چه‌دیو لخانله دیوان خاوند دی یو بلل شوي‌دی .خوداهم یوه اشتباه ده.

سیدحسین داخوند درو یزه د دینی سبک سلګری‌دی. او ددیوان خاوند حسین دپکلې اوسیدونکی‌ؤ چه‌په شعري سبک کښې‌دحمید‌په‌لاره روان‌دی .

٣- دسعید ددیوان په‌سر یزه کښې سعید ته‌دشیر شاه سوری دزمانی شاعر ویل‌شوی دی او په‌دی بیتونو یې استناد کړی‌دی .

له‌دی منحی انسب ساته دشیرشاه وه په‌دوه تو که انصاف داله‌سابیان کایو یې حق‌دنعمت بارزساپه‌دوش دي سلطانی بل‌دعالم په‌دازمان کاددغو بیتونو څخه ښکاره معلومیږی چه سعید دکوم مغلی پاچا ستاینه کوي‌خو نوم یې‌له شرمه‌نه اخلی ،بلکې داهم‌وایی چه‌له‌ده‌نه ساته دشیرشاه ستاینه زیاته بنناسبه وه‌خو اومن پوره معلومه شوی‌ده چه‌سعید خان‌دافضل خان زوی ؤلکه چه‌محمد مظفر دتاریخ اعثم کوفی په‌آخر کښې وایی .

دا كتاب ترجمه شو　　په لاچي كښې تم همه شو

په خدمت د سعيد خان و م　　خان و رګړی په هر شان و رم

د دې هسې و نی بر دی　　شیرین خکه سر اسر دی

۴ — د ګل او صنو بر د قصې په سر یزه کښې د طالب رشید د نیکه نوم اخوند عطفی لیکل شوی دی او ده ته یې د (۱۱۰۳) ه کال د شاو خوا شاعر و یلی دی.

خو دغه دو اړه خبری سمی نه دی. د دغی قصې له متن څخه ښکاره معلو میږی چه د طالب د نیکه نوم اخوند مصطفیٰ و او دی د (۱۱۹۳ ه) د شاو خوا شاعر و لکه چه و ایی :

د حضرت و وز رسل کال ه‍ -　　خلو ر و نوی و ر باندی لاله

(۱۱۹۳ ه) چه پښتو ګل صنو بر شو ه په سینه کښې مقر ر شو ه .

دا سهو له دې نه پیښه شوي ده چه د (نوی) کلیمه یې د (نو ر) په شکل لوستې ده.

نو له دې کبله اصلی سنه (۱۱۹۳ ه) په (۱۱۰۳ ه) بدله شوی ده .

۵ — ساپه یوه مجله کښې و لو ستل چه احمد شاه فتاو ه عبدالله خان و کیل الدوله لیکلی ده. خو دا خبره بیخی ناسمه ده. دا احمد شاهی فتاوی لیکو ال مو لوي عبدالله نو میږی چه دیوی زړی چاپی نسخی په اخر کی د مو لوی په نامه یادشوی دی او دغه نسخه او س په پښتو ټو لنه کښې خو ندی ده.

۶ په یو بل لوی کتاب کښې دا خو ند کر یمداد الف نامی شارحان مو لانا عبدالله قصو ری او حاجی عبدالله کو هاټی دیو ه سړی نو مو نه بلل شوی دی خو خبر ه داده چه دغه دو اړه جلا جلا پو هان دی او دو اړه د کر یمداد په الف نامه باندې په پارسیژ به بیلی بیلی شرح لیکلی دی. له بده مر غه دغه دو اړه شرحی د پښتو ټو لنی په کتابخانه کښې مو جو دی دی .

مو لانا عبدالله قصو ری په ختیه خمندی دده شرح (شرح کلمات و اقیات ) نو میږی چه په (۱۰۸۲ ه) کال یې په د کی کښی لیکلی ده. او د حاجی عبدالله کو هاټی د شرح نو م (مفتاح الدقایق) دی .

حاجی عبدالله په (۱۰۸۷ ه) کښې و فات شوی دی په دغه کتاب کی دا خو ند درو یزه نو م عبدالله بو دل شوي دي.

خو دا خبره کو م قوی سند نه لری . دا خو ند درو یزه دیو زوی (نو م) عبدالله دی چه د عبدالحلیم

پلار ؤ او دمخز ن پەهر ه نسخه کی‌دعبدالله ز وی بلل شوی‌دی نو بیا خنگه کیدای شی‌چه پلار او زوی پەیوه نامه موسوم کړی‌شی.

پەدی پول‌سر ەپەدغه کتاب کښی داخوند درو یزه یو نمسی هم د عبدالرحیم او هم درحیم‌داد پەنو مو یادشوی دی.حال دادی چەعبدا لرحیم بیل شاعر دی او رحیمدا دبیل چه ددواړو دکلام نمونی پەمخز ن کښی‌راغلی‌دی.

درو ښان پەکو رنی کښی عبدالواحد اواحداد عبدالقادر اوقادرداد، عبدالکریم‌او کریمداد، پیرمحمد او پیرداد او داسی نورسره یو بلل شوی‌دی مگر خبره داده چەدغه هر یو جلاجلاسړی‌دی احداددشیخ‌عمر زوی دمیاروښان نمسی‌دی او عبدالواحدد عبدالقادر زوی داحدادنمسی‌دی.عبدالقادر داحددادزوی دی‌او قادر داددعبدالقادرخو ر یی‌او دمحمدز مان‌زوی‌دی. کریمداد دجلال‌الدین زوی‌دی او عبدالکریم دمیرز اانصاری زوی‌دی. دغسی نور هم‌دی(۱).

۷- پەیوه تذکره کی‌داسی راغلی‌دی چەښایی میاعلی محمداو علی‌محمد مخلص سره‌یووی »په دې باره کی نوی باوری معلومات چەدحالنامې نەلاس تەراغلی دی‌دادی چەعلمی محمد مخلص دحالنامی لیکوال او دروښان مریددی او میاعلی محمد دپښتو یوبل شاعر دي چەداخوند درو یزه لەپیروانو څخەحسابیږي.

دغەشان پکښی دفقیر پەنامه یوشاعر دکیمیای سعادت ناظم بلل‌شوی‌دی خو خبره‌داسی‌نەده ددغه کتاب ناظم ښکاره وایی :

داکتاب‌چەسی‌تمام کړ مسمی‌سی‌پخپل‌نام کړ.

ددەنو م‌سعادت‌خان ؤنو ځکه دفقیر پەنامه کوم‌شاعر نشتەدی.دغەشان‌پکښی‌د میفی‌پەنامه یو پخوانی شاعر راوړل شوی‌دی‌خو داخبره کوم‌پوخ‌سندنەلري‌بلکی‌یوەتاریخی‌تیروتنه ده .

کوم مناجاتونه چەدسیفی‌بلل شوي‌دی هغه دمحمد گل‌فقیر دی دیو ەمناجات اخري‌بند دادی.

عاصی سپی‌ستاددرباریم لەگناهو نو تو بەکاریم .

ستادیدن تەامیدواریم زمادې‌لامن‌ستاد ې ا.ن وی .

ښائی پەقلمی نسخه کی د(سپی) کلمه(سفی)لیکل شوي وی او بیابه سیفی لوستل‌شوي‌دی

---

(۱) دحالنامی‌یادداشتونه :

پهٔ‌هر صورت دسیفي پهٔ‌ناسه پهٔ‌پخوانی زمانه کی کوم پښتو شاعر نهٔ‌دی راغلی .

پهٔ‌دې ډول پهٔ‌دغه تذکره کښې د(ذخیرت‌القراء) د کتاب مؤلف حاجي زبردست کاکړ بلل شوی دی .خوداهم یوه تاریخي اشتباه‌ده .

ذخیرةالقراء دحاجي فیض‌الله اثر دی نهٔ‌دسلاز بردست ولیچه‌دده پهٔ‌اثارو کی ذخیرة القرأ نشته‌دی.

۸- پهٔ‌یو بل کتاب کښې و یل‌شوي دي‌چه‌دعربی صاع ته (پاو ړی) همو یل کیږی او (او ړی) همورته وایی ځینی کسان (پاو ړی) دنقل‌کوونکی تیروتنه بولی. خو پهٔ‌دی ځاي کی دکلمی دلیک دودله مخه‌یوه اشتباه‌پیښه شوی دي‌پهٔ‌پخوانی لیک دودکی د ارتباط‌توری له‌کلمو سره یوځای‌لیکل کیده لهٔ‌دې کبله(پاو ړي) کوم جلالغت نهٔ‌دی‌بلکه (پهٔ) پکښې دا رتباط توری دی او (او ړی) دصاع پهٔ‌معنی یوه پښتو کلمه ده دغلته د او ړي پهٔ‌اندازه کی‌هم ډیرفرق راغلی دی‌چادپیښور دري‌نیم‌سیره بود لی‌دی چه‌د کابل (۲۱) پاوه کیږی.چاعراقی او ړی‌ته‌رطله. ۷۲مثقاله =دیرش‌خورده ۷نیم پاوه‌بودلی‌دی او حجازی او ړی‌یی ۵نیم رطله =۸۰۳ مثقاله =شل‌خورده=پنځه پاوه بللی‌دی.

مگر پهٔ‌دغه اندازه کی زیاته غلطی سوجوده ده.اصله خبره داده‌چه عراقی او ړی او حجازی او ړی پهٔ‌اندازه کښې سره‌فرق‌نهٔ‌لري‌یو ازی‌خبره‌دو سره ده‌چه عراقی رطلل شل‌استاره او حجازی دیرش استاره‌دی هراستار شپږدرهمه‌دی او هردرهم خلورمثقاله او م‌قیراطه‌دی .پهٔ دی حساب‌یو رطل (۸۳) مثقاله راځی او او ړی (۶۷۲) مثقاله او او‌ه‌پاوه کیږی‌چه‌پهٔ‌حجازی حساب هم یو او ړی دغوسره کیږ .

ددغه کتاب‌پهٔ‌یو عبارت کښې د(درد) پهٔ‌ځای (سینه) او پهٔ‌بل عبارت کی‌د(بهیده) پهٔ‌ځای (بهیر) وراچول شوی‌دی چه دقلمی نسخی لهٔ‌متن سره برابر نهٔ‌دي .

له دی‌کبله دځای او محل لهٔ‌مخه (درد) او( بهیده )سم‌او صحیح دي‌او(سینه) او (بهیر) ناسم او بی ځا یه دي .

دغه شان دکتاب پهٔ اصل متن کښې هم یوځای غلطی راغلی دی. هغه عبارت دادی (پهٔ‌شپږ او یا کښې دوه‌زاړی‌دی) .دفقهی مسئله داده چه‌پهٔ‌شپږ او یا او بناو کښی دوه

بنت لبون ز کوة و ر کول کیری او بنت لبون تەپە پښتو کښی (بو اري) و ایی‌نو ځکه ښایی چەد(دوەزاړی) پەځای (دوه بو اری) راوړی‌شی.

پەبل‌ځای کی (نیز بی) پە کشمالی ترجمه شوي‌دی خو دغه معنی او ترجمه بی ضرورته دەولی چەدغلتەله(نیز بی) نەسیلاب سطلب‌دی‌چەاو بەیې خړی‌وی خو او دمن‌پرې رو ادی .

۹ —پەیوه کتاب گی کی درشیدخان روښانی دمړینی تاریخ (۱۰۵۷) لیکل شوی دی او د دولت دابیت یې‌غلط راوړی دی:

پەیوەاەیی‌ارو الەتنەبیل‌شو - پەتاریخ دعین‌و نون‌چی‌یې‌سفر ؤ

مگرسم‌او صحیح تاریخ یی(۱۰۵۸)ەدی‌او ددغەبیت‌دو هەمسره‌پەدې‌ډول‌ده ( پە تاریخ دغین و نون‌چی‌یې‌سفر ؤ چەداسره‌داابجدپەحساب یوز رو اته پنځوس کیږی.

۱۰—دیو بل کتاب پەسریزه کی‌ددولت دپلارنوم داداالله لیکل شوی‌دی .

خو دحالنامی خطی معلوسیری چەاصل نوم‌یی‌دادمحمد ؤاو پە (دادو )بانديەشهو رو .پە حالنامه کی خو ځایه دده نوم د(دادو )پەشکل راغلی دي .

پەدغه کتاب کی‌داقصیده ( غم دیدەزړه سی‌محزون شو- پەمخلص پارسی خون شو) دحضرت‌علی کرمەاللەوجهه سرثیه بلل‌شوی‌ده خو داهم یوەلو یە سهوەده .ولی‌چەدغه و یرنەدعلی مخلص پەغم کی ویل‌شوی‌د دچەدشاعر مخلص‌یارو -پە یو بل ځای کښی‌هم دغسی تېرو تنه پیښه شوی‌ده.

ددې کتاب پەاخر کښی‌دوه بوللی دمیرخان نوسی شاعر دي چه یو پخوانی روښان شاعر ؤ. خو ددې‌خبري یادونه هیڅانەده‌کړی او هم دغسی غلی‌پە غلی‌پاتی شوي‌ده .

۱۱ پەډیر و کتابونو کښی تر دې چه پەیو نوی کتاب کښی هم‌دمیاروښان ساینەبی‌بی شمسو د لو دیانو لە کورنی بلل شوی ده. حال‌دادی چەاو من‌دحالنامی لە مخی پە پوره ډول خرگنده شوي دەچەبی‌بی‌شمسو دشیخ حسن لو راو دمیا روښان‌تر‌لەوه. یعنی دمیاروښان‌لە کورنی خخەوه.

پەیو بل‌ځای کښی دمیاروښان عمر (۷۳) کاله ښودل شوی‌دی .خو داخبره هم‌صحیح نەښکاری او کوم سندنەلری .دمیاروښان عمر د(۵۳) پەشاو خوا کښی اټکل کیږی . ولی چەلە حالنامی او نورو لیکنو خخه معلوسیری چەپەهندبانډی دبابر دوروستی یرغل پە

وخت کی (۹۳۲ﻫ) دی پنځه کلن ؤ حالنامه داهم وایی چه دی په (۹۸۰)ﻫ وفات شوی دی نو په دی حساب یی عمرله (۵۳) نه‌نه‌شی زیاتیدای.

دغه شان په یو ځای کښی علی محمد مخلص دارزانی ورور بلل شوی دی.

خو دا خبره هم سمه نه‌ده او یوه بیره زره خبره ده. نوی معلومات دادی چه علی محمد مخلص په قام شینواری دابابکرزوی او دحالناسی لیکوال دی او ارزانی په ختیه خمندخویشکی دی پلاریی برهان نوسیده نو ځکه دواړه سره‌ورونه نه‌شی کیدای. البته دارزانی یو ورور دد سلاعلی په‌نامه په‌تذکرو کښی یادشوی دی. دحالناسی لیکونکی علی محمد مخلص ددولت شاعر ملگری ؤ او دواړه په‌هند کی اوسیدل. نو دولت دده په حال به خبر ؤ او په‌یوه ویرنه کښی یی دمخلص په‌نامه یادکړی دی لکه چه‌دمخه ورته اشاره وشوه. ددی خبری بل لوی دلیل چه‌دحالناسی لیکوال علی محمد مخلص دی:

دده خپل شعر دی چه په‌حالنامه کښی راغلی دی:

مخلصا از قول و فعل حاسدان بدگهر بی غم بی رنج اندر هر زمان اخیکار نیست

پای

بسم‌الله الرحمن الرحیم

پو هاند دوکتور احمد جاوید

# قدیمترین آثار چاپ شدهٔ پښتو

چنانکه‌بر شمابهتر معلوم است صنعت چاپ بشکل امروز نتیجه فکر و ابتکار گو تنبرک سانیسی المانی‌است که درسال ۱۴۵۳ با اختراع حروف سنگی وسپس فلزي صنعت چاپ را بجهان معرفی کرد. ونخستین کتاب مطبوع جهان انجیل معروف چاپ همان گو تنبرک است که درسال ۱۴۵۵ میلادي در۶۴۳صفحه انتشار یافته و دیگر اشعار هو مر است که در ۱۴۸۸ منتشر گردیده .

قدیمترین کتا بیکه بزبان دري درجهان بطبع رسیده‌یکی داستان مسیح و دیگري سن پید رو است که هردو باتر جمهٔلاتین درسال ۱۶۳۹ میلادي مطابق ۱۰۴۹ ه.ق درشهرلیدن بوسیلهٔ مرد فاضلی بنام بود دیکو دودیو بچاپ رسیده است .

همین شخص درهمان سال دستور زبان دري را بزبان لاتین بنام عنصر هاي زبان فارسی بچاپ رساند

درسال ۱۵۴۹ نسخه اي از تورات فارسی بخط عربی بهسه زبان دیگر در استانبول به چاپ رسیده است وقدیمترین کتاب دري چاپ عثمانی فرهنگ شعوري است که درسال

۱۲۵۵ چاپ و منتشر شده است. کتاب گلستان سعدي و پندنامهٔ عطار از جملهٔ کتب است که هر دو درسال ۱۲۴۳ درمطبعهٔ بولان مصر بچاپ رسیده‌است.

بسلسلهٔ چاپ در زمان پارینه درعهد صفویه دراصفهان توسط ارامنه مقیم جلفا چند کتاب بطبع رسیده که در کلیساي آن شهرموجود است. اما صنعت چاپ در ایران در دوران ولایت عهدي عباس میرزا فرزند فتح علیشاه قاجار آمده و نخستین چاپخانه درسال ۱۱۸۹ ه بکوشش میرزا زین‌العابدین در تبریز دایر شده است.ظاهراً نخستین کتاب چاپسنگی ایران تاریخ معجم است که درسال ۱۲۵۹ بچاپ رسیده است تاآنجا که معلوم است اولین چاپخانه در هند براي چاپ کتاب دري درسال ۱۲۵۰ در کلکته دایر گردیده و کتاب انوار سهیلی چاپ بمبئي ۱۲۴۳ (مطابق ۱۸۲۸) ازجملهٔ قدیمترین کتب چاپی در هند بشمار میرود. چاپهاي انگلیسی در هند بیش از ین سابقه دارد. در افغانستان صنعت چاپ با تأسیس مطابع مصطفاوي و شمس النهار در عهد امیر شیر علیخان رواج یافت.

نخستین کتاب چاپی افغانستان رساله سوم بحجة قویه در ابطال عقاید وهابیه غویه از تألیفات مولانا عبدالرحمن الشهیر بخانملا خان است که حسب الامر امیر شیر علیخان در دوران والی ممالک افغانستان در دارالسلطنت کابل در مطبعه مصطفاوي باهتمام میرزا محمد صادق درسال ۱۲۸۸ ه.ق در ۳۰ صفحه سه صفحه ئی تصحیح اغلاط حیله طبع پوشیده.

نخستین کتابیکه در افغانستان عبارات و مصطلحات پشتو دران بکار رفته کتاب قواعد رساله است که از انگریزي بزبان فارسی و افغانی حسب الامر امیر فرمانرواي ممالک افغانستان و ترکستان امیر شیر علیخان مؤلفه محمد ابراهیم خان اجیتن رساله درمطبعهٔ مصطفاوي در دارالسلطنهٔ کابل باهتمام میرزا محمد صادق خان در ۳۸۳ صفحه با نقشه‌ها بچاپ رسیده است. نخستین کتاب چاپی ترجمهٔ بزبان پشتو درافغانستان رساله قواعد پلتن است که حسب فرمان امیر شیر علیخان از لفظ انگریزي بزبان تهور بنیان افغانی ترجمه یافته و در ۸۰ صفحه منتشر گردیده است. این رساله درحدود ده صفحه وعظ بزبان دري و درضمن مطالبی جالبی دارد در مورد نظر کسانیکه مخالف ملازمت پلتن (پلاتن) و لباس نظام بوده اند. متاسفانه دو نسخه که در اختیار نگارنده است تاریخ طبع ندارد.

درقسمت آثار چاپ شدهٔ پښتو درخارج افغانستان چنانکه در دیگر مقاله هاي این سیمینار

بیان شده است میتوان کتاب معروف ـگو لدن شهیت سال ۱۷۸۷ چاپ پتر سن سبو رک را دانست و بطو ر مسلم پس از ان منتخبات دو رن منتشرهٔ سال ۱۸۴۷ رامیتوان نام بر د و به همین تر تیب مطالب چاپی پشتو در تألیفات دانشمندان د یگری مانند دار مستتر ـپا دري هیوز ٬تر وسبـبیلوـ روارتی دیده میشو د .

نخستین عبارت پشتو که درآثار مؤلفان ایرانی دیده شده همان جمله ایست که احمد شاه بابابه تیمو رشاه فر زند خو د درمشهد گفته صاحب مجمل التو اریخ آنرا ضبط کرده است .

قدیمترین کتاب چاپی پشتو در هند غالبا رساله ذخیرة القراء و تجوید افغانی باشد که د ر سال ۱۸۴۷ یعنی ۱۳۰ سال پیش بفر مایش میان آغه محمد درمطبع اسلامیه پر یس لاهور باهتمام منشی مظفر الدین در ۴۴صفحه منتشر شده‌است.

نخستین تألیف مستقل بز بان پشتو درافغانستان درعهد امیر عبدالرحمن خان بچاپ رسیده است و ان کتابچه مو سوم به سؤال وجواب دولتی و بند و بست سلطنتی است .

مؤلفه ملاغلام جان لقمانی پشتو نو یس که در۶۹ صفحه درروز چهارشنبه ربیع الاول ۱۳۰۳به چاپ رسیده است. دومین کتاب مستقل تر جمه‌ازدري رساله مو عظه است که در سال ۱۳۱۱در۱۵۶ صفحه بچاپ رسیده است. در کتاب میز که جنگی پلتن چا پ دو رهٔ ضیائیه نیز اصطلاحات عسکري په پشتو داده شده‌است که این کتاب بفر مان شهزاده‌حبیب‌الله درسال ۱۳۱۴در ۴۰۰صفحه بچاپ رسیده‌است.

درزمان امیر حبیب‌الله خان حسب فر مان معین السلطنة رساله اطاعت او لی الا مر تألیف مو لوي‌عبدالرب از زبان دري‌تو سط صالح‌محمد تر جمه و باهتمام محمد سرو رخان جر نیل کارخانه جات و بقلم سید محمدایشان در ۲۹صفحه درماه شو ال ۱۳۳۴ درمطبع سنگی ماشین خانه دارالسلطنة کابل بچاپ رسید.

بعد از نشرات پشتوي سراج الاخبار که مجموع آن میتو اند یک رساله راتشکیل دهدظاهرا نخستین کتاب درسی‌پشتو رساله یوازنی پشتو (خاص افغانی) است که د رمطبع و زارت جلیلهٔ معارف در۵۲صفحه درسال ۱۳۰۱ بچاپ رسیده استـ و د ر پشت جلد چنین نو شته شده است : «این نخستین نمو نه کامل بو دن زبان افغانی است که ازاثر تر بیة اعلیحضرت

زي امير امان الله خان از سعر که دپښتو براي مکتبهاي عمومی افغانی به امضاء و زارت جليلهٔ معارف برآمده است.» مهتمم اين كتاب قاضی گل احمد و کاتبان مير زا محمد امين سر کاتب سر که دپښتو است ـ ديگر ازسلسلهٔ تأليفات سر که د پښتو پښوويه ( صرف ونحو افغانی)است که در ۳۳ صفحه بچاپ رسيده‌است.

کتابهاي ديگر بنام لمړي کتاب دپښتو ـ دويم کتاب تأليف مولوي صالح محمد کندهاري سال چاپ ۱۳۳۷ هـ.ق و کتاب قاعدهٔ افغانی تأليف قاضی گل احمد مهاجر بشاوري سال چاپ ۱۲۹۹ ازآثار دورهٔ امانيه است.

اينک فهرستی از کتب چاپ شدهٔ قديم پشتو تاآنجاکه دراختيار بنده بوده و يا بان دسترسی يافته ام تقديم ميشود:

۱ـ ديوان عبدالحميد الافغانی با هتمام الحاج جناب قاضی ابراهيم صاحب و ملا نورالدين ديو اخان صاحب به تصحيح وتنقيح مولوي عبدالله صاحب و مولوي عبد الرحمن پشاروي بقلم آقاجان ربيع‌الاول ۱۷۸۷ در۳۸۱ صفحه چاپ مطبعه حيدري‌واقع بمبئی.

از اعلان پشت جلد معلوم ميشود که کتبی‌مانند اسرارالعارفين و منهاج العابدين و رشيد البيان و ديوان حميد نيز درهمان سالها به پشتو بچاپ رسيده.

۲ـ کتاب‌نوي عهد يعنی دخداوند عيسی (مسيح )انجيل پښتو شوي له اصلی‌يونانی ژبی نه چهاپ شوي‌په مطبع کبنی دستون استن صاحب په ښهر تفرد۱۸۶۳ عيسوي په ۷۷۹ صفحه (نسخه هاي چاپی انجيل سابق ترازين نيز موجوداست.)

۳ـ زبور دداؤد ترجمه‌ازاصل‌عبرانی برتش اوفارن بايبل سوسايتی مطبع استيفن استن ۱۸۸۲ تعدادصفحه ۲۷۰

۴ـ زبورچاپ برتش فارن بايبل سوسايتی ترجمهٔ توسطجوکی وساير بهمکاري‌ملا حميدالله مطبع ناپ سال چاپ ۱۸۹۱ تعداد صفحه ۱۷۰

۵ـ روزنامهٔ ترجمه ازاصل عبرانی به پشتو به مدد قاضی عبدالرحمن وغلام جيلانی کاتب درمطبع‌برتش فارن بايبل سوسايتی لينډن سال چاپ در۱۸۹۵ در۱۶۲

۶ ـ رشيدالبيان مع‌ترجمه نماز و ديگر رساله هاپه ايماي نامدارخان و اهتمام سلطان بخش

داروغه جیل پشاور (منظوم) سال چاپ ۱۲۸۵ تعداد صفحه ۶۳

۷- اسرار العارفین- تألیف امام غزالی با هتمام جناب قاضی فتح محمد و قاضی عبدالکریم در مطبع فتح الکریم بمبئی سال طبع ۱۳۰۲ تعداد صفحه ۵۶۵

۸- تفسیر بی نظیر ترجمه تفسیر چرخی بفرمایش میان محمد صاحب پشاوری مطبع احمد سال چاپ ۱۳۰۲ق تعداد صفحه ۱۸۰

۹- کیمیای سعادت و شرح اسماءحسنی به ایمای غلام قادر صاحب ساکن پشاور باهتمام پیاریلعل تألیف حاجی سعید سال تألیف ۱۱۵۱ (منثور و منظوم) چاپ مطبع هندو پرشد دهلی سال چاپ ۱۳۰۶ق تعداد صفحه ۷۲

۱۰- تذکرة الابرار والاشرار تألیف اخوند درویزه ننگرهاری فرمایش مفتی محمود مطبع هند و پریس سال طبع ۱۳۰۹ تعداد صفحه ۲۳۵

۱۱- مخزن الاسلام اخوند درویزه تحفه هند پریس دهلی بفرمایش جهجو سنگه سال چاپ ۱۹۰۳ تعداد صفحه ۱۶۶

۱۲- فتاوی احمد شاهی تألیف مولوی عبدالله قندهاری سال طبع ۱۳۲۲ ضمیمه در مکنون که اصل به فارسی سرورالمحزون ترجمه نورالعیون تصنیف شاه ولی الله صاحب ابن عبدالرحیم العمری الدهلوی است- سرورالمحزون راشاه ولی الله صاحب بنابر درخواست میرزا مظهرجان جانان ترجمه کرد اصل کتاب عربی بنام نورالعیون فی تلخیص سرالامین المامون تصنیف علامه ابوالفتح محمد بن محمد مشهور به سیدالناس است.

۱۳- بهارنوروزی بفرمایش جهجو سنگه از بیاض ملک نوروزخان و اشعار محمد رفیق و ملامقصود و میان اسلام و شعرای دیگر ترتیب یافته با مقام و راگهای هندی مشتمل بر رباعیات، غزلیات، چاربیته و مستزاد چاپ مطبع منشی نولکشور پریس دهلی سال ۱۳۲۵ ه. ق تعداد صفحه ۱۲۸

۱۴- دربی بها ضابطه میراث از تقاریر گل محمد تلمیذ لقمان ملا صاحب بفرمایش غلام محی الدین و محمد اسلم مطبع نولکشور لاهور سال طبع ۱۳۲۵ تعداد صفحه ۱۰۷

۱۵- مخزن التفاسیر تصنیف محمد الیاس صاحب پشاوری به ایمای احمد میرزا تر کمانی

از خاندان نواب بهرام خان سپه سالار وزیر اعظم اکبر پادشاه غازي طبع محمود میرزا خان مطبعه خادم الاسلام دهلی تعداد صفحه ۱۶۵

۱۶ - طب بو علی سینا المسمأبه تحفة العاشقین معه طب حیدري تصنیف عجب خان فرمایش حاجی ملک دین محمد تاجر سال چاپ ۱۳۳۶ مطبعه کریمی صفحه ۳۳۳

۱۷ - رموز خطک مشتمل بر اشعار فارسی - اردو و افغانی غلام محمد خان متخلص به خطک مطبعه شریفی پریس پشاور تعداد صفحه ۵۶

۱۸ - کتب ذیل نیز از جمله چاپ هاي قدیم بزبان پشتو بشمار میرود:

جنگ نامه اسامین سال چاپ ۱۲۹۳

- غل اوقاضی سال چاپ ۱۲۹۳

- قصه شهزاده بهرام و گل اندام سال چاپ ۱۲۹۴

- سیف الملوک ۱۲۹۶

- خلاصهٔ کیدانی ۱۲۹۸

- نیرنگ عشق ۱۲۹۹

- مقدمهٔ جذري ۱۲۹۵

- نورنامه ۱۲۹۸

- شاه و گـــــــدا ۱۲۹۹

معراج نامه ۱۲۹۵

پایان

بسم‌الله الرحمن الرحیم

قیام‌الدین خادم

# د پښتو حیاتي فلسفه د متلونو په ملاحظه

د هر قام د لیک ژبه دوه قسمه ادبیات لري : شفاهي - او تحر یري . شفاهي ادبیات هغه قسم دي چه په پښتو ئي ولسي ادبیات بولي.

ولسي ادب د قوم د روایاتو - جمالیاتي شعور او سو شل عقلیت نما یندگي کوي . دا قسم ادب د هر قام د پیدایښت او څیر یدنې سره یو ځاي ځیري د قوم مد تمدن او کو لتور دقوت په اندازه د هر قوم ولسي ادب قوي او معقول وي . ولسي ادب د هر قام د کلاسیک او روما نتیک ادبیاتو بیخ، ستنه او تهداب گنل کیږي.

و سو یل چه د پښتو ولسي‌ادب ډیر بهاي دي. او معاصر شعرو نه په استفاده کو لو لگیا دي. د پښتو دولسي ادب هستنه او زړي دوه لنډیزه دي. یو پلو ئي لنډي ده. چه مسره تپه او ټکي‌ئي‌هم بولي.

او بل پلو ئي متل یا ستلو نه دي چي دادوا ړه قسمه ډیر قدامت او لر غو نتوب لري. خو د چاپ د مشکلاتو له کبله افغا نانو پخوا ني آثار نه دي ساتلي.

و سو و یل‌چي دادوا ړه قسمه داو سني ادب مهمه برخه احتوا کوي . خو فرق‌ئي لکه چه دو سره وي‌چه لنډي‌د پښتنو جما لیاتي اجتماعي شعو ر تمثیلوي. او ستلو نه عقلاني او فلسفي

خرابیږي.زه‌دلته دلنډیو شخصه په هم‌دي‌لنډه ویناتیر یږم اوپه همدي ځاي ئې پریږدم . ځکه چه زما مطلب متلو نه‌دي .

دمتل د کلمې اصله معنی ماته نه معلو میږي.خو دعربي د مثل ـمثال او قریب المثل معنی واضحه ده. زه نشم و یلی‌چه متل بدله مثل نه جوړه‌شوي کلمه وي .

مگر دمثل په معنی سري پو هیږي‌چه داهغه بدیعه حکیمانه جمله وي‌چه دتشبیه ، کنا ئي‌او مثال‌په ډول د کلام دتحکیم دپاره‌راو ړل کیږي‌لکه دا«چه‌ځې‌ځې ابا زو ته به راځې!» دا دپښتو ردخلکو متل دي. په اباز و کښې له ډ یرپخوا څخه د کابل په سیندیو پول جوړ شوي دي. نو په سیند خوبي‌پوله تیریدل نه کیږي.نو ځکه و ائی :

(چه‌ځې‌ځې‌اباز و ته به‌راځې).دمتل معنی یوازي‌او خاص د ابا زو دسیند پو ل نه دي مد عا هدو سره تمثیل دي‌چه کښې گو دره‌او بې پاله‌په سیند سري گډشي‌نو لاهو به شي .

مدعادادهچه غرخولوي دي‌مگر په سرئي‌لارلتو ل په کار دي. او بې گو دره مه گډ یږه یعنی فعل او عمل وخت اوزمان اومساعد چانس غواړي.په‌بې فکري بیړه او بې لاري کا رو نه ورانیږي. متل دغسې یو کلام دي.چه دخبرو مالگه حسا بیږي .

متل‌باید . و پیژندل شي

متل هغه عام‌آهنگدار‌ه سو جزکلام دي‌چه په حکمت بناوي . او ډ یر جز ئیات و رلاندي راځې. په متل کښې عمو میت آهنگ ایجازاو حکیمانه رنگ شرائط دي .

لکه: مه کوه‌په‌چاچه رابه شي‌په تا

یوځان‌شر موي.بل تمام شر سوي

دمشر پل‌د کشر پو ل

او س سو نړ خپل مطلب ته رانږدي شو.

دپښتنو عقلیــــــــــــــت

پښتانهٔ خپل قو سی روح‌عقلی مزاج او ملی سجا یا و ته «پښتنو لی» وائی چه سو نړ و ربا ندي ځانته اوجلا کتابونه نشر کړي دي.

سو نږ دلته دپښتنو په حیاتی فلسفه باندي‌دمتلو نو په سلاحظه گړ یږ و. له کو سو اخلاقی او تهذیبی عناصر و څخه چه ددي‌قوم ختیه جوړه شوي ده هغه همدغه خیز و نه دي‌چه ددوي

په متلو نو کښې خوله په خوله راغلي‌دي او ددوي عقليت حساب‌يږي . او قرآن حکيم و يلي دي‌چه« وشاورهم‌في الامر فاذاعزمت فتوکل‌علي‌الله : يعني اول مشوره وکړه. او چه عزم دي وکړ-او اقدام ته تيارشوي. نو بيادخداي په توکل په کارلاس پوري کړه. »
دلته د کار په باب دري مرحلې ښودلې شوي دي :
اوله مشوره . دوهمه عزم دريمه کاراو عمل .
ارادہ او اقـــــــــدام

نن‌تر له دنيا د(کار)ددري حرفيزي کلمې په محور رچورلي. د کارا و فعاليت نه مخکښې دعزم او ارادي مرحله ده. او دعزم او ارادي يا اقدام نه مخکښې دصلا او مشوري مرحله ده . چه پښتانه ورته جرګه وائي.
جرګه دپښتنو په کولتور او تهذيب کښې دومره کلک پوخ او ثابت تاريخي مقام لري چه پښتانه وائي: (څوک چه جرګه نه مني هغه پښتون نه‌دي. چه‌په جرګه پاس نه شي‌هغه قانون نه‌دي./) د جرګې او ديمو کراسي په باب دپښتنو متلو نه دادي :
«پوښتنه کړه. نو سپړنه کړه!»

يعني په دليل او قانون سي ووژنه. داسي نه‌چه‌مي مه وژنه! -همدا مضمون په قران حکيم کښې داسې راغلې دي : ليهلک من هلک عن بينته و يحيى من حي عن بينته ) يعني ( که څوک وژل کيږي‌هم په دليل دي مړشي. او که ژوندي پاتې کيږي هم په دليل دي‌وي ) مدعا دومره ده‌چه پښتانه هيڅکله پړي ته ځان نه ورکوي. که پړ شو. نو معناسړ شو. «په سلو وهلی ښه دي.نه په يوه پړ! »
وګوري پښتانه څو مرحله پړي ويريږي او هغه کارته اقدام نه کوي چه قام ورته ( پړ ) ووائي . ځکه چه
«دښاردروازي تړل کيږي. خو دخلکو خولې نه تړل کيږي»

دو ساهي پښتون پره ملامته په ځان‌نه مني. ځکه چه دخلکو خو لوته لو يږي . او پيغور لري. پښتانه تل‌دننګ (قانون)تابع دي: «له ښاره ووځه. له ننګ خه‌مه وځه! »
دننګ او دوددسراعات او پير وي‌دهر چاسره او دهر چاپه حق کښې ضروري ده .

حتی‌دو رو ر په حق کښی هم: «و رو ري به کو و حساب تر منځه!»حق او قانون د و روږو دپاره‌نه ماتیږي:«خبر ه کوه دخداي دپاره کو تکک و هه دو رو ر دپاره ! »
دو رو ر دپاره سر و ر کول کیږي. ځکه داغیرت دي. مگر حق دو رو ر د پاره نشي پاسال کیداي!!!
او س به راشو د کار دارادي ، عزم اواقدام کو لوته‌ځینی خلکک داسی دي چه‌دارادي ،عزم او اقدام په ځای ستر ددوي. دپښتنو متلو نه به‌دي باب و ائی :
«په ښو تادي.په بدو تأمل»یعنی چه ښو هیري‌دغه کار ښه دي. نو ښیل پکښی ښه دي – زمو نږ یو شاعر و ائی:
(خو راته و وایه چه یاریم‌نولاښاردښه دي؟
دشو نښو لاندي دي‌په‌نه او په هوښه ښو هیرم؟ )
پښتانه په ښو کارونو کښی ځان په خداي‌سپاري‌چه‌له هر چا قوي دي. او تل دحقی‌چاري سل دي :
«تو کل نر دي. اندیښنه ښځه!»یعنی اقدام په کار دي . او تو کل :
«چه درو سی خه به سو سی!»
«له پرو ت‌زسري گر ځندگید ږښه دی!»
«کار اسان دي.پیل ئی گران دي. »
«لاس‌سر د دي. ستر گی نامر دي»
ځکه چه ستر گی کله کار ته سپنیږي! ځینی کسان داسی دي‌چه په تقدیر او نصیب حو اله و ر کوي. و ائی: څه که نصیب سی وي‌و به شي. او لاس تر زنی کښیني. په‌دي باب پښتانه و ائی: «ته حر کت کوه خداي به بر کت در کړي »

کاراو فعالیت

کار دغړیو یاسغزو هغه ارادی فعالیت دی‌چه فائده و رنه لاس ته راځی. د کار په‌باب پښتانه‌و ائی :
«له‌بیکاره- خداي بیزاره» دمعنائی داده چه و زگار او بیکار هیڅ قیمت نه لري - ځکه «هر څوک چه‌و زگارشي - یاغل‌شي‌یا بیمارشي»

که په کار لاس تنها کېږي نو سر غلی هم ورته لاس ته راځي. ځکه چه «د لاس تنها که سر غلا ده» دلته شاعرانه تشبیه مراد نده بو حقیقت ته اشاره ده چه «ګټې د کټو لاندې دي» ګټې و اروه.

ځکه تیاره کړه باره جوړه کړه. او ښاروته و دان! ځکه چه

«اسونه ئې په سوګټې - سیږ ونه ئې په خوړه لوګټې» که د لاس په تنها کړاو د تندي په خولو ئې نه ګټې نو ښوک به ستا باغ له ګلانو ډک کړي دا ستاخپل لاس دی چه ګلان زرغونوي:

«خپله لاسه . ګله لاسه »

بل سړئی او بادار نشته. سړئی او بادار پخپله ته ئې !

«و ګټه سړئی پشان - و خوره د اغا پشان »

اغائی نشته که شته په کار کېښی ده .

«چه په کار شرمیږي - هغه کله پو ر ته کیږي»

نو پا خه

«پیاله کړه تر رو دلاندې او به کړه بهاندې ! - »

مه و یریږه او کار کوه: ځکه «د پاچا پا چیي ځي - د مزدور مزدوري نه ځي» هغه وریاده او دا په زحمت!

او «خدای د چا زیار نه ضائع کوي»

پاڅه کار و کړه ځکه چه :

«دلته غوائی اخر خاوند قصاب دی»

کار هر څه چه وی ښه دی ځکه چه «له ایکاره بیکار ښه دی.» کار و نه خوږیږي ده وایه ده کار نشته. «د کور ګټه - د لاهو ر ګټه» کار یګړ هر څو که چه وی دقدرو ړ دي : « چه یو لو ړ ئی تر ملاوی تري مه ئی ر غوه» خدای هیڅ اته و ر یاشی نه و ر کوي نه سه وایه: «نه جغ کوم نه سپاره خدای بی را کې په تیاره»

د کار په سر دثبات او استقامت مسئله ده

## ثبات او استقامت

که په کار کښې ثبات او استقامت نه وي په کار نتیجه نه سر تیږي. په دي باب کښې پښتو متلونه داسي وايي:

«آس لره په لاس لره»

یعنی خپل آس په خپل لاس کښې ساته سه پر پرده چې ستا په آس بل څوك سپور شي كه ز و بیا ستا آس نه وي «دپاخه استاذ دیگ په وروو رو پخیږي» یعني چه کار دې پیل کړ. صبر او استقامت په کار دی ځکه :

«دصبر میوه په صبر پخیږي.» چه اسباب او علل را غونډ نشي کار نتیجه نه ورکوي.

## دعمل نتیجه

هر عمل خپله نتیجه لري. که ښه کړې ښه به گورې که بد کړې بد به وینې. دانشته چه کار بې نتیجې پاتې شي. «چه څې کرې - هغه به ریبې .»

«چه بد گرځې - بد پرځې» د بدعادت نتیجه داده چې «بدعادت چې زورو رشي عقل سرو رشي» تر ټولو ښه دحکمت خبره داده چې «خپل عمل - دلاری مل»

## ملت او وطن

که دملت او وطن مینه نه وي نو خلك به په ښه شي را غونډ نه شي. پښتانه چې چاته ورو روائي په دې کې ملي او وطني دوا ړه و روري دواړه راځي. وگورې لاندې متلونه :«بدتر بور په بد ځای کښې پکاریږی» «خپل وطن په هر چا کشمیر دی».

«چه نه دي و یې سړي - سه نغن خوره سه غوړي » «خپل ته نامه وره پردي ته جامه» «خپل خپل دی - پردی پردی په یر و نارو خپل دی» «خپل وطنه - گل وطنه» «کورودان - دورو ر و دان» «که کاپر ئي - زما ځیگر ئي) « خدای سې دې بې خپلو کاپر و پر و نه کړی' »

«پر خپل وطن که خان وی - پر بل وطن ار یان وی»

«لو څی د کام سپکه غو ښته - سر ئي په دریاب کښې وچ شو . »

« که له سوره یو یم - له کامه خو یو نه یم »

«قام قام ته ځی - او به خپل مقام ته ځی»

«و رو ر دی وی - په لاهو ر دی وی»

«یاو ینه ژ اړی - یاسینه»

«او به په دانگ نه بیلیږی.»

## راستي او صداقت

دېوملت او وطن نه چه جامعه او دولت جوړشي. نو دغه خلکوته اخلاق او تهذيب په کار دی. په اخلاقو کښې تر ټولو دمخه (راستي او صادقت) راځي. په دې باب د پښتو متلونه وګوري:

«تياره په دان خوږوي - رښانيکان!» «چه سم دچاو يل وي - په هرچا به يې منل وي» «راست او سمه په لويه لار کښې ناست او سه» «سل کاله عبادت - يو مخبره دحقيقت» «غلېم دې که دسروي له خپل منافقه به بهتروي» «نيت سم کړه - لو سړی پر دښمن کړه».

## دځان عزت او ځان باور

داجتماعي اخلاقو په سلسله عزت نفس او اعتماد بنفس چه پښتانه ئې دځان عزت او په ځان باور بولي لوړه مرتبه لري که په يو قام ياملت کښې داخصلت راسخ شي نو په ژوند کښې ډير لوی کارونه کولی شي:

«ته پخپله دځان قدرو کړه ياځه»

«که دنيا کښې په عزت او سيده غواړې»

دځان عزت دادی چه سړی سپک اود شرم کارنشي کولای. لکه چه وائي: «يوځان شرموی بل قام!» ستل داخصلت غندلی دی په ځان باور هماغه شي دي چه په اسلامي اخلاقو کښې ورته (توکل) ويل شوی دی. متوکل انسان لاس تر زنی هم نه کښيني. اوذ يد او بکر دروازې هم نه ټکوي په خدای توکل او اقدام کوي. و به ګورو چه پښتو متلونه په دې باب څه وائي:

«پردی خو اره دیاپور دی یا پیغور دی» «پښې هلته ځي چه زړه ځي» «پياز دی وی - په نياز دی وی» «چه خبر شي بی اثره - ترينه پټه خوله بهتره» «ددنيا پيغور دآخرت تر اورکم نه دی» «دريدلی - په چانه دی چليدلی» «دنيا ترسرجار - سرتر ناموس جار» «چه ډيری شی - سرداری شی» «دوروروخو رسی کی - خو محتاجه سی نه کی».

«روح سی و اخله ــ نوم مه اخله» «کورسی دی تالاوی. خو بول سی دی بالاوی» « لنډ کلونهـ او برده ئی پیغور ونه » «سړه څه و هلی څه پوری و هلی» «يادخدای قدرت دی - يادسړو

غیرت » د اپو رته ستلو نه خبری‌نه‌دی.دچاپه تحت الشعو رچه‌دغسی‌معنو یت پرو ت‌وی هغه‌شخص پاله قامه یاله‌خانه شرسیری او هیڅ رذالت او حقارت ته‌تن نه‌و رکوی!

## عقل او سیاست

سره ددی تولو کولتو ری سو ادو او اخلاقو بنیادم ته‌عقل او سیاست هم‌په‌کار دی‌چه د زمان او مکان دمصلحت سره‌سم سنجش وکی او قدم و اخلی و به‌گو رو چه‌په‌دی باب دپښتنو اجتماعی شعو رڅه‌وائی :

«بیعقل دو نه‌په‌بل نه‌کوی لکه‌په‌ځان» «بیعقله جمال خو شوی - هو شیار کمال» «چه‌په‌تو رمه‌ پی و هلی نشی‌زره ئی‌په‌بدوه» «چه‌په‌شاتو سری - په‌زهر و ئی‌سه‌وژنه» «چه عقل‌ئی کم وی- په‌کو رئی غم‌وی»«چه‌نه‌کار - هلته‌څه‌کار» .

«خر پر لار که- سه‌خپله‌چار که» «ژرنده‌په‌چل گرځی.» «عقل‌که خوك سو سی- دولت کو رلره و ردرو سی »«که‌سر غو اړی- سر مه‌ فاشوه» «سلامی کړې- دخپل‌ځان بلامی کړی» «وگو ره‌سړی- و رلاندی‌و اچوه کالی»«هر شی‌چه‌غبرگ‌شی‌لنډیږی - خبره‌چه‌غبرگه‌شی‌او ږدیږی.» «او رله خپلی‌لمنی‌لگیږی»«پر دی‌سپی‌په‌ډ و ډی‌خپل دی».

## شتمنی او اقتصاد

شتمنی او اقتصاد ته‌نن خلك ډیر اهمیت و رکوی . که‌شخص ډیر سال نه لری. خو دو سره لو یه‌خبره‌نه‌ده. مگر که یو ملت غریب وی نو رښتیاده چه خپل حریت آزادی خاو ره او عزت به‌په‌مشکل‌سره‌و ساتلی‌شی.خو که‌مو نږشخصی سال او عالی کو لتو ر په‌تله کښی واچوو. نود کولتو ر پله‌به‌درنه‌شی. لوړانسان‌دځان حیثیت‌ساتلی‌شی. خو ټیټ‌بنیادم‌په‌دولت نه‌غټیږی .

دادی و اوری چه‌پښتانه اود دوی عقلیت څه‌وائی :

«پر بنډله‌لاری او ړي- و ړی‌نه‌اوړی»«جار دی‌شم‌رو پی- چه‌هم‌سر ئی‌هم‌گډ ی »

«جنگ په‌و سله- ننگ په‌غله» «چه‌زروی‌زاری‌دڅه‌ده؟»«چه‌زر لری- خبر لری» .

## سړیتوب

ددی ټولو معیارو نو سره چه‌په‌ذکر شو و عناوینو کښی راغلی‌دی . او په ډیر قیمت ارځی. پښتانه تر دغو علاوه یو بل لوړمعیار هم‌لری چه‌هغه د ډیر و خبرو‌سردی.

دغه‌لوړ احساس ته‌پښتانه «سړ يتوب» و ائي. سړ يتوب يو ډير اعلی شعوړ دی هر رسیدلی پښتو ن دائکر کوی: دغه کار یاعمل چه‌زه ئی کوم دسړی یاانسان دشان سره وړ دی که نه؟ نوځکه پښتونولی‌هم سړ يتو ب دی.خو بیاهم سړ يتو ب خپل‌مقام علیحده ساتلی دی.لاندی متلو نه به‌تر يوه‌حده‌د سړ يتوب‌او دهغه‌دمقابل‌سپکوالی او رذالت مفهوم‌ونه ترسیم کړی:

«سل‌دی‌وسره. دسلوسردی مه‌سره» دغه دسلوسرهماغه شخص دي چه پښتانه و رته‌د سړ يتوب‌په‌قدرقائل‌وی .

«سرچی‌دشال لایق‌وی - له‌کشمیره و رته راځی» دکشمیر دشال لایق سر هماغه دسړي سر دی .

«که‌غرلوی‌دی- په سر ئی‌لار ده»یعنی هر و ارخطا کیږی .سړی‌همت‌له‌لاسه‌نه‌و رکوی .

«چه‌قول‌ئی‌خطاوی- په‌قسم یې‌څه ویساوی» داهماغه دسړ يتوب له‌لاری او ښتی خلک دی. چه‌دهیڅ‌و یساواو اعتمادو ړ نه‌دی.

«لوی‌سی کړی- لو ئی‌رامه کړی» ځکه‌چه‌لو ئی غرو راو تکبر دسړ يتوب‌له‌شانه مخالف دی.

«که‌مشرمشر توب غواړی- نو کشر هم ددنیاد و دغواړی . » « یعنی دمشرمشر توب خوسنلی حق‌دی .مگر دکشر سره‌هم نادو دی کړ ل ښه‌نه‌دی:

«که‌هری ښځی سیرخان ځیږو لای- نوسیرخان به‌خله یادیدلای » یعنی په قوسونو او سلتونو کښی سړی لږپیداکیږی .ددغو ډیر درناوی په کاردی. « یادمی ته‌که- سوړ به‌می خدای کړی».

پښتو ن‌سړ يتوب غواړی. لو دسړ و په صف کښی بایدیادشی. سړ ښت دخدای کاردی . او پعځپله دانسان په فعالیت اړه لری! —یو بل متل و ائی :

« وګوره‌سړی‌ړ رلاندی واچوه کالی « یاو ینه‌ژ اړی ـ یاسینه.» «سړی کسه جامه پړی نسه!»«دهرسر دپاسه سردي!» او دهرسرقدر په‌خپله اندازه‌په‌کاردی:« دچادرو ازه مه‌ و هه په‌ګوته- ستابه‌نه‌و هی‌په‌لته.-» داهم‌یو سړ يتوب دی «چه‌یو خوری بل و رته ګوری له‌آسمانه کانی پر رااوری »«چه‌درانه باړونه وړی‌خو راک ئی‌ځو زدی».

پوهاند میرحسین شاه

# شلمه پېړۍ او په افغانستان کې د پښتو آثار

## د خپرېدو هڅې

شلمه پېړۍ په افغانستان کې له فکري تحول سره یوځای شروع کېږي او د نوي مدنيت آثار هیواد ته راداخلېږي چه البته په دغه فکري تحول کې محمود طرزي او د ده همکارانو مهمه برخه درلوده .

محمود د سردار غلام محمدخان طرزي زوی په ۱۳۲۰ هق ۱۹۰۲ ع کال بېرته وطن ته راغی نویي دوخت دامیر (حبیب الله) توجه د معارف، د اصلاتو او صنعت له موجودیت ته راواړوله او د مملکت د سیاسي ،اجتماعي او ثقافي انزوا د زیان خواوي یې ورڅرګندي کړي . طرزي هیواد ته له سراجعي وروسته د ترجمې دادارې رئیس تاکل شو.

دوه کاله وروسته په ۱۳۲۲ هـ - ۱۹۰۴ ع کې د حبیبي دارلعلوم او عسکري ښوونځی په غربي روش سنځ ته راغلل .نایب السلطنه سردار نصرالله خان د پوهنې دچارو د تنظیم واګې په لاس ونیول او کاکاسیداحمد کندهاري د حبیبئ ښوونځي د اداري چارو، قرطاسیې او کتابونو دتهیې ناظم مقررشو. د حبیبي دارالعلوم مضامین په ابتدا کي له ریاضي جغرافیه بدني روزني انګلیسي ،اردو او ترکي څخه عبارت وو، او دغه دارالعلوم د پښتو او دري مختلفو علمي کتابو د تالیف او چاپ مهمه لاره وه.

دحبیبئی دښونځی لهجوړیدو سرهسم دسید محسن بن‌سیدعبدالرحیم بن‌سیدعبدالحمید قندهاری دمزاراتو کتاب په‌پښتو ژبه دکابل د د ارالسلطني په مطبعه کي چاپ شو دغه کتاب بې‌منظوم اثر دی چې‌د کندهار دپنځلسو تنو ساد اتو، لکه با با صاحب شاه مسعو د او نورو احوال او خوارق یې‌راوړی دی‌دغه کتاب‌په‌دي‌بیت‌پیل کیږی. :

خو نی‌لوي‌پرو ردګاريی

چې‌غفاريې هم قهاريې

د کتاب‌او مو لف‌قوم په‌پای کې‌داسې‌راوړی :

«هذا کتاب مزارات افغانی من‌تالیف وتنظیم اقل‌العباد‌الله‌سیدمحسن قندهاري فی سنه ۱۳۲۲ دستخط‌مولف‌مذکور.»

دحبیبئی ښونځی دجوړیدو یو کال وروسته دسراج‌الاخبار انجمن په کال کې جوړشو ددغه انجمن په جوړیدو سره هغه فکری‌حرکت چې په خواشروع شوي وو نورهم پسې پیاوړی‌شواوسراج‌الاخبارپه‌حقیقت کي‌دهیواد‌والو دسیاسي‌او اجتماعي‌روزنې‌وظیفه‌په‌غاړه‌درلوده.

په‌سراج الاخبار کي په‌پښتو او دري ژبو مقالې خپریدې دپښتو او دری له مآخذو د پښتو شاعرانو اولیکوالو احوال بیانیدل، دغې جریدې د۱۳۳۱ هق کال دصفرې په‌۵او د۱۹۱۲ کال دجنوری په‌۲۳ دپښتو ژبې دقدامت او اصالت په باب دوه مقاله وکښله او دوه کاله وروسته یې په‌۱۳۳۳ هق کال دذلقعده‌۱، دجریدی دا خلاقیاتو په‌ستون کی د ژبې د اهمیت په‌باب یوه‌مهمه مقاله ولیکله‌او دپښتو ژبې دملي والی په‌باب توضیحات ورکړه ، سراج الاخبار ددغي ژبې اصلاح او ترقي د معارف دانجمن وظیفه وبلله چه دلته یې کټ‌مټ راآخلو :به‌فکرعاجزانه خود وظیفه انجمن عالي معارف باید اصلاح و ترقي و تفهیم زبان وطني‌وملي‌افغاني باشداز ارباب‌علم‌و‌دانش این‌زبان یک گروپ مخصوص تشکیل یافته کتابهای تعلیمیه ضروری و لازمي آموختن آ نراتد وین‌و حاضر باید کرد. حتی برای تطبیق دادن کلمات فني وصناعتي و اختراعات جدیده که‌نامهای آن درزبان افغاني غیر معروف است کلمات مناسب و نامهای مناسب به‌زبان افغاني پیدا باید کرد. و هرقدر اصلاح و ترقی که لازم است دران با ب اجرا باید کرد این‌را‌با ید هم بگویم که زبان افغانی مایک زبان باقاعده می‌باشد په‌سراج الاخبار کی ددغي مقالي خپرول ډیر موثر واقع شول او دولت

خپل ځنې نشرات په پښتو او دری دواړو ژبو خپاره کړل په ۱۳۳۴ هق کال کی دا طاعت اولی‌الامر درسالي پښتو ترجمه خپره‌شوه دغه ترجمه مولوی صالح محمدخان (۱۳۳۹هش) دمولوی‌عبدالرب قندهاری ددری اطاعت اولی‌الامر څخه کړی‌وه.

دغه‌رساله دمعین السلطنه په‌امر دکابل دماشین خاني په‌سنگی‌مطبعه کي‌دجرنیل محمدسرور خان په‌اهتمام‌دسیدمحمد ایشان په خطچاپ شوه او داپه خپل ذات کی لمړنی اثر دي چه دمعین السلطنه په‌امر په پښتو خپور شوی وي.

سراج الاخبار دمعاصر و او قدیمه و شاعرانو داشعارو منتخبات خپرول او دپښتو ژبی ارزښت او اهمیت یې توضیح کاوه. د۲ نشراتی کال په ۲۶ گڼه کی‌لیکی: «ملت افغانیه افغانستان نشین‌مانیز چون علی العموم به‌دوزبان متکلم می باشند ازآن سبب ادبیات ملی هم طبعا بزبان فارسی و افغانی بایدبود»

دهغه‌وخت‌دمعارف انجمن هم لکه څنگه چی‌سراج‌الاخبار و لیکل پښتو دخپلو پروگرامونو جزء کړه‌او دپښتو ژبی تدریس دحبیبئی په‌ښوونځی کی‌شروع شو مولوی صالح محمدخان چه‌په‌هغه‌وخت کی‌دحبیبئی ښوونځی ښوونکی‌و، دپښتو ددرسي کتابو جوړولو ته اقدام وکړ، اولمړنی کتاب‌یې دمعارف دانجمن دتصویب نه‌وروسته دکابل دماشین‌خانی په‌مطبعه کې‌په ۱۳۳۶ – ه ق کال‌د جمادي‌الثانی په ۱۲ هخپورشو او دملک‌دین‌محمد په‌اهتمام دلاهور په‌دین‌محمدی پریس‌یې‌چاپ هم‌وشو.

مولوي‌دپښتو ژبی‌دتدریس‌په‌رسایلو کی کامل‌دقت درلود، لکه‌څنگه‌چي ددغه کتاب‌لومړي خبر یې مولوي عبدالرب ته وسپاره نو موړي مولوي ولیکل:« مطالعه کردم شامل فقرات مفیده‌ء کلمات‌پسندیده‌می‌باشد وباصول‌وقواعدزبان‌افغانی قندهاری مطابق‌و موافق لهجه‌چاپ نمودن آن برای تعلیم زبان افغانی درمدرسه‌مبارک حبیبیه ضروری می باشد والله الموفق»

د دغه کتاب د مزایاو څخه یو هم دادي چي د ژبی دتدریس له معاصرو اصولو سره سم کښل شوي دي کلمات یې ډیر آسان تلفظ کیږی او د تدریس په سیستم کې ښوونکو ته هدایت لري.

په ۱۳۳۷ ه ق کال کي افغانستان استقلال ترلاسه کړ. نو لو روښنفکرانو دمعارف د امورو په اصلاح‌او خارجی دنیا ته دافغانستان دپیژندني او مطبوعاتی ډیر اختیا په لاره کي

دنوي اداري تشکيل سره ملګرى شول. په مرکز او ولاياتو کي زياتي جريدى او مجلي سنځ ته راغلي سراج الاخبار د ۱۹۱۹ ع کال په اکتوبر کى دامان افغان په نامه خپور شو. د پښتو ادب د تحقيق او مطالعي چارى چى پخوا پيل شوي وونوري هم پسى منظمي شوى په کابل کى «پښتو مرکه» دمولوي عبدالواسع قندهاري په رياست منځ ته راغله او دفترته يې د سلطنتي ارګ په شمالي برج کي ځاي ورکړشو ددغه انجمن اهداف له هغو اهدافو سره ورته والي لري چى پخوا محمود طرزى په سراج الاخبار کي دانجمن معارف لپاره ټاکلي وو، او سوږددې ليکني په پورته برخه کى هغه راوړه دلته په د هغه اعلان څه برخي راوړل شي چى په ۱۳۰۷ ش کال دميزان په ۷ نيټه دپښتو مرکي لخوا خپورشوي دي:

(۱) هرنوم دپارسي چى په پښتو نوموړي دديدپاره دي نومونه د سيوواو د ونوا ود وشودګلواو داروا ونورنامونه چى ناولده وي يالږا رويدل کيږى و کښل مي د پاره داږولو (جوړولو) دپښتو خبرو. هرڅه کښلى پانى چى په هره ژبه دهرچاڅخه وي ياور شکاره وي وځاى ته دمرکي دي وړاندى کى، کي په ملګرى و مرکي ته ور کوي شه که نه په خوښه دده بهخني و پيرو دول سي.

(۲) هرسيږه چى پدى مرکه کي پوهه ياژبه لري او ځان دې د رننه باسي خپله خوښتنه دي و کاږى چى پاڼه دملګرى دده په مرکه کي ورکړسي.

(۳) هريوسړى دهري پښي دپښتانه چى وي، دخپلي ژبې نومونه چى په تورو پښتو کى نه وى بيل بيل وکاږى او مرکي ته دپښتودي راواستوى.

نورښتن تعالي دستګيرڅخه داسي غواړوچى په سيورو کي دلوى بادارخپل پښتون دومره لوږمي چى خپل تللي يويى (دمسلماني) بيرته وګرزوي. هوښتن دي دغسي وکي»

دپښتومرکي په وظايفوکى ترټولو مهمه وظيفه په پښتوژبه د درسي کتابو نقل او د پښتو ژبې داصولو قواعدوضبط وه نو هماغه ووچى د غه انجمن د پښتو د درسي کتابونو نشرته هڅه وکړه دغه انجمن د خپرونوڅخه هم يوازني پښتو خاص ( افغانى ) ده چى په ۱۳۰۱ ش کال دقاضي ګل احمد په اهتمام دپوهنى په مطبعه کي خپره شويده يوازني پښتو دومجزوې لري. لمړنى جزوه يې عبدالوهاب کاسوى چى دانجمن ژبپوه وو ليکلى او دوهمه

برخه‌یې محمدزمان دانجمن لمړنی عضو کښېلی ده. دکتاب عبارت په خالصه پښتو دی او دغه مطلب ته‌د کتاب په مقدمه کی دامې اشاره شوې‌ده:

«مباحث مهم جزو اول کتاب عبارت است از حروف تهجی پښتو، بیان حروف مخصوص پښتو اوقات، ایام و ماهای شمسی و قمري، شمار پښتو ، اعضای جسمانی مردم ناقص و معیوب الاعضاء، لباس، غیره اشیاء و ظرف‌های خانګی، اسباب نوشت و خواند، اقسام رنګ، اوزان و سکه‌جات مروجه افغانستان، میوه و اشجار و ګل‌ها، اقسام غله، متعلقات زراعت ، اهل حرفه، اسلحه و آلات، خویشی و اقارب، اقسام طعام و متعلقات آن . . . . »

دکتاب دوهمه برخه پرځلویښتو درسونو مشتمله ده، په‌دي درسو کی ضروري جملې چې مبتدي شوونکي ورته ضرورت لري راوړل شوي دي.

دپښتو سرکي له کتابونو څخه یو کتاب «پښتو پښوونه» ده‌چې دغه اثر هم دوي برخې لري لومړۍ برخه یې دصرف او نحوې له ابتدایي قواعدو څخه بحث کوي او په دوهمه برخه کې یې ترکیبي او ونمي مصادر په سرد فهول را وړل شوي دي او وروسته له‌هغه د تعریفاتو جدااول دشاګردانو دزده کړې لپاره راغلي دي .

دغه رساله د۱۳۳۳ ه ق کال دصفري په‌میاشت کی دمعارف په‌مطبعه کي خپره شوې‌ده . د سراج الاخبار په‌مرمقا لواونوروهغو کتبو او رسایلو کي چې دغه مهال خپاره شوي دپښتو ژبې ملیت او رسمیت سوال تل مطرح وو او دغه موضوع دخپلوا کی دګټلو وروسته دمرحوم امان الله په‌وخت کی ډیره پرمخ ولاړه او دغه وخت پښتو دهیواد رسمي او ملي ژبه وه‌په دولتي لوایحو، نظامنامو او مقرراتو کي هم ددغومتونو اصلي ژبه پښتو وه‌او په‌دري‌نسخو کی دامې لیکل شوي چې دغه نقل له‌اصله‌سره‌د(پښتو)مطابق دي .

مرحوم امان الله د ۱۳۰۳ کال دصفري دمیاشت قندهارته سفروکړ او هلته یې دژبې او تدریس اختلاف موضوع ولیدله ددې موضوع په‌باب دوي په‌خپله سفرنامه کې‌دامې‌لیکلي دي :

« فقط چیزیکه سبب تکلیف طلبه قندهار ګفته می شود، همانامخالفت زبان است. اول اینکه چون تمام کتب درسیه آنها بفارسی تالیف و تدوین شده است زبان فارسی تعلیم میګیرند.

و باز ترجمهانرا بزبان افغانی سیاسو زند بااین مشکلات هم ماشاءالله طلبه قند هاری به بسیار خوبی نه‌تنها درس‌های فارسی خودرا امتحان دادند بلکه ترجمه و حاصل مطلب آنرا بزبان افغانی‌نیزبه‌بسیار درستی‌و خوبی بمن شنوانیدند . . . . علاو تاً چون بعضی پارچه های اخبار راکه درجیب داشتم بدانها دادم . هر واحدا آنها قرا رتسوید مانند داوطی همه عبارات اخبار رامي خواندند، و هم ترجمه آنرا چنانچه شایدمثل بلبل بیان میکردند . . . . .بایدوزارت معارف در موضوع این مخالفت زبان ومشکلا تیکه ازآن برای طلبه نوجوان عاید است درمجلس خویش فکر کند و یک صورت خوبی رادرین‌موردبسنجدتادراتیه درس های طلبه که زبان شان افغانی است نیز به زبان افغانی داده شود و کتب لازمه آنها نیز تایک درجه افغانی باشد، تاازاین رهگذر برای شان تسهیلات فرا هم آمده بیشتر د راخذ تعلیم دلچسپی پیدا کنند.»

په‌پای کي په‌لنډه توګه ویلای شوچی دشلمی پیړي په‌پیل کی پښتو دافغانستان ملی او رسمی ژبه پیژندل شوي وه او تدریس یی دشوونځیو په‌پروګرا مونو کي‌شامل وو او دغه کاردپاره درسی کتابونه ولیکل شول‌او دغه موضوع د خپلوا کی ترګټلو وروسته نورهم پسی تائیده شو. دپښتو ژبی دپرمختیا او په دغه خصوص کي د تحقیق او څیړنی لپاره پښتومرکه جوړه شوه ددرسي کتبو تالیف او تدوین دوام درلود او ددرسي کتابونو دتالیف او ترجمی پروګرام تل مطرح وو .

حبیب الله رفیع

# د پښتو د چاپي آثارو

## مجموعي او موضوعي فهرستونه

ما غوښتل چه د پښتو د کتابونو د (Bibliography) ترتیب کړم، او په کار یې لاس پورې کړ، خو د دې کار د ترسره کولو په لار کې ګام په ګام له ستونزو سره مخامخ شوم، یو له لویو ستونزو نه دا وه چې داسې یو کتابتون نه ؤ چې د پښتو آثار دې یو ځای پکې خوندي وي او هم په رسمي کتابتونو کې د پښتو پانګه بېخي لږه وه نو ځکه اړ وم چې د هیواد هرې هغې سیمې ته چې هلته به د پښتو کتابونو څرک لګېده ولاړ شم او کور په کور وګرځم، په دې برخه کې ډېرو محترمانو زما غوښتنه په ورین تندي ومنله او ډېر داسې کسان هم وو چې د کتابونو په راښودلو کې به یې اني‌باني کولې او په ورین تندي به یې ځواب راکاوه.

خیر په هر صورت، ما خپلې هغې ته دوام ورکړ او له هغو ټولو محترمانو څخه د زړه له کومې مننه کوم چې د پښتو د دې خدمت په لاره کې یې مرسته راسره کړې ده.

کتابګوټی مې تیار کړای شو او خپور شو خو نیمګړی حتماً دی او باید هم نیمګړی وي ځکه

چې داسې درونه کار ديوه تن کارنه دی او هغه هم زماغوندې ناتوان . (*).

دپښتو دېرداسې کتابونه شته چې په هېواد کې يې نه په رسمي او نه په ځانی کتابتونونو کې څرک لګېږي نو ځکه زما لاس نه وررسېده او هم داسې کتابونه شته چې دلته وو خو زما لاس ته نه رارسېدل يا په بل عبارت زما لاس نه شو وررسېدلی او هم ښايي ځينې کتابونه ديادداشتونو د کلو وېږي له مخې رانه او ښتي او سهو آيي نوم رانه پاتې شوی وي.

په دې توګه ساو کړای شول چې په دې کتابښود کې دپښتو د(۱۵۵۸)تو کو کتابونو نومونه او ځانګړنې ( خصوصيات)و کاږم خو بيا هم لکه مخکې مې چې وويل دادپښتو تول چاپي کتابونه دي او زه فکر کوم چې ښايي ايله بيله سې په سلو کې اټيا اسټ کړي وي ، زما ددې اټکل له مخې دپښتو دچاپي آثارو شمېره تر دوو زروتو کو اوړي، په دې شمېره کې سې سکر رچاپونه، دپښتو بيلابيل درسی کتابونه ، پښتو قانونونه، اصولنامې، لايحې، اعلاميې، ابلاغيې، او پامفليټونه نه دي نيولي او هغه زما له نظره د کتاب ديوه بېل ټو ک کاردی چې دياد داشتونو په راغونډ ولو يې بوخت يم .

سادې کتاب تر څنګه دخبرن غونډې له پاره وظيفه درلوده چې دپښتو دچاپي آثارو مجموعی او سو ضوعی شمېر خبرنه وراندې کړم، داشمېر خېړنه هم له همدې کتابښودنه را ايستل کېدله نو ځکه زه کوم ځانګړی«کاغذ»نه لرم چې په مختر سو پو هانو و وېشل شي، البته هغه مختر سان چې داشمېر خېړنه يې په کاروي او يا داستفادې وړو باله شي کولای شي چې له ځانه سره يې ياد داښت کړي .

زما داشمېر څېړنه هم دهمدې نيمګړی کتابښود په بنسټ ولاړه ده خو څرنګه چې له کتاب ښودنه پاتې کتابونه هم هماغوول دي نو ښايي فيصدی يې دتطبيق وړوي .

سالو سری څېړله داسجموعی شمېره يعنی (۱۵۵۸) کتابونه په دريو بر خو وو يشل :

۱ - نثر.

۲ - نظم .

---

(*)سطلب «پښتو کتابښود»نوسي کتاب دی چې دبيهقی کتاب خپر ولو له خوا خپور شوی چې کچه يې ۱۶×۲۲سانتی متره ده او(۲۷۵)مخونه لري.

۳ - نظم او نثر سره ګله.

چې فیصدی یې پهدې ډول تر لاسه شوه (وګوری: لو مړی ګراف).

تر دې وروسته سې لو مړی دنثر کتابو نه دمو ضوع او جوړښت له مخې په لاندې ډول وویشل:

۱ - فني نثر ونهلکه: ناولونه، ډرامې، لنډې کیسې، سفر نامې، مسکو نګونې (طنز) ادبي ټوټې او نور.

۲ - معلوماتي آثار.

۳ - دیني کتابو نه.

۴ - اجتماعي، سیاسي او فلسفي کتابو نه

۵ - ژبني خیړنې، قاموسونه او ګرامرونه.

۶ - تاکرې، خبرې او سیرتونه.

۷ - تاریخي کتابونه .

۸ - ادبي څیړنې.

۹ - فو لکلوري متنونه

۱۰ - راز-راز لکه: طب ، اقتصاد ، ساینس او نور.

چې دفیصدی شمېره یې پهدې ډول لاس ته راغله ( وګوری: دو هم ګراف).

په بله پوړی کې سې منظوم آثار دموضوع، جوړښت او دوړي له مخې په لاندې ډول وویشل

۱ - فو لکلوري منظومې کیسې.

۲ - دمعاصر و شاعرانو دشعر مجمو عې.

۳ - اولسي سندرې او داولسي شاعرانو دشعر مجمو عې.

۴ - دیني نظمو نه چې دیني لارښوونې لري.

۵ - دپخوانو شاعرانو دیوانونه او جو نګونه.

۶ - ژباړل شوي شعرونه.

۷ - متفرق منظوم کتابونه لکه دساینس او تاریخ په باب او یا دماشو مانو دپاره.

چې شمیره یې په دې ډول لاس ته راغله او وګورئ: دریم ګراف ).

موږ که یو ځل دې شمېر ښودنې ته په انتقادي نظر وګورو، وینو چې هم د نظم او هم د نثر په برخه کې هغه کتابونه چې د نننیو اړتیاوو له مخې زموږ د دردونو دوا کړي، شمیره یې ډېره لږه ده او موږ دې ته متوجه کوي چې د پښتو کتابونو د خپرېدنګ په برخه کې یو اساسي فکر وشي او داسې کتابونه خپاره کړو چې واقعاً زموږ ټولنې ته ګټه ور وي او زموږ ژبه په علمي توګه بډایه او شتمنه کړي څو د دې علمي بډاینې له مخې له یوې خوا هر څوک د دې ژبې زده کړې ته زړه ښه کړي او له بله پلوه زموږ د خلک له نړیوالو علمي پانګو سره په خپله ژبه آشنا کړي.

په ډېره مننه

# لومړی گراف

## عمومي وېش





٪
دوهم گراف
منثور آثار
فنی متن ۱۷،۵٪
معلوماتی ۱۴،۵٪
دینی ۱۳،۳٪
اجتماعی، سیاسی ۱۳،۱٪
قاموسنامه، زبانی ۱۲٪
تذکری ۱۱٪
تاریخی ۶،٤٪
ادبی ٤،۶٪
فولکلوری ۳،۲۷
اقتصاد، سیاسی ۳،۷۵٪

# دریم گراف

## منظوم آثار



داکتور عبدالرازق پالوال

# د پښتو لهجې او ژبې جوړېدنه

پېژندګلوي:

پر پښتو ژبه او لهجو باندې ډېرې لیکنې او څېړنې شوې دي چه د موضوع له مخې د قدر وړ دي. مګر داچې له لیکوالو سره ئې لازمي وسایل نه وو او مواد لې اختصاصي او محدود وو او د ژبپوهنې له مربوطو لارو لیکو (میتودو - Methods) څخه ئې کار نه دی پکښې اخستی زموږ پسا دی — معنوي او نور محیطي شرایط ئې مسؤول دي. نه لیکوالان ولې داچې بېله اسناد او شواهدو څخه ئې ځینې عندي قضاوتونه کړي او متضاد حکمونه ئې لیکلي دي مسئولیت یې هرو مرو د لیکوالو او هم د څېړونکو دی.

په اوس کې زه کوښښ کوم چې له دغې جنجالي موضوع څخه په خاص ډول سر ټکان و ژغورم ځکه چې زما سره هم پوره ضروري مواد نسته چه بشپړه «مستنده» او علمي لیکنه پرې وکم.

پر پښتو لهجو باندې په خاص ډول سره زما دا نه لیکنې بل علت دا دی چې د سویټزرلنډ (سویس) د آریایي ژبو مطالعاتو مؤسسې د کابل پوهنتون د ادبیاتو او بشري علومو پوهنځي د ژبپوهنې مؤسسې له غړو څخه د استفادې په وسیله سره د افغانستان د آریایي ژبو او لهجو یوه نسبتاً مناسبه اندازه، مګر غیر کافي مواد له ۱۳۴۱ ش کال څخه بیا تر ۱۳۵۱ ش کال پورې راټول کړیدي دغه مواد د سره او مستند و لیکنو له پاره غیر کافي

څنګه بولم چې یو څو دژبپوهنې مؤسسې غړي د دغې وظیفې د صحیح پښیړونې لپاره پوره نه وه تربیه شوي. دوهم دوی په لازمه سوادو او وسایلو مجهز نه وه. دریم - هغه دپوښتنو کتاب (Questionery) چه د مؤسسې غړو کارځنې اخستې دایران لپاره ترتیب شوی ؤ نه دافغانستان لپاره. څلورم - که څه هم دغه دافغانی ژبو داطلس پروژه دیونسکو له خوا څخه حمایه کیدله مګر بیاهم دمؤسسې دغړو لپاره دکار او سیدنې او حمل و نقل مصارف او نور تسهیلات برابر شوي نه وه ځکه نو په نامساعد و شرایطو کې دصحیحو او مستندو کارو څخه توقع لرل یوه غلطه توقع ده.

څنګه چې دادبیاتو او بشري علومو پوهنځی دژبپوهنې مؤسسې څپله برخه کارونه، سرله موجوده مشکلاتو او نواقصو، پنځه کاله پخوا لا بشپړ کړي دي او ټول اومه موادئې دسویس دآریایې ژبو مطالعاتو مؤسسې ته ورسپارلي دي، نو موږ اوس د دوی د کارو نتایجو ته په انتظار ناست یو. مادغو دوو مؤسسو ترمنځ قرارداد ندی لوستی، نو ځکه نه پوهیږم چې دوی ئې کوم شرایط پرځای کړي دي. آیا دوی تعهد کړیدی چې دافغانستان دژبو اطلس باید کله بشپړ او خپور کړي؟ هر کله که دغه اثر سنځ ته راغلی، نو دپښتو څیړنو بین المللی مرکز، پښتو ټولنه، دادبیاتو او بشري علومو پوهنځی دپښتو څانګه او هم دژبپوهنې مؤسسې داوظیفه لري چې په دقت او غور سره دهغو مواد و څخه نتیجې واخلي سره یا کره لیکنې پرو کې له هیڅو څخه ئې برخمند سي او نیمګړتیاوې ئې و ربشپړې کي هغه وخت که زما له توانه څخه پوره وه، زه به هم یو دغسې کارو کم. «او س به تر او بو دسخه ګا ولی نه کابرم».

په دې لیکنه کې زه دلهجو او ژبو دتحولاتو پر عمومي عواملو او تأثیراتو باندې رغیږم په ځینو برخو کې مجبور شوي یم چې دسمبولو اصولو او مثالونو یادونه وکم.

نو ډیره توجه په ژبو او لهجو کې دلغاتو و دخل او تغییر ته شویده.

دلهجې او ژبې دجوړښت عوامل:

---

ژبه دسمبولو نو یو پیچلی سیستم دی. هر سمبول دوی خواوې لري چې یوه یې مادي او بله یې معنوي ده لکه نورټول مادي او معنوي موجودات دژبې سمبولونه

۳- په ځینو ښارو کې چې نن په سلو کې پنځوس کسه پښتانه اوسیږي مګر د دغو پښتنو لپاره پوهلیسه لا څه حتی یوا بتدائي مکتب لا هم په پښتو ژبه نسته لومړی خو د دوی پلار نیکه له خپله پښتني محیطه څخه رابل سوي دي او د وهم یې اولادونه کورت په بیله ژبه او بل ځای کې روزل کیږي چې د دغه کارنو له خپلې ژبې سره د وینکو پره دیوالي یا بیګانګي ( Alienation ) وانتهائي درجې ته رسوي .

۴- په تیرو دوو سوو کالو کې یوه څه پښتو علمي او ادبي آثار خپاره سوي دي. مګر دغه په هیڅ توګه کفایت نه کوي چې د دوی جامعي علمي ضرورتونه دي ورپشپړ کړای سي. ځکه نو موږ مجبور یو چې د نورو ژبو له آثارو څخه استفاده وکو. له دغې لارې په غیر شعوري ډول سره د هغو ژبو د اصطلاحاتو ساختمان او سبک تر اغیزو لاندې راځو. دغه تأثیرات هغه زمان شدت پیدا کړي چې خارجي مطبوعات راډیو، او سینما یې فلمونه هم پر ټولنه باندې راایله وي. دغه وسایل نو د جامعي په ژبه او کلتور کې هرج و مرج جوړوي.

۵- اجتماعي قومي او نژادي مناسبات دیني او اقتصادي طبقات خپل مخصوص اصطلاحات او لفظي اداوې لري . خصوصاً که د غه اجتماعي طبقي له نورو سره بوطه ټولنو سره په تماس کې وي د دوی ژبه شایي دونه تحول ومومي چې و ځانته بیلې لهجې جوړې کې.

پورتنیو او همدې رو داسو عواملو په دنیا کې پر هري ژبې باندې خپلې اغیزې ښیندلي دي او همدې ښندي . البته ځیني علل به یې په یوه زمانه کې مؤثر وه او ځیني په بله کې. ځیني ژبې چې پخوا د نورو تر تأثیر لاندې وې ، اوس په نوري ژبې د دوی تر تأثیر لاندې وي . د مثال په توګه: یو وخت انګلیسي ،جرمني، روسي، فرانسوي او نوري اروپائي ژبې د یوناني او لاتیني ژبو تر تأثیر لاندې وې ، مګر نن د دوی بقایا او هم ډیری نوري ژبې د لوسږنیو تر اغیزې لاندې دي .

د خپلې ژبې پر دې کیدنه :

---

د پورته یادو سوو عواملو او د دوی د اغیزو په مقابل کې د هر ملت حساسو ځوانانو عکس العملونه ښکاره کړي دي . د دوی له توانه سره سم لومړني عکس العمل له خارجي عناصرو څخه د ژبې تصفیه ده دغه کار د دوی ډلې لیکوال کوي : یوه هغه ډله ده چې دوی په خپله ژبه

او هم ددوی ترمنځ روابط له محیطي شرایطو سره سم تغییر او تحول مومي. دغه عوامل چه ژبې ته له خپلو تحولاتو سره سم تغییر ورکوي له سیاسي، اقتصادي، تکنالوجیکي (صنعتي) علمي، اجتماعي، دیني او نورو څخه عبارت دي د یوې جامعې ددغو ارخونو دتحول په دوران کې زاړه اصطلاحات لکه زاړه آلات او اسباب چې نور د استفادې وړ نه وي، سوکه سوکه له منځه ځي او پرځای باندي ئې له نوو ارتیاوو سره سم نوي لغات او اصطلاحات ومنځ ته راځي زما ددغه اوسني بحث موضوع هم داده خو چه مختصر ډول سره وښوو م چې نوي کلمات څنګه ومنځ ته راغلي دي، څنګه راځي، او څنګه باید راسي.

۱ـ کله چه په تاریخي او سیاسي لحاظ یوه یا ډیري کړ چني ټولني په بېلو بېلو جیوګرافیاوي محیطو کې دحاکمه طبقې دژبې تر تاثیر لاندې راسي دوی د ږغ، لغت او صرفي او نحوي جوړښت په برخو کې یوه پر بلې باندې اغیزې ښندي. ددوی له ګډیدو څخه په لومړۍ مرحله کې یوه نوې لهجه پیدا کیږي او وروسته بیا دزماني په تیریدو سره، کله چه دوا ړې ژبې له خپلو منابعو یا عمده مورنیو ژبو سره تماس و نه ساتلای سي دوی یوه نوې ژبه تشکیلوي البته ددوی دتأثیر اتو فیصدي به په طبقاتي لحاظ او هم دوظایفو او موضوعاتو له پلوه ډیره متحوله وي.

۲ـ که چیري په یوه جیوګرافیاوي محیط کې په سل کې ۹۹ فیصده کسان په یوه ژبه او لهجه وږغیږي، مګر دمنطقي رسمیت او کتابت په سل کې د یوه سړي په لاس کې او دهغه اقلیت په ژبه وي، دغه اقلیت به دا کثریت په ژبه کې بارز تغییر راولي. ددغه اسر یو ښه مثال جیوګرافیاوي نومونه دي لکه په کندهار کې چې سپیسار = سفیدحصار، سپیروان = سفیدروان، اشوکه = عاشقه، کاریز = قنات او نور.

په نورستان کې: پېګل = نیلاو، شیرودسی = شهداء، بدوان = احمددیوانه بابا، پړوستم = پل رستم، دیوا ګرام = ډیوه. . .

په ننجان کې: شار = شهران، سپزمینه = شاه پیري، تیلي = سیانده او نور ټول داسي.

دځایي وګړو په ژبه کې او هم په معتبرو تاریخي آثارو کې دروزګان ولایت مرکز نوم (تیری Tiray) دی مګر څخه چې ولي ئې کاتبان صاحبان او نور صاحبان (تیرین کوټ) کاږي دغه راز هم کندهار، قندهار، بست = لشکرګاه او نور. کنړ = کنر هایا کنړونه.

دنو رو علو سو لیکنه کوی.له یوی خوا څخه دوی نه غواړی په پهله ژبه کی دخارجی ژبو اصطلاحات استعمال کی او له بلی خوا څخه ئی معادل هم نه لری . په ژبه کی یوه دغه راز خلاء و دوی ته دااحساس و رپیدا کوی چی نوی اصطلاحات په تر کیبی یاجعلی ډول سره جوړ کی.په دغه کار کی دوی ځکه نا کامه کیږی چی دخپلی ژبی په صرفی او اشتقاقی اصو او نه پو هیږی.په دی برخه کی دوی دژبی له محققینو څخه هم سرسته نسی غو ښتلای . ځکه چی هغوی بیا ددوی په مضامینو او موضوعاتو نه پو هیږی .

دو همه ډله هغه لیکوال دی چی دژبی مطالعه او خیړ نه ددوي وظیفه ده . دغه ډله هم دا هغه کوي چی په ژبه کی خارجی اصطلاحات له منځه یوسی او پر ځاي ئی نو ر د خپلی ژبی نوي تر کیبی- یانامأنوس اصطلاحات تر و یج کړي. دغه کار که دژبی له اصو لو او قو اعدو سره سم په علمی اسا س او ساده ډول سره وشی یادژبی د صر فو او اشتقاق قوا نین په منظم ډول سره بیان کړه سی دنو رو علو سو محققینو ته به یی هم سرسته رسولی وي . دغه کار باید په سره سینه وسی او په ضروري موارد و کی باید داستفا دي وړوگرځی. دژبی له پاره خدست باید اساسي اوسؤ ثر وي.مثبته نتیجه هغه وخت ځنی اخستله کیداي سی چی علتو نه له منځه یو وړل سی نه معلو لونه .

ځنگه چی دژبی دمسخ کیدو عوامل هر خو ک له منځه وړاي نه سی، خو دلغا تو جوړونه او لیکنه تقر یبا هرو کړي کو لاي سی. دژبی افراطی ، احسا ساتی ، او غیر علمی تصفیی په هره ژبه کی منفی نتیجی و رکړ یدي . ځکه چی له یوي خوا څخه مروج او آشنا کلما ت له لیکنو څخه ایستل سو یدي،او له بلی خوا څخه ئی پر ځاي باندي جعلی او نا مأنوس لغات استعمال سو یدي. که څه هم له دغه راز کلماتو سره معناوي لیکل سوي وي خو بیاهم په متن کی بشپړ مفاهیم نه افاده کوي،یعنی لو ستو نکی له لیکنی څخه نهائی استفاده نه سی کو لا ی له بله اړخه څخه ځنگه چه په ژبه کی دنو رو ژبو معمو ل کلما ت دوگړ و له محاو ري او خبر و څخه نه سی ایستل کیدا ي، بلکه یو ازي له ځینو لیکنو څخه ایستل کیږي . دغه کار لو ستو نکی له دغه را ز لیکنو څخه خوا تو ري کوي . په واقعیت کی د لیکنی ژبه له وګید و نکو او لو ستو نکو څخه پر ده ی کیږي .

## ژ بـه يو سيستــم دي:

دهري ژ بي عمومي سيستم بيايه ځان کي نو ر طبقوي سيستمو نه لري .

د غه فرعي سيستمونه بيايه خپلو منځو کي قانوني سيستمتيک رابطي لري .

۱ـ دږغو يا آوازو چې ربتنيا ډول پخپله يو سيستم دی چی( Phonology) ئی مطا لعه کوي.

۲ـ هر ږ په ځانته خاص ږغونه لري او دادايني طر ز ئي بېلوي چي(phonetics)ئي مطا لعه کوي .

۳ ـ په لغاتو کي هر ږغ خپل ځاي لري. که له ځايه بيځايه سي په اداينه کي ئي تو پير پيښيږي ددغه سيستم مطالعه Phonemics کوي .

۴ـ دلغاتو په تشکل کي صوتي بامعنا اجزاءاو دول کيږي چی مطالعه ئی( Morphemics ) کوي.

۵ـ د معنا لرونکو صوتي اجزاؤ تر کيب، تصريف، اشتقاق او نورو تشکلاتو مطا لعه په ( Morpnology ) پوري اړه لري .

دغه و روستني مهم سيستم پر خپلو ورا ندنيو سيستمو بنا ندي و لاړدي . د نحوي معنوي Semantics. Syntax او نورو فرعي سيستمونو موضوع په دي ليکنه پوري اړه نه لري. هر کله كه شو كه غواړي چی ځينی ژ بنی خلاوي دنو و لغاتو او اصطلاحاتو په جوړ بنت سره ډ کی کړي ـ نو بايد په مو ر فالوجی( Morphology) او بالخصوص دخپلی ژ بی دترکيب ،تصريف او اشتقاق په اصولو بنه پوره و پو هيږي،زه به ئی لاندي يو څو مهم ا ړخونه و ښوو م او مثالونه به ئی داوسنيو ليکنو څخه وړاندي کم.

۱ـ که چا يو نوي لغت له ځانه جوړ کړي وي يائی په کمه لهجه کي کمه نادره کلمه سو ندلی وي او لو ستو نکو ته ئی و رپيژ نی،نو لو مړی دالازمه ده چی دغه لغت اداء او تلفظ وښوول سی. ددغه مقصدلپاره ژ بپو هنه يوه بېله څانگه Phonemics لري چه شاغلي ارو اښادصحمد گل نو ري پخپل (۱) پښتو قاموس کي چی دپښتو ټولني له خوا څخه خپور سو يدیء(۱۳۳۰ش)

---

(۱)له بده مر غه پښتو قاموس د ښاغلي نو ري په نامه نه دي خپو ر سويء.هيله ده چی په راتلونکو خپرونو کي ډ نو موړي دخدمت ستنه او ددغه حق ساتنه ئی وسی. البته له دمسرونو رو کسانو مرسته کړيده چی دپو هاند رشتين له خوائي په مقدمه کي يادونه سو يده.

لږ ترلږه دوه کاله تر مخه دلو ستونځو دغه ضرورت ور رفع کړی دی، خو په اوسنیو ځینو لیکنو کی دا کار ندي سوی .

۲ - یو «وی پوهاند!» باید پر خپله ژبه باندي دونه قادر وي چي دژبي پر اصولو سر- بیره باید دي دلغاتو یوه لویه ذخیره ولري. په دغه صورت کی به نو داسي اشتباهات لږ پېښیږي چي وځینو مفاهیمو ته اصطلاحات سو جو دوي مګر دي پر هغو سر بیره نور نوي لغاتونه جوړ کی لکه:

«بیاځلي=تکرار» چي په ژبه کی ئې مستعمل شکلونه: بل ځلي، بله پلا، څوځلې، څو پلاوی او په واروارو - «ان=حتی» ښایي چي مغنی د(عینی) وي. ځکه چي «ان» په پښتو قاموس کی دري معنا وي لري: «ان (م س) منـ لحظه، وقت بسیار اندک (۲) توان، قوت، قدرت (۳) ارادات جمع منکر است که در آخر اسم و صفت می آید» - «پلوي» او بل چیري «پلو یان» د یوې نظر یې د ( پیرو وانو) په معنا استعمال سو یدي چي پر ځاي ئې د نظر یې پالونکي ښه مروجه کلمه ده که د«پهلو گیر او طرفدار» په معنا وي نو په پښتو کی ورته دملګري، پر خوا، ملاتړ او هم په ښایي نوري لهجوي کلمې ورته سو جودي وي.

د«اسرل=انتخابول» دغه کلمه په پښتو قاموس کی «اسرل (ف ف زمن) یک جنس از دیگر جنس دانه دانه جدا کردن، جدا کردن گو سفندها و غیره مواشي از یکدیگر». دا نتخابو لو لپاره په پښتو کی خو ښول او غوره کول مر غوبي مستعملي کلمې دي .

۳- دژبي څېړونکي باید د لغاتو په رېښو، تنو، او وروستړونو هم شکلاً او هم معناً و پوهیږي دمثال په توګه: «بلیز=اشتقاقي» او څاګیز= مسلکي ، اختصاص» ترجمه سو يدي. پښتو وروستړو نی]-زاي و داضافت اویانست مورفیم (Morpheme) دي مګر ددري ژبي وروستړونی یوه نسبتي[ - ي]ده. فرضاً که دغه دوه وروستړونی یوه معنا ولري او موږ ئې له خپلو ریښو یا تنو څخه ایسته کو. په پاته برخو کی ئې نه بیل د(اشتقاق)معنا ورکوي او نه څانګه د(مسلک) یا ( اختصاص) -په پښتو قاموس کی «بیل، کج مس منـ جدا تنها-علیحده» معنا ورکوي او«څانګه(ف م س زمن)مو ،(۱)خلهـ لق زدن از درد(۲) شاخ درخت (۳) شعبه (۴)نیزه» معنا وي لري.

۴ـ هغه خارجي اصطلاحات چې بين‌المللي استعمال لري يعنې د نورو هيوادو په ليکنو او آثارو کې‌منل سوي وي‌ـنو زموږ له پاره دالازمه نه ده چې هغه يا تحت اللفظ ترجمه کو يانو رمستقل اصطلاحات ورته جوړ کو .دغه راز بين‌المللي اصطلاحات عبارت دي‌له : انتر پالوجي ارکيالوجي ـبيالوجي ـجيالوجي ـفزيک... جيوګرافيه ـتاريخ ـمد نيت (تمدن) روحيات‌ـ منطق‌ـ اونور. خو يو بناغلي ليکوال وايي چې: «ځمکپوهنه‌ـجغرافيه‌هغابه‌= تمدن، مدنيت ،پيښليک =تاريخ ،پوهنجونګ ـ دايرة‌المعارف» دي. په دېنې او تاريخي آثاروکې‌لاکنز، ګنج‌اوخزانه وعلمي آثاروته وېل سويدي.

۵ ـ هغه خارجي اصطلاحات چې بين‌المللي حيثيت نلري او دخاصو ژبو مال وي د هغو له پاره دمعادلو لغاتو موندنه يومناسب‌امردي.څنګه‌چې‌هرژبه‌يوسيستم دي نو دغه‌کار بايددغې ژبې‌له ترکيبي ،تصريفي، اشتقاقي، مغيره اونورواصولواوقواعدوپه‌مراعات وسي.

کەنه ويد غه نوي پښتو ترکيبي او اشتقاقي کلمه به‌هم دژبې له سيستمه وتلې او ديو خارجي لغت‌حيثيت به ولري‌لکه : «پارن ـ مهيج، انديان ـمفکرين، اسمانڅکک = اسمان‌خراش اونور. ددغو لغاتو يوازې اجزاء پښتو دي مګر تشکل ئې پښتو نه‌دي . توضيح ئې په لاندې ډول ده:

ژباړن او پا رن: دعربي ژبې له قانونه سره سم‌د«فاعل ، خائن ، کاهن ، سائل ...»صورت لري. پښتو شکلونه ئې بايد پاريدلې يا بارولې وي اويا پارونکي ياپاريدونکي وي.دغه رازهم ژباړونکي نه ژباړن.

اند يان : مفردبه‌ئې اندي‌ـ مفکر وي چې دا هم دعربي دغنې ـ قوي ـ عندي پر وزن دي اسمانڅکک : Ski Ccraper آسمانخراش پخپله دواړه سره متوازن‌دي. هسکه ماڼۍ= اسماني قصر به‌ئې ښه ادبي معادل واي.

۶ ـ کله چې په ژبه کې و ځينو لغاتو او اصطلا حاتو ته ضرورت پيدا سي مګر د هغوبه تشکل کې موږ له صرفي او اشتقاقي قواعدو څخه استفاده ونه سو کړاي ـ نو ښه او سمه لاربه ئې دادې چې د خپلې ژبې په نورو بر خويا ساحوکې‌ئې په مترادفاتو پسې‌وګرځو.

هر کله که دمو داسې اشکال پیدا کړاي سو اي چې هغوي مثلاً دفعلي ظر فیت مفهو م افاده کاوه، نو سو بړ کولاي سو چې دهغو پر وزن خپل دضرو رت و ړ لغات جوړ کو.

عر بانو دغه کار پخوا لا کړ يد ي او و سو ړ ته ئې هم په خپلو گر امر و کی د(قیاس )تم نامه لاندي را ښوولی دي.

له نیکه مر غه مو ږ په پښتو کی څو فعلي مکاني صفتو نه لرو چې عبارت دي له : ختيځ ، لو يد يځ او در يځ څخه ـ پو هاند رشتين لا په دي عقيده هم دي چې په تر خځ او او ريځ کی د[ځ ]و روستړ و نی «غالباً ظرفی لا حقه معلو میږي او ښایی چې په اصل کښې به دتر خ ځای او دو ر یاځای و »(۲۸:۱۳۲۷) .

او س به و گو رو چې دغه پهژ به کي سو جو د فعلي مکاني صفتو نه دپښتوله صرفی قو اعدو سره بر ابر دي که نه دي . که چیري دغه فعلي ظر فی صفات دژ بې له اصو لو سره سم وي ـ نو يو ه ښادي مو دوي سوي ( هم و اده دي او هم ئې زوي و زيږ يدي) معنا داچې هم به لغات له ژ بې قانو نه سره سم وي او هم به له جعلکا رۍ څخه سا تل سوي يو ، ځکه چې قیاسی مثالو نه را پیدا سو ل .

دپښتو فعلي سا دو (ريښو يا تنو )څخه په منظمه تصر يفی قاعده سره فعلي، اسمی ، فاعلی مفعو لی، ا مکا نی ا و ځینی نو رفعلي صفات جو ړ يږي. ( د تفصيل لپاره د پالو ال پښتو ذوي مصدر . ۱۳۵ و گو ری).دمثال په تو گه له لو ست څخه لو ست+ نه ،لو ست+ و نکی ، لو ست + و نی، +لو ست+ نگ. دغه راز هم دنو مو ړو و روستړ و نو پر ځاي بانديې په تصر يفی تو گه د [لوست] و سا دي ته ظرفی يا مکا نی و روستړ و نی له قا عدي سره سم و رلړ يداي سي او ( لو ستيځ اطاق مطالعه یامحل مطالعه ) ځنی جو ړ يد ای شي. دغه ظر فی و روستړ و نی له تو لو نو مکنه فعلي ما دوسره یو ځای کیدای سي چې زه یې لاندي یو څو دمثال په توگه راو ړم

| مصدری شکل: | فعلي مکاني صفت: | معنائی : |
| --- | --- | --- |
| پلو ر نه | پلو ريځ | مغازه،فر شگاه . |

---

۱.ښاغلي صدیق الله رشتين ۱۳۲۷ ، پښتو اشتقا قو نه ا و تر کیبو نه. کابل : دو لتی مطبعه.

| | | |
|---|---|---|
| کتنه | کتېځ | معاينه‌خانه، محل نمايش |
| وتنه | وتېځ | مخرج — ( Eyit ) |
| پرېولنه | پرېولېځ | محل شست و شوی |
| څارنه | څارېز | رصدخانه - محل تعقیب ونگهبانی |
| آورېدنه | اورېدېځ | محل تماشا ( اطاق کنفرانس ) |
| خوړنه | خوړېځ | اطاق طعام |
| لیدنه | لیدېځ | محل تماشا |
| درېدنه | درېځ | استگاه، تم ځای |

۷ - که‌چیرې د ژبې صرفي او اشتقاقي قواعد و مثبتة نتیجه ورنکړای شوای، او هم په ژبه کې د قیاس و ر اشکال موجود نه وو نو پر ځای د دې چې جعلي لغات او ترکیبات جوړ کړل شي، ښه به دا وي چې د ضرورت وړ معادل کلمات دې په نورو افغاني خورلنو ژبو کې لکه منجي، سنگلیچي - پراچي - او ړمړي — شغني، واخي، دري، بلوڅي او نورستاني ژبه کې وپلټل شي. د دې له پاره چې مونږ له دغو ژبو څخه د افغاني ژبو په افتخار استفاده وکړای شو، نو لومړی باید د دغو ژبو مفصل د لغاتو قاموسونه او گرامرونه جوړ کړو چې دغه زموږ ملي، تاریخي او علمي وظایف هم دي .

دغه مهمه نقطه باید یوه پلا بیا هم تکرار کړم چې په ټولنه کې هیڅ یوه ژبه نه مستقله پیدا شویده او نه پاته شویده په واقعیت کې هره ژبه له دوو یا ډیرو ژبو له گډون او تاثیراتو څخه پیدا شوې او پلې باندې لومړی د لهجې په صورت او وروسته د ژبې په حیث موجودیت پیدا کړیدی که‌چیرې تاسې د مثال په توگه د آریایي ژبو شجره او د دې جیو گرافیاوي خپرېدنه په غور سره وگورئ و نورو دلایلو ته به ضرورت هم پیدا نه شي. مطلب دا دی چې هره ژبه د نورو ژبو عناصر لري او تر تأثیراتو ئې لاندې شوې وي .

کله چې واقعیت داسې وي نو مونږ باید د خپلې ژبې تصفیه د نورو ژبو له عناصرو څخه د خپل ژوندانه او فعالیت هدف و نه گرځوو وحتی مونږ باید دغه پردي لغات و پېژنو او په خپلو قاموسو کې ورته ځای ورکړو - او د منبع منشه ئې و کوچې په اصلي او که په مغني ( او و یتي) شکل و ژبې ته راداخل شویدي او من هم ځینې غیر پښتو عناصر په پښتو قاموس کې ثبت شویدي مگر د اصلي ژبې مبداء ئې نه ده ښوول شوې .

دمثال په‌توگه : جمات - کهال - گپاو و - گرد کډ - سالوچ اونو ر - داپه مه و چې لیکل سوي وای: جمات: مفغن دجماعت (ع) کهال :مفغن دکاهل (ع) گپاوودخپله «ف»، سالوچ: مفغن دمحلوج (ع)...

بیاهم هغه کسان چې غواړي چو به پښتو ولیکي دوی باید خپل لغات دپر دو څخه و پیژ نی.

ډیر لیکوال سته چې خارجي مفغني کلمې استعمالوی مگرد خپلې ژ بې معادلې کلمې ئې نه استعمالوی چې څو مثاله ئې لاندی ذکر کیږی :

ماشوم : مفغن دمعصوم (ع) چې پښتو ژ به دوی کلمې و رته لری : کوچنې او وړو کی .

څادر: مفغن دچادر (ف) چې پښتو ژ به دوی کلمې و رته لری پټو (دناریښه ؤ له‌پاره) .

پړ و نې یا پو ړ نی ء(دښځمنو له‌پاره) .

لړه : مفغن دلړایې (ه) چې پښتو ژ به دوی کلمې و رته‌لری جنگ او شخړه .

ممیزی (دری سو بزله‌پاره په پښتو کې هم و څکه‌جمع و څکي سته‌چې په کندهارکې ژ و ندی او مستعمله کلمه ده ځینی د خیلی کلمې لکه درخته( دري درخت ) اوسیب(منه)بیا پښتو قاموس ندی ثبت کړ ی ځینی کلمې بیا پښتو قا موس په اصلي یالو مړ نې معنانه‌دي ثبت کړی بلکه په دو همه او معمو له معنائی قید کړ یدی. لکه : زلمی یا ځلمی چې اصلاً دنا مز د ځوا ن معنا و رکوی چې دانجل یعنی نا مزدی نجلې (نجنی) مقابله کلمه‌ده مگر پښتو قاموس یو ازی د«جوان —برنا» په معنا ښوولی دی .

پښتو قاموس لیوه د«گرگ» په‌معموله معناثبت کړیدی- مگر اصلي معنائې «درنده» دچې زمري ، پړانگ ، شرمښ (گرگ) کوډ - چغال - گیدړه او داسی نو رتو ل پکښې شا مليږی .

که چیری مو ډ پخپلو تو لو هغو کې نااسیده پاته سو او په‌ژ به کې‌مو داسی خلاوی‌سو جو دي وي چې دافادی‌او استفادی مشکلات تو لید وی . په‌هغه صو رت کې به‌نو مو ډ مجبو ریو چې دنو و لغاتوپه‌جو ړ و نه‌اوبعلکاری‌لاس‌پو ری کو . دغه کارهم‌بایدپه‌بې‌مسؤولیتی‌سره‌ا جرانکړای‌سی یعنې هر څوک با ید له ځانه څخه د لغا ت جو ړو نې‌ماشین‌جو ړ نه‌کی . که څه هم بو څوک پخپله ژ به‌کې استاد او دژ بې متخصص‌وی - ده دلغاتو جوړو نه او ترکیب باید دژ بې له اصو لو او قواعد و سره برابر وی.

ډېره پله د توجه وړ یادونه باید وشي . هغه دا ده چې د پښتو ټولنې - د پښتو څېړنو بین المللي
مرکز او هم داد بیاتو او بشري علومو پوهنځي د پښتو څانګه او د ژبپوهنې موسسې پیاوړي
او منلي غړي باید یو مشترکه پلاوی لري. هر کله که څوک یوه نوې کلمه جوړه کې د مخه تر دې چې
په مجلاو او ورځپاڼو کې خپره سي باید د غه مشترکه پښتو مرکه ئې تر خپلو سره او کره
کتنو تېره کي - یعني ښیګڼې او بدې ئې وسنجوي . د واړي خواوې هم مرکه او هم
لیکوال د اسؤولیت لري چې خپل دلایل واوروی او یو بل ته قناعت سره ورکي . په دې
صورت کې به له یوې خوا څخه ژبه له ګډوډۍ او هرج مرج څخه ژغورله سوې وي ، او له بلې
خوا څخه ، به هغه لغات چې د ژبې ته نوي ورکېږي زې د ژبې له اصولو سره سم قانوني تشکل ولري
په څپله وروستنې یادونه کې دا عرض کوم چې زما مطلب د نوو او نامأنوسو لغاتو
د ترویج مخنیوي نه دی. زه په څپله هر څوک تشویقوم چې په خپله لهجو کې د مختلفو مفاهیمو
له پاره لغات او اصطلاحات پیدا کي. پروا نه لري. که دغه اصطلاحات نامأنوس او په یوه کوچنۍ
ټولنه کې مستعمل وي ولې د غسې لیکوال باید د ونه توجه وکړي چې د خپلې لهجوي کلمې
سره جه او مأنوسه معادله کلمه په قوسونو کې ورسره وکاږي چې لوستونکي د دغې نامأنوسې
لهجوي کلمې په معنا پوه سي - د لیکنې په پای یا حاشیه کې باید د دغې لهجوي اصطلاح معلې
اداء، ریښه، او که ممکنه وي د استعمال نور موارد هم وښوول سي. دغه کار د ژبې له انکشاف
سره ډېره مرسته کوي. د دنیا لویو ژبو هم د خپلو لغاتو ذخیرې د خپلو لهجوي اصطلاحاتو
له لارې څخه او هم ئې په ځان کې د نورو ژبو د لغاتو له منحلولو څخه غني کړیدي .

## نتیجه: ژبه د وګړو وده - نه د ځانګړو .

د نوو و لغاتو جوړونه او د پښتوانیو کلماتو پاره د یو اصطلاحاتو پښتو کونه یو راز
دماغي مصروفیت دی. دغه ذهني مصروفیت یا له اجتماعي محیط څخه پیدا کیږي یا د تدریس
او لیکنې په وسیله سره خپرېږي، که دغه د لغت جوړونې او پښتو کونې عادت افراطي
شکل واخلي - پر ژبه باندې دوې منفي اغیزې ښندي: یوه منفي نتیجه ئې دا ده چې ژبه د ملنډو
او تمسخر ورګرځوي چې د غه هم د لیکوال او هم د ژبې وحیثیت
ته صدمه رسوي. نو پر ځای د دې چې د ژبې قدر مو ور ډېر کړي وي - سپکه کړې به مو وي.
دوهمه منفي نتیجه ئې د ژبې پره د یو والي دي . د زړو یا سړو کلماتو پښتو ګونه او د نوو و

لغاتو جوړونه‌یو راز ساری او حیاتی مبتلائی ده‌چی او سه ځوانان لکه متعلمین او محصلین ئی په مقابل کښی معافیت نه‌لری . که‌دغه جریان په‌او سنی شدت سره‌دوام پیدا کوی دوه دری نسله وروسته‌به‌موږ په کابل کی‌یوه‌بیله لهجه‌ولرو چی هغه به‌نو کابلی پښتو بلله کیږی. ددغه امر ده‌مدو عواملو یادونه سی‌ترمخه کړیده- ددغه کار بل‌منفی نتیجه به‌داوی چی‌هغه کړ ښښو نه‌به‌شنل کی‌چی دیوی‌عمومی پښتو له‌پاره دلهجوی توپیرو دورکښ کولو په‌باره کی کیږی .

دپردیو لغاتو پښتو کو نه‌می‌هم ترستر گو نه‌ایسی مگر مستند او له‌فلالوجیکی اصولو سره سمه‌وی. ترمخه سی‌هم و یلی‌دی‌چی دیوی‌ژبی لغات‌په‌بله‌ژبه کی که‌په‌اصلی شکل‌وی که‌په مغیره یااوښتی شکل دهغی ژبی ارزښت نه‌ورکوی. دغه دژبو دجوړښت یو عمده علت دی. چی‌په‌دوی کی‌باید دنورو گاو نډو ژبولغات اوخصوصیات‌موجود دوی. ځینی کلمات‌په‌یوه‌وخت کی دیوی ژبی‌وی،مگر په‌بل‌وخت کی‌بیاهغه کلمات څه‌په‌اصلی‌څه‌په‌اوښتی شکل دبلی‌گاونډی ژبی جزوی -خو په بله زمانه کی بیا په‌بل شکل‌بیرته و هغی لومړنی ژبی ته ورننوزی او جز ئی‌وگرځی‌دغه‌راز مثالونه‌دپښتودری‌او هندی ترمنځ ډیری‌دی‌خو زه ئی‌یو ازی څو مثاله ذکر کوم :

خونه (اوستا)خول خوله خولی، (پښتو) کلاه (دری) خود (دری)خول (پښتو)خوله خولی ( پښتو) کلاه ( دری ) جنگ ( پښتو، دری مشترکه کلمه جنگ‌گړه ( پښتو ) مستعمل شکل جگگړه- جگړه (پښتو) -جهیگړا(هندی) کړکی(هندی) - کړکیانی(پښتو جمع‌شکل) کلکین‌دری په‌پښتو کی دخیله کلمه .

دریمه د یادونی وړخبره داده چی‌موږ قطعا په‌ځوانی سره لغتونه دپښتو دری،یابلی‌اوسنی ژبی مال نسو گرځولای که‌څه‌هم به‌په یوه ددغو ژبو کی مشابه کلمه یا کلمات موجود وی ځکه‌چی‌دغه‌موجوده ژبی په‌دغه اوسنی شکل داسلام ترخپریدو وروسته‌تکامل کړیدی : نو که‌پر کم دبرلیک ( کتیبه)باندی یاپه زړو متونو کی‌لکه و یدااوستاداسی کلمات‌پیدامی چه هغه له پښتو یا دری ژبی له کلما تو سره لفظی او یا معنوی مشابهت و لری - قرا بت که‌څه‌هم اشتقاقی او فلا لوجیکی وی،ددي حکم دلیل نه‌سی‌چی هغه کلمات پښتو، هندی یا دری دی.ځکه چی‌په هغه وخت کی دغو موجوده ژبو په دغه اوسنی شکل او

جوړښت سره وجود نه درلودی نو احتمالا به هغه کلمې د هغې یا داسې یوې ژبې وي چې پښتو، دري، هندي یا بله مربوطه ژبه له هغې څخه زیږیدلې ده. او یا به ئې د هغې په معاصرو خورلنې ژبې پورې اړه لرل. مطلب دا چې د سړو ژبو کلمات دا وسنیو ژبو سال نسې ګرځیدلای که ئې څه هم هغه سورنې ژبې یائې د سورنیو ژبو خورلنی ژبې وي. دغه حکم دا معنا نه لري چې موږ د سړو ژبې لغات په خپلو ژبو نسو راګډولای، برعکس باید دغه راز کلمات راژوندي کړل سي او د ژبې له اصولو سره سم استفاده ځنې وسي څو مو د لغاتو ذخیره زیاده سي او زموږ په افهام او تفهیم کې سووانی پیښه کې.

زما دبیان و روستنی ټکی دادی چې په افغانستان کې ډیر لغات او اصطلاحات په دوو یا ډیرو ژبو کې استعمال لري - و دغو ته موږ مشترک کلمات وایو له دغه اشترا که څخه دا سې ښېیږي چې په ځینو کلمو کې دی یو جزء د یوې ژبې او بل دې ئې د بلې ژبې وي. دغسې مشترک عناصر باید د یوې خاصې ژبې لکه پښتو - دري، بلوڅي یا بلې داسې یوې ژبې مال و نه ګڼل سي بلکه و یوې مشترکې افغاني ژبې ته راجع کړل سي. ټولې هغه ژبې چې په افغانستان کې ویلې کیږي و ځانته خاصه افغاني صبغه لري او بیلې لهجې جوړوي، ځکه نو دوی افغاني ژبې یا یوه ګڼه او مجرده افغانۍ ژبه جوړوي. د دغه راز مشترکو لغاتو څو تر کیبي مثالونه لاندې وړاندې کیږي:

پستان (پی+ستان): د پیو یا شیدو منبع او ځای. په ځینو نورو لهجو او ژبو کې د [ستان]

[معادل شکلونه] - ته [او] - تون] هم دی

داستان (دیو+ستان): د دیوانو وطن. زموږ افسانی په عمومي ډول سره د دیوانو د ملک بیانونه دی. په اریائي ادیانو کې د (دیوا) عبارت کیدی د وی هم د دیوانو اربا بالا نواع دو طن قصې درلودی چې تر او سه پاته دی

په کافرستان (نورستان) کې د خدای مسکن یا زیارت ته دېته De—ta

ویل کیږي.

زمستان (زمی+ستان): د زمی وطن. په ځینو نورو پخوانیو او اوسنیو ژبو کې

زیما Zima او هیما Hima. د ساړو او واوري معناوي لري.

---

(۱) تاریخ تلفظ وصرف پښتو کابل ۱۳۵۶ دولتي مطبعه

دهما لیه کلمه هم دسار و او و او ری دسلک یامحای معناو ر کوی
تابستان(دوبی+ستان): ددو بی او تو دو خی وطن.بنایی چی ددغو دو و رستنیو
تا ب + ستان اصطلاحاتو ثانوی‌معناوی‌دی‌اغلباً د کو چیانو دژ و ند انه‌ښکاروندوی‌وی.
یا امکان لری چی دپخوانیو سلطنتی دربارو اداری مر کز و دموسمی انتقال څر گند وي دي‌هم‌وي. په‌هره‌توگه بنایی دغه‌دزمستان او تا بستان کلمات اصلاًد(سرما)او ( تموش) په معنا و و نه‌وي. څکه چی یا خوئی باید د[ ستان لاحقه یاو روستړو نی نه لرلاي‌یاداچی باید دپسرلی (بهار)اوسنی (خزان) له کلموسره هم دستا ن و روستړو نی راغلی و اي.

لنډ ه دا چی و افغا نستان ته تر تاریخ دمخه او هم په تاریخي زمانو کی ډیر تو کمو نه اوقو مونه‌راغلی دي . دوي څینی تللی اوڅینی پاته سو یدي. ددوي بیلو ژبو او مختلفو کلتو رو یو بل‌پر باندي ډیري‌اغیزي ښندلی‌دي . څکه چی مو ږ مشتر کسیاسی حدو دلرو مشتر ک حکو مت او اداره لرو ـ مشتر ک اقتصاد او تجارتی روابط لرو ـ او هم مشتر ک دین او مذهب لرو. ددغو عو املو تر تأثیر لاندي هیڅ چاره نسته چی مو ږ دي یو عمو می افغانی کلتو راو یوه عمومی افغانی ژبه و نلرو چی هغه ز مو ږ ا فغا نی ملیت تشکیلوی مطلب‌داچی مو ږ باید پخپلو ژبو کی نوي جعلی او نامأنوس لغات راو نه باسو ـ بلکه د خپلو ژبو نیمگړ تیا وي دخپل هیو اد دمو جو د و لهجو او ژبو له ذخیر و څخه بشپړي کو . دغه کار به دډیرو خلکو تر منځ دافهام او تفهیم اسانی پیښه کی او هم به مو ژ به له خپلو و یو ـ نکو څخه نه وي‌پر دی کړي.

سید محمد تقویم الحق کاکاخیل (کوهاټ)

# شمال مغربی سرحدی صوبه کښی د پښتو

## مطبوعه کتابونو دوه سوه کاله

په صوبهٔ سرحد کښی خپله مطبع (پرېس) وروستو جوړه شوی ده او طباعت ډیر وروستو خور شوی دی - ددی علاقی دپاره لیکلی شوی کتابونه ددنیا په گوټ گوټ کښی چاپ کېدل او له دی ځایه خوریدل په دی وجه کوم کتابونه چه دی ځای کښی او سیدونکو دپاره چاپ کړی شوی دی - بایده دي چه ددی ځای سطبوعاتي او شمیرو کهداسی او شی نو ددی مطبوعاتو فهرست دسیر امپورسشنری «دانجیل مقدس» نه شروع کیږی دا د۱۲۳۴هق ۱۸۱۸ع خبره ده دوی نه پس دېوورن «گرستهوسیتهی» ۱۲۶۳ھ ۱۸۴۷ع په خپل ځای اهم کتاب دی او که ستر گی راکږی کړ و نو ددی علاقی سطبوعاتو کښی شمیر کیدی شی.

یوه عجیبه خبره داده چه په ۱۲۷۳م- ۱۸۵۶ع کښی دعبدالرحمن بابا دیوان دپښاور یو مطبع سر تضائی چاپ کړی دی ددي نه پس دا مطبع داسی ورکه شوه لکه چه هلوونه - داسی ښکاری چه د۱۸۵۷ع دازادی جنگ پیرنگیان په دی علاقه بدگمان کړل - او دی ځای کښی چاپ خانه ورته نامناسبه ښکاره شوه - ددی نه پس دحکومت عام ضروریات دجیل مطبع او فوجی ضروریات دایبت ابادفوجی مطبع پوره کول - روستو دی ددوارو مطبعو کتابونه هم چاپ کړی دی. خو تر دی سو دی پوری صوبهٔ سرحد کښی عامه چاپ خا نه نه ده - او تاجرانو به کتابونه دهلي - لاهور پېښلوی کښی چاپ کول - داصورت حال داشاعت دپاره ډیر

سود مندنه‌وو او چه ترخو دڅاکه او تلو راتلو سهولتونه زیات شوی نه وو - د طباعت او اشاعت قدم نیولی غوند ښکاری.

دملحقهٔ ضمیمه الف نه‌څرګندیږی چه‌دد‌یرلسمی صدئی هجری په اخر او څورلسمی صدیء هجری‌په‌او ائلو کښی‌کتا بو نه د اسی ډیرنه‌دی‌چاپ شوی- او که‌راو رتی (۱۲۷۷ ه- ۱۸۶۰ ع) ببلیو(۱۲۸۴ ه- ۱۸۶۷ ع) او هیو ز(۱۲۷۹ ه- ۱۸۷۲ ع) ترا و باسوچه‌په‌ختیه‌پښتانه لیکوال نه‌وۀ - نو دلیک عام‌میلان مذهبی کتابونو - نیم مذهبی کتابونو - یاد استانونو ته‌وۀ رحمان‌بابا او حمیدبابا مذهبی بزرگان کښی‌شمیروۀ - یوسف‌زلیخا(۱۲۹۹ ه- ۱۸۸۱ ع) یو پیغمبر سره‌تړلی قصه‌وه - داستان امیرحمزه (۱۲۸۸ ه- ۱۸۷۱ ع) هم دیو مذهبی‌شخصیت سره نسبت لرلو- البته ادم‌درخانی (۱۲۸۹ ه- ۱۸۷۲ ع)بهرام ګل‌اندامه (۱۲۹۲ ه- ۱۸۷۵ ع)او دداسی څه‌نوری قصی دخالصو رومانونو په‌شکل کښی خوری وی -دڅوارلسمی صدئی هجری په‌شروع بلکه ددیرلسمی صدئی هجری په‌آخر کښی ملااحمد تیراهی د پچګی دساده عوامی قصو یوزږه راټکونکی لارراوویسته او روستودی لاری داسی دخپل اندازنابغه لیکونکی وسوندل‌چه‌نن هم‌دساده عوامی کیسی دپښتوادب یولویه برخه ده

په‌دی‌دور کښی دقرانمجید یوجامع تفسیر په(۱۲۹۳ ه ۱۸۷۶ ع ) کښی د تفسیر یسیر په‌نوم‌چاپ‌شو چه‌روستو تر ډیری سودی چادوسره لوی کارونه کړی شو. په‌شعری‌ادب کښی د«قصیده‌برده» دری ترجمی محب‌الدین ،عبدالقادر، ملا شرف (۱۳۰۵ ه ۱۸۸۷ ع) یوسهم کاردی:

د ۱۸۵۷ ع دلوی جهادنه‌پس‌پیرنګیان‌دپښتو‌سره چه‌څوخو مشکله کښی‌خاط ماط شو او دری سرهٔی‌ډیر تعلق راغلوچاپه‌سینه‌داږه‌زده کړه‌او چاپه‌انتظامی مجبوری‌وددی‌زده‌کولو ضرورت محسوس کړودی ضرورت څه‌دپښتو استادان پیدا کړل چه خپله‌ژبه‌یی په‌پردی ژبه کښی دپیتلو په‌اندازه اولیکه داسی کتابونه دڅورلسمی‌صدی هجری اوددریمی عشری‌نه شروع کیږی او ددریمی عشری تراخره رسی - دي کښی منتخبات هم‌دی قواعدهم‌او ډیر بڼکلی ادبی تخلیقات‌هم دلغت محاوری او ژبی په‌لحاظ داسی کتابونه بیاکم لیکلی شوی دی دامیراحمد رضوانی‌بهارستان (۱۳۰۶ ه ۱۸۹۸ ع) او شکرستان (۱۳۲۳ ع ۱۹۰۵ ع)

دقاضی رحیم‌الله پښتو انسهر کتر (۱۳۴۷ھ ۱۹۲۸ع) (ددویم طباعت) دمنشی احمدجان هغه دغه (۱۳۴۸ھ ۱۹۲۹ع) او هم ددهٔ دقصه خوانی گپ (۱۳۴۹ھ ۱۹۳۰ع) دغه قسمه کتابونه دی. دقاضی خیرالله خیراللغات (۱۳۲۴-۱۹۰۶ع) هم ددغه سلسلی کړی ده. ددریمی عشری په‌اخر کښی دداستانونو اوقصو په‌لار دپښتو لمن اردوته ورخوره‌سوه اوبیارو تعلیم‌یافته‌ذهنونه‌دناول او افسانی‌نه‌متأثرشو لکه چه‌دضمیمهٔ الف نه‌خر گندیږی دداستانونو دمیدان دوه زړی ملانعمت‌الله او ملااحمدجان په پښتوعوامی قصوصبرنه شو او دفارسی اردو پنجابی دری ژبی قصی‌ئی پښتوته‌راواړولی ددوی ءزیرنظر صرف قصه شوه‌دادبیات‌عالیه‌ترجمی ئی‌نه‌کولی شاعرانه نزاکتونو او ادبی لطافتونو ته‌یی‌نه کتل نه‌ئی‌خپلول - شاهنامه و رته‌درستم دجنگونو یو داستان وؤ - او سکندرنامه دسکندری فتوحاتو یو تسلسل - خو دوی‌دوسره ضرورو کړه چه‌دژبی‌سرحد ونه ئی ماتت کړل او لاری ئی‌آزادی کړی لږ ددوی نه‌زیاتتر بیت یافته‌ذهنونه‌دداستان نه‌ناول‌ته او رواړیدل اود ادبی‌لطافتونو دپوره شعور سره دروا ویدل میان محمد یوسف په‌پښتو کښی‌دتوبته النصوح‌ترجمه ادا کړه - (۱۳۲۲ھ ۱۹۰۳م) لکه څنگه چه‌ډپټی نذیراحمد په‌اردو کښی دمحاوری او ژبی بادشاه دی دغسی میان محمد یوسف په‌پښتو کښی‌دی. دده‌نه‌پس بیابی دمیان‌حسیب‌گل بل‌هیچاداسی سره پتهٔژبه استعمال نه‌گړی‌شوه - راحت زاخیلی نه‌صرف ناول لیکل شروع کړو - بلکه دشلیدلی پنړی (۱۳۲۶ھ - ۱۹۰۸ع) په‌نوم‌ئی دافسانو ابتداهم‌ردکړه.

دخوارلسمی صدی هجری ترنیمی دامعامله دغسی‌سم‌سم روانه‌ده په نثرکښی‌دکاکاخیلو میانگانو یوخاندان میان‌محمدیوسف توبته‌النصوح (۱۳۲۲ھ - ۱۹۰۵ع) میان نعمان‌الدین ترجمهٔسفرنامه‌ابن‌بطوطه (۱۳۲۰ھ - ۱۹۰۲ع) میان‌عنوان‌الدین‌ظفرالنسأ (۱۳۲۳ھ - ۱۹۰۵ع) او عنوان النصایح (۱۳۲۳ھ - ۱۹۰۲ع) او راحت زاخیلی او په‌نظم کښی میان ابوالمعانی ازاد ترانهٔازاد (۱۳۴۰ھ - ۱۹۲۲ع) په نوی لارروان‌وو - نور نظم او نثرعموماً په زوړ انداز وؤ.

دخوارلسمی صدئی‌هجری‌دنیمی‌نه پس دپښتنو او انگریزانو کشمکش‌تیز هم شو او ترڅخ

هم ـ دي تیز والی او تریخ والی د پښتنو فکرونو ته راواړولو ـ خپلو عیبونو خپلو خوږو او خپلو مشرانو ته ئې خیال شو ــ نورو خلقو ته ئې د زده کړې په نظر وکتل ـ او چه نوری ژبې ئې اولوستی نو خپله ژبه ورته تشه تشه ـ سرسري ښکاره شوه ـ او بیا هر یو تر خپله فکره ددی په خدمت اخته شو ـ څوک په دی غاړه چه کلاسیکي ادب را ژوندی کړی څوک په دی طرف چه د نورو ژبو خزانی راخپلی کړی ـ او څوک په دی شکل چه رنګارنګه ادب تخلیق کړی او خور ئې کړی ـ د اسلم ختک د وینو جام (۱۳۵۳ هـ ـ ۱۹۳۵ ع) او د خلیق صاحب شهیده سکینه (۱۳۵۳ ـ ۱۹۳۵ ع) ړومبی ډرامی نه دی خو ډرامو مشرانی دی . د سمندر د الم څوک (۱۳۵۶ هـ ـ ۱۹۳۷ ع) د نوی نظم اول چاپ شوی کتاب دی. قاضی عبدالسلام د کلاسیکی ادب دیوان علی خان (۱۳۵۸ هـ ـ ۱۹۳۹ ع) په اول ځل چاپ کړو او وروسته ئې دیوان حافظ الپوری (۱۳۵۹ هـ ـ ۱۹۴۰ ع) کښی د عربی کتابونو په شان د اوږدو تذئیلاتو سره شایع کړو میان عبدالغفور د تاریخ فرشته ترجمه تاریخ هندوستان په نوم (۱۳۶۱ هـ ـ ۱۹۴۲ ع) او بیا د انوار سهیلی مکمله ترجمه (۱۳۶۲ هـ ۱۹۴۳ ع) شائع کړه او نوی تعلیم یافته شاعرانو مفتون (۱۳۶۶ هـ ـ ۱۹۴۷ ع) سید رسول رسا (۱۳۶۷ هـ ـ ۱۹۴۸ ع) همیش خلیل (۱۳۶۷ هـ ـ ۱۹۴۸ ع) او داسی نورو نوی نظم او نوی غزل را منځ کښی کړل.

په (۱۳۷۰ هـ ـ ۱۹۵۱ ع) کښی د کلاسیکی ادب دیوان علی خان بیا چاپ شو ـ دا ځل ددی سره یو مفصله مقدمه هم ده چه د علی خان د ژوند حالات او د هغه د ادب تنقیدی جایزه پکښی اخیستی شوی وه ـ دا نوی انداز د روستو محققینو ډیر خوښ کړو ـ بل کال ته دوست محمد کامل کلیات د خوشحال خان هم په دغه انداز مرتب کړو او وروسته دا سلسله روانه شوه ـ نصر صاحب راتلونکی ټوله عشره ددی وړو وړو کتابچو نه ډکه کړه ـ سمندر په ړومبی ځل د ډاکټر محمد اقبال رموز بی خودی (۱۳۷۱ هـ ـ ۱۹۵۲) شعر په شعر پښتو کړو ـ امیر حمزه شنواری غزوونی وکړی (۱۳۷۵ هـ ـ ۱۹۵۶ ع) او د ادب ډیر اړخونه مخی ته راغلل .

داسی ښکاری لکه چه د پښتو طباعت په سمندر کښی یو دم یو طوفان غوندی راغلو ـ خو داسی نه ده دا دیګ ورو ورو پخیدو ـ څه موده مخکښی د وخت حکومت پښتو په سکولونو کښی لازمی کړی وه ـ د هغی په نتیجه کښی یو نوی تعلیم یافته ټولی را پیدا شو چه د پښتو لیک لوست سره په اوچته سطحه بلد وو ـ ریډیو عامه شوه ـ او د نوی ادب اصناف یی د عامو ذهنونو ته

او رسول دي‌دعامو خلقو په ذوق‌یو خوشگوار اثر واچو لو ـ تعلیم خصوصاً د کالجو نو او یو نیورستیو تعلیم زیات شو ـ او یو لو یه طبقه دخپلي ژبي په معنی پو هه شو ـ دژ وند معیار اوچت شوه او په درمیانه طبقه کښي دکتاب اخستو طاقت پیدا شو ـ پښتو په گنړ و ډکر یو کښي دمضمون په حیث‌شامله شو ـ او دکتاب خر څید و امکانات زیات شو ـ داسي لیکو نکي‌او چاپ کو ونکي‌دو اړو ته دکتاب چاپ کو و مادي فائدي هم و رغر گندي شوي دي‌تو لو خبر و لیکو نکو ته دقام او حکو مت په نظر کښي یو مناسب وقت د رکړ و ـ چه و رسره څه ناڅه مالي فائدي هم تړلي دي.

داسي نه د ه چه دپښتو د مطبو عا تو دي نوي ا ند از زړه طر یقه با لکل ختمه کړ ه څنگه چه ضمیمه به گو اهي و رکوي دپښتو مطبو عاتو هغه‌زوړ انداز او هغه زوړ معیار پخپل ځای هم هغه‌سي پاتي دي‌لکه‌چه‌ؤ ـ هم هغه‌مذهبي‌اونیم‌مذهبي کتابو نه ـ هم هغه‌داستانونه‌قصي‌جنگ نامي ـ هم‌هغه نو رنامي خو اب نامي فالنا مي ا و س هم شایع کیږي داسي و شوه چه‌د پښتو ناشر ان دوه قسمه شو ـ یو دمعیاري او او سني انداز کتابو نه چاپ کوي لکه ا دارهٔ اشاعت سرحد‌پشاور ـ یونیورستي‌بک‌ایجنسي‌پشاور ـ پښتوا کډ یمي‌پشاوري‌او یل دپخواني‌اندازه‌لکه‌اسلامي کتب خانه‌پشاو ر ـ حاجي عبدالخالق‌پشاو ر او عو امي کتب‌خانه‌پشاو ر ددي کتب خانو په ا کثر و کتابو نو دطباعت کال‌نشته ـ او ظاهري رنگ رو غن ئي هم‌ډیر شایسته نه‌دي .

دخو ار لسمي صدئي هجري داتمي عشري په آخر آخر کښي دپښتو ا کاډمي پشاو ر مطبو عات هم میدان ته راا و و تل ـ او دي‌لوي اداري دمطبو عاتو معیاراو چتو لو کښي لوي کا ر ادا کړ و ـ پښتو ا کاډمي پشاو ر کلاسیکی کتابو نه په‌ښه معیار چاپ کړ ل ـ لکه گلد سته عبدالقادرخان (۱۳۸۰هـ ۱۹۶۱) نوي نوي علمي کتابو نه ئي اولیکل لکه روح ادب تصنیم الحق (۱۳۷۶هـ ۱۹۵۷ع) او ځیني ډیر دمهمو کتابو نو تر جمي‌ئي و کړي لکه کتاب‌الشعر ارسطو (۱۳۷۷ه ـ ۱۹۵۸ع) او دهغه علمي کتابو نو دپاره ئي ځاي پیدا کړ و ـ کوم‌چه تجار تي ناشر ان دکتي تاو ان په فکر کښي نه شي‌چاپ کو لی .

دخو ارلسمي صدي تر آخري دوه عشري دمطبو عاتو په تاریخ کښي تو لو نه ډ کي او د تو لو نه‌قیمتي‌دي ـ په‌دي کښي د کلاسیکي ادبي و رثي درنه بر خه‌شایع شوه دادب په تولو

اصنافو کښې او دعلم په تو لو شاخو نو کښې دوخت سره مناسب کتابو نه ولیکل شو ل علمی مصطلحاتو یو مستقل شکل واخیستو او پښتو ژبه دسیا لانو سره سیاله هوه.

ضمیمه الف

دصوبه‌سرحدچاپ شوي کتابو نه‌ـ کال په کال

| | |
|---|---|
| ۱۲۷۳هق- ۱۸۵۶م | دیوان عبدالرحمن مطبع سر تضائی پشاور |
| ۱۲۷۴هق- ۱۸۵۷م | |
| ۱۲۷۷هق- ۱۸۶۰ | گلشن روه‌راورتی. |
| ۱۲۷۸هـ- ۱۸۶۱م | |
| ۱۲۷۹هـ- ۱۸۶۲م | |
| ۱۲۸۰هـ- ۱۸۶۳م | نورنامه وصدسی‌مسئله انجیل مقدس ترجمه ازیونانی. |
| ۱۲۸۱هـ- ۱۸۶۲م | |
| ۱۲۸۲هـ- ۱۸۶۵م | |
| ۱۲۸۳هـ- ۱۸۶۶م | گریمر میجر بیلیو - |
| ۱۲۸۵هـ- ۱۸۶۸م | |
| ۱۲۸۶هـ- ۱۸۶۹م | دیوان خوشحال خان خټک |
| ۱۲۸۷هـ- ۱۸۷۰م | |
| ۱۲۸۸هـ- ۱۸۷۱م | داستان‌امیرحمزه احمد - طوطی نامهٔ‌احمدـ دایسپ‌الحکیم‌قصهٔ راورتی |
| ۱۲۸۹هـ- ۱۸۷۲م | آدم‌درخانی مولوي احمددتنگی ـ کلید افغانی هیوز ـ |
| ۱۲۹۰هـ- ۱۸۲۳م | گریمر ترمپ‌قصهٔ حاتم بی‌طی، حیدرخان |
| ۱۲۹۱هـ- ۱۸۷۴م | حکایات پاک رسول ص صالح محمد ـ رشید البیان |
| ۱۲۹۲هـ- ۱۸۷۵م | فوائدشریعت‌اخوندقاسم - بهرام‌گل‌اندامه‌فیاض‌ـغل‌قاضی،احمدتیراهی |
| ۱۲۹۳هـ- ۱۸۷۶م | خواب نامه وفال نامهٔ احمد تفسیر یسیر مراد علی صاحب زاده |
| ۱۲۹۴هـ- ۱۸۷۷م | عبدالرحمن باباقصه شاه روم احمد تیراهی طب شهاب افغانی مغل بیگ خراسانی قصه جمجمه احمد. |

۹۶ - ۱۲۹۵ھ - ۱۸۷۸م قیامت نامهٔ احمد تیراهی منصور حلاج احمد گل بکا ولی، احمد
لیلی مجنون ، احمد

۱۲۹۷ھ - ۱۸۷۹م درمجالس، اخوند کبیر

۱۲۹۸ھ - ۱۸۸۰م قصب السکر فی تفسیر سوره الکوثر، احمد بن عبدالحکیم - قصه
بختیار شاه ایران ، سید

بو علی شاه سیف الملوک میان محمد گنبد شهزادگی فاضل شاه - داستان گریه دسوم عبد الرحمن
تنکی ورل - حمله حیدري حاجی مظفر - جنگ نامه زقوم

۱۲۹۹ - ۱۸۸۱م مناقب میان عمر محمد امین - حقیقت الاسلام مولوی احمد - یوسف زلیخا
،عبدالقادر خان قصه شاه وگدا، عبدالحمید رت بدم احمد - قصه پیر زن گل محمد بنوي - گنبد
شمزادگی احمد تمیم الضاري، ملا بهادر قصه دخلور و یارانو، احمد.

۱۳۰۰ھ - ۱۸۸۲م نیر نگ عشق، عبدالحمید - زبور داود - تفسیر بی نظیر نا معلوم -
جلات محبوبا، اکبر علی شاه - لقمان حکیم ، عبدالکبیر - قصه ابراهیم ، احمد - گنج پښتو سره
دهیوز دلغت ناسی - پادری هیوز

۱۳۰۱ھ - ۱۸۸۳م آدم درخانی اکبر شاه پشاوری - طوطی نامهٔ محمد احمد قادري
قصه شهزاده بهرام گور و حسن بانو سید عمر د توتی چهلتان الفانی آئینه الفاظ و معانی
محمد اسمعیل خان گفتگوئی افغانی، محمد اسمعیل خان - جنت النعیم المعروف بخزه د و دي -

۱۳۰۲ق ۱۸۸۴م فوائد شریعت اخوند گدا قصص الانبیا احمد کفنر الدقایق باترجمه
پښتو - کیمیائی سعادت

۱۳۰۳ھ - ۱۸۸۵م معراج نامه غلام محمد - فتح خان ارسد مخزن الاسلام داخوند درویزه

۱۳۰۴ھ - ۱۸۸۶م رابیا فتح خان ، نعمت الله - غزلیات اخوند علیخان

۱۳۰۵ھ - ۱۸۸۷م قصیده برده محب الدین ،عبداقادر
او ملاشرف، معجزات کلان بحاشیه فوائد شریعت

۱۳۰۶ھق ۱۸۸۸م ناصر المسلمین فی وفات سیدالمرسلین

۱۳۰۷ھ - ۱۸۸۹م ضابط میراث ، احمد جی

۱۳۰۸ھق ۱۸۹۰م دخوشحال خان دکلام دانتخاب اودهغی ترجمه بهلف

۱۳۰۹ھ - ۱۸۹۱) وثیقه آخرت (چهل حدیث ھشاه ولی الله په پښتو نظم کښی، عبد الحلیم کاکاخیل

۱۳۱۰ھ - ۱۸۹۲م چار چمن نو بهار عبدالرحمن - قصص الانبیاء کلان، نعمت الله.

۱۳۱۱ھ - ۱۸۹۳م قدوری پښتو ترجمه - شهزاده اختر منیر ابو علی شاه قاعده مهدی غلام محمد

۱۳۱۲ - ۱۸۹۴م

۱۳۱۳ھ ۱۸۹۵م مکر زنان، نعمت الله - کلام الله نبوت بنیان کشران کلام الله (عیساعیت) کلام الله نبوت سرسیاه (عیساعیت) مخزن التفاسیر، - محمد الیاس

۱۳۱۴ھ - ۱۸۹۶م ناقع الموسیتن، اخوند گدا.

۱۳۱۵ھ - ۱۸۹۷م خواب نامه کلان - دهلار او نحوی قصه، غلام محمد در مجالس، نعمت الله.

۱۳۱۶ھ - ۱۸۹۸م

۱۳۱۷ھ - ۱۸۹۹ م

۱۳۱۸ھ - ق ۱۹۰۰ - شاه خوبان نماز الدین - افغانی کی پهلی اکتاب، مولوی اسمعیل

۱۳۱۹ھ - ۱۹۰۱ در بی بها، (ضابطمیرات) گل احمد -

۱۳۲۰ھ - ۱۹۰۲ لغت دوزیری پښتو، لاریمر - گل صنوبر، امان گجراتی

۱۳۲۱ھ - ۱۹۰۳ دغره گل (بمبئی -) سفر نامه ابن بطوط، میا نعمان الدین

۱۳۲۲ھ - ۱۹۰۴ مجموعه جنگ نامه جدید سید بو علی شاه - فتاوی احمدشاهی عبدالرحیم توبه النصوح میا محمد یوسف -

۱۳۲۳ھ - ۱۹۰۵ شکرستان افغانی، میرزا احمد رضوانی - ظفر النسا میان نعمان الدین

۱۳۲۴ھ - ۱۹۰۶ عنوان النصایح سیان عنوان الدین - نیر الغات، قاضی خیر الله

۱۳۲۵ھ - ۱۹۰۷ نظیر الاخلاق، نظیر احمد - ترجمه قدوری نامعلوم شهزاده گلنار چراغ دین.

۱۳۲۶ھ - ۱۹۰۸ اسرار العارفین، شیر محمد هوتک گلبن لغت عبدالحکیم چاردرویش نعمت الله

شلیدلی پنره، راحت زاخیلی دیوان احمد کلاچی.

۱۳۲۷ھ-۱۹۰۹ رئیس الواعظین، احمد دپجکی - علم قرات عبدالروف نتیجه عشق، راحت زاخیلی (بحواله اجمل)

۱۳۲۸ھ-۱۹۱۰ع

۱۳۲۹ھ-۱۹۱۱ دگلزار ولایت، کرامت شاه - سراج الحج، دوست محمد گریمر روس کیپل

۱۳۳۰ھ-۱۹۱۲ دیوان اسکل جان ربقه الاسلام، معزالدین ختک - ارایش محفل نعمت الله جنت النعیم عرف پخه دو ډی سظفر خان - هزار حیف، امان اخوند

۱۳۳۱ھق -۱۹۱۳ع دیوان عبدالحمید -

۱۳۳۲ھق ۱۹۱۴ - بهرام گور وحسن بانو، احمدجان

۱۳۳۳ھق - ۱۹۱۵

۱۳۳۴ھق - ۱۹۱۶

۱۳۳۵ھق ۱۹۱۷ رشیدالبیان، ملاعبدالرشید.

۱۳۳۶ھق - ۱۹۱۸

۱۳۳۸ھق - ۱۹۲۰ : -

۱۳۳۹ھ ق ۱۹۲۱

۱۳۴۰ ھق - ۱۹۲۲ ترانه آزاد - آزادگل شهزاده جهانگیرشهزاده گلرخ، سیدعبدالستار رسولود خیر البشر : -

۱۳۴۱ھق - ۱۹۲۳ تفسیر سورة یسین، محمد امین -

۱۳۴۲ھق - ۱۹۲۴ الف لیلی کامل، نعمت الله

۱۳۴۳ ھق - ۱۹۲۵ بهار نوروزی - نافع مسلمین، اخوندگدا (حاجی محمد عبدالرحمن )

۱۳۴۵ھق - ۱۹۲۶ مجموعه البرکات، محمد امین - ملک محمد گیتی فروز، امان گجراتی جلات محبو با عبدالکریم - اله دین چراغ چراغ دین لعل سکندر، صفدر خان.

۱۳۴۶ھق - ۱۹۲۷ جواهر الانبیاء احمد

۱۳۴۷ق ۱۳۲۸ تعبیر الاخواب، عجیب خان دپجکی - گلدسته کرامات پشتو النستهر کتهر قاضی رحیم الله، طب بو علی شاه، نعمت الله ضابطه سیرات، گل محمد .

۱۳۴۸ هق - ۱۹۲۹ - زه‌ولی‌عیساشوم‌ایم - ای - تأئب سولو دشریف احمدجان - قصه‌جمجمه
احمد هغه دغه منشی‌احمدجان - زماپاک رسول ،نا معلوم دیوان
خوشحال‌خان(حاجی‌محمد عبدالرحمن )
۱۳۴۹ هق - ۱۹۳۰ تفسیرسورة یسین‌نامعلوم دیوان محمدامین‌افغانی خه‌فرق‌دی(عیاسیت)
رشتنی کلام سبزپری ، زرد پری دلبرخان‌دقصه‌خوانی‌کپ منشی
احمدجان - تاریخ‌افغانستان‌دکرنل‌سیلی‌سن،منشی‌احمدجان .
۱۳۵۰ هق - ۱۹۳۱ زمونږ محمدنبی، پیر بخش،سمه لار محمداکبر خادم نوشاد د سرو با نو ،
عجب‌خان پچگی -
۱۳۵۱ هق - ۱۹۳۲ بهارگلشن - پښتولغت،گوربرت سن‌عارف‌الله‌دیوان‌احمد کابلی‌جدرانی
۱۳۵۲ هق - ۱۹۳۳ - دجیلغانی‌تحفه،شاکرالله - جنګ‌یعقوب‌وعملاق،عجب‌خان‌پچگی‌شهزاد
نوشاد،عجب‌خان‌محمد،اسیر محمدتر خوی.
۱۳۵۳ هق - ۱۹۳۴ - دیوان‌مداح،محمدامین -
۱۳۵۴ هق - ۱۹۳۵ تعریف نامه عبادتی سندری (عیسا ئیت) منبهات ابن‌حجر،نامعلوم -
دو ینو جام،اسلم ختک - شهیدوم سکینه،خلیق سردارعالم عبد الرحیم
تهانوی - بنکلی‌رسول.خانمیر هلالی. -
غلام‌نبی،محمداکبر خادم
۱۳۵۵ هق۱۹۳۶ - انجیل یوحنا - نظام‌ذکوة
۱۳۵۶ - ۱۹۳۷ - دالم‌خوکه،سمندر - نوی‌روشنی‌قاضی‌رحیم‌الله‌جفاکاره‌محبوبه،صاحب‌حق -
۱۳۵۷ هق - ۱۹۳۸ - دپسرلی‌گل،عبدالله‌جان‌اسیر - معجزات گلان،اخوندکبیر - تحفة‌الحبیبه
محمد امین - خدائی‌خدمتگار،عبدالله - تفسیر و الضحی - مکتوبات افغانی -
قاضی‌رحیم‌الله -
۱۳۵۸ هق - دیوان‌علی‌خان(عبدالسلام) - انجیل‌یوحنامنظوم - دمسلمانانو دزوال
اسباب‌سکیب ارسلان)سولوی‌اسرائیل‌خوږ ژوند،خلیق.
۱۳۵۹ ه ۱۹۲۰ - اصلاح‌الرسوم ،مفتاح الدین - سراسلات‌افغانی‌نقیب احمد - دیوان‌حافظ
الپوری - عبدالسلام

۱۳۶۰هـ - ۱۹۴۱ عروج افغان منظوم تاج محمود -

۱۳۶۱هـ - ۱۹۴۲ تاریخ هندوستان (فرشته) عبد الغفور -

۱۳۶۲هـ ۱۹۴۳ - انوار سهیلی، میا عبدالغفور -

۱۳۶۳هـ - ۱۹۴۴

۱۳۶۴هـ - ۱۹۴۵ شکوه جواب شکوه، عبد المنان

۱۳۶۵هـ - ۱۹۴۶ع دیوان عبدالرحمن - عبدالستار ستاع (دافسانو مجموعه) پیر محمد شارق - داد ب سفر .

۱۳۶۶هـ - ۱۹۴۷ع لیت و لار سمندر - دشاعر دنیا - مفتون - دپښتو تاریخ قاضی عطاءالله تاریخ اسلام - صاحب گل.

۱۳۶۷هـ - ۱۹۴۸ع بیدیا گلونه - رسا - افگار ختک - زمان ختک - داستان امیر حمزه احمدجان - شهزاده ستاز احمدجان - قصه جمجمه عبدالستار الف لیلی جدید نعمت الله - سید جمال الدین افغانی - شیدا - دقیامت شپیلی (سیاد فخر قوم حمید گل) - سنگین - نغمه زار همیش خلیل .

۱۳۶۸هـ - ۱۹۴۹ع دیوان زیب سر - نور نامه کلان - محمد نعیم - شهزاده رت پرم د کابل سفر نامهٔ امیر حمزه - الفاروق - غلام قادر

۱۳۶۹هـ ۱۹۵۰ع شاهنامهٔ نعمت الله - دپښتو قاعدی - راحت زاخیلی - پښتو ادب قاضی عبد الحلیم اثر - منجری - ولی محمد طوفان - اسرار ختک - محمد زمان ختک - روح القدس - ایم ای نائیب (عیامیشت) سوره الفاتحه نایب - دولی شهئی - عبدالباقی - اسلام او اشترا کیت - دا کتر احسان الله

۱۳۷۰هـ - ۱۹۵۱ دیوان علی خان مقدمه سید تقویم الحق - دیوان سید بو علی شاه پلوشی - سبز علی خان - سینة العملی (عبدالخالق پشاور) - پلوشی نادر خان بزی - دپښتو ادبیاتو تاریخ - تلخیص سید تقویم الحق عظیم بابا - نصر - پیر بابا - نصر د ترنگز و حاجی صیب - نصر - کاکا صاحب - نصر

۱۳۷۱ه ۱۹۵۲ع کلیات خوشحال خان مقدمه کامل - گلپی و سوسی - صاحبزاده - آدرس - دژوندسندره - مفتون - رسوزبی خودی - سمندر - دوه بنی نصر - سحر - قاسم سامع مظهری - لوئی اسلامی سالك - خلیق - یشیخ دین محمد نصر - تور دیری بابا نصر - پښتو قواعد - عبدالحلیم اثر - حافظ ادریس - دستار نامه - خوشحال خان -

۱۳۷۲ه - ۱۹۵۳ع دیوان سکندر خان ختک - خو ږه شپیلی - سمندر - سوزوساز - صاحبزاده ادریس - نوی ترنگ - رسا - سریکی - مفتون - گلزار ختک محمد زمان ختک - تنازعه - شوق - اولیائی سرحد نصر سنلیا کی سلا - نصر - سلطان زخه خیل - نصر - قافیه سمندر پښتو قواعد - تسنیم الحق - تقویم الحق

۱۳۷۳ه - ۱۹۵۴ع دقران پیغام رسا - هلال یثرب - محمد صالح مظلوم - شیخ چلی - ولی محمد - قصهٔ ددوو تکانو - ولی محمد - طالب جان - ولی محمد - اسرار خودی - سمندر - پیر بانکی شریف - نصر - سسی پون سیان سغفور گل۔

۱۳۷۴ه - ۱۹۵۵ع دیوان کامگار خان - تسنیم الحق - نظریات - جعفر حسین - دقران ژباړه سمندر - نیم گړی خوب - ایس ای رحمان شیخ ملی نصر داتا گنج بخش - نصر بابا نصر شهزاده گلشن بی بی هارون - ملنگ عبدا لغفار -

۱۳۷۵ه - ۱۹۵۶ع فضل نامه - خوشحال خان - باتور - صاحبزاده ادریس - غزونی حمزه شنواری - دزړه قطری - عبدالله جان اسیر - د پنجره چغلی ارغنی خان - زبیری س - ب - بانوار العاشقین - سرزا زخمی جگر - تجلیات نور محمد - خیالی دنیا - احمد علی خان - خیالی - مناجات - سیدو بابا - فضل الهی - منتخبات - خوشحال خان - انوار الحق - تفسیر بخاری - راحت گل نشان - میر مهدی شاه

ادبی تولنی نصر - دقوسبت فلسفه - حسین بخش کوثر -
۱۹۷۶ه ۱۹۵۷ع دیوان بیدل - همیش خلیل - دیوان معزاله - همیش خلیل -
کلیمات کمالی - منتخبات کمالی - دغره گلونه - فضل احمدغر
تراخه خواږه - عبدالاکبر - دسهیل ستوری - صاحب زاده ادریس
دیوان نصر - دیکجام - فضل رحیم ساقی - انجام صداقت -
سرزاخمی جگر - سزیات سرگند علی رمزی -
دغازی سندره - همیش خلیل - نسیم حجاز - صالح مظلوم - سندر
بابا پیری عبدالواحد - تیکدار - قصه شادوگدا - حمید بابا - (دارالتصنیف)
داباسین چپی - همیش خلیل - زړکی ستړگی - اشرف درانی -
بحثری رازق نور - ننګیالی پښتانه - هلالی روح ادب - تسنیم
الحق خولی گلونه - ماستر عبدالکریم - برامن - رضامهمندی
۱۳۷۷ه ۱۹۵۸ع دروسرجان - عبدالقادرخان - انورالحق - دیوان هجری -
همیش خلیل دیوان سعید - همیش خلیل - دیوان حسین - همیش
خلیل - ائینه معنی نما - معز الله (اکیدیمی) دیوان احمددین طالب
دیوان بیاض ایوب گندهیروی - د نورالدین چاربیتی - نصر -
دضمیر اواز - همیش خلیل برامن - رضامهمندی - غیرت چغه -
اجمل خټک - دمینی جام جامداد خټک - هوش افت - سیدزیور
شاه افت - ترجمه ضرب حکیم سی نوش - حیدر - اشرف مفتون -
دبو ډی تال - میر مهدی شاه - هندارهٔ زیتون بانو - نوی پښتون -
امیر حمزه شنواری - پښتانه لیکوال - همیش خلیل غزوات النبی -
قاسم مظهری - دازه پاګل اوم - اجمل خټک - دادب ستاره - سمندر
خیبر ادب - دافغانستان او روسی ترکستان سفرنامه - عبدالاکبر
کتاب الشعر ارسطو مولوی محمد اسرائیل
۱۳۷۸ه ۱۹۵۹ع میرزاخان انصاری - همیش خلیل - دیوان مصری خان - اکیدمی -

دیوان عبدالعظیم - اداره شاعت سرحد - دسرو تو کسرونه
سیرشرف - وزیری (اکیډیمی) - پت - سیرمهدی شاه - سیره الخیر
البشر - غلام نبی - پاکی بیبانی - عبدالعزیز مظاهری - رحمان
بابا - سرفراز خان عقاب - مجاهد پښتون - الهام گل نسیم -
مفتاح فرو - صاحبزاده غلام قادر - ژبویشنه حسین بخش کوثری
- پلوشي - (بال جبرائیل) عبدالله جان اسیر ادم درخانی - صدرخټک
(اکیډیمی) پښتنی - سمندر -

۱۳۷۹ھ - ۱۹۶۰ع دژوند پیغام - فیض الله فیض - درس عمل - عبدالله جان اسیر -
ولولی پیر کوهر - نوی ژوند - فضل غنی مجاهد - ریبار -
عظیم خان عظیم - ادبی سوغات قاضی عبدالسلام - جنتی کالسی
سید نسیم الحق - ځلند توری سناو الدین - اوراوبه - ایبی ای رحمان
دسمندر شهزادګی - راهی راکه خزانه - همیش خلیل دبدرغزا
هلالی - تذکره و سید افغانی عبدالحلیم اثر - ظفر الغات - پابهادر
شاه ظفر - کچکول - اجمل خټک بی نوره - روغ لیونی -
دزړه لوګی - مقید - نیم جام - فضل رحیم ساقی - سومن خان
شیرینی - همیش خلیل.

۱۳۸۰ھ - ۱۹۶۱ع داغونه - راحت زاخیلی - رنګارنګ ګلونه - فضل غنی مجاهد -
دغلبیل زړه فریاد - اعظم خان اعظم سمسور ګلونه - کرامت
شاه ولاد - پسرلی نغمه - سیر رحمان غازی - عجب خان اپریدی
(نظم) جمشید - نثر - محمد اسلام نسیم - ګلدسته عبدالقادر خان
(اکیډیمی) ترجمه مسدس حالی - غلام محمد (اکیډیمی) افکار
هلالی - خانمیر هلالی - دتوری او قلم خاوند - نوا زخټک -
کشاف الکتاب - حافظ محمد ادریس - تربو رایس ای رحمان -
دآزادی جلګ - خلیق - مراوی ګلونه - سید نواز - ترجمه

زبر عجم - سید تقویم الحق .

۱۳۸۱ھ - ۱۹۶۲ع اسویلی - فضل حق شیدا - سوجونه - هلال احمد هلالی - چاج - عبدالرحمان لوکی - ترجمه تفهیم القران - راحت گل - دوینس سوداکر عقاب - چاودی شیشه - ساتو خان -

۱۳۸۲ھ - ۱۹۶۳ع ارمغان خوشحال - رسا - اردو ترجمه عبدالرحمن بابا - حمزه شنوادی دیوان احمدشاه ابدالی (اکیډیمی باغ وراغ) رسا دسوی زړه اواز - همیش خلیل - خوب و خیال - فیض احمد فیض ترجمه پیام مشرق سی نوش - ترجمه بانگ درا - راحت زاخیلی - (اکیډیمی) - اباسین چپی - (اداره اباسین) - سرو دبهار - یوس سیتی - داسلامی فکر ماخذ - قاضی هدایت الله - داسلام دی ، راحت گل - رنگار نگ گلونه، رسا - مغرور - شمی - ساموني - خو د کشی - رسا - شندی گل او شنتشی اشراف حسین احمد - د آزادی تلاش - اکبر شاه بدرشی - تیر هیر شاعران عبدالحلیم اثر سوات - نصر - نوی دیر - اسلم اجمل - طاهر کلاچوی عقاب - ادبی تنقید، رسا -

نظمیات - قلندر - تنقید - قلندر -

۱۳۸۳ھ - ۱۹۶۴ع دیوان کریمداد (اکیډیمی) - دیوان سیا نعیم (اکیډیمی) - پرهرونه تکو نه سیف الملوک صدیقی - قومی ترانی - همیش خلیل - تنگی سینه، ممتاز مسافر ارمانونه - مطیع الله قریشی - سیرت النبی - سیداکبر جابر - ترجمه ارمغان حجاز امیر حمزه شنواری - (اکیډیمی) دادنیا (رباعیات خیام) - احسان الله ختک یو آواز - سیداکبر جبار - سوره فاتحه - سیر مهدی شاه چهار مقاله محمد عباس - لشی اعظم - نوی ژوند شم شیر - اولیا ئی کرام (اداره اباسین) بحر الانوار - عبدالروف شهروی - کاکاصاحب عقاب محسن و محسن اعظم - ترجمه یعقوب درانی - غازی دلاسه خان عقاب

۱۳۸۴ھ - ۱۹۶۵ع دیوان خواجه محمد نبکش (اکیډیمی) - دیوان کاظم خان شیدأ
باتو راجمل ختک - پت پسرلی - محمد الدین مقید - زری او ښکلی
مقدرشاه مقدرس انه حاجی گل صوفی - سلکی - غلام یوسف یوسف - پاک
ندگی سعادت شاه جبل - موجوده جنګ - سیر محمد مهر - دری ملغلری
حاجی محمد - سوات دراسه (تاریخ تنقیدفن) افضل رضا چار گل همیش
خلیل النالیدی سوات - محمد نو ازطا هر - پښتانه د تاریخ په
(رنړا کښی - بهادر شاه ظفر شاهنامه ایرانی - حافظه + - روحانی
تړون - عبدالحلیم اثر - امام اعظم اسرا رطو روی - وعلم
لاری - عبدالروف نو شیروی پښتو سکهئی افضل رضا دبیر پښتو
نقیب الله - دعلم رڼا - عبدالروف نوشهروی - ګلونه او ازغی
ارباب سکندر خان خلیل -

۱۳۸۵ھ - ۱۹۶۶ع دیوان کاظم خان شیدا ترجم اردو - انوار الحق - سوری
هاشم بابر - جهاندار شهزاده - احمدی صاحبزاده وطن -
سیر احمد صوفی - احیأ العلوم - کتاب العلم - محمد عباس -
گل خان - شیرزمان غمژن - انتظار - ساتوخان - لوظ - ش - م - شیر -
ښکلی پاکستان - عبدالروف نوشهروی - مظلوم امام سیر مهدی شاه
نصر - همیش خلیل - پښتو تیچر - افضل رضا - فلسفه نوی
او زړه - ارباب سکندر خان -

۱۳۸۶ھ - ۱۹۶۷ع عبدالقادر خان - همیش خلیل - ګلدسته - غمګین - محمد اسلام اجملی
ترجمه جاو یدنامه - امیر حمزه - (اکاډیمی) - کلام نسیم - الهام گل نسیم
ترجمه بال جبریل - عبد الحلیم اثر - ژوندا وفن - اجمل ختک
سپو ږمیه ګر نکتو هه راخیژه (جیز انو نس) اخبار العلوم کتاب
العقائده - محمد عباس - حجته الله البالغته - محمد عباس - فتوح الغیب
محمد عباس - خیر البیان - بایزید انصاری (اکیډیمی) رنځور -
هیر - تو ریالی - هلالی - ادب ځخه دی - سحر یوسفزای - او بی
پنګه - عبدالاکبر کاواکی - سفتون - خیالونه - هلال احمد هلال -

۱۳۸۷ھ ۱۹۶۸ع کږ کوشتو - راحت سیال - بهرام - گل اندامه - فیاض (اکیډیمي)
الهامونه عبدالحمید کامل - ترجمه ضرب کلیم - سید تقویم الحق - -
نیک عمل - محمد عباس کجري - قلندر - خرخ عائشه مالک زماد حج تاریخ سفرنامه
عبدالوهاب د پښتو نثر تاریخ افضل رضا - زسونږ مجاهدين
عبد الحليم اثر
۱۳۸۱ عبدالقادر خان - انوارالحق د پښتو موسیقي علاستو نمه کلیسا مردان -
(عیسائیت) ترجمه پس چه باید کرد و مسافر - سید محمد تقویم الحق (اکیډیمي)
اولس سوري - شریف گل - شعلي - عبداللطیف شاهین - دغالب کلام - سراج -
الاسلام - اخوند درویزه - مقدمه سید تقویم الحق - گلدسته روسي - نورشاجهان -
لمبې هدایت الله - د وزیرستان تاریخ - سیفي - خوا وه ترا خه
مغموم - اشک ئنبر - سید حسین - مثنوي - عبدالاکبر - حرص - هلال احمد هلال

۱۳۹۰ھ
۱۹۷۰ع طوفاني غم (شیر عالم ماسوني) طالب ولي محمد - دیوان سیاجناب کاکاخیل
دین - میلا ذاعبذالقادر - زری گلونه - زرگل - اسماء الحسنی - محمد عباس
فلاح دارين محمد عباس ارده پښتو لغت سید انوارالحق پښتو ژبه - لغت (پښتو اکیډیمي)
اول جلد - (جاري دي)
۱۳۹۱ھ دیوان نجیب سرهنري (اکیډیمي) --دیوان قنبر علیشاه دیوان فدادتیراو ډمی
۱۹۷۱ع جدران منظر اپریدي - دم درود - عباس - دخوشحال بابا یو شعر - امیر
حمزه شنواري - دبی ارزي کچکول - افضل رضا - دسروتعویز - دهقان -
امانت - شیر زمان دمحلو نو خوا - ظاهر اثر اپریدي - تاریخ رحمت نی -
امیر معظم شاه
۱۳۹۲ھ صرف سینه - محب الله ارمان - احیاي العلوم - کتاب الطهارت - محمد عباس
۱۹۷۲ تعلیم الاسلام - محمد عباس - داسلامی فکر نوي تشکیل - ترجمه علام اقبال
سید الابرار - خوا وه یادونه - امان الملک نور - وزره تکور - زاهد البو الا اثر

۱۳۹۳ دسو زیادو نه‌صاحب، دین‌سو ز --تنر انکی - پر یشان‌ختک «داو دشاه- پر و یز»

۱۳۹۴ ﻫ کو رو نه، شیر زمان‌غمزن تاریخ سر صع بخو اشی

سنه دو ست‌محمد کامل - هفت زبانی لغت، فضل معبو د

۱۳۹۵ ﻫ شاپیئری، غلام حبیب‌سر و ت

سنه

۱۹۷۵ بنیادي‌پښتو ، پر یشان‌ختک‌او ملگری

۱۳۹۶ ﻫ سباو ن، قلندر

سنه

۱۹۷۶ بدلو ن، قمر

ضمیمه ـ ب

---

هغه کتابو نه چی دطباعت کال‌نه‌لري .

---

بهارنو رو زي، قاضی‌سیداحمد - تفسیر سو ره‌ملك و الر حمن، سو لانا عظمت‌الله جنگ‌نامی، سیدبو علی‌شاه مجمو عة‌الخطب، ملااحمدجان - طو طی‌نامه، مولااحمدجان‌سکندر نامه، ملااحمد جان - جنگ‌نامه‌شیر خدا، عجب‌خان‌دیچگی کسب کار، ملانعمت الله - جنگ نامه سیر حتم، ملانعمت‌الله - مناقب‌غو ث‌الاعظم، ملانعمت‌الله در مجلس، ملانعمت‌الله - رفیق‌الو اعظین، ملانعمت‌الله - ر یل‌نامه، ملانعمت‌الله‌فال‌نامه( کر لکسنگهه) واسع نامه( کر لکسنگهه) - هشت بهشت( کر لکسنگر )جنگ‌نامه‌حضر ت‌علی( کر لکسنگهه). جنگ‌نامه‌حضرت‌حسین( کر لکسنگهه) تذ کر ة‌الخو ثیه‌و تذ کر ة‌البخاري(اغامحمدپشاو ری)جنگ‌نامه‌ز یتو ن، ملانعمت‌الله - جدید معر اج‌نامه، غلام‌محمد‌گگنیانی - معر اج نامه‌جدید، شاه‌افضل‌خان فالنامه‌قر آن - مستقیم، نو ر نامه محمدا کر م - فقر نامه‌فیضان‌الله‌فیضان - دیار سینه، علی‌حیدر جو شی حکایت‌گالاجو اب، علی حیدر جو شی -- دیو ان‌بی‌نظیر، باجو ري‌مو چی - ر سالةعلم‌القراءت‌ضابطه ملاشهو ر کو هستانی نقش‌سلیمانی( کر لکسنگهه) جنگه نا مه‌امین، سیدحسن (چهجو سنگهه) - ادم‌در خانی ، سیدبو علی‌شاه(حاجی‌محمدعبدالر حیم) ادم‌در خانی، فخر الدین‌صاحبز اده - قصه‌سیف الملو ک، راحت زاخیلی(اسلامی کتب خانه‌پشاو ر و حاجی‌عبدالر حیم)قصه‌سیف‌الملوك، و لی‌محمد(سیدشاه‌مروان)

سیف‌الملوک ، محمدنور ( رحمان‌گل‌نیو کاکشال‌پشاور ) شهزاده‌بهرام‌گل‌اندام ، فیاض (عبدالحکیم‌پشاور) وفضل واحدپشاور - امان‌گجراتی،عبدالخالق‌پشاور - گل‌صنوبر، امان گجراتی‌گل صنوبر،طاهر رشید(پښتو اکیډمی)سیمرغ وشهزاده‌فخرالزمان، شیر بهادر ساقی- جان‌عالم،عبدالرحیم- بهرام‌گورو حسن بانو،ملااحمدجان شهزاده فالک‌ناز ، ملااحمد جان.

قصه‌چنری،ملااحمدجان- امیرحمزه ملااحمدجان- نیکاختر و حسن بانو - نورمحمد استاذ- اورنګ‌او تاجیری، نورمحمداستاذ- سخی سلطان‌شهزاده ،نورمحمداستاذ- شهزاده‌دل‌خرم، محمدرمضان‌ناطق‌شهزاده،توحیدالله کاکاخیل-الله دین‌چراغ، عزیزالرحمان مفتی- پښتنه پیغله،سراج‌جهان‌هلال- دشام‌محبوبه‌او دروم‌شهزاده،عبدالغفارنائب (ناول یادراسه) چهار درویش، ملانعمت‌الله-شیر یني‌فرهاد،ولی‌محمد- ترابان،ابراهیم شاه - زلف لیلی،گل دراز اسیر- ممتاز شهزاده،امیرحیدر- لیلی‌مجنون،ملانعمت‌الله غل قاضی ،احمد- یوسف خان‌شیر بانو،علی‌حیدرجوشی‌رامدادخان،علی حیدرجوشی-شهزادعدل و نیلی شهزادي، طالب‌ولی محمد- جفاکارمعشوقه،صاحب‌حق- قمرالزمان ،احمدجان- شهزاده شیرویه، صفدرجان‌نیم بولاتیم‌بولا،ملانعمت‌الله- سوهنی‌مهنوال، ملانعمت الله- رستم وسهراب، ملانعمت‌الله- فتح‌خان‌قندهاری،ملانعمت‌الله- شیر یني‌فرهاد-ملانعمت الله- معرفت ، محمدعباس- احکام الاسلام،محمدعباس‌تعلیم‌الدین،حافظادریس- حیات‌المسلمین،ترجمه‌سیدتسنیم الحق کاکاخیل پنج‌گنج،مترجم‌مولاناعبدالرحیم .

درة‌الناصحین‌عربي پښتو، نورمحمد- اسلامی فیضی، حافظادریس- اسلامی فیضی ، حافظ ادریس‌تعلیمي‌فیضی،حافظادریس- خوږی‌لطیفی ،حافظا دریس- بیربل‌نامه، ولی‌محمد- دتوکل‌خان‌خوب- بهادرشاه‌ظفر - سروزروسیند، بهادرشاه‌ظفر - پټه‌خزانه او دری سوئی ،بهادرشاه‌ظفر - ننی‌دیر، رحیم شاه‌نسیم- سیرة‌النبی جلداول (عبدالکریم مظلوم) دکانړی کر -ښی،سیدنواز- دګلوخانګه،عظیم‌خان‌عظیم- دعشق‌تاو، دلارو سیلاب- مجبورزړه، دلاور سیلاب- دزړه‌ټکور،سلیم‌خان- دګلوخزانه- خان‌محمدجان- دناز خندا ، کمال‌زي شاعر- راز،لطیف‌الله‌جان‌عاصی- ډالی، عبدالوهاب نوي فیشن عبدالوهاب- زلفی رخسارحمید- خلمی‌خیالونه،اشرف‌خان‌خلمی- کلیات‌دلسوز،تاج‌الملوک‌دلسوز- شغلی ، عبداللطیف شاهین

بر یښنا،سعداللهجان برق - کاروان‌عشق،جمشید - پر و از عقل،مولاناعبدالله - تحفة الانصار سیدشیر شاه - حب الوطن‌محمدرحیم - حکایت‌عبرت، پیر غلام‌صادق - دحق چیغه، عبدالوهاب دستي - دعشق‌اواز - سیر زمان‌محتاج - عشق‌محبوب،شیر زمان‌محتاج - غجنه دنیا، فضل رحیم دلسوز - غمجنه‌سینه،سیر امان‌سوسند - کتاب‌نصیحت،ذاکر اللهذاکر - کیمیائی‌صداقت ، توران شاه‌شاعر - دخیالو نو سپرلی،محمدنوازختك - ماواخله،محمد نوازختك - دولی،محمد نواز ختك - گلمي گلونه،امان‌اللهوزیر - نیم گری‌نیمه‌خوا،خانزاده‌محمدصادق سیر - د شونډو سلګی - محمدحسن‌حسن - ادبي‌گلونه‌محمدسلیم‌اجملي - ځیګر خون‌ایوب‌صابر - لالهزار،یونس خلیل دیوان‌عبدالعظیم،حاجي‌محمدعبدالخالق - دسمیل‌ستوري،صاحبزاده‌ادریس - درد، سیف الملوك صدیقي - انداغ،سیف‌الملوك‌صدیقي - دگلو غنچه،عبدالرشیدا - پردي غم، علی حیدرجوشي - انجام‌غرور،،علی‌حیدرجوشي - ښکلی‌ژوند،علی‌حیدرجوشي - عجیبه‌گل، علی حیدرجوشي - دیوان‌حیدري،علی‌حیدرجوشي - پیغام جنت، علی حیدرجوشي - د سیوجام،اصغرعلی‌شاه - حسن‌اوسینه،اصغرعلی‌شاه - ولولی، پیرگوهر - سوی ( لاسونه،پیرگوهر - زرغن سپرلی، پیر گوهر - رونی‌سحر ،سیر مهدی‌شاه‌مهدی - رنگین‌گلونه،جمال‌شاعر - زخم پټی، جمال شاعر - عقل‌تمام،جمال‌شاعر - دهستور،جمال‌شاعر - اتفاق،جمال‌شاعر - دیرغم جمال شاعر، روح چمن،قدرختك - دگو درښکلی‌ننداره،قدرختك - خشب زیتون،عبدالواحد تهیگیداد - تګ‌تکور عبدالواحدتهیگیدار - سورلسو یلی،فرمان‌اللهفرمان - نغمه‌حیات،گل خان - نورصبرنه‌شوم دوران‌خان‌جهانگیر - دزړه‌غوټی‌رب‌نوازا ورك زي - عجیبه دنیاشمس‌الرحمن - داورلمبی فدامظهر داغ(اسلامی کتب‌خانه) - معجز ،عبدالوهاب‌نوشهروي سردارعالم، مرزا عبدالرحیم دلی شهئی ، صد رختك ( پښتو اکیډمی )درمن عبرت،عبداللهجان اسیر - عبرت، د هقان - هیري‌او ایري،ساتو خان - نوي‌چپی،اسیر حمزه - خو ابنی‌او انگور ،محمدا براهیم شبنم بهادره پیغله،محمدابراهیم‌شبنم - دشوي‌پانړه،زیتون‌بانو - مات‌بنګري، زیتون‌بانو - نوي‌سحر ،مبارك سلطانه‌نسیم - کیری‌لاری،گل‌افضل‌خان - داغونه،گل افضل‌خان - در شهسوار، عبدالروف محمدیوسف - انگازی،ارباب‌رشیداحمد - گنج‌پښتو ،مولوی احمد - تاریخ محمود،غزنوی‌احمد جان - سیرت‌الرسول،امین‌گل - تاریخ سردار دوعالم، سیدادم الله - دری‌ننگیالی،محمداعظیم

افريدی - درویش پاچا، دهقان خزینهٔ افغانی، محمد اسماعیل خان - صرف نحو، خیال بخاری اتالیق پښتو، خلیق - اثر بخاری - پښتو ژبې بنیادي مسائل خیال بخاری - ژوند، حمزه شنواری ژور فکر ونه، حمزه شنواري - خان سلام علیکم عباد د پیر بیانی - خوشحال او اقبال عبدالصمد.

شپون

# معاصر پښتو شعر ته یوه کتنه

په معاصر ادب څېړلیکنه د محقق د پاره لوی چلنج دی داځکه چې دی هر و سرو دژوند یو شاعرانو سره هم سرو کار لري او که دي هرڅو سره زیار و باسي چې اتفاقي قضاوت و کړي په دې علت چې دې خپله هم په همدغه عصر کې اوسي خامخا د عندیت عنصر ځنې مخه و د پټونه و رباندې پړدي. سربېره دې هم ساپه دوو دلیلو دې چلنج ته مثبت ځواب و رکړی .

یو داچې زه پخپله هم ځان دهمدې خپل عصر یو شاعر گڼم بل داچې زه دافغانستان دولس د پاره یوه روښانه آینده گورم چې دهغې په تحقق کې لیکوال هم لاس لرې زه په هیواد کې دهیواد د پاره داسې سوکالي تصویر لرم چې زمونږ اصیل ولس دهغې مستحق دی زما انتقادونه اوگوته نیونې همدې نیمگړغي راتلونکې ته دشاعر عام رول دی .

د معاصر والی په باب په نړی کې د منقدانو ترمنځ ډیر اختلافات شته او دې پوښتنې ته چې معاصره دوره کومې ته وایه شی ډیر ځوابونه و رکړی شوی دی. څو دلته به مو پام دغو تیر شو او په افغانستان کې به پښتو دچاپ شو و اشعار و معاصره دوره دسراج الاخبار نه رادیخوا حوده وگڼو. او داهغه وخت دی چې دملي دولت یا (Nation state) جوړیدو تکل په

شعر کې په‌پراخه پیمانه ځلیږي ددې وخت دري‌او پښتو ژبو دلومړي ځل‌دپاره دسیاسي فلسفي پرمخټگ- ملي یووالي اونوردا مې سفهموسو نه چې ځینې یې پخوا هیڅ کله په‌کې نه وځای سوی او دځینو یواځې ابتدائي تومنه په محلي دول په ځینو دیوانو کې لیدل کیده په‌شعرونو کې افاده کړل او په همدې دلیل دژوند یونمونـوله. دځې ښکاري چې پښتو او دري شعر دواړو خپل لرغوني او دطلائي عصر یون هیر کړي وا وله سره یې خاپوړي کولې.

دمحمود طرزي هغه شعرونه چې دالوتکې او رگاډي اوسکرو په توصیف کې یې ویلي د‌دري‌شعرله‌عنعني سره ښکاره توپیر لري دري ژبې چې تر هغه وخته په د رباري موضوع گانو لگیاوه ددې انقلابي تحول زغم نه‌لاره او همداوجه ده چې د محمود طرزي او دسراج الاخباردنورو دري او دهغې په تبعیت دپښتولیکوالو اشعا راکثراً هنرنه بلکه دهنرکار یکاتورته‌ورته دي.

دمثال دپاره به‌دسراج‌الاخبارځینې پښتو شعرونه وگورو:

| | |
|---|---|
| اول‌حمد دهغه پاك پروردگاردی | چې معزدممکناتو په مقداردی |
| مولیناسحی‌الدین‌صاحب غضفوردی | دتمام‌افغانستان دسترگو تور دی |
| په دروېشتمه شماره کې د اخبار | یواعلان‌یې‌په‌پښتو کښلی تیار |
| ایرادنشته‌په پښتو کې‌ای صاحبه | فضل شوی‌په‌افغان دی‌له‌واهبه |
| افغانان بهادر ان دز ماني دي | نوراقوامو رته‌په‌شان‌دزناني‌دي |
| که اخبار شي مزین په افغاني | نورانی‌به شي افغان په معاني |
| ای‌خاوندﻩ‌ذوالجلاله باري خدایه | ترقي پښتوله‌ورکړي بې‌نها یه |
| د اخه عجب د ور ا ن د ی | چې ر ا غلي پر افغا ن دي |
| ر نگا ر نگه تر قي د ی | خه عجب محبوب عنوان دي |
| د اله کو مه شو په مو بـ کې | چې ظاهر ا و نما یا ن دي |

١ - سراج‌الاخبار،دریم کال ٢ گڼه- مولوي‌صالح‌محمد.

٢ - سراج‌الاخبارشپږم کال -میرزامحمدرحیم.

داخو عصر دسراج دي چې افغان ټول پری روښان دي
پښتانه کړ دی نشین دی سر دهغه چې نوم یې خان دی
نه کمئال او نه هنرو بې لدی چې ټوله خا ندی
ته سراج الاخبار ته ګوره چې دملك په تن کې ځان دی
او من بیانو رعلی نو رسو په پښتو چې دی ګو یان دی
زمصالح غلام دشاه یم په سا ډیر دده احسان دی
پر دښمن دی غلبه وی خو زمین او خو اسمان دی(۱)

ډیر ئنادخپل مولا کړم چې او طان مې خپل دی
که خیبر دی که کنړ دی که لغمان مې خپل دی
قندهار حمزار سهرات هم بدخشان مې خپل دی
شکر شکر باغ مې خپل باغوان مې خپل دی
ګل مې خپل سنبل مې خپل سو سن مې خپله
ریحان خپل نرګس خپل سمن مې خپله
پسته مې خپل بادام مې خپل رو غن مې خپل دې
عنب خپل انار خپل وطن مې خپل دې
شه بادشاه زمو ږدې مهربانه نظرو کړه
ډیر عالی نیت دې په شه شان نظرو کړه
شه حاکم را کړی عزیزجانه نظرو کړه
عجب عصر دی افغانه نظرو کړه
ژ به خپل قلم مې خپل بیان مې خپل دې. (۲)

درحمن بابا پر غزل مخمس

جار دې شم تر نامه راشه راشه په هجران کې یم نا کامه راشه راشه

---

۱ - سراج الاخبار. دریم کال. ۲ ګڼه. مولوی صالح محمد.

۲ - سراج الاخبار شپږم کال - میرزا محمد رحیم.

زساو ردصبح و شامه راشه راشه — اې زما دزړه آرا مه راشه راشه
سرو قدګل اندامه راشه راشه

بازارخوښو ښوستاله حسنه دخوبانو — ولی ته یی غزال چشم هم مطلوب د شاهانو
ایمان و رونکی دشیخانو دپیرانو — بی تانسته چی حرمت د عاشقانو
دعشاقو احترامه راشه راشه

دا جهان کله مکان دا نبساط دی — مبارك ددو و مینو اختلاط دی
تله دی تله دې له جهانه راشه راشه (۱)

مینه راشه په سرو اړوه ګلګون ساغر
چی ژ سی تیر شو او داخله شو دجمشید اختر
په ګلستان کی په راتګه د نوی کال جلو من
طاق نصرت نړ لی قوس قزح ساز دیګر
سلطنت داسی نه و لیدلی پښتانه په خواب
هم نه در لو د په دی شان خراسان اختر
دی امیــــــر بـــــــن امیر
په امیران ددنیا نه لری بل همسر
تر هغی پو ری چی دنیا کی دی ماښام و سهار
تر هغه پو ری چی اسمان چی انبر کی وی بر

دانمو نی دیوه ډیرساده او مبتدی شعر ښکارندوی دیچی هلته سمبو لو نه نیغ په نیغه او بی له دې چی هنری عملیه پری اجرا شی یو په بل پسی قطارشوی دي .
«پسته سی خپل بادام سی خپل رو غن سی خپل دی» هیڅ تخیل نه لری بی له دې چی د هیو اد خپلوا کی او شتمنی ته یوه بر بنډه او سطحی اشاره ده حتی هغه زو ړ سمبو لیز م چی پسته خولی ته او بادام ستر ګو ته و رته و بولی هم د لته نشته . که د اشعرو نه د پښتو د شفاهی ا و کلو بانډو شعرو نو غز لو او لنډیو سره پر تله شی له و رایه ښکاری چی شا عر نه د ی بر یا لی شوی هغه ایدیال چی دی و ربا ندی ګرو همن دی داسی بیان کړی چی خلکو ته دشعر په حیث د ښلو

(۱) - سراج الاخبار شپږ م کال شپږ مه ګڼه افغان

وړوی. دشاعرنه‌هم دپښتو دطلایی عصرعنعنه‌ور که ده او هم یې‌دولس په‌خیر خبری نه‌زده.
«دېرتناد‌خپل مولا کړم چه‌اوطان‌سی‌خپل دی» دېرتنا» او«اوطان» خو اصلاً د پښتو ژبې اوحتی عربی ژبې له‌ږغاونې سره سمون‌نه‌کوی. شاعر په‌دی مرحله کی پردی شوی‌دی.
په هرصورت دابه دمعاصری دوری لومړنی پړاوو پولو اوشاعران به یې همنه گرموو ځکه داپردیتوب دهغه وخت په ټولو منورینو کی موجود و. اساساً د پرمختگ او ملی دولت افکاردپښتنو دپرگنو ټولنیز جوړښت ته پردي و. معارف- مطبوعات- اونـوری‌د غسی نوی موسسی خلکو ته‌نااشناوی او دضرورت احساس یې دپښتنو په‌زړونو کی موجود نه‌و. اصلی خبره‌دلته ده‌چی همدا دپردیتوب احساس دمعاصری دوری په لومړنی پړاو پوری منحصرپاتی نه‌شو او دهغی اغیزی زموږ ترعصره را وغزیدې. که دموجوده خپرونود پښتوشعرونو احصائیه‌واخستله‌شی‌نوپه‌محافظه کارانه‌اټکل ویلاې شو چی پـه سلو کی‌اتیا په کیفی او هنری لحاظ دسراج الاخبارله‌عنعنی لږتو پیرلری ا وزما داومنی مقالی موضوع همدغه اکثریت‌دی‌دااکثریت دی‌چی شعرونه یې په رادیو کی اوروا وپه ورځپا نو او مجلو کی یې‌لولو او په کالنیو اوسوسمی مشاعرو کی یې اورو.
په‌دغو اشعارو کی یوڅه گڼ‌مشخصات شته‌چی کوزبه‌په‌همدغو یو نقدې نظرو کړو.
**عقل کل :**
دغو ټولو شاعرانو ځانونه‌یوجگ برج جوړ کړی‌دی اوله‌هغی کوزوگړوته در افشانی کړی. دشاعری همدغه خاصه ده‌چی هغی ته یې سرسوزه اوله اسرارو ډکه بڼه ور کړی او دشاعرهمدغه سلوك دی چی خلك په‌غلط وربانذی دلوی حکیم اوجادوگر گمان کوی. خو خوځله منقدانو داخبره یاده کړی چی شاعر جادوگرنه دی او نه دروېښمو چینجی دی چی له گیڼی تارونه خړی‌خو دشاعرخارق‌العاده قدرت لاهم په‌خلکو کی منلی شوی حقیقت گڼل کیږی‌خلك خو پر یږږ دې حتی ان چی شاعر پخپله همپه خپل غیب‌اللسانیت گرو همن دی. ددې غلطې انگېرنې تاریخی ریښې ډیری‌دی خو یوه ښکاره غوځ تاریخی ریښه یې په دې حقیقت کی پرته ده‌چی شاعرپه ژبه کی ترنورو گړنیو ډ یرمهارت لری. شاعرته دژبې خواص داسی جوت دی‌لکه چی‌ده پخپله جوړه کړی‌وی دژبې سره ډول ډول لوبې کوی او

گلالی او نوی‌تر کیبو نه تری‌و باسی. که«گل»د«بلبل» سره هم قافیه نه وای شا عر هر و مر و داسی لغت و رته پیدا کاو مچی و رسره لگید ای. لاس‌لستونی- پوله پتی- رنگه بنگه- تنگه تکو رکیل کرونده- او پەزرگونو داسی پیوندونه چی حتی یوبی هم تصادفی نه دی د ژبلوبی نمونی دی ځینی شاعران لومړی د قافیی لغتونه پیدا کوی او له هغو لست جوړوی لکه سار- نگار- کار- شمار او بیانو هغه دبیت داخرسره کوشیر کوی همدا وجه ده چی د قافیو ارتوالی حتی دشعر پەاو ږدوالی هم اغیزه کوی دخوشحال « بیا له کومه را پیدا شو دابهار» دهغه تر هغو شعرو چی هلته قافیه تنگه وه ډیر اوږد دی همدا د ژبلوبی سها رت دی چی شاعر تەیی داسی لقبونه‌لکه ژبەور -خولەور - نکته سنج- سخندان شیرین کلام - غیب اللسان‌او نورو رکړی دی شا عرله دی ملکی ډیره ښه گټه اخیستی او پە پیړیو پیړیو خلك د خپل جادو پەبندکی ساتلی دی. دژبی سره ډول‌ډول لوبی شوی‌دي حتی ان چی د هغی د پاره دعروض پەنامه یوتش‌پەنامه«علم» جوړسوی دی .

لفظی صنعتونه لکه ابهام- تضاد- تشابه‌او داسی نورتول دژبلوبی بیلگی دي . ځینی شاعران ساده خبره دالفاظو په کړلیچوخیژوی.

خطپرمخ دصنم‌راغی کەسپوږمی‌شوەپەهاله کی
یایی‌غابن‌پەخوله کی‌زیب کاکەژالەشوە پە لاله کی

چی مطلب یی تش‌دادي:
یارسی‌خطوبریت‌دي‌او...ین‌غابنونه لری .
یا

اهو چشمو چی‌یی‌زره‌پەافسونو کیبن | هغوسرلەابادب‌پەها سون کی
انتظار یی دنرگس‌گونه کړەژیړه | سرویسرپسی‌لەباغەبیرونو کبن

یایی ساده وایی :
کەسی خوك پەاسیری‌شمیری‌اسیریم | کەسی‌خوكه‌پەفقیری شمیری فقیریم
یا
سوردي خواری‌او سزدوری کوی‌لەپلارەسره
تاپەسستی کی‌اسیل‌و شلاوەلەیارەسره

پەدری کی دژبلوبی شالونه زیات دی او پەبدل کی بی معراجو ینو. اوساط الناس که نران دیدبدل دیبیت‌تەدی‌تینگک شی

می نغمه‌مسلم‌حوصله‌ای که‌قدح کبن گردش‌سر نشود

بحل‌است‌سبکسری‌انقدرت که‌دماغ‌جنون‌زده‌تر نشود

پەافراطی موادوکی دشاعرانو داژبلوبه دجادوگرانو اوپاروگرومنترته ورته ده چی هلته هم‌لکه انترمنتر - کته کاتن - کته کوتن‌دخولی خخه د اسی رغونه یا سی چی په ظاهرکی‌لسان‌تەورته‌وی‌خو که‌یی د تحلیل لاندی‌ونیسی‌چتیات خیژی .بایی د شعرپورتنی شالونه‌چی‌ساور کړل پەدې کی رانشی زمادعاتش‌دومره‌وه‌چی وبنیم چی شاعران‌پەلومړی درجه دژبی استاذان دي او‌ځینی یی‌لەدی‌استاذی‌پەبی‌انصافه توگه گټه اخلی. دادی ته ورته دی‌چی سړی‌دیوه ساشوم سره هغه لوبه وکړی چی ساشوم تەیی تول چلونه نەورځی او تل یی دیو رخخه گټی. شاعـرتش پـەدی‌امیتازچـی دی پەژبه تـرنورو بـه پـوهـیږی حق‌نلري چی لەځانه عقل گل جوړکړی‌او د هری‌طبیعی‌او‌تولنیزی‌پدیدی‌لەپاره‌لفظی او‌شاعرانه تفسیر وړاندی کړی .

کەخوك دحقیقت پەلتە کی‌دی کولی شی‌چی‌دشبتەاجتماعی اوطبیعی علوموله لاری هغه بیاموسی او کەدعاوسو خانگی دیری دی او دی غواړی چی دپدید وتل ته ورسیږی نو کولای شی‌چی فلسفی تەمخه کړی، شعرمو رتەحقیقت نه کشفوی بلکەهغەپدیدی‌چی‌فیلسوفانو، پوهانو کشف کړي دي‌رابرسیره کوی‌دادند ەپەخپل‌ذات کی کافی‌درنده‌ده او که‌یی شاعرلەبوځنه ووځی‌نوخپل رسالت‌یی پای ته رسولی دی .

**خییشت‌شعر:**

دوه‌شیان دشلمی پیړی ددو یمی نیمایی برخی په شعرکی رتیل شوی دی یو یی هماغه د شاعردعقل کل‌ادعا دەچی پاس یاده شوه اوبله یی دشعرخیشت والی دی‌چی لەدی خخه زما سرادژرا انگولا زاری- لافی‌ځان‌ستاینەاونوردشاومتوب چمونه دی چی شاعران‌یی کوی لەبده سرغه پەپښتو کی همدااوس دادواړه‌عنصرونەیواځی موجود دی بلکەلاتراوسه زموږ لوی شاعران لەهغی کاراخلی.

دغه کوزی نمونی چی د کوم خاص شاعر نه دی چی تقریباً هر شاعر یو ری تړل کیدای شی و گوری:

دی ښی نه: قاتره - اپاسین - بابا - هندوکش - خیبر - بلخ - غزنی . . . .

نسبناسه: دپښتونخوا بچی - زمری - دنرزوی - دمیرویس او احمدشا ه زوی .

حالت: سوزم - سره لمبه شوم - تباه کیږم - شنه لوخړه شوم - ستړی یم - له خپگانه می زړه چوی - په جامو کی نه ځائیږم - له غیرته او راخلم - روانیږم - نه دریږم - لیونی یم - غورځنگ کوم - نه تراپلم - پیاوړی یم . . . .

دا افراطی اصطلاحات او س دوسره په پښتو شعر مسلط دي چی سړی مثلاً په شعر کی نشی ویلای چی: بیگاشپه لیر خپه وم یا زما معشوقه نسبتاً ښکلی ده خو پوزه یی کږه ده. یا پښتانه په جنگه کی کله بری موسی او کله ماتی کوی . . . . . داسی معتدلی خبری چی یو رښتونی انسانی حالت بیان کړی په پښتو شعر کی سم ندی ځای شوی او شاعر لا د هندوکش له خوکی نه دی کوزشوی. دی لکه زرکه دغره په جگو ترو کی کرکړی کوی حال داچی و لس د کربوړی په خیر دگټ شاته پټ پټ کیږی او دی بیا د خلکو د حالت تمثیل ادعاهم کوی.

که د شاعر داژبلو په له یوی خوادده مهارت ښیئی له بلی خوادده دتخیل د کمزوری معنی هم ورکوی د توضیح دپاره به د ابیخونده خیال: (له ستر گوو ینی غورځوم صنم) وگورو د شاعر مدعادلته همدوسره ده چی (زه په یار پسی ډیر خپه یم) داخپگان دی نشی بیانولای نو یوه کلیشه یی خبرچی داو ښکو په ځای وینه تویول دی راالخلی. داخرگندونه غیرله دی چی ښکرور دروا غ دی یو بل زیان هم لری او هغه داچی هغه خاص ډول خپگان چی یو سړی ته په داسی موارد و کی پیښیږی نه بیا نیږی او دهمدی کلیشو اودرواغو له شامته گونگه پاتی کیږی په ترکیب - په تشبیه - او په بیان هغه دی چی لوستونکی یی هرخومره ډیر په ذهن کی وارو وی هماغومره یی خوندزیاتیږي او موارد یی ډیریږی بالعکس کلیشه هغه ده چی په ځای دریږی او که هرڅو یی سړی پوچه خیژی په استعاره تازه استعاره ده چی لکه دسهار و ږمه زړه او لکه دماشوم خندا یی بی غرضه او سپیځلی لگیږی . بده استعاره لکه جنجړ گلاب تروش بوی کوی او لکه دملا نصرالدین تو کی چی په زرها وو ځلی تکرار شوی وی بی خونده وی . د ادوه

شعرونه سره مقایسه کړی.

ستاد زړه ستاد زلفو درخسار طلب په زړه کی . ځکه پروت دی چنبن پاندی ښامارخو ښ.

۲ خدای دی د زلفو ځانګی تاندی لره داچی په ماغوندی رنځور زانګی په لومړی شعر کی دچنبن او ښامار ترکیب یو کلیشه ده او لوستونکی په لومړی ځل پوهیږی چی داخر (خو ښ) نو ګو یادهمدی شعر قافیه ده او تراخره تکراریږی غالبا په شاعرلومړی یو لست جوړ کړی وی لکه ښامار خو ښ تا رخو ښ بارخو ښ حما ر خوش ګلزا ر خو ښ- او داسی نور بیا به یی نو دښامار د استعمال دپاره چنبن او ښامار ځوړ خیال را اخیستی وی. دتار دپاره به یی ښایی ځان داسی رباب ته ورته ښودلی وی چی دمعشوقی دلاسه په تماس رنګ تري خیژی او که څه هم ژړا او انګولا کوی خو خوش دی ښایی داسی یو ناشولته بیت یی تري رایستی وی.

چی می لاس د زړه و سراندو ته نژدی کړی
رنګ می و ځی له افلاکه یمه تار خو ښ

دحمار دپاره به دهغی دمترادف خیال په لټه کی په ور ښو برابر شوی وی او غالباً به دغسی یو شی ځینی جوړ وی.

هسی خو ښ یم په ډیران ستاد جو من زه
لکه وی په ور ښګری کی حمار خو ښ

داپاسنی تجربه ګوروچی یواځی دژبی او کلیشی لوبه ده او هنر نه بلکه لفظی مهارت دی په دری کی نو د الفاظی د کمال او ابتذال سرحد ته رسیږی او داسی دبل ګیرونه لکه اچارچار - بسیاریار - کابوس بوس - ساطورطور - نمناک ناک دهغی برېنډ مثالونه دی.

او س به دهمدی زلفو په موضوع دابل شعرو ګورو:

خدای دی د زلفو ځانګی تاندی لره     داچی په ماغوندی رنځور زانګی

ګوری چی په دی شعر کی یو ډول معنوی صمیمیت او لفظی سادګی شته چی له پخوانی شعر یی بیلوی شاعر دلته په ډیره ساده ژبه یوه شخصی تجربه ترسیموی او هغه دادچی دی ناروغ دی او معشوقه یی پوښتنی ته راځی. که یو ګام نور هم په مخ لاړ شو نو دی په کټ کی پروت

دی او هغه وربانډی لګه وله راخوره ده او دزلفوسرونه یی دده په مخ زانګی که یوځه نور هم په کی فکروکړونو دیوی پښتنی کلیوالی تجربی سره ځانونه مخامخ وینو او هغه داچی رنځوران په کلوکی په کټو کی دولی دسیوری لاندی پر یوځی. دولی ځانګی ترنورو ونو او بودی وی او سړی کولی شی دلته لیونی وله زړه ته راولی چی ښایی دشاعر مقصد به هم همدامجنون بیدوه. دولی پاڼی دځینو رنځورانو په سر هم دګرمی د جذبولو دپاره ایښو دل کیږی او کله لاهم دهغی یوه ځانګه دناروغ په لاس وی او دمچ شړونی باچوری کارتری اخلی په همدی لړ کی چی نور هم فکروکړو نو په فکرکی سو داهم ګرځی چی وله معمولا دویالو او لښتیو په غاړوکی شنه کیږی چی له هغی برمخوادشولو یاجوارو پټی وی او کله ناکله بزګران بیل په او بوپښی یبلی دویالی په هغه بله ژی کی په هغو پستو شګو چی په همدی پسرلی دویالی دکیندنو په وخت کی په دواړو غاړو واچول شوی تیر یږی .

شاعرمعشوقی ته دعا کوی چی خدای دی د زلو ځانګی تاندی لره او که پام وشی زوناروغان هم تل دهغو خلکو سره چی ددوی حال پوښتنی همداسی سلوک کوی او شلاوه رته وایی «چی ته زما مظلوم دومره پوښتنه کوی خدای دی پوښتنه وکړه» داپه حقیقت کی د ناروغ ضعف هم ښیئی چی معشوقی ته عملی صله نسی ورکولای داشعر زلفی د چنډن دسر ښامار ته نه تشبیه کوی بلکه دیوی معلومی تازه او ساده و رځنی تجربی په اساس یی هغی ځانګی ته ورته بولی چی رنځورد لمر نه بچ ساتی.

ستاد زلفوسیوری لاندی هسی خوښ یم
لکه وی چی مجنون بیدلاندی بیمار خوښ

ګویا هماغه پاسنی معنی یی افاده کړوله خو په دی کی بیا هم دوه کمزوری وی یو داچه «بیمارخوښ» بیاهماغه قافیوی برج دی چی شاعر یی مجبور کړی دی چی د«رنځور یاناروغ» په ځای ختمی«بیمار» ولیکی یعنی شاعرلومړنی مسره او ددویمی مسری ترنیمایی زیاته تو له لکه دقربانی ګډوری د قافی د لبارته ورولی. ددې بیت بله کمزوری داده چی لوستونکی ته داسی نه بریښی چی دادی دشاعر شخصی تجربه وی بلکه له و رایه ښکاری چی یو تصنعی ترکیب دی او شاعر یو کلیشه یی حکم صادر کړی دی. لوستونکی د احساس نه کوی چی ګنی شاعر

دی‌په‌رښتیا دزلفو ترسیوری لاندی واقع شوی وی.

ددغسی ښتونو یوه خاصه دهغی لفظی اوښتون دی چی له عادی ګړنی ژبی سره توپیرلري په‌عادی محاوره کی مثلاً سړی وایی ځکه‌چی په چنغ‌ړاندی ښامارخو ښروی . داته دوزن اوسیلاب‌داونتی په خاطرجمله له سمی محاوری ښۍ اوړی چی د اپخپله لوستونکی اواور یدونکی ته‌ستونزه ده. په‌لویو شاعرانو کی داډول اړونی ډیری کمی وی اویوائې هغه وخت تری کاراخیستل کیږی‌چی شاعرغواړی دتاکید مرکز بدل کړی لکه دانجلی خایسته ده- ښایسته‌نجلی داده. په پخوانو بانك نوټو کی به دهمدغه ادبی اوښتون او کړ کیچو پښتو په‌تبعیت لیکل کیدل «دافغانستان بانك ولرونکی ته‌ددی سند وعده دادا کولو دملو افغانیو په‌وخت کی دغوښتنی ورکړی »

ددی معنی چی‌اوس یی په‌نوټو کی ګوروتش داده‌چی «دافغانستان بانك ددی‌سند لرونکی ته‌وعده ورکوی چی دغوښتنی په‌وخت کی سل افغانی ورکړی» ژبلوب شاعران هم دژبی سره همداچم کوی اوله‌هنرځخه صنعت نه بلکه تصنع جوړوی .

له‌بله پلوه په‌دابل بیت کی خدای‌دی دزلفو. . .

دااوښتون‌نشته‌اوجمله‌لکه سمه‌روانه پښتو په‌غوږلګیږی. داډول سمه- روانه پښتو معمولا درحمن‌باباواستاذالفت په‌شعرونو کی ډیرمثالونه لری.

لکه چی لیدل کیږی د دغی سرحلی دشعرخیالونه ساده -قافیه اووزن دواړه اومه او نیمګړی او تبلیغاتی بڼه یی بربنډه ده ا ولوستونکی پوهیږی چی د اشعارديوه ټاکلی هدف‌د پاره چی هغه دافغانستان‌ترقی اوملی یووالی دی لیکل شوی‌دی . داشکل نه‌یوائې په‌مطبوعاتو کی روان وبلکه په‌ښوونځیو کی‌هم د«هرچی‌هست‌ازبهرانسان‌مکتب‌است»

اود : وطن دی کور زموږ

د سترګو تور زموږ

یا :

هرملت‌چی‌شی‌ګویان‌دخپل‌ژبی

په‌سو یه‌اوسبك‌شعرونه‌لیکل کیدل.

سادګی :

سادګی دشعر یولوی صنعت دی خو پهدی شرط چی هغهپیغام- هغه لید او هغه تجربهچی رابرسیره کوی مبتذله نهوی هغه خیال یااسیج چی پهشعر کی وی هروسرو بایدداسی وی چی پهعادی و رځنی ژوندکی کهځههم سو بو رسره مخا مخ کیږو خود شعو رسرحلی ته یی نهشو راایستلی اولکه لیدلی- خوهیرشوی خوب په زړه کی داوراوړکی په شان را ګرځی خوچی ګوته و رباندی بدو رانه و رك شی.شاعرداتت احساس نیم بنده مرافیه- او نابشپړ خیال پلو دګلالی مجسمی او دیوه بشپړی صحنی پهتوګه داسی رابرسیره کړی چیزسوږ ژوندتهپههمدغه محدوده کی یونوی بعد او یوه نوی شتمنی و رکاندی.

دمثال دپاره بهداشعرونه پهسرسری نظروګورو:

پښتو ډیر بهسقدس رسمو رواج دی پښتون نوم دیو نجیب او اصل نام دی
پښتون ځان تهخپل ولس او ملیت پښتو نواله دپښتون زیورزینت دی
پښتو دود پښتو دستور- پښتو قانون دی پښتو ته پښتو سرګڼاو هم ژوندون دی
پښتو ته پښتو درمن دمحبت دی و رو رولی او قامولی او خو ږالفت دی
پښتو قول عهدو پیمان پښتو وفاده پښتو درمن داتحاد صدق وصفاده
پښتو ننګ پښتو غیرت پښتو همت دی پښتو ټینګه عزم ثبات او شجاعت دی

دپښتو عالمګیررحمن بابا:

عالمګیر دپښتو ژبی د ادب داسمان لمره
دمینو په جهان کی ستاقدم ترهر چابره
دبګرام پهلوی افق کی ځلاندستوری د سحره
دعرفان په میوستته بی نیاز ه قلندره

تهمرشدئی تهاستاذئی دصاد قو عاشقانو
بلخراغ دزړهدخونی رهنماد ګمراهانو

ییتهنیکهځنی نیولی ترالفته سالکان او بادشاهان اوفقیران
تیمنی او ملکیاراو شکارندوی وودغو رپهسر دروکی بلبلان
احمدشاه بابا ادی کی هم باباو تر دولته بینوا او سیا رو ښان

| | |
|---|---|
| دخوشحال غوندیدقام دپت پالو نکی | د پښتو او پښتنو الی خاد سان |
| په ختکو کی اشرف عبد القاد رو | بیاشیدا په محبت کی کاظم خان |
| داییشعرو که خوناب دزخمی زړه و | دسو سند عبدالحمید دراو مرجان |

بابا ته وایم:

لمړی یی بابالمر یی دادب په اسمانو نو کی

تهسولوی عنوان یی -دمعنا په عنوانو نو کی

سر سو په تا هسك دیدسیالی په جهانو نو کی

ویاړوفخر په تا کړو -په دیروا و مجلسو نو کی

تاته لوی واره- په درناوی وایو رحمان بابا

تل تر تل سو یادیی په همدیخوا ره عنوان بابا

دپښتو نستان پسر لی:

| | |
|---|---|
| پسر لی راغی په دښت او په داسان بیا | سسو ریری په سرو گلو گلستان بیا |
| پښتنو نجو نو ډك کړی پلوو نه | په سز ار دشهید انو ړ دی گلان بیا |
| دسپین غراو د خیبر له سر درو نه | پسر لی راوړی ځان سره ارسان بیا |
| داشبنم دگل په پانو دی که او ښکی | په یار خوو روی گو نهی یتیمان بیا |
| شاعرانو غوړ نیو لی دی الهام ته | راتیو لشوی دی په یاد کی درحمان بیا |

ایاداپاس لوستل شوی نمو نی شعرو نه دی ؟ په خواشینی باید خپل پوښتنی ته منفی ځواب ورکړو. داشعر نه دی بلکه یو لړ نظمونه دی چی هغه حقایق او یا هم تش په نامه حقایق یی په سو زون او مقفی ډول بیان کړی چی دیو لړ ځان غولوونکو تبلیغا تو له لیاری له هغی و رځی چی له پښتو خخه دسیاسی گټی اخیستلو موضوع رابرسیره شوی او بهخپبی. د امتداو ل کلیشه یی شعارچی پښتانه . . .

(مثال دشعر و نو خخه) . . . . . . . دی نه رښتیاده او نه دروا غ . پښتانه هم لکه د نړی نو رو قو مو نو په شان چی په نړی کی ترلسو زرو کم نه دی یو قوم دی او لکه مثلا دا فریقی مختلفی قبیلی دوی هم یوه عنعنه لرلی ده او اوس دوی په وجه چی افغانستا ن بو تاړو نه باندی د دی پدلیدو نی او برله او ښتو نی جهان یوه نه بیلیدو نکی برخه ده ددوی عنعنی ارزښتو نه هم دبقای

اصلاح سره د برابلاوي په اساس بدلیږي. د پښتو لرغوني او اوسني عنعنه څنګه زموږ د اوسني پرمخ تلونکي نوي دار ژبنتونو سره کوښیر او سنیتزشي ؟ دا به د هر اجتماعي دسیلبن دماهر انو او عاملانو وظیفه وي خو زموږ د عصر د شعر رسالت باید هم دا دی له شعر څخه دا غوښتنه هم روا ده او هم حتمي چي سوږ دي د خپلي نوي سره پخلا کړي یعني د واقعي ژوند تجربې دي زموږ د انګیرنو سره واغیږي او له هغي دي داسي ترکیب موږ ته راکړي چي موږ په کي د نن او سبا زیري وګورو. د خیشکي او زمند - او د دراني او غلجي او د پښتنو د نسبنامي موضوع باید اتنوګرافي وڅیړي او تاریخ دي رڼا پري واچوي د اباسین د ژور روالي او د بابا او هندوکش د جګوالي موضوع او س د کارتوګرافي او نوروسربوطو علوسو او موسسو له خوا په ښه وجه کیږي. د پښتنو حکیمانو او پوهانو ذکر به مورخانو او ژوند لیک کتابونو ته پریږدو. د پښتنو جنګنامي په ټولو تاریخونو کي په ډیرا و ډیر اختلاف راغلي دي.

شاعر ته دا ټول فروع دي او اصلي موضوع موجوده شته او ژوندی خلک او د هغوی ارتباط او توافق دي د دوی له ژوند یو تجربو - نا خوالو - خوشحالیو - خوبونو او ارمانونو سره بیا هم باید په خوا شیني وو ایو چي شاعر نه یواځي له دي چلنج سره په مقابله کي ماتي کړي بلکه ځینو یې هیڅ دهغې سره هیڅ ډول ارتباط نه دی ټینګ کړی او هغو شاعرانو چي په دې سیمه کي د قلم چلولو جرات کړی دی هم یو ډول کلیشه یې او سروج تبلیغات یې د حقایقو په ځای د شعر په نامه تیر کړي دي او یا د یوې ټاکلې ایډیالوژي بیان یې په نظم کړی دی.

اوس پښتانه د ترانزستور او الکترونیکس له برکته راډیوګانې او کسټ ریکارډونه لري او ژر به تلویزیون ولري کوچیان په موټر کي سفر کوي او نن سبا به په اورګاډي کي سفر وکړي او س د پښتون بزګر تراکتور - ترسر او کیمیاوي سره استعمالوي. او س په کلیو کي د بزلي ژرندي او د شولو پاکولو ماشینونه یا راغلي یا راوان دي. په هیواد کي څه کم دوه سوه اساسي صحي مرکزونه جوړ شوي یا جوړیږي. او س د پښتنو بچي د لوړي زده کړي د پاره هلي ځلي کوي او د پښتنو په ولایتونو کي د کانکور په ورځ دازموینې په سیمه کي د ښه وایښو دو ځای نه وي.

ایا شاعر د همدغه بدلیدونکي ولس درد - د هغې خپل مینځي ارتباط د هغې خوشحالی او د دغو نوو شرایطو او تجربو سره د هغه د برخو د سره څه علاقه ښودلي ده ؟ ایا دی د دې پر له

نغښتي ژوند سره دمقابلې جوګه دي؟ دموجوده پښتو اشعارو له مخې لهٔ پدهٔ رغه ددغې پوښتنې ځواب هم منفي دی. معاصر شعرونه اوس هم دپښتو ژوند ساده ګوري او ساده يې ښيي. ايادا کوز نظمونه چي تول سرکال دهيواد په پيلابيلو خپرونو کې چاپ شوي د پښتنو دژوند يو تجربو سره سمون کوي ؟

اول نظم:

رسيد لی يم په خپله فلسفه کی — ارسطو يم سقراط او افلاطون يم

داسمان ستوري سپوږمي زما ګواه دي — چي مدام له پنجرو ځغځه بيرون يم

په زانګو کې مې د توري داسي ياد کړي — سور پوه کړي د وطن په هر قانون يم

اباسين يم او چټ غرونه مي ډوب کړي — په اسمان کې د بربنيناغوندي په يون يم

(پلوشه)

داسې پښتو نظمونه ايا زموږ د ربښتوني ژوند ترجماني کولی شي ؟ زموږ حقيقي تنده ماتولی شي؟ غير له ليکواله يې بل څوك هم دخوند دپاره لولي؟ ايا په ليکاو ارزي ؟ داساده مقفی او موزونې جملې زموږ د ورځنو ژوند يـو تجربـو سره سمـون کوي؟ زموږ پښتو برخه اکثر په همدغو او همدې تهورته ليکونو توره ده.

داسو ليدلي ترکيبونه - بايېزه تخيل او مېتذلي کليې نه دوا س د رښتوني وضعې ترجماني کولي شي او نه دهنرسيمي تهدهغې پر يښودل روادي. دانظمونه د ماشومانو تراکو يکو - سرسنده کو - غواسي لاړه - په تر پکو - اباسين دي ببري - علي شرنګه ډيلي هم ساده دي ځکه په هغه کې خوداو اقعيت بيان شوی چي وايي «غواسي لاړه په ترپکو» ! ود پښتنو په کلوکی بعمولاً کورني يوه غوالري چي همدغه ماشومان يې پيايي او سازيګرچي د کلي هلکان يو ځای شي نو همدالوبه کوي. خو هغه نظمونه چي موږ يې نمونې راوړې د وسره او بېخـونده دي چي نه په لوبه کي ويل کيدای شي او نه په جدي ژوند کې په کار يږي.

دمقالي تر دې ځايه سود معاصر پښتو شعر خو بارز خصوصيتونه ياد کړل او ورسره سی دا تر يوه حده وښودله چي داشعرونه به لکه د لرغونو ژوو هيو کي او فولسيلونه ديوه تير تمدن دپښتنو ديوه پخواني دوران او د ذهنيت ښکارندوي وي خو د اوسنو ژوند ونيا د

مانو احساسات او تجربې نشي څرګند ولای . زماداو روستني تلخیص چې تکرار هم ښکاري خو زه یې دتاکید دپاره ناچاریم چې بیا یې ووایم چې د پښتو معاصر شعر خپل مطلوب بیت بایللی او که موږ غواړو چې شعر بیرته د خلکو سره او د پښتنو د سکنې عنعنې چې مرادمې ژوندۍ عنعنه ده سره پخلا کړو نو یو ژور نقدي نظر ته اړتیا ده. که موږ غواړو چې پښتو شعر دې خلک ولولي په نورو ژبو دې ترجمه کړي او زموږ د خپلو خلکو او نورو نړیوالو ادبي تندهدې پرې ماته شي باید. دپښتو دشعر په تېرو لوړو نوی نظر وکړو.

زه به دخپلې مقالې تعمیري برخه داسې پیل کړم :

لومړنۍ کلیه دادهچې شعر لو به نه ده چې دیوې شیبې دپاره دپام غلطولو په مقصد اجراشي شعر یو ضرورت دی دبنیادم په ژوند کې داسې تش ځایونه شته چې هغه بیله شعره په بل شي نه ډکیږي دی کلي ته څکه دلیلونه نه راوړم چې مقاله او ږدیږي او زما په فکر داسې بدیهي کلیه ده چې تول به ورسره موافق وي او که نه نو ددې مقالې اوددې سیمینار په مطلوبیت کې شک دی

بیا نو که دشعر ضرورت حتمي دی نو څه دول شعر داضرورت لیدې پوره کولای شي؟ ددې پوښتنې ځواب ډیر ساده او په عین حال کې له پامه لویدلی دی ساده په دې چې داسې کومه خاصه موضوع نشته چې هغه دې شعر ته منحصره وي او یا دې دشعر له چوکاټه وتلې وي . زموږ د ژوند هره تجربه په شعر کې ځائیدلای شي او په همدې اساس چې دبنیادم ژوند تحول کوي هماغو سره یې تجربې ښتې او خواږخیزه وي او ور سره یې دښکلا خو ښونې احساس هم تکامل کوي هغه سندرې چې موږ په ماشومتابه کې وربانديې ساعت تیریده په راوروسته مهال کې را ته ساده او دخندا وړ ښکاري همداسې هم کله چې ټولنه په عمومي ډول تحول کوي او دتجربو سیمه یې هم پراخیږي او هم تجربې پخېږي نو راړخونه او نوې بعدونه موسي و رسره دټولنې دښکلا احساس هم تکامل کوي او هغه زړې سندرې خوند نه ورکوي دټولنې ارزښتونه خامخا داجتماعي او اقتصادي شرطونو دبدلون سره فرق کوي. داسې مفهومونه لکه تربګنې -اصیل او کم اصل- ستانه او اروړه- دمیراني پګړي - ناریښتوب -چې ټول دپښتو ترمنځ دیو خاص ارتباط او ارزښت سمبولونه دي او س په نورو مفهومو اوړي البته د پښتنو په کلو او بانډو کې خه داسې تو پیرنه دي راغلي چې له و رایه څرګند وي خو باید دا ووایو چې دچاپ شوو اشعارو مخاطب د کلي او بانډو پښتانه نه بلکه هغه پښتانه دي چې لیك او

لوست کولی شي او ګڼ شمیر یې یا په شوونځیو او پوهنځیو کې دي او یا په ښارونو کې په رسمي چارو بوخت دي او د همدغو تجربو ده چې د ګړندي تحول سره مخامخ ده. د پښتو د چاپ شوو آثارو لوستونکي او زموږ د کلتوري هلوځلو محراق همدوی دي زموږ د اوسني سیمینار چلوونکي همدوی دي او همدوی دي چې د محمود طرزي له زماني څخه راپه دېخوا یې د شعر او شاعرۍ عنعنه پیل کړې او اوسني پړاو ته یې رسولې ده.

دوی ته دا رسالت چا ندی ورکړی او څخه یې له ځانو څخه دولس د ادبي تندي سقاوا ن جوړ کړي دي دوی په خپل زړه د ولس غمونو بیانوي د هغوی ارزښتونه ستایي او مشاعرې او سیمینارونه جوړوي .

د دغې ډلې د رسالت په توضیح کې د افلاطون هغه تور را اوړم چې د خپل جمهوریت څخه یې د شاعرانو د شړلو د پاره په شاعر لګاوه افلاطون شاعر ډېل د رواڅجن بولي په دې معنی چې شاعر ډېر ژر په شاني یوې کولي شي او نه د فیلسوف په شاني د یوې په ساهیت او جوهر فکر کولي شي. زموږ د شاعر حال هم همدې ته ورته دی له یوې خوا که دی کلي ته لاړ شي د خلکو سره یې کړاس څېړي او که په ښار کې وي نو ځان کلیوال کوي. دا غرونه چې دی ستایي دا یوې او بزګر چې دی یادوي او داعنعنوي ارزښتونه چې دی یې روزي تش د کاغذ په مخ دي دی په کلي کې ژوند نشي کولي دده زوی غواوي نشي پوولای دی په سلاتوري او زیړي نه پري کوي دي خپلي پوندي په تارزه ګنډي لنډه یې دا چې دی په کلي کې پر دی دی او چې ښار ته راشي او شعر لیکي نو بیا ځان د هغو ترجمان کړي په داسې حال کې چې دده ژوندی تجربي او ود ده د شعر لوستونکي ټول په ښار کې دي خو بیا هم دی د بزګر او عنعنوي پښتنو دارزښتونو په بیان لګیا دی او همدا وجه ده چې دد وی اثر منفي اوده سلام په هند وخیژي دده ټولي صحني هوایي او احساسات یې مصنوعي وي .

شعر چې د شاعر په لومړي لاس تجربه یالږ تر لږه دده پخپل احساس نه وي ولاړ همدامې وي په همدې ډله کې ځیني شاعران شته چې خپلو شعرونو ته د صفحي په آخر کې فوټ نوټ ورکوي ګو یا داسې لغتونه یې استعمال کړي چې لوستونکي نه وربانددي پوهیږي که دالغتونه ژوندي وي خو باك یې نشته خو که لرغونو دیوانو راالخستل شوي وي او اوس ژوندي نه وي نود هماغه پر دیتوب مثال دی چې اشاره ورته وشوه دا پر دي شاعران د کولرا او به

خبنی خودگر سولو یادوی ددوی بنځی سخ لوخی دیخود پلو او تورتېکری ستاینه کوی بی جورابوله کورمنهووځی اودپښتو یېلو ترجمانی کوی، دده اوږدمسفرله کوره دفتر تهوی او یادوی به پاسیراو هندو کېش .

همداوجه د مچی ددوی په شعرکی نهغه ډولکی شته چی دکلو پهسواده سندروکی یی اورواونه پهکی دمعنی اوافا دی هغه پخوالی شته‌چی لهیوه سنورخڅه یی هیله کیدای شی

ددیوخت رارسیدلی چی معاصر پښتون شاعر لهدی او بنسرغه توبهڅان خلاص کړی او کهنه نود پښتوشعررا تللونکی دیره تته او مخ په ځوړوینم پهشعرکی دابدلون څنگه راوستل کیدای شی؟ دالوی بحث دی چی ددی مقالی لهحوصلی او هم یی له سوضوع څخه وتلی دی. دلته دوسره اشاره پهکارده چی پښتون شاعر حق نهلری چی له ژړوا وترخو واقعیتوڅخه دپښتنو دعنعنی غیرتهتیښته وکړی کهیی دخپل هنر سره اودخپل قام دمستقبل سره سینه وی‌باید دژوند رښتینو ته غاړه ورکړی او همداسی چی شخصاً دی په خصوصی ژوندکی دهغی سره توافق کوی شعردی هم ورسره پخلا کړی .

دژوندانه ژوندی تجربی دیپهشعرکی ځای کړی هغه نوی‌شیان چه‌په ده‌پیښیږی او دده شعوراو احساسات تخنوی هر یودشعر دپاره وړسوضوع ده‌په تکسی - په رفرجریتر - په سیمینار - دسینماپه‌یوه‌فلم په‌اسفلټ‌سرك - په الوتکه - د ښار په‌ترافیك - په دفتر - دپو هنځی په‌لیلیه - او په‌هربل هغه‌شی چی‌دی اوولس په‌رښتونی ژوندکی په یوه یابل ډول ورسره اړوند وی دشعر لیکنه مجازده .

که‌کجل نشته دسترگو رنگ‌شته - که‌نایینه‌نه‌شته دسینگاراو هیرډودو کانونه خوشته. که‌دنداسه‌نشته دشونډو رنگ شته - که‌کوځی‌نشته بی‌گوتی‌شته - که جرگه‌نشته دپولیسو سرباسوریت شته . که‌حجره نشته هوټلونه اومسافرخانی شته. که بنجاره نشته مارکیټونه او فروشگاه‌شته - که‌ملایی نشته ایس‌کریم شته - که‌مداری‌نشته سرکس‌شته - که‌طالب‌او ملانشته دشرعیاتو محصل اومعلم شته. څه‌حاجت چی‌پیړی پیړی‌په سرکونډو په‌شاځواو زاړه مفاهیم زسوړنظام اوسوړ هر یودهغو د اصطلاح اونوی کولو دپاره کار کوو بیر ته‌په‌شعر کی درنوو . دامفا هیم څه‌کوی چی دهغو هډو کی دوسره‌پخوانی شاعر ا نوشهپللی‌دی چی‌او سر یی‌نورنبو رول گنا ه‌ده داژر گوړی او من د پښتنودژوند سمبول نشی کیدای.زه‌په دغه

سوږد کې کوم خاص شعر دمثال په توګه نه راوړم او دمثالونو پریماني ده. هرا خبا راو مجله چې پښتو برخه لري راواخلي او ويې ګوري دالاندې نمونې چې ما له مجاو په پیش آمداو خوش آمدو ل رااخیستي دپښتو دمعاصر شعر مثال دي چې زما ادعا ثابتوي .

ځوانانو ته نصیحت:

سلې وحدت کې سعادت دی ځوانه    په ځان ځانې کې لوی ذلت دی ځوانه
چې په بختې یووسی له ملکه څیني    داسې اشخاصو ته حاجت دی ځوانه
چې صالح غړي ده هیواد وګرځي    لازم هر چاته تربیت دی ځوانه
دبیکاري څخه نه جوړیږي    کاراو عمل کې برکت دی ځوانه

پاخې وطن والو ځان چمتو کاراو خدمت ته کړی
داافغاني خاوره بیا په خاور رڼا او جنت کړی
هلې بدبینان د ملک او قام سو سلامت کړی
خو لکه چې ستاسو بدغو اړی هغه تول خجالت کړی

ښکلې وطن:

ډیر او چت سې غرونه دی - ډیر او چت نښان لرم
خو لکه سي دسیالي نه دي داسې ګلستان لرم
ډیر سي ځغلاو لی دی ښکلی سر باز ان لرم
خو لکه سي دسیالي نشته داسې ګلستا ن لرم

انګازې:

دپاسیر له هسکو خو کو سري نغمې راپو ر ته کیږي
شاپیرې دارمانو نو دندو کش پر تخ یږي
دباباد غره لمنې غو ړ یدو ته موسو سکیږي
دبدلو ن دمو سم پر خه سو کالې نه پری و ر یږي
هلته پارو پاسیز اد کې لر دسپین غره په ناوو هي
ده لمند په ایلمندو کې د کونړ په سر د رو کې

له زرنج تر بدخشانه په فارياب او هريوا کې
د غور راتو په ورشو کې د میوند په سپین ډګر کې
ننګرهار او کندهار کې په د پکتیس په شنو ځنګلو کې
په هایسته زرغون پروان کې د غزني په دیوالو کې

وطن ته :

دښمنان به دې برباد کړم پورته بیا یم دې اسمان ته
که ژوندی یم وطنه داړه وبیم جهان ته
دا پښتو داسې ایمان دی او عده داسې پیمان دی
که وعده سې پوره نکړه افغان نه وایم بیا ځان ته
زه بچی د سر د رو یم زه زمری د لوړو غرو یم
زه سپاهي د ګران وطن یم پر زوونکي د سرو یم
چا چې دې خواته کتلي بیر ته روغ بیا نه دي تللي
هر زور ګیر سې دې مات کړي زه اښکر د سرنو یم
پښتني یم زیږولی پښتانه یمه لوی کړی
سپړنتوب او سربازي مې ټول جهان یم پېژندلی
د نیکونو زړه توره سې په لاس کې ده نیولی
د وطن په سینه ست یم یم میدان ته راوتلی

په دغو نمونو کې له ټولنې پردې شوې شاعر د تاریخ - عنعنې او موجوده اخباري او احساساتي تبلیغو او نورو همزولو شاعرانو له شعرونو څخه داسې یو ځرګنده جوړه کړې چې یې له لفاظي بل هنر نه لري نه په کې تخیل شته او نه تازګي هماغه زوړ ساز دی او زوړ رباب.

دنن ورځې پښتو شاعر د هویت په بحران (Crisis of Identity) لتاړ دی او نه پوهیږي چې څوک دی او څوك یې مخاطب دی او کوم ادبي معیار ته یې د وفادارۍ لوړه کړې ده.

پوهاند دوکتور سید بهاء الدین مجروح

# په پښتو ژبه او ادب کې د نوي اصولو

## او نوي سبک لاري

د یوې ټولنې کلتور او فرهنګ هغه وخت د تکامل جګو پړاوونو ته پرمخ روانیږي چې په ځان پوهه او شعور پیدا کړي او په خپل ځان کې د ځان په باب انتقادي روحیه وروزي د یو ابتدایي کلتور او یو پرمخ تللي کلتور په منځ کې د توپیر یو لوی ټکی همدا دی. په ابتدایي ټولنه کې ژبه هغه د ارتباط وسیله ده چې د ژوند ضروریات پکې بیانیږي مګر پخپله د ژبې په باب او د ژبې د څرنګوالي په باره خو څوک خبرې نه کوي. شعرونه ویل کیږي موسیقي غږول کیږي خلک ورته غوږ ږدي او خوند تري اخلي. مګر څوک د شعر او موسیقي په باب کومې نظریې نه طرح کوي. نو ځکه کله چې په یوه ټولنه کې د ژبې په باب یوه ژبه راپیدا شي د ټولنې او کلتوري پېښو په باره کې خبرې روانې شي نو دا حادثه په دې دلالت کوي چې دغې ټولنې د تکامل په لاري څه ګامونه پرمخ اخستلي دي.

په پښتو ادب کې داشان پرځان باندې خبرې خوشحال خان شروع کړې او په ټولنه باندې د انتقادي روحیې تهداب هم خوشحال خان کیښود. ده د پښتو ژبې او ادب په تکامل کې لوی سهم واخیست. او د پښتو ژبې او د پښتو ادب تاریخي سیر کې یې یو بیساري فعال او خلاق

ژورتاثیر وکړواو پخپله ددی نوی سهم اهمیت تهٔمتوجه و.دی‌په‌خپل دیوان کی وار په‌وار دپښتو په‌نیمگړتیاو دانتقاد گوته ږدی او دپښتني اجتماع عیبونه بیانوی . دارازانتقادی روحیه‌لوی‌ارزښت‌لری‌اومهمه تکاملی‌مرحله‌ده.

نن‌په‌کاردی چه دخوشحالخان دسنت په‌پیروی اودعصری علمی اوادبی پرمختگونو په‌مرسته پښتانه لیکوال دانتقادی‌روحیه نوره‌هم پسی ژوره او پراخه کړی. اودپښتو ژبی اوادب او پښتنی ټولنی ته‌رښتني خدمتونه وکړی. ستاینی اوو یاړنی کوم خدمت‌نه‌دی . ځکه رښتني‌دوست هغه‌دی چه‌ددوست عیبونه په‌سینه او اخلاص بیان کړی نه دا چه په ستاینو اوویاړنویی له‌ځانه راضی وساتی .

* * *

نن‌ورځ دپښتوژبی حقیقی‌منوراو هررښتني‌لیکوال سره‌دوه‌شان هیلی‌شته :یوه هیله داده چی‌دپښتو ژبی اوادب ارزښت او اهمیت ثابت شی اوټولو ته‌دومنلو وړ شی. دویمه هیله‌داده چی پښتو ژبه اوادب داوسنی نړی په‌علمی اوادبی معیارونو سره ژرترژره انکشاف اووده وکړی او دنړی دتکاملو ژبو په قطار کی و شمیرل شی .

په‌دی‌دواړو هیلوخه‌خبری‌پکار دی.ځکه‌په‌دی‌هیلو کی‌دتناقض‌خه تکی‌پراته‌دی‌چی‌بایدرا‌وسپړل‌شی.

هرمنورلیکوال دنړی دانسانی فردپه‌شان حق‌لری دخپلی‌ژبی اوادب‌سره‌مینه ولری‌اووظیفه لری‌چه دخپلی ژبی اوددی ژبی‌دادب او کلتور اهمیت او ارزښت خپلو وطنوالو اوټولی نړی ته‌ثابت کړی .

مگرله بدمرغه‌دډیرو پښتني لیکوالو سره‌داغلط گمان پیداشوی‌دی‌چی که دیوی ژبی زړښت اوقدامت ثابت شی‌نو داخبره به‌دژبی ارزښت او اهمیت زیات کړی .حال‌داچه‌داقدامت داسی نه‌دی. دتاریخ په‌بهیر کی‌ټول لوی‌زاړه تمدنونه مړه‌تمدنونه دی. یوازی تاریخی ارزښت لری‌او داوسنی نړی‌او ژوند دپاره کوم‌حیاتی‌ارزښت‌پکی نشته.په ژبه کی‌خبره‌لانوره هم‌پسی روښانه ده . یوه ژبه‌دانسانی فرد په‌شان دبشری ټولنو په‌شان‌او دډیرو کلتوری پیښو په‌شان‌زیږی‌دکوچنی توب مرحله‌لری‌ځوانی‌لری‌پخوانی ته رسیږی زړیږی او بیامری.

که‌پښتو د سانسکریت او اوستاهمزولی ویا و رته‌نژدی‌وی‌نو بایدد هغو په‌شان‌مړه ژبه وی.او که‌دکوم خارق العاده او دنه‌باور کولو حادثی په‌اثر لاوس‌هم ژوندی‌پاتی‌شوی‌وی.

نو بایددو سره زره وی چه‌دیرژر باید وسری او راتلونکی انکشاف ته‌یی بایدخه‌اسندونه گړو.
ځکه چه‌پلهٔ‌ژبه یه‌یې هیڅ سروځای نیس.څه دلیل‌دی‌چه سانسکریت اوستالرغونی‌یونانی
اولاتینی ژبی سریانی اکادی اراسی دخپل‌ادبی او کلتوری قوت سره‌سره مړی شوی‌او پښتو
لاژوندی پاتی‌ده‌په‌سانسکریت کی‌دریگویدا سرودونه‌ثبت شول په‌اوستاکی د زردشت
پیغام ولیکل شو په‌یونانی‌ژبه کی‌دافلاطون‌او ارسطو په‌قلم‌عظیم‌فکری او فلسفی‌آثار دزمانی
لامن‌ته‌وسپارل شول‌په‌لاتینی کی« ورژیل»«لوکرس»او «سارک‌اوریل» شهکارونه‌ولیکل
او سره‌له‌دی دغه‌ټولی ژبی مړی شوی‌او پښتولاتر اوسه ژوندی‌ده. داعجیبه‌نه‌ده.
په‌عام ډول کومی‌ژبی‌چی لرغونی او زړی دی‌ټولی مړی دی او نوروژبو یی ځای نیولی
دی. او ددنیا قوی‌ژبی چه‌نن ورته ژوندی ژبی‌وایو او علمی او ادبی‌پشانه زیات‌ذخایر
لری هغه ډیری‌ځوانی ژبی‌دی او لکه فرانسوی یاانگریزی ژبی دمنځنیو پیړیو څخه‌راپیدی
خو ایی‌وده کړی‌ده‌او‌د منځنیو پیړیو څخه پخوانه‌فرانسوی‌وه‌نه‌انگریزی .بلکه بله‌ژبه‌دعلم
او ادب ژبه‌وه‌چی مړه شوه او هغه لاتینی ژبه‌وه .
په‌یوه ژبه کی که‌دابتکارودی او تکامل قوت او امکانات پراته وی نوباید داسی ژبه
ځوانه‌وی. که‌څوک ووایی چه یوه‌ژبه هم تر ټولو ژبو لرغونی او زړه ده او هم قوی
او ځوانه نو داسی خبره‌به‌هم له‌منطق څخه مخالفه وی او هم به‌دژبو دطبیعی ژونداوتکامل
په‌خلاف وی.او بیاپه‌داسی‌بی منطقه او غیرطبیعی خبره باندی ویاړل او افتخار کول به
عجیبه کاروی .
دمثال‌په‌ډول که‌یو فرانسوی‌یاانگریز ته‌دپیغور په‌ډول‌ووایوچه :
«-ستاسو ژبی‌څو هیڅ‌قدامت اولرغونتوب نه‌لری. او د منځنیو پیړیو د منحطی خرابی
عامیانه لاتینی ژبی څخه راوتلی دی‌او زموږ ژبه‌ډیره مهمه‌ده‌ځکه‌چه‌دلرغونی لاتینی
څخه‌هم زړه او پخوانی‌ده»
نو داسړی‌به‌لمړی زموږ په‌پیغور هیڅ پوه نشی‌ځکه چه‌پیغور رداسی یواحساس او ارزښت
دی‌چی په‌قبایلی ذهنیت پوری تړلی دی‌او داسړی به‌تعجب وکړی چی‌دژبی په‌لرغونتوب
باندی ویاړل څه‌معنی اووبه‌وایی:
«تاسو څرنگ په‌یوه زړه او مړه ژبه خبری کولای‌شی.او ولی کومه ځوانه او قوی ژبه

نه انتخابوی چه‌هم سو په اوسنی نړۍ کې پکارشی. هم‌یکی علمی اوادبی‌ابتکا رونه و کړای شی اوهم‌په‌آینده کی‌ئی دودی اوتکامل امکانات موجودوی.»

* * * *

واقعیت‌دادی‌چه‌په پښتو ژبه‌کی دتحرک او دینامیسم خاص قوت پروت دی‌چه‌هم‌یکی ادبی ابتکارونه کیدای شی اوهم دودی او تکامل په‌لور روانه‌ده.دژبی په‌لرغونتوب او قدامت باندی تینګا ربه ډیری جدی او علمی خبری نه‌وی. ضروری خبره داده‌چی‌ددی ژبی اوسنی او راتلو نکی منظر ته‌جدی پاموشی. که‌دااوس څنی خلک ددی ژبی دانکشاف ارادی یاغیر ارادی ممانعت ونه‌کړی د پښتو ژبی‌او ادب دپاره ډیر کار کیدی شی. ځکه چه‌دپښتو ژبی په‌ا صیله روحیه کی دجملو د خاص ترکیب دپاره اودنوو لغا تو د جوړولو اوقبلولو دپاره زښت لوی قوت‌اواستعداد پروت دی.

* * * *

دپښتو ژبی دودی او تکامل په‌لار کی یولوی‌خنډاو مشکل دادی‌چی‌پښتوژبه‌دداسی‌تولنی ژبه ده چی لااوس هم تینګه قبا یلی ساختمان لری . او ددی قبایلی ساختمان ا رزښتونه تل دپښتو ژبی په‌شعر او ادب کی منعکس‌وینو. اوداخبره ا وس منل شوی حقیقت دی چی قبا یلی ساختمانونه د بشری ټولنو په تکامل کی یوابتد ایی پړاواوو روسته پاتی حالت دی.

نو اوس له‌یوی خو اهغه کیږی چی پښتو ژبه او ادب دننی جهان اونوی ملی او بین‌المللی ژوندون، دنوو معیاروپه‌بنا پرمخ ولاړه شی .مګرله‌بلی خوا د پښتنی تولنی قبایلی ساختمان او ددی ساختمان انعکاس دپښتنو لیکوالو په ذ هنو کی دامخ په وړاندی هغه اوحرکت تل مخ‌پرو روسته داشاوخواته راکاږی اوسریعی ودی او تکامل ته‌یی نه پریږدی . ترڅو دغه‌اجتماعی‌ساختمان‌تینګه‌جا ری‌وی‌تر هغه‌وخته به‌ژ به‌هم‌په‌خپل‌شعراو ادب کی‌دغه سا ختمان او ددغه ساختمان ارزښتونه منعکسوی .رښتینی ادبی ابتکار او په‌ژبه‌کی دنوی علمی‌اوادبی ارزښتو نوراداخلول به‌دمشکلاتوسره مخامخ وی. که خو که داهغه و کړی چه نوی علمی اوادبی ارزښتو نه‌په‌ژبه‌کی راواچوی نوداخبری به یوازی د داسی یوڅو محدودومنو رو کسانو ته‌دپوهی وړوی چی په ښارکی روزل شوی وی‌او عصری عالی تحصیلات‌یی کړی وی

او دکلي پښتون‌او عوام به‌پرې هيڅ نه پوهيږي. او که دقومي اوقبا يلي ارزښتو نو په بنا خبرې وشي‌په هغو به‌عوام پوهيږي‌او خوښوي به‌يې خو داخبرې‌به د ننني‌نړۍ دعظيم انکشاف او کلتوري اوادبي حرکت څخه ډيرې وروسته پاتې خبرې وي .

* * * *

قبايلي ژوند دوه‌دوله اقتصادي تهداب لرې. يوما لداري ده چه د کوچي توب ژوند په‌غوره کوي. او بل کرنه او زراعت‌دي‌چي‌دکلو اوبانډوژوندتريې‌راوزي‌دادوه‌دوله‌ژوند په‌ژبه کي‌جلا جلاموضوع گانې لري . مثلا د کوچي‌توب‌ژوندسره دکيږدي د کوچ‌اوبار ادبيات دراز رازطبيعي‌منظرو ستاينه‌ليدل کيږي.دکلو په‌ژوندکي دحجري‌مجلس او دگدر ادبيات وينو .

مگرپه‌دې دوه‌دوله قبايلي ژوند کي‌يوتکي مشترک دي او هغه دجنگ او دفاع دايمي فعاليت او تياري دي‌او دافعاليت او تياري هم داقتصادي ضرورت په‌بنادی نوځکه په دواړو کي مشترک شعري او ادبي ارزښت حماسه او و ياړنه‌ده. و ياړنه او افتخاردتولولو احساس شميرل کيږي .

پدي شان‌دقومي اوقبايلي ټولني ژبه په خپل شعر او ادب کي دټولني ساختمان او ارښتونه په‌څو شانه منعکسوي اومهمي موضوعگانې يې دالاندې‌دي:

(۱)دقومي اوقبايلي ژبې شعراو ادب اساساً حماسي ادب دي‌او په‌خپلو سندرو کي‌جنگ‌او سړانه ننگ‌او ناموس غيرت او افتخارستائي.

(۲)په‌دوهم قدم‌کي عشقي او بزمي خبرې دي او دلته بايد دوه ټکو ته‌پام‌وشي. يو:هغه عشقي خبرې دي چي عاميا نه شفاهي ادب يې بيا نوي او دا خبرې هم دټولني قبايلي جوړښت پوري کلکې تړلې دي- عشقي خبرې د رزمي اوحماسي‌موضوع‌گانو سره‌يوځای کيږي . ناريښتوب ناموس جنگ اوسورچه، پيغور غيرت او بې غيرتي‌ننگ او بې ننگي‌پکي بيانيږي. او ددې‌شفاهي ادب‌بله‌لويه موضوع دبيلتون سندره‌ده. داهم دقبايلي ساختمان انعکاس دی. داځکه چه په‌قبايلي ټولنه کي‌فردي هويت په‌اجتماعي هويت کي ډوب وي‌فردي‌اراده او احساس داجتماعي ارادې داجتماعي دود او رواج‌تابع‌وي‌او په‌فردي تمايلا تو باندې سخت فشا راچوي- مخصوصا دانشار په ښځو باندې زيات وي‌ددې اجتماعي فشارڅخه په فردکي

دخصوصیت احساس راپیدا کیږي او د «پښتون» او بڼه او سکر رسندره تر ې جوړیږي .

بل: په دې عشقي ادبیاتو کې هغه بزمي خبرې دي چه خط وخال، مې او ساقي، شمع او پروانه گل او بلبل یکې ستایل کیږي. دا موضوعګانې اکثراً د فارسي ژبې د کلاسیک ادب نه الهام اخیستل شوې دي. دا ادب د پاسواده خواصو ادب دی .

(۳) دیني موضوعات دي پندونه او نصیحتونه او دیني ارشادات یکې بیانیږي او د ملایانو کتابونه دي لکه فقه، تفسیر و د شرعیاتو آثار او بل مهم اړخ یې اخلاقي یا عرفاني او تصوفي لار ښیي. که څه هم دا موضوعګانې د پاسواده خواصو ادب دی خو په عوامو کې هم تأثیرلري - ځکه چې دین دقبایلي ساختمان یوه مهمه برخه ده په عوامو کې د رحمان بابا د عرفاني شعر د تاثیر اساسي علت همدا دی.

* * *

نوې خبرې هله کیدی شي چې زړې خبرې معلومې وي. د زړو خبرو خصوصیت او زړښت ښکاره وي. که داسې نه وي نوځنو خلکو په شان بې زړې سندرې وایو او نوې به راته ښکاري .

د پښتو شعر او ادب په شفاهي او لیکلي ادب تقسیمول یو زوړ تقسیم دی - خو زه نو به هم دا زوړ تقسیم د خپلو خبرو اساس کړو. ځکه چې د ګټې او فایدې نه خالي نه دی .

لمړی: شفاهي ادب د خلکو د مطلق اکثریت ادب دی - او د پښتنې ټولنې د قبایلي جوړښت مستقیم انعکاس دی. او څرنګه چې دا شان ساختمان په نسبي ډول ډیر زر بدلون نه کوي په اوږدو موده کې تقریباً په نسبي ډول په یو حال پاتې کیږي نو ځکه د دې اجتماعي ساختمان ذهني او ادبي انعکاس چې شفاهي ادب دی هم ډیر ژر او ژر بات بدلون نه کوي او هم د محتویاتو او موضوعګانو له پلوه او هم د شکلیاتو او جوړښت له لحاظه تر ډیره حده په ثابته بڼه پاتې کیږي نو دا ځکه د تاریخي بدلون او تکامل مطالعه یې مشکله ده .

د دې ادب سینه په سینه داده چې دا شعر او ادب د پښتو ژبې اصلي روحیه او د پښتو د ټولنې واقعي تمایلات او اصیل ارزښتونه بیانوي .

منفي جنبه یې داده چې تاریخ نه لري د قبایلي ټولنې په ارزښتو پورې محدود پاتې کیږي او د خپو موضوعاتو او خپو شکلونو په تنګه چوکاټو کې ځان تکراروي. او فقط حماسه یې اساسي موضوع وي .

سره له دې هم د شفاهي ادب روح زیات اهمیت لري ځکه چې د خلکو د فکر څخه نمایندګي

کړی او کهخوکه غواړی چیخلکو ته خدمت وکړی نو لازمهدهچی دافکر او داادبیاتو په توګه و پیژندل شی - او څرنګهچی دښارژوند دپښتنو پهاجتماع کیورځ پهورځ زیاتیږی نود دی شفاهی ادبپیژندنه باید دپښتو ادبدتاریخیپدلونیو مهماسامو ګڼو او په درنه سترګهورتهوګورو.

دوهم: کوممهم انکشاف او تحول چی دپښتو ژبی پهتاریخی سیر کی وینو هغه د پښتو لیکلی ادبدی. کلهچهپښتو ژبهښاری ژوند تهننژدی شوه او څرنګه چهدښارعلمی او ادبی ژبه فارسی دری وهنو پښتو همددیژبی او ادب شکلونه اومحتویات پهځان کی په ډیره اینکاری بڼه ځای کړل. او دادپښتو دژبی اوادب پهتکامل کیلوی انکشافؤ.

دلیکلی ادب مثبته جنبه دادهچی ددری شعریاشکال اومضامین په پښتو ژبه کینوی او په پښتوژبه کی ددی اشکالو اومحتویاتو داخلول پهپښتو کیابتکاراوهم پښتو ژبه په دی کارغنی کړیشوه. پهیوه مرحله کی دادب نویسبکه همداشو یعنی دغزلو، قیصدو،رباعیاتو پهچوکات کی بزمی او رزمی اشعار رنګین خیالونه استعاریاوتشبیهات او نورادبی فنون بیانول نویسبکهو.

ددیادب نیمګړتیاپهدی کیوهچی داادب دخلکو ادب نهو بلکه دباسواده خواصو ادب و اویوه محدوده کچنی خاصه ټولنه پری پوهیدله. او پهدیخواصو کیهم ددی ادب ساحه محدوده -ځکه دامحدو دخواص دملایانو،روحانیو نویاځنی خوانینو باسوا ددفامیلونو و — پهدی خلکو کی مخصوصا دملایانو او روحانیانو پهفامیلو کیزیات پام د دینی او عربی علومو ته واوسواد لیکل اولوستل هم پهدریژبهوو.

دلیکلیادب پهتاریخی تکامل کی دوهلوی دوریلیدل کیدی شی :

(۱)لمړیدوره دخوشحالخان خټک او رحمانباباد دوره. دوی د قبایلی ذهنیت ځغه یوګام پرمخ ولاړل او فارسیژبهچهدهغهعصر پرمخ تللی کلتوری او علمیژبهوه د پښتودپارهدالهام منبع شوه. او دفارسی کلاسیکه ادب پهالهام پهپښتوژبه کیددیادباشکالا و محتویات ځای کړی شول

داسی مبتکر او دنبوغ خاوندان پکی راپیداشول چی داادبی اشکال یی دپښتنی روحیی او ژبی سره برابر کړل، خوشحال خټک هغه مبتکر نبوغ دی چههم یی قبیلوی ارزښتونه منعکس کړل

او هم یې په دې نوې چوکاټ کې ابتکارونه وکړل او نوې مضمونونه یې بیان کړل :

(۲) د پښتو دادبي او فکري نهضت دوهمه او له اولی دوري څخه مهمه او ډیره لویه دوره هغه دمچه د الفت او بینوا سره شروع کیږي. په دې دوره کې د پښتو ژبې هغه وده او انکشاف چه په دوه او دري سوه کاله کې نه وکړي دخلویښت کاله په موده کې وکړو. نوي شعرونه وویل شول ابتکاري مضمونونه بیان شول. او تر ټولو مهمه دا دمچې په پښتو ژبه کې دلږې کړت د پاره پښتو پوخ معیاري نثر راپیدا شو. او ادبي علمي او تاریخي نثر تهدابونه کېښودل شو.

دانوې حرکت اساسادنو اسمي پېړۍ څخه راشروع کیږي. په دې وخت د پښتو رد سیمې لیکوال داردو او انګریزي ژبو له ادب څخه استفاده کوي او پدې شان دارو پایي ادبیاتو تاثیرونه پکې راننوځي. افغانستان ته دارو پایي ادب تاثیر ونه په شلمه پیړۍ کې دمنځني شرق له لارې راځي. افغانستان دپوهنې پرمختګ په لار کې دارو پا څخه استفاده وکړه او دارو پایي آثارو څخه ترجمې یې دخپلې پیشرفت اساس کړو. له دې سببه افغانستان د پښتو ادب دنوي تحول ځانګو شوه – او دې تحول دوه منبعې درلودې – یو موطني منبع چه کلاسیک لیکلي ادب او شفاهي عامیانه ادبو. او بله منبع یې دنوي دنیا یعني اروپایي ادبیاتو چې دمنځني شرق څخه افغانستان ته راننوتل همدې جریان دالفت او بینوا په شان لیکوالو او شاعرانو ته دخلت او ابتکار زمینه برابره کړه.

اوس بکار دي چې په لمړي قدم کې پښتو ژبه ددوه راز عقدو له بند څخه خلاصه وساتو.

یوه عقده هغه دماتې او شکست روحیه دمچې وایي : شرقي ژبې ډیرې وروسته پاتې دي او دنوي نړۍ دعلمي او تخنیکي تحولاتو سره ځان نشي سمولاي حال داچې حقیقت داسې نه دي او شرقي ژبې اجتماعي کلتوري او سیاسي ساحو کې د پیشرفت پوره استعداد اري او مخصوصاً د پښتو ژبې دمترقي امکانات بیشانه پراخه دي.

بله بده ناوره عقده دژبې سره او خالص لیکلو هغه ده ځنې شرقیان په دې سوه هومه عقده اخته دي. مثلاً ځنې ترکان غواړي سوچه ترکي ووائي ځنې ایرانیان غواړي فارسي ژبه په خپل تصور او وهم « پاکه » کړي. داخلکه بخپل لاس. خپلمږ به په زنځیرونو تړي او دودې او انکشاف لاره یې نیسي – داتمایل په اروپا کې د کابل ۱۹۳۰ پهشا وخوا کې د نازي او فاشیستي نظامو سره راپیدا شو.

اوس کاردي چي پښتوژبه ددي فاشيستي تمايل څخه روغه وساتو. که ثابته هم کړو چه پوژبه ارغوني ده او يادډي ژبې اصيل لغات کوم کوم دي دادژبې په تکاملي او پيشرفت کي کوم ارزښت نه لري. بلکه داکار يعني دژبې خالصول (پاکول) ژبه تجر يدوي دافهام او تفهيم ساحه ئې محد ودوي او دتکامل لاره يې بند وي. دتکامل لارهغه ده چي کاندي يې بيانوي او وايي :

«زه دخپلې خوني کړ کي نه بند وم او خلاصي يې پر يږ دم. ددې د پاره چي له بهره څخه هوا راشي او دګا و نډي باغو نو دګلو نو ښه او تازه بوي تل زما خوني ته رانو ځي.»

دپورتني خبرو په بنابه اوس اصلي مسأله طرح کړو او پو ښتنه به وکړ و چي دپښتو نوي اصو لو او نوي ادبي سبکه لاربه کومه وي.

که دشکلياتو له پلوه چاربيتي لنډۍ جوړي کړو ياغزل قصيده او مثنوي و وايو د ا به زاړه شکلونه وي او يابه دشفاهي ادب تقليد کړو او يابه دليکلي کلاسيکي ادب شکلونه تکرارو دمحتو ياتو له لحاظه که کړ دي ياګډ روستايو يادشمع او پتنګ ګل او بلبل دي ا وساقـي ياد کړ و دابه هم زاړه مضامين او زړي خبري وي چي نورو له سو نږ مښې اداکړي دي. او که حماسه بيان کړو او ويارني کړو که څه هم ددي حماسي او و يارني ا لفا ظ نوي وي او داسي لفظو نه لکه «ملت» «انقلاب» «عدالت» «آزادي» هم يکي وي سره له دي به دسند ري په ماهيت کي کوم تغير رانشي دو يارني احساس زوړقبيلوي احساس دي او حما سه زړه سند ره ده. که اوس هم څو ک دخو شال خان ددي شعر څخه مزه اخلي چي وايي :

دافغان په ننګ مي وتړله توره ننګيالي دزماني خوشال ختک يم

نو ددي څخه به معلو مه شي چي لا اوس هم حماسه او ويارنه مهم او ا ساسي ا حساس دي او قبايلي ارزښتو نه دمنو رو او ليکوالو په ذهن کي لانه دي مات شوي.

نو دپښتو ژبي او ادب دراتلو نکي و دي او تکامل لاره به کومه وي. داتکامل به دقومي او قبيلوي ذهنيت دماتيد و وخواته روان وي. ددي ذهنيت او بي کلتو ري ارزښتو نـــه به رنګيږي او داسي شعر او ادب به راپيد ا کيږي چي دشکل له پلوه به نه د کلاسيکي ادب په شان قصيدي مثنوي او رباعي ګا ني جوړوي او نه دشفاهي ادب په شان په يکتي چار بيتي او لنډۍ وايي. دمحتوي له لحاظه به نه خط او خال هار او لو نګين ګل او بلبل بيانوي او نه به د قومي او قبيلوي ذهنيت په بنا حماسي او رزمي سند ري وايي.

تر ټولو لمړي به دې ټکي ته پام وشي چې د پښتو د روان معیاري نثر په قالب کې نوي زیات ادبي محتویات لکه تراژدي، درامې، رومان او نور فلسفي او ادبي محتویات د منظومو تالیفونو او ترجمو په زور په پښتو کې راواچول سي په داسې شان چې د ټولو خلکو د پاره او د خلکو ژوند ته نژدې وي .

په شعر کې به نوي قالب او نوي مضمون نو نه راشي . دا نوي قالب به هغه مبتکر شاعر راوتلای شي چې د پښتو ژبې اصیلې او خاصې روحیې احساس ورسره وي د شفاهي ادب اشکالو تقلید به نه کوي بلکه د دې ادب د اشکالو څخه به الهام اخلي او له هغوي د روحیې سره سم به نوي قالبونه راوباسي او بیا به په دې نوي قالبو نو کې نوي مضامین بیا نوي .

دا نوي مضامین به اساساً انتقادي روحیه ولري. خبرې به په ښخو رواني او فلسفي اساساتو ولاړې وي. فردي هویت او فردي احساس به پکې قوي وي- له دې رده به ډک وي- او سیاسي او اجتماعي پیغام به پکې پروت وي.

ژباړونکی : مفتاح الدین
لیکوال : ښاغلی اشرف غنی

# د ښځو سره د وینو د وظیفو ادامه او بدلون

ادبي کلتور څه شی دی؟ که څه هم آدبي کلتور د روڼ څرګند ولو څخه عاجز وی، خو بیا هو د انساني برم او لوړی په باب خبرتیا او بیداری ده، هغه راز و ر تیاده چې بشری تکامل کشفوی او پر انسانانی پوهه یې اروی هغه رازقدرت او استعداد دی چې په انساني لومړ نیو مظاهرو کې نوی شیان ګوری ،هغه شیان چې اینده په نس کې لری .
(جارج لو کا کس )

دښوونې دبیا جوړېښت کار د ښوونې دغږ و چو پړ او وظیفه ده. په تیره بیا د ښو وینو فعالیت دښوونې دبیاجوړېښت په حقله خاص اهمیت لری ځکه د کار او فعالیت په شدت کې د دوی پوهه کارونه دهدفمن لوری پر خوا سوی او ښوونه پرمخ بیایی .په ریښتیا دهغوی زیار او کوښښ په عمومی توګه، دهغوی د ښوونې دتیار موجود سلوک او رفتار یو ساده او شیل ا نعکاس ندی د ښوونیز کړ وو ړو په باب دهغوی تصور چې تل دیوه ذهني پلان طرح او د ښوونې غږی په انتزاعی ډول اقناع کوی، زیات ا همیت لری ،له اجتما عی جوړښت ا وسترګتو رڅخه دهغوی انتقاد ډیر اغیزمن او که چیری پر ځای وی نو خاڅخا د حاضری وضعې الترناتیف (ځای نیو نکی) په ګو ته او د ښوونې دزیاتي برخې پرمختګ ایدا ل بدلیږی .

دپوړتنۍ مفهوم لهمخې، د«کلتوري جوړښت» تعبیر پهحقیقت کې ددوه پولونو فعالیتونو ترمینځ چې د«تنویر» د کلمې لاندې راځي، تمیز کول دي. مونږ غواړو چې ستاسې پام هغه توپیر ته چې دوروسته پاتې او پرمختللو ټولنو ترمنځ پهپوهه، سواد، تخصص پوهه پهتخنیک تکنالوژۍ او نورو کې شته، راواړوو. هغه هیوادونه چې وروستهپاتې دي کلتوري یې د«سنتي» تنوریه نامهاو هغهچې پرمختو ړاندې تللي دي کلتوري یې د«اورګانیک تنوریه نامه یاد یږي.

څرګنده ده چې زمونږ علاقمندي د هغو نکې کار او فعالیت سره ده. پهټولنه کې د هر روښنفکر قشر کار او موقف دهماغه ټولنې دتاریخي تکامل پهمقطع کې تشخیصیدلای شي. لومړۍ افغاني ټولنه یوه بزګري -قبیلوي ټولنه وه چې ددې ټولنې هم پښتانه او هم نور ژبې غړي واړه بې سواده وو. لهدې کبله پهولس کې غښتلې شفاهي ادب موجود وه او دټولنې هر غړي یکې برخه درلوده. سرچپه لیکلي ادب، یوازې دباسوادو پوري محدود وه. ښځو په شفاهي آدب کې پراخ سهم لره، پهلیکلي کلتور کې دښځو برخه ناڅیزه وه. دقبیلې غړي د خپل نژدې جغرافیائي او اجتماعي چاپېریال پوري تړلي او پراخې انساني ټولنې ته یې پام نه کیده. پدې وخت کې زیات اثار د روحانیونو او ارښتو ګراسانو پهذریعه چې پهنحوي دانحاء دولتيښو روکرامي پوري تړلي وه، لیکل کیدل. مونږ غواړو چې له دې وروسته پهافغانستان کې د۱۷۴۷ کال نهراپه دیخوا دمرکزي حکومت تشکیل، دپښتنو څوانانو تدریجي تنویر او پهټولنه کې دهغوی دریځ او مسئولیت په ګوته کړو.

د ۱۷۴۷ کال نه ړوسبې د پښتو د لیکلي ادب غوټې و غوړیده، نامتو شاعران لکه خوشحال خان، پیر روښان او دهو تکو ددوري شاعران فقط پداسې وخت کې منځ ته راغلل چې دمرکزي دولت دجوړیدو لهپاره هلې ځلې رواني وې. اید پالونو د یوړنګي او همګوني پراخ چوکات وړاندې کوهچې پهقبیلوي ژوندکې لا دهغه دپاره زمینه نه وه موجوده، نو لهدې کبله کهڅه هم نومړي هلې ځلې ناکامې شوې خو دغه ادبي اثار څینې دامې شواهد وړاندې کوي چې له ناکامې سره سره هم دټولنې آګاه غړو په ټولنه کې دننه یولړ بدلونونه ړاوستل. هغه خوک چې دټولنې دموجود سیستم پرځای یو الترناتیف وړاندې کړي د «اورګانیک» منوړینو پهنامه یادیږي.

د۱۷۸۷ کال نه‌تر ۱۹۰۱ کال‌پورې زمانه یوه علیحده کیسه‌لري دزیاتو ناخوالو او نیمگړتیاو سرەسره چې‌یوه یې‌هم د افغا ن -انگلیس جنگ‌ؤه ،دمرکزي حکومت جوړیدل دو ړمځی‌عمده مسئله اودې خو اته حرکت‌و رځ پەو رځ غښتلی کیده.دمر کز یت پراختیا،په‌تیره بیا دامیر عبدالرحمن (۱۸۸۰-۱۹۰۱)داستبدادي حکومت په وخت کې صورت و مومند اوبې ساري‌دولتي بیو رو کراسي منځ ته‌راغله. دامیر عبدالرحمن خان دسلطنت په وقت کې، کله‌چې داداري کارونو اومقرراتو لیکلوضرورت رامنځ ته‌شه‌نو ددې کارله پاره روحانیون اوارستو کراتیک قشرونه را وبلل شول‌او دولتي ماشین جذب کړل.

پدې زمانه کې ،په‌پښتو ژبه کوم کتابونه ،مذهبي رسالې ،او ددولتي پالیسو سیستدونه چې لیکل کیدل او خپریدل، ددولت دپالیسیو مطابق او یوازې تخنیکي خالص مفاهیم او ژبنې عبارات یې‌پکاروړل ، کلتوري‌هستونکې کارپردې او بیگانه گڼل کیده پدې ځای کې پرځای بریښي چې‌دافغان - انگلیس دجنگ یادونه وکړو. پدې‌وخت کې که‌څه‌هم د انگلیس داستعمار پرخلاف لیکلي ا ثار هست نه‌شول خو شفاهي ادب د استعمار او تالانگر کره غندنه وکړه . که‌څه‌هم،ددې‌بهال‌مرکزي‌حکومت ددوو جنگونو له‌لاسه دځنکدن په‌حال کې‌وه،خوولس‌دقبیلوي او روحاني مشرانو دلیدرشپ لاندې د یرغلگرو پرخلاف زړورې جگړې‌وکړې او هغوی یې‌له خپل هیوادنه وشړل .دخوشحال خان او پیر روښان لیکلي شعرونه‌لانوومنځ ته‌راغلي، نوله‌دې‌امله منفرد و باسواده عناصرو د«ملتي» منورینو کاراوچو پراجراء کوو.

دافغان-انگلیس دریم‌جنگ نه‌پەو روسته کلونو کې زیات‌تو پیر راغی، زیات لیکلي ادبي آثارهست شول،د۱۹۰۳ کال‌نه تر ۱۹۲۹ پورې نوې ښونځی جوړشول ،اخبارونه منځ ته راغلل ،بعقول نیشنلیزم په‌اجتماعي ژوند کې‌نفوذ قایم کړاو دمنو رو ځوانانو ترمنځ پراخ پرابلمونه راوټو کیدل. دافغاني ژوند دنوې کولواو استعماري تالانگرو پرخلاف جنگ ته‌درابللوله‌پاره‌دیرو افغاني منورینولکه کاکاسید احمدلودین‌عبدالهادي داوي ،محمود طرزي ،عبدالرحمن لودین، مولاناعبدالواسع اومحي‌الدین انیس‌ډیرڅه لیکلي او و یلې دي دوی ټولو په‌مساوي ډول دپردي هژموني او دنني استبداد نه کرکه کوله او دهیواد

دسو درنائیز کولو لەپارەیی طرحی او پلانونه درلودل .ددوی زیات شمیر پەزندان اوجلا وطنی کی ژوند تیر کړیدی کەڅەهم گن شمیر منوړینو دامان الله خان په وخت کی په دولتی بیوروکراسی کی رسمی پوستونه درلودل خو پر اجتماعی وضعه یی له انتقاد څخه لاس‌وانخیست اودسیاسی فعالینو پەحیث‌یی ټولنی‌تەپەڅیر کتل او په کار اوفعالیت اخته کیدل. دبی سوادی‌سرەسرە چەپەخلکو کی یی عمومیت‌درلودە، او دمنوړینو پرلار ښودنو کمپو هیدل‌پەخپل‌وخت او ټولنه کی‌یی اغیزی نەوو اولەدی‌امله ویلای شوچی‌هغوی‌دخپلی ټولنی «اورگانیک» منوړین وو.

د ۱۹۳۰ کال نەوروسته دپښتو پەلیکل شوواثاروکی‌پراختیا راغله ښاغلی بینوا داوسنی لیکوال په کتاب کی د (۲۲۹) لیکوالانو بیوگرافی دهغوی دشعراونثر نمونی ورکړیدی د(۲۲۹) لیکوالانو له جملی څخه ۷۳ تنه دپېښور او کویټی ۷۲ دننگرهار ۶۱ د کندهار او پاتی نور، د افغانستان دنورو ولایتونو څخەدی، له ټولی پورتنی مجموعی څخه پنځه ښځی‌لیکوالی دی.

له پورتنی‌ټول او مجموعی څخه ۹۳۱ تنوسلکی پوستونه درلودل او یایی تراوسه لالری (۷)تنه عسکری صاحب منصبان ،یویی مځکوال ۸ تنەدکانداران ،۳تنه سوداگران یوډاکتر، یوشخصی ښوونکی ،۳تنه محلی شاعران ،یوتن ملک ،یوراډیو تخنیک او ۲تنه نورسلایان دی . دښونی او روزنی لەلحاظە۸۳ تنو خصوصی سبق لوستی دی، ۶۲ابتدائی ښونځی ،۷۳ منځنی ،۱۵ مذهبی مدرسی ۳عسکری لیسه او ۲ میخانیک ښونځی لوستی دی ۳۳) لوړتحصیلات کړی‌چی (۲۷) یی‌دکابل پوهنتون لوستی‌پنځو یی‌له امریکی څخه تخصص ،یویی لەقاهری او بل‌یی‌له مسکو څخه بی‌اچ‌ډی‌راوړی ده.

هغه چاچی خصوصی سبق لوستلی دی‌زیات شمیر یی د ۱۹۲۰ کال نەړومبی نسل پوری مربوطدی.

لاندی احصاییوی جدول د۱۳۰۹ کال نه تر ۱۳۱۹ کال پوری دښوونځیوشمیر پەگوته کوی اوڅرنگه چی دښوونځیو شمیر ډیر کم وه نو په مسجدونو کی خصوصی تعلیم کیده.

| کال | دښوونځیوشمیر | ښوونکی | زده‌کوونکی |
|---|---|---|---|
| ۱۳۰۹ | ۱۳ | ۵۳ | ۱۵۹۰ |

| کال | دښوونځيوشمېر | ښوونکي | زده کوونکي |
|---|---|---|---|
| ۱۳۱۱ | ۲۲ | ۱۰۵ | ۱۳۵۰ |
| ۱۳۱۳ | ۳۹ | ۲۰۶ | ۶۱۵۷ |
| ۱۳۱۵ | ۹۳ | ۳۰۹ | ۹۲۷۹ |
| ۱۳۱۷ | ۲۲۸ | ۸۳۳ | ۱۸۸۷۷ |
| ۳۱۹ | ۳۲۴ | ۱۹۹۰ | ۶۰۰۰۰ |

دپورتني جدول مؤخذ: احصايوي سعرفي افغانستان، کال ۱۳۵۰ دښوونې او روزنې وزارت دپلان رياست له‌خوا، دمعارف په‌مطبعه کې چاپشوېدی.

هغه‌چاچي ۱۹۳۰ کال‌نه‌تر ۱۹۳۰ کال‌پورې دپښتو د انکشاف له‌پاره هلې ځلې کولې، دېولړ نا وړو شرايطو دموجوديت له کبله دزياتوربړونو او ناخوالوزغم سره سره دپښتو دانکشاف له‌پاره يې‌په‌زړه پورې خدمتونه کړيدي. د کافي امکاناتو د نشتوالي سره هم پښتو آکادمي او ادبياتو په‌پوهنځي که‌دپښتوځانګې پدې باب په‌زړه پورې کو ښښونه جاري ساتلي دي.

هغه کسانوچي دپوهنځي تحصيلات بشپړ کړي او دولتي لوړپوستونه يې نيولي او دهستونکي کلتور په‌باب بې‌پروا وي دسنتي سنورينو په‌ډله کې راځي.

هغه ليکوالانو چه په پښتو کې‌اثار هستول زيات شمېريې‌دپښتونوالي په دمسئلې سره سر و کار او دغې مسئلې ته‌يې ستره اولويه مسئله ويله. په‌داسې حال کې چې د کلتور تاريخ له‌نقطه‌نظرنه دا کار هغه سهال قيمت او ارزښت پيدا کوي چې‌په‌اثاروکي د منورينوا يډيال پښتونولي دېوانتروپولوژست لارښود فيلډپه‌حيث ترسيم او توضيح شي.داسې‌برېښي چې ځينو داثر په‌ليکلوکې‌د خپل شخصي نظراوتنګي تجربې څخه کار اخيستی او دپښتونولي‌له پاره يې بيا عمومي کړې، پداسې حال کې چې سوسيالوژيکه موجود فکتورونه او حقايق په‌چټکې تغيرسومي اومخ په‌وړاندې ځي. تراوسه دپښتو نولي انتروپولوژيك اوسوسيالوژيک څېړنه نده شوې.

بل پروبلم چې‌ورته‌ګوته نيول کيږي هغه په پښتو ژبه کې‌د ليکل شووا ثارو کمښت دی. لاتر اوسه په‌پښتو کې‌زيات او مفيد اثارنشته .لاندې احصائيه په ۱۳۵۲ کال کې دهغه

زده کونکو شمیر بیئی چی په پښتو ژبه درس ورکول شویدی .

| | هلکان | جنکیانی |
|---|---|---|
| د کلیو ښوونځی (۱-۶) | ۳۵٦۸۵ | ۱۹۸ |
| ابتدائی ښوونځی (۱-۶) | ۳۳۹۹ | ۲۲۹ |
| منځنی ښوونځی (۷-۹) | ۳۳۱٦۸ | ۱۱۹۰ |
| لوړ ښوونځی یالیسی (۱۰-۱۲) | ۱۹۲۸۳ | ۵۲۰ |
| ټول | ۱۱۲٦۳٦ | ۲۱۳۷ |

څرګنده ده چی په وروسته پاتی او بی سواده ټولنو کی دباسواده شمیر ورځ په ورځ زیات او لیکلی ادب هم ورسره جوخت مخ په وړاندی ځی.

دسلی او بین المللی شرایطو داغیزی لاندی دافغانستان کیلوالی دود او کلتور هم په چټکی بدلیږی. لاتر اوسه د پښتو لیکلی اثارد خلکو اړتیاوی نه پوره کوی دزړو کتابونو راټول او چاپول یو ضرور کاردی. کومه دنده چی اوس زمونږ پښتنو او ګانیک منورینو ته وړ پغاړه ده هغه داده چی دزمان سره یوځای پرمخ ولاړ شی اولیکلی ګټور پښتو اداب ته پر اختیاو رکړی او پدی ډول دنوی هستونکی کلتور له پاره زمینه چمتو کړی .څرګنده ده چی دی هدف ته د رسیدلو کار د زاړه نسل له وسی نه ،نه دی پوره اودادځوانانو کار او مسئولیت دی .

څرنګه چی زمونږ او سنی کلتور ته دنوی سترقی کلتور تومنه ورولیدلی دهغائی ځوانان په موقع دغه بلاربتوب در کښاو دتحقق له پاره یی کار وکړی دسمینار دغړو پام هم دی ټکی ته را اړوم په درناوی.

(پای)

محمد عبدالقدوس قاسمی (پېښور)

# دپېښور دپښتو دیني ادب ته یو کتنه

دپښتو ادبي په پنګه کښې دیني ادب مهم کردار ادا کړی دی. دسلیمان ماکو دوه خلور پاڼړي وی او که خیرالبیان - پر یو ته چه تاسو تر لاسه نثرا بتدائی تخلیق او وائی نتیجه ئی داخبرې چه دپښتو نثر ابتداد دیني ادب نه شوی ده.

دیني ادب همیش خمونږ دثقافت تهذیب او تربیت په لړ کښې پکار راغلی دی او د ادب په نورو اقسامو ئی هم همیش اثر غورزولی دی. هم داوجه ده چه ددیني ادب سره واقفیت پیدا کول دهر ادب و شاعر وظیفه او فریضه ده او ددی واقفیت نه بغیر دپښتو دکلاسیکی سرمائی نه استفاده کول قریب قریب ناممکن دی - دخوشحال خان او د عبدالرحمن دیوانو نه څه چه نیمبو لا او تمبولاد دیو تر اپان قصی هم ددیني ادب داصطلاحاتو او تلمیحاتو سره ګنډلی دی.

مهم داوجه ده چه دطباعت په اول دور کښې چه دپېښور تاجرانو دعوامو دضرورت مطابق د پښتو به نشر یا تو ګوتی پوری کولی - نو د یني ادب ته ئی اول لاس واچولو خمونږ د یني ادب په دغه وخت عبارت وو دتفسیر - فقهی - تصوف او سیرت او مناقب نه د تفسیر ذکر په وروستی کوم - اول ددی نورو علمو مختصره شان تذکره کوم - په فقهی کتابونو سر کښې فهرست داخوند قاسم فوائد شریعت دی بیا ورپسی د ملاعبد الرشید .رشید البیان - دعبدالکبیر جنت الفردوس او ددرا لمجالس دفقهی د اکتابونه داخوند درویزه دمخزن سره «چه په عقائدو هم مستعمل دی» زمونږ په معاصره کښې عام وو - چینکو په کورونو کښې

لوستة او په ځنې مقاماتو کښې په‌تر نارينه و هم‌فايده اغشته - خو عموماً ځمو نږ په‌معاصره کې دنارينه‌ؤ دپاره رواج داو وچه‌دوئی دخلاصه کيدانی او منية‌ا لمصلی نه‌شروع و کړی بياچه خوسره فرصت لری په‌مخکښې دی يعنی درسی کتاب دپه‌عربی وی او سره دترجمی دلوستی شی - تاجرانو دامهر بانی و کړه چی خلاصهٔ‌سنيه‌، قدوری او کنزالدقايق‌يی د فارسی‌او پښتوترجمی سره‌چاپ کړل‌بس‌داووپه‌فقهی‌ميدان کښی‌ځمونږدپښتو بساط ښاغلی‌تقويم‌الحق‌صاحب په‌خپل فهرست کښی‌دفتاو ای احمدشاهی‌ذکر هم کړی‌دی‌چه‌زه يی‌لاپه‌ديدن‌مو فق‌شوی‌نه‌يم .

دسيرت او ددينی تاريخی کتابونو په‌باب کښی علاوه دمخزن نه‌نو رنامه عامه لوستی شوه.ددی‌نه‌علاوه دپچگی دملااحمد صاحب جواهر الانبياء او دبوعلی شاه جنگنامه‌هم په‌دغه لړغونی‌دور کی‌مقبول کتابونه‌وو دمناقبو يو څو کتابونه‌عام رائج شو څو په صحی معانو کی‌نه‌په پښتو کی دسيرت کتاب واو نه‌داسلامی تاريخ .

دتصوف په حق‌له ځمونږعو امو په لاس کښی دسعادت خان کيميائی سعادت‌وودا کتاب دامام‌غزالی‌د کيميای‌سعادت‌سره‌څه تعلق نه‌لری‌يا کيميای‌سعادت‌ډير و ړو کی‌غوندی «۰ ۲ - ۳۰ پاڼونه‌زيات‌ندی» او دامام‌غزالی‌صاحب کتاب‌به‌ضخامت‌لری.ددی په‌مقابله کښی‌دشير محمد هو تک اسرار العارفين کم مقبول شوحالا نکه د مضمون په‌لحاظ داډير اهم کتاب دی او لکه دمنهاج العابدين غوند دامام غزالی داحياء العلوم تلخيص معلوميږی‌داخوند گدانافع المسلين په دی لړ کښی گټور کتاب دی خو حقيقت دی چه دمعرفت او داخلاقی تربيت درمن پښتو ددیوان عبدالرحمن نه اغشتی دی‌او په دی وجه داديوان ددی دورد تصوف‌په کتابونو کښی فهرست‌دی.

د پيړی په‌وسط کښی چه تعليم عام شو - نو دسر کاری مدارسو په وسيله اردو ژبه کورکورته ورسيده- دپښتو په‌ادب باند هم اردو ادب اثرانداز شو - ځمو نږ پخوانی علماؤ اواديبانوپه عربی اوفارسی نه‌ترجمی کولی او پښتو ته به ئی کتابونه راړول دپيړی په‌منځنی دور کښی د پښتو اديبانو داردو ژبی نه‌استفاده کول او دهغی کتابونه پښتو ته راړول شروع کړه- اگر که دسيرت په موضوع باندپير بخش خان(ځمو نږ محمدنبی)او مولانا غلام‌نبی سيرت خيرالبشر او ليکلو اودوارو کتابونه مقبول شوی‌خو په معاشره باند دشبلی

نعماني دي مثاله کتاب سیرة النبی دوسره اثر و وچه دتعلیم یافته طبقې دهغه به مقاله کښې بل کتاب نه خوښید - ځکه ها کوشش شروع شوچه دا کتاب په پښتو ترجمه کړی شي - عبدالکریم مظلوم چې د پښتو ادیب او دارد ونه واقف و - دا کار په خپله ذمه واخست او چې داول جلد ترجمه تیاره شوه . نو اسلامیه دکالج های سکول سوسایټۍ به په خپل خرچ چاپ کړه - د عبدالکریم مظلوم ادیبانه حیثیت مشهوروو - ځکه چادا ضرورت محسوس نه کړو چه په کتاب نظرثاني وکړي خو چې کتاب خورشو او د عالمانو لاس ته ورسید نو دامعلومه شوه چې په کتاب کښې ځنې شدیدې غلطې دي - داوه چه مولانا عبدالقادر مرحوم د پښتو اکیډیمي د دائرکټر په حیث دی خدمت ته توجه وکړه او د مولانا اسرائیل په قلم او دځینې نورو کسانو په ملګرتیا یې په دی جلد نظرثاني وکړه او دتصحیح نه پس (بلکه دوباره ترجمې نه پس) ئې د پښتو اکیډیمي نه نشر کړو - دا کتاب نور پنځه جلد و نه هم ترجمه شویدی او په وار وار به چاپ شي .

دلته داخبره د ذکرووړده چه دسیرة النبی هغه ترجمه چه مولانا سیفي صاحب کړیده ډیره ښه ترجمه ده (او بی د ها زنی نه) داو یلی شو چه په صورت او معنی هر اړخ کښې ډیره جاذبه ده - خو د بده مرغه دری اسباب داسی دی چه د دی نه د پیښور خلق استفاده نه شی کولی اول داچه په افغانستان کښې رسم خط په ټایپ دی او په پیښور کی په ګټو - دویم داچه د بلاد و دلی په وجه هروخت د کتاب استیر ادنه شی کیدی . دتاجر د طرف لږ جدوجهد غواړی او دریم دټولو نه مهم سبب دادی چه د پیښور په ژبه او د افغانستان په ژبه کښې هغه فرق دی چه تاسو به ئی دخپل اسلوب نګارش او ددی مقالې په اسلوب کښې محسوس ئی د پیښور اسلوب تر ډیره حده داردو نه متأثر شوی دی او ددی ځای اسلوب ددری نه یا مستقیماً دعربی نه بهرحال ترجمې دواړه ښې شو دی - او د پښتو ادبی پنګی ته ئی ډیره فائده رسولی ده.

دفقهي ادب په سیدان کښې ښاغلی مولینا تنسیم الحق فاضل دیوبند دمولا نااشرف علی تهانوی د بهشتی زیور د پنځو حصو ترجمه وکړه او د پیښور اداره اشاعت سرحد چاپ کړه - کتاب ډیر ضخیم نه دی - خو خورا مفید او معتمد دی - ددینی مسا ئلو ضروریات تر ډیره حده پوره کوی - ځکه ئی ترجمه هم لکه د اصل مقوله ده - دفقهی په موضوع باندی ددی ترجمې نه ور په اخوا یو ډیر اهم کتاب فتاوای ودود یه دی - چه دسوات ریاست دمحکمو دقاضیانو

ځنې ضروري او مهم معلومات وررسول وو- څکه ددې دويم جلد چه د کتاب النکاح کتاب الدعوي او کتاب الشهادات وغيره په مسائلو مشتمل دی اول چاپ شو - او اول جلد چه دعباداتو سره تعلق لري وروسته چاپ شو - وا لی سوات د مرستي په برکت ددی کتاب د اول اشاعت طباعت به معياري دی کاغذ ئی به دی - کتابت ئی په اصولو برابر دی او طباعت يی ديده زيبی دی

د تصوف په ترمن کی د موجوده دور به اضافه داده چه د پښتو اکيډيمی ښاغلی محمدعباس صاحب د امام غزالی دا حيا العلوم اردو ترجمه سخ ته کيښوه او يو يو باب (کتاب) يی ترجمه کول او په خپل سر نشرول شروع کړل - چه د ښاغلی محمد عباس صاحب د امجهود ترسره شي نو پښتو ژبه به د تصوف د مسائلو په حق له ترډيره بي نيازه شي - او د تصوف عملی استفاده کونکو او د تصوف سره علمی شعف لرونکو ته به په دي ميدان کښي د مطالعي يو لو يه ذخيره په لاس ورشي .

او س زه د مقالي اهم جزته توجه کول غوا ړم يعني د پښتو په ادب کښي د قرآن کريم تفسير د کلام الله عظمت د مسلمانانو په زړونو کښي دومره راسخ دی چه بيددی د فهم نه د مسلمان گذاره هم نه کيږی - او ددی په تفسير او ترجمه با ندی جرأت کول هم هر څوک نشي کولی. هم داوجه ده چه په پښتو کښي د قرآن کريم ترجمه د تعليم و تعلم په طور هميش رواجه وه - خو دا پښتو ژباني ترجمه په تحرير کي راوستل ډير گران وو - حضرت ابوبکر رضی الله عنه په يوه موقع فرمايلی و وچه «ای سمأ تظلني و ای ارض تقلني اذاقلت فی کلام الله بغر علم» کوم اسمان به په ما سايه واچوي او کومه زمکه به د سر پاسه پر يردی چه زه د الله په کلام کی بی د علمه خه خبره وکړم .دغه رنگ پښتنو عالمانو هم غالبا دخپلی کم نفسی او تواضع په وجه دی مشکل کارته گوتی نه اچولی - د تولو نه لرغونی ليکلی تفسير چه مونږ ته معلوم شوی دی هغه دغلام محمدگگيانی تفسير و الضحی دی چه د دولسمی پيړ ئی هجری په ابتدا کښي ليکلی شوی وو - خو د چاپ خانی د دور په ابتدا کښي دی وړو کی کتاب ته چا توجه ونه کړه

د ترلاسه راغلی معلوماتو له خوا د پښتو اولنی تفسير د مولانا مرادعلی صاحب تفسير يسير دی. ددی تفسير په حق له ښاغلی مولانا بشار صاحب په خپله مقاله کښي کما فی معلومات پيش کړل زه پرحرف د تفنن دپاره يو ددی اشعار و اضافه کوم .

عربی : خدا را تحبت نیه بتوفیق مستعان تفسیر الختر عتاعجو به الاسان

فالله استعین فی انتفا عنا بــه با لمصطفی علیه‌من الله تحفتان

ســمــیتــه اخــی بــتــفسیر یــسیر للیسر فی القیامه بالامن و الامان

پښتو : پاخیره‌ای سر اده‌چه‌شپیتم‌دشه دا کال

پنځی د کړ ه‌مضبوطی په تفسیر او په‌قرآن

دری : فراغ سال پنجم شوال شد شروع تفسیر بهر زمره افغان باین زبان

من ز بیضا وی مدارک احمدی هم از وجیز و از جلالین و حسینی اخذ وی کردم چو شیر

ختم‌شد در ماه کم نه سال تصنیفش به‌خیر خالقا این سعی را بالطف خو یش آزمن پذیر

سال صاغر ظهر شنبه پنجم ماه صیام دارم از و هاب امید عطا هائی کثیر

دو یم داچه مصنف وائی:«قدالح علی بعن الاخوان المکرمین لدی بین ابنا الزمان ان رقم لهم تفسیر اللقران المجید با للسان السلیما نی مع اختصار المبانی » - یعنی په ما یو و رورچه د زمانی په خلقو کښی په ما گرا ن دی دازو رواچو لو چه دده دپاره په‌پښتو ژبه په‌مختصر و الفاظو تفسیر او لیکم - داسعلو مو ل مناسب‌دی چه‌دا خواست کونکی څو ک وو.

دتفسیر یسیر د نشر کیدلو د په پښتو کی نو رو تفسیرونه هم چاپ شو ل لکه د تفسیر حسینی یو یادو ه‌ترجمی - او دمو لانا عبدالحق صاحب د د ارسنگو تفسیر - دو اړه تفسیرونه خپل‌خپل مقام لری - خصوصا دمو لینا عبدالحق ترجمه او تفسیر چه‌په خپلو ماخذ و کښی علاوه دتفسیر یسیرنه دروح البیان - فتح البیان - ابن کثیر او فتح الرحمن نو م‌هم اخلی - خو حقه خبره ده چه‌په‌دی تفسیر و نو کښی یو هم دتفسیر یسیر ځای نه‌نیسی .

دا نو ل‌تفاسیر دمضمو ن او دمعنی د و اړ و له جهته زو ر سبک‌لری - چه‌کوم وخت دشیخ الهند مو لانا محمود ا لحسن مرحوم ترجمه ا وحوا شی او د مو لینا شبیر احمد عثما نی مرحو م حوا شی په‌اردو ژبه کښی‌چاپ شو نو څمو نږ په‌علاقه هم‌داتفسیر شه‌مقبو ل شو او دلته دافغا نستان علماء و هم داترجمه اوحواشي خو بش کړلی - دلته‌ئی هم په‌دری کی‌ترجمه و شوه او هم په پښتو کی د پیښو رعلا قه لا ددی سعا دت نه محرو م‌ده‌مو لینا تسنیم الحق کا کا خیل دهغه ځای لهجه هم یو ترجمه کړی ده خو لاتر اوسه‌ئی دچاپ کیدو نو بت نه‌دی راغلی .

پەاصل اردو ترجمەدخپلوخت متبحرو عالمانوبه خواری کړی دەځکه په راسخ العقیده مسلمانانو کبنی ددی پەمقابله کی بله ترجمه لاتراوسه مقبوله شوی نەدی. بیاهم پەاردو ژبه کبنی ځنی نورو تفسیرونەداسی راووتل چەدمعلوماتو او دتحقیق لەلحاظه ډیره ژور تیا لری او عصری ذهن تەزیات قریب دی - ددی داثر لاند دپښتو ر دعلاقی ځینی پښتو علماؤ داضرورت محسوس کړو چەپه پښتو ژبەدهم داسی تفسیروی چەقدیم وجدیدار او تەبه کښی توجه شوی وی :

ترخوچەزه معلومات لرم خلورو عالمانو پەدیمیدان کی جلاجلاهڅه کړی دی او ترجمی ای ترسر کړی دی په دوی کی دمو لانا لطف الله دجهانګیری ضلع مردان او دمو لینا فضل الرحمن دپښور «چی دمولینا سیف الرحمن و راره دی» ترجمی او تفسیرونه لاچاپ نەدی اودمو لینا

حبیب الرحمن درستم ضلع مردان او مولینا محمدادریس مرحوم دلورو ضلع تفسیر او ترجمی چاپ ته رسیدلی دی. مولیناحبیب الرحمن صاحب دخپل تفسیر نوم تفسیرحبیبی کښی دی - داتفسیر وار په واریزو چاپ کیدلو او دری خلور کالەئی کیری چی تکمیل تەرسیدلی دی -دتفسیر سبکئ اد بی نەدی. خو دمضمون پەلحاظ ډیرموزون تفسیر دی او عصری ذهن تەقریب دی - په ابتدائی حصو کښی دمحمدعبده او درشیدرضا د تفسیر المنار نەهم استفاده شوی ده -و روستو هم مصنف په هغی ډول روان دی پەلیکلو کی منطقی ترتیب کم دی او طباعت او کاغذ یی هم معیاری نه دی بیاهم مقبول دی .

څو نیږ ددیدو رمناسب تفسیر دمولینا حافظ محمد ادریس مرحوم کشاف القرآن دی مولانا مرحوم د پښور دپوهنتون دعربی ژبی د څانګی رئیس وو په کال ۱۹۶۵ م کښی پەیو مشهور رەهوائی حادثه کښی دقاهری دهوائی اډی خوا و شاپه حق رسیدلی وو -مولانا صاحب پەقوم یوسفزیوو او دښاغلی سناتور محمدامین خوګیانی خورئی وو -اود ژبی فصاحت ئی پەتول وطن مشهورووو دغورو فکرپەاسلوب کښی ئی کوم یچ نەووه پەزرو درس ګاهونو کښیئی دینی تعلیم کړیوو او بیائی دعربی نوی ادب پانډی هم ښه عبور پیدا کړی وو - ځکه و رتەدترجمی کولوتول موو هلات حاصلوو -دی عصری تقاضو نه هم ښه واقف وو - او دعامو مسلمانانو په احساسا توئی همنظر لرلو - دتفسیر نوی اوزاره

کتابونه ئی‌تول په‌نظر کی‌وو. دده دتفسیر اول جلدپنځاس سپاری دده‌په ژوندانی نشر شوی‌او ډیر مقبول شوی‌وو - دویم جلدئی تیرکال دهغه دوفات نه‌یولس کاله پس‌نشر شو.

ددی‌تفسیر معنوی محاسن دادی:

۱ -ژبه‌ئی ډیره‌و اضحه‌او صفاده‌او هرکس پر په‌اول ځل‌پوهیږی.

۲ -ترجمه‌یاسحاو ره‌کوی دعربی دالفاظو دترتیب پابندنه‌دی.

۳ -ډیرو ځایونو کی دمجموعه جملی مجموعی معنی په‌پښتو و کړی او دیویو الفاظ رعایت پریږی دی.

۴ -اسرائیلی روایات بیخی نظر انداز کوی.

۵ -څینی‌خاصو خاصوځایونو کی په‌دلرغونی‌محققینو رای‌بیان کړی او دځینی عصری مفسر ینو خصوصاً دالمراغی‌رای‌هم‌و رسره‌شامله کړی:

۶ -دسورت‌په‌ابتداء کی‌دهغی‌خلاصه‌و رکوی.

۷ -تاریخی‌معلومات‌هم‌دتازه‌تحقیقاتو مطابق‌و رکوی.

۸ -فقهی‌مسئله‌هم‌بیانوی‌خصوصاً هغه‌ځائی‌چه‌دتفسیر دلحاظدابهام احتمال‌وی.

۹ -دسحاوری‌دپاره‌دآیت‌صحیح مطلب‌چری‌هم‌نه‌خرابیږی.

۱۰ -داکوشش کوی‌چه‌په‌لږو الفاظو کښی‌مطلب‌په‌وضاحت‌ترسره کړی -غرض‌ئی‌داو و چه د تفسیر ضخامت داندازی نه‌زیات نه‌شی‌او هدیه یی‌ډیره گرانه نه‌پریوځی.

ددی معنوی خصوصیتو نو سره‌سره ناشر(یونیو ستی بکه ایجنسی)ددویم‌جلدپه کتابت طباعت کاغذاو جلدسازی‌هم‌ځان کړولی‌دی او مونږ داویلی شوچه ترخو چه‌دپیښور تعلق دی داتفسیر دطباعت اودظاهری خوبصورتی اومحاسنوله لحاظه په‌دینی کتابونو کښی شاهکاری دی.

په‌پای کښی‌ددی تفسیرونو « تفسیر یسیر »تفسیرحبیبی‌او کشاف القرآن»نمونه‌چه موازنه ترخرگندیږی:

۱ - ولقدضربناللناس‌فی هذاالقرآن من کل مثل ولئن جئتهم‌بآیةلیقولن الذین کفروا ان انتم الامبطلون(سورةالروم رکوع ۶)

تفسیر یسیر: او هرآینه په‌تحقیق سره مونږ بیان کړی دی‌په دی قرآن کښی الههره قسمه

مثل (چه‌پکاریری‌ددوی په‌اثبات دتوحید او صدق درسول علیه‌السلام کښی» او که‌راوړی
ته ای‌رسوله دوی له کومایت‌له‌ایتونو دقرآن یا کومه معجزه لکه عصااو یدبیضا دموسی(ع)
نو هرائنه و به‌وائی خامخاهغه کسان چه کافر شوی‌دی (له‌ډیره عناده) چه‌نه‌ئی تاسی
(یعنی رسول او مؤمنان) مگر دروغژن‌او باطل‌چلونکی.
دهر لفظ معنی‌هم پوره ده–دایه‌دوه معنی هم‌وشوی–دغسی دسبطلون هم‌دوه معنی وشوی
او تفسیری‌اضافی الفاظ‌هم‌راغلل.
تفسیرحبیبی: ترجمه او په‌تحقیق سره مونږ په‌دی قرآن کښی هرقسم مثالونه بیان کړی
دی‌او که ته‌دی‌ته‌څه‌نخه‌هم راوړی نو بیا به‌هم دا کافران او وائی چی‌تاسو خو په باطلونکی
یی(دللناس ترجمه سهواً پاشاده) دایة او مبطلون ترجمه یوه یوه شوده –ترجمه صفاده).
تفسیر: خدای برو رته اووائی چه‌ستا خو دپوهه کولو دپاره هرقسم مثالونه او دلیلونه
بیان شوی‌و او تاسو به‌ددی په‌جواب کښی‌وی‌چه داهرڅه غلط دی–مفسر د ایتونو دربط
واستولودپاوه‌دآیت‌تفسیرداسی کوی‌لکه‌چی‌داهم‌د قیامت‌دنقشی‌بیان دی.
کشاف‌القران: ترجمه اومونږ دخلقو دفایدی دپاره په دی قران مجید کښی هرقسم مضامین
بیان کړی‌دی‌او که‌ته‌دی کافروته څه غټه نښه پیش کړی نو بیا هم خو که چه کافر دی هغوی
به‌داوینا کړی‌چه تاسو په‌سروپ‌باطله‌باندنښتی یی.
تفسیر: یعنی کافران‌وائی‌چه‌پیغمبر دخان نه‌دروغ خبری جوړوی او نورمسلمانان په‌هغی
باندماسنا کوی یوتن باطل‌راه‌ځکښی کوی او بل‌تن دهغی تصدیق کوی– دغه وجه‌ده چه
دلته د کافر و په‌ژبه ټولو مسلمانانو ته‌مبطلوع‌ویلی‌شوی‌دی.
ترجمه–صفا او باسحاوره‌ده دایة ترجمه یوه شوی‌ده خو د تنوین تعظیمی معنی ته‌هم اشاره
شوی‌ده دسبطلون په‌ترجمه کښی دمبالغی الفاظ شامل شوی دی او دان او الاد حصرمعنی
اداکولو دپاره دمبالغه الفاظ راوړی شوی‌ده.
۲–ولقد فتناسلیمان و القیناعلی کرسیه جسداثم اناب
تفسیر یسیر: ترجمه– او هرائنه په تحقیق ازمیلی ومونږسلیمان اوغورزولی وه
مونږ په تخت دده یو بدن بی‌روح بیا رجوع ئی‌وکړ (خدای‌ته‌یاخپلی پادشاهی‌ته).
تفسیر: ددی‌په‌تفسیر کی‌مولینا مرادعلی صاحب‌دوه‌قصی بیان کړی دی چه‌دواړه د

اسرائیلي رواياتو پورې تعلق لري يو داچه دده يو څوي وو - چه دپيريانو نه د حفاظت دپاره ده په وريځو کښې ساتلو او په خدای ئې توکل نه کولو - هغه مړ ده په تخت را پريوتو بله داچه دده په کور کښې يو وينځې د خپل پلار ذست سجده شروع کړه - دهغې په پاداش کښې دده په ګوتې چه دهغې په برکت دده حکومت چلولو الله تعالی يو د يو مسلط کړو چه څلويښت ورځې د ده په تخت ناست وو په شکل باند د ده په شان ښکاريدو او په حقيقت کښې پيرې وو - په څه سليمان وخو دسليمان روح په کښې - څلويښت ورځو هغه پيرې او تښتيدا و ګوته ئې دسمندر په وسيله بياسليمان ته راورسيده او سليمان (ع) بيا په تخت کيناستو .

قصه څو نور په وطن کې هم ددې اسرائيلي رواياتو دوجهې مشهوره ده - حافظ الپورې وائي - ديو نه سليمان دسليمان په نګين نه شي - خو په حقيقت کښې اصل نه لري مولينا بشير احمد عثماني رحمةالله عليه په خپلو حواشيو کښې دابن کثير نه نقل کړي دي چه دارو ايت بې اصله دی ددې په ځای ئې هغه روايت قبول کړی دی چه امام بخاري ئي روايت کوی - ددې ځای په پښتو ترجمه کښې به هغه روايت درج وي - او په مخکښې نمو نو کښې هم د هغې ذکر راځي .

تفسير حبيبي : ترجمه - او مونږ سليمان (ع) اوازمايه او مونږ دده په تخت يوجسم او غورزاوو ( د ثم اناب ترجمه پاتشوې ده) تفسير - داحا ديثو نه داسې معلوميږي چه حضرت سليمان عليه السلام يو مجاهد وو - اسونه ئې دجهاد په خاطر ساتل او ددې به ئې په خپله حفاظت کاوو - لکه چه د تيروايتونونه معلومه شوه - نو يو دشپه ئې اوی چه که څه دخپلو ټولو بيبيانو سره چه او يا يا کمې زياتې وې کورو الی او کم نو دهري يوی نه به يو يو مجاهد پيدا شي - خو دلته دده نه د ايوه خبره پاتي شوه چه انشاالله ئي او نه وی نو په يکښې صرف يوه حامله شوه او هغې هم نيمګړی بچی راوړه دای وراه دتخت خواته راوړه او دده په غيږ کښې ئې کيښو ده دا هغه تش نيمګړی بچی وو چه دده په تخت را وغورزيده يا داچه دی د خپلو دشمنانو نه دير په فکر کښې وو - کله کله به لکه دمړ وجود په تخت اوغورځيد او بيا به ورا له خدای طاقت ورکه او راپا به سيده .

دتفسير په اول روايت کښې چه صحيح دی دثم اناب ترجمه پاتې شوه او دويم تاويل

دی مصنف دځانه و کړو -چه څه‌تو کئ نه‌لری .

کشاف‌القرآن:

ترجمه: او سو نړ حضرت سلیمان علیه السلام په‌یو ازمیښت کی و اچولو او د هغه په‌تخت سو یوه درنگه و اچوله نو بیاهغه(خدای‌ته) رجوع او کړه.

تفسیر: روایت دی‌چه‌یوځل حضرت سلیمان علیه‌السلام قسم او خوړچه‌زه به دخپلو ټولو بیبیا نو سره جوړئی شم بیا د هغو ټولو به‌ځامن اوشی او هغه ټول ځامن‌به دخدای په‌لار کښې جهاد کوی -- خو دی‌قسم سره‌ئی انشاالله‌او نه‌وی -نو نتیجه ئی‌داشو دچه‌په‌ټولو بیبیانو کښې هیله بیله دیو تن حمل‌شه‌او هغی هم‌یو نیمچه زوی راوړو -په دی خبره حضرت سلیمان علیه‌السلام ته‌تنبیه و شوه او تو به‌استغفارشه په حدیث کی را ځی چی که ان شا الله و یلی‌وی‌نو لکه څنگه چه‌ئی خواهش وو هغی اولاد‌به خدای پا کئ‌و رکړی وو او دزړه ارزوبه‌ئی پوره شوی‌وه .

الامام المراغی لیکی چه‌حضرت سلیمان علیه‌السلام په یو لاعلاج رنځ باندگرفتاراو اخته شو او په تخت به‌داسی پروت وو لکه تشه‌جو ثه چه‌پر ته‌دی - خو لبری‌و رځی‌پس‌بیاجو ړ شه - او خپل اصلی حالت‌ته‌راستون شه‌نو دلته دثم‌اناب معنی‌دا شوه چه‌ثم رجع الی حاله‌الاولی و استقامت‌له‌الامور کما کان.

پریشان خټک (پېښور)

# پښتو کښی دلغت نویسی

دوه سوه کاله

پښتو کی لغت‌نویسی داتلسمی‌صدئی دآخری نیمی نه‌شروع شوی‌ده‌دا داسی وخت و وچه ژبه داوړید و رااوړیدو نه‌اوتی‌وه- او په یوځای ئی قرار نیولی وو -دبنیادی ژبی الفاظ پکښی پاخه شوی‌وو - دنورو ژبو نه ئی خپلونی کړی وی- دنظم و نثر یودانه پانګه پکښی جمع‌شوی وه -خو دی دری لهجی یوځای ته راغونډ شوی‌وی او یو مرکزیت ئی اخیستی‌وو- دتاوراتاو سره‌لتونه زیات شوی‌وو- او دیوعلاقی الفاظ بلی‌ته راپری اوتی‌وو- دهری تپی دا دیبا نوکتابونه خواره شوی‌وو- او دټولو ټکو راغونډوو کار کیدی شو-لغت نویسان لکه‌چی‌ددغه اسانیو په‌انتظار کښی وو-اوتردی ئی کار نه‌شوشروع کولی -ځکه دلغت نامو کارنسبتاً تر ډیره وخته حصار شو-

البته‌یوه د کشنری‌داسی هم‌موندی شی چه‌دوخت نه‌ډیره مخکښی لیکلی شوی و ه‌دا د کشنری شاغلی ګولډن شتیټ ردروسی علوم شرقیه وو دمرکز د پاره په ۱۷۹۱ کښی لیکلی ده او غالباً دپښتو اوله‌لغت نامه‌ده .

په‌سلسلو اوروغو لغت نامو کښی دټولو نه‌اول دریاض المحبت‌نوم راځی -دالغت‌نامه دنواب حافظ رحمت‌خان شهید طوتی نواب محبت‌خان روهیله په۷-۱۸۰۶ کښی لیکلی ده- ددی دری نسخی دانډیاآفس کتب خانه کښی د۲۳۵۲ - ۲۳۵۳ -۲۳۵۴ نمبرودلاندی‌شته او نن صبا ددغه نسخو په‌مایکروفلم پښتو اکیډیمی پېښور کښی کار کیږی- نواب‌محبت خان خپله دفارسی اردو صاحب دیوان شاعرو و- اودعربی اشعارو نمونی‌ئی هم موندی شی-

د ریاض المحبت حصه کښې یو تمهید یا پیژند ګلوده چه مصنف ورته «فایده» وائی - بیا د کتاب دوه غټې برخې دي. په ومړۍ برخه کښې ئې د حروف تهجي په ترتیب د مشتقاتو بحث دی - او دویمه کښې ئې د حروف تهجي په ترتیب د الفاظو تشریح - حقه داده چه د الفاظو په صحیح معنی متعین کړلو او د استعمال په باریکیو پوهیدو کښې دادوطن نه لری پروت عالم ډیرو اوښو لیکوالو نه ډیر اوچت دی. او د الغت او سهم یو معیاری نمونه ده - ده د پښتو تشریح مروجه فارسی کښې کړې ده. او تقریبا شپاړس سوه مخه کښې ئې کتاب پوره کړی دی.

د دی تالیف نه خو اوشا خو رلس کاله پس دده کشر رور نواب الله یارخان - داهیله د عجائب-اللغات په نامه یوه بله لغت نامه لیکلې ده چه په تشریح کښې ئې فارسی او هندی مترادفات دواړه استعمال کړی دی. دا کتاب ۱۸۱۹-۲۰ کښې مکمل شوی دی او نقلونه ئې برټش - میوزیم لندن کښې شته. پښتو اکیډیمی پېښور ددې کتاب مایکروفلم او فوټوسټېټ هم حاصل کړی دی او کار پرې روان دی.

د انډیا آفس په کتب خانه کښې یو بله لغت نامه هم «خیالات زمانی» په نامه شته چې د لفظه آوارهٔ نه شروع کیږی خو دا لغت نامه نیم کړې او توټې توټې ده - البته د لیکڼه د وود متعلق څه نښې خبرې لری -

د تاریخ په اعتبار سره ددی دواړو نوابانو رونړو تر میانځه یو بل لغت راځي - چه په هندوستان کښې لیکلې شوی دی او هم ددوی ځوندی یو پښتون نواب لیکلې دی. ددی نوم «فرهنګ ارتضائی» دی او په سنه ۱۸۱۰ه کښې لیکلې شوی دی - د دی مصنف محمد ارتضا خان عمر خیل دنواب امان خان عمرخیل ځوی وو. نواب امان خان دامیر الامراء نواب نجیب الدوله بهادر عمرخیل د تره ځوی وه - په نسب یوسف زی پښتانه وو. او هندوستان کښې میشته شوی و. ارتضا خان د قاموس په سر کښې لیکې «پدی میدان کښې په پښتو ژبه کښې هیچا هم څه کارندی کړی. معلومیږی ده ته د ریاض المحبت اطلاع نه وه رسیدلی - کنی داسی به ئې نه وی لیکلی نواب ارتضا خان چه خپل قاموس څنګه لیکلو هغه سی ئې او نه لیکلی شو - په میانځ کښې پر ډیر سختی راغلی - او کار ئې په ټوټو ټوټو ترسره کړو بیاهم دا کافی د رونډ کتاب دی - په یو سل شپږ شپیته فصله مشتمل دی - او د الفاظو په بحث کښې ئې ترڅه حده دریشو معلومولو

کوشش هم کړی دی۔

د قاسم علی‌خان افریدی لغت فرهنگ افریدی هم دتاریخ په‌لحاظ دریاض محبت اوعجائب۔ اللغات ترسیانځه راځی ۔دا کتاب ۱۸۱۵ ه کښی لیکلی‌شوی‌دی ۔او دپښتو الفاظو سره‌ئی اردو کشمیری‌او انگریزی مترادفات راجمع کړی دی۔

په‌هندوستان کښی دپښتو دلاس لیکلی‌شوی یوه‌بله‌لغت نامه‌هم دانډیاافس په کتب خانه کښی‌شته۔ چه‌دلیک صحیح تاریخ ئی‌معلوم نه‌دی. البته دومره یقینی‌ده‌چه دا کتاب‌په نولسمه صدی عیسوی کښی لیکلی شوی دی۔داآمدنامه افغانی په‌نوم دی۔ او لکه دفارسی دآمدنامی دحروف لهجی په ترتیب مصادر۔ مشتقات ۔افعال ۔ او په فارسی کښی معنی بیانوی ۔

دبرطانوی دورحکومت کښی د پښتو لغت نویسی ضرورت نسبتاً زیات محسوس شو۔ او دوو نوموړو مستشرقینو ایچ‌جی‌راورتی‌او هنری‌والټر بیلو دوه ښه‌ضخیم‌لغتونه‌تیار کړل .

میجر راورتی یوفوجی افسر و وچه دهندوستان په‌زیکه ئی په کلکته آگره بمبئی جالندر او پښاور کښی ملازمت کړی‌دی ۔دخپل‌ملازمت په دوران کښی د حافظ رحمت خان د کور نی‌یوه‌علمی رساله په‌لاس ورغلی و ۔او دهغی نه‌ئی ښه پوره کاراخستی‌دی‌راورتی خپله‌هم دعجائب اللغات او ریاض المحبت نوموړو نه په شمیر کښی راوستی دی ۔ اوورسره ئی ددوو ژوندوعالمانو دیوقندهاری قاضی او یو یوسفزی اخون زاده ذکر کړی دی۔ گویادالغت دمړو او ژوندوا هل‌زبانو په‌مرسته‌لیکلی‌شوی‌دی ۔ او تر کافی حده مستند دی۔ ددی یوولس سوه‌پنځلس مخه‌دی‌او ۱۸۶۰ نمبر لیکلی‌شوی دی۔

هنری و الټر بیلو دبنگال فوج کښی استنټ‌سرجن‌وو ۔او په‌خپل زړه کښی په پښتو دمیجر راورتی نه زیات یوهیدو۔هغه دخپل‌لغت متعلق دپنجاب لفټنټ گورنر ته‌په دعوه‌او لیکل چه‌دمیجرراورتی دلغت باوجود د زیاد لغت چاپ کوو ضرورت شته۔ او غالبا خپله وعده‌ئی ثابته کړی‌شوه۔ ځکه چه‌دالغت په ۱۸۶۷ کښی دحکومت پنجاب په‌مرضی‌چاپ کړی شو۔

ددی مستشرقینو دلغت نامونه کافی موده پس‌په۱۸۸۳ ه کښی محمد اسمعیل خان دپښتو مصطلحات داردو ترجمی سره دآینه‌الفاظو معنی په‌نوم دایبټ‌آبادنه‌چاپ کړل -دا چاپخانه دفوج په لاسو کښی وه۔ خو دمحمداسمعیل خان‌نورهم څه کتابونه دغه چاپ خانی چاپ کړی دی۔ دی کښی اکثر کتابونه دفوج‌په‌نقطهٔ نظر فائده‌مندوو۔ خزینه افغانی (پښتو انگریزی)

پښتو خبری اتری ۱۸۹۰ (پښتو انگریزی) گفتگوئی افغانی یا ترجمۀ هندوستانی ۱۸۸۳ - مولوی اسمعیل خان دپنجاب یونیورسټی فیلو او آنریری مجسټریټ وو - او په برطانوی سرکار کښې مخوریزوو -

دلغت په سلسله کښې دمحمد گل خان مهمند «پښتوسیند» ځو کۀ پریښوی نه شی - د کتاب تفصیلات تاسو ته معلوم دی - دادپښتو دمروجو لغاتو یو ښکلی مجموعه ده - دپښتوټولنی کابل له خوا شائع شوی قاموس هم ستاسو په مخکښې دی چه په خپل وخت دیرجامع و و گران کار ترسره شوی دی - دغه سی په پښتو محاورا تو اصطلاحاتو او متلونو دپښتو ټولنی کابل قیمتی کاربی شکه ډیری ستاینی وړ دی - دی تو لو لغت تاسو خالص پښتو ټکی راغونډ کړی دی - او فارسی عربی ټکی ئی فارسی عربی لغتونو ته پرایښی دی -

په ۱۹۵۹ کښې بهادرشاه ظفرالللغات په نوم لغت نا مه کښې یو ښکلی اضافه او کړه دی لغت کښې شل زره الفاظ محاورات او متلونه دی - څنګځای کښې ئی داشعار و نه استناد هم کړی دی

په ۱۹۶۶ کښې یو ضخیم پښتو روسی قاموس تیار کړی شو چه کم او زیات پنځوس زره الفاظ لری - ستاسفانه زه په روسی ژبه نه پوهیږم او ددی متن دغه همره لیکلی شم چه دابڼاغای دریانکوف او - م - گ . اسلانوف لیکلی دی .

په ۱۹۷۰ کښې د پاکستان اردو ډیو لپمنټ بورډ په دوه جلده کښې یو ضخیم اردو پښتو لغت شائع کړو - دی کښې زیات کارنوموړی سیدانوارالحق کړی دی - او د اردو پښتو مترادفاتو متعین کولو کښې ډیرزیه مددور کولی شی .

دپښتو ر پښتو اکیډیمی ډیری سودی نه دپښتنو د ټولو قبیلاو او علاقو د مخصوصو لغاتو او محاورو یو جامع قاموس مرتب کو لو کی مشغوله د ه او یو درسی محیطنتیا رلوالی چه دپښتو ژبی ټول کلا سیکی، عام مروج اونوی عامی لغات، اصطلاحات، مترادفات او محاوری دمناسبو اسانیدو سره راجمع کړی - تاسو اندازه لگولی شی چه دا کا رخومره وسعت او خو سره عمق لری - او څومره وخت او زیار غواړی - د وی لغت «پښتو ژبه» ترحرف څه پوری شپږ جلده مکمل شوی دی - او کار لاروان دی - سونږ خیال لرو چه خدای و کړی او دا کار مکمل شی نو بیا به ددی انگریزی فرانسی او نورو ژبو کښې ترجمی هم شایع کوو - کار کوونکی لوی خدای دی - اوسونږ په دی لوی کار کښې هم د هغه نه مدد غواړو -

دوکتور غلام غوث شجاعی

# پښتو ادبیات او ټولنې سره د هغې اړیکې

دد مقالې مو ضوع ګانې

۱ - ژوند او ادب سره هیڅ اړیکې نه لري ؟

الف - تیوریتیکي اړخ

ب - عملي برخه

ج - انتقادي خبرې

۲ - دژوند او ادب اړیکې

الف - دژوند او ادب اړیکې دملي مفکورې په اساس

ب - « « « « دا قتصادا و ټولني سره

ج - دژوند او ادب دیالکتیکي ارتباط

۳ - دژوند او ادب په باب منل شوې تیوریګانې

الف - دادبي اثر خپرل داثر دمحتوی په اساس

ب - دیالکتیکي - تاریخي ادب خپرنه

(اقتصادي ، اجتماعي جوړښت کټ مټ په ادب کې ښودلای شو )

ج - دادبي اثر ستر کچر او ټولنیز ستر کچر

۱ - تیوري

۲ - عملي یا تطبیقي برخه

۳ - نتیجه او دنوي لار پیدا کول.

## سریزه

له ډیرو کلنو راپدیخوا پښتنو لیکوالو پهادب او ادبیا تو با ندی ډیرڅه لیکلی چی دغه مضا مین تر ډیرو ډیرو عنوا نو لا ندی د ادب مفهو م او د هغه د شا و خوا مسلو په باب دی .

ډیر ځله داسی لیدل کیږی چی ادب او هنر یو تخیلی ،احساسی پدیده دهاو بایدپهفردی احساس او نظر و رتهو کتل شی.ځینی وخت داسی لیکنی سترګو ته راځي چیڅهنا څه ادباو ټولنه ،ادب او انسانی ژوند سره تړی. او دادب او ژوند ترمینځ ارتباط او ددې ارتباط څرنګوالی ښی پهدغه ارتباط ښودلو کیځینی پهسلی احساساتو کښی ډوبیږی، ځینی نو راقتصادیعوامل تولیدیمناسبات او داسی نو ردادب دپاره اساس ګڼی .داسی چیهر اقتصادی تحول خامخا پهادب باند تاثیر کویاو هغه په مستقیم ډول اړوی .دغه راز تفکر ،ادب او ټول روښانی مسا ئل یووازدیتر منیزم Determinism خواتهبیا نیځینینورادب اوژونداقتصادیمسایل او اجتماعی شعو رترمنځ اړیکی پو ره څرکندوی لا کن پهتیو ری کی پاتی کیږی او له مفاهیمو نظریواو واقعیتونو ترمنځ ښتیو نی رابطی سمینهخیږی ،ساددی مقدمیدپاره هغه مضامین چیپهدادب،ادبیاتو او دادب پهبیلو بیلو څانګو اومسائیلو لیکل شویدید کابل مجلیپه خپرونو کی و لیدل ددی د مجلی د کلکسو نونو له مخیدو ۱۳۰ کال نه راپدې خواپه دې باب ډیری مقالی لیکل شویدی.دغهمقالیبیلیبیلیبرخی بیل سبکونه اوداد ب پهبیلومسایلولیکل شوی دی زما مو ضو ع دانه ده چی دد غو مقا لو، د هری یوی په باب انتقا دی نظر و راندی کړم بلکه مقصد میداد ی چیدغه ټولیمقالی ادب څنګه څیړی ؟ پهدې ټو لو کښی کوم عمو می معیار شریک دی؟ ددې هدف دپاره مادغه مضامین دهغو درو ځي او محتوی پهاساس پهدریو ډلاو ویشلی دی لومړیډلههغه مقالی دي چی ادب او ادبیات تش احساسی او فردی پدیده بولي اولهټولنی سرهو رته هیڅ کوم ارتباط نهو رکوی په دې باره کی زه خبری نه کوم بلکه یو ازی یی یادول غواړم. دو همه ډله هغه مقالی دی چی ادب او ژوند سره تړلی بولی پهدې کیهمبیابیلبیل ډولونه ښودل غواړم .دریمه ډله هغه راز مقالی دیچی دټولنیز ژوند او ادب ترمنځ ارتباط ګوري خو ادب او اجتماعی شعو ر دجبریت

یا Delerinsn هغه خلاصوی او دیالکتیکی تعامل په اساس کې څېړي. زما نظر هم دغه دی. په دو یمه برخه کې غواړم هغه عامې او منل شوې تیورۍ وړاندې کړم چې د ژوند او اجتماع انعکاس په ادب کې وڅېړي او سمې لارې ښئي چې د ژوند انعکاس په ادب کې یا ادب د مادي ژوندانه د انعکاس په حیث څنګه ښودلای شو. په دې برخه کې د تیوریو نه پرته په پښتو ادب په تیره بیا په کیسو کې هغه تیورۍ یادوم چې د اجتماعي انعکاس سم تحلیل کوي او هغه د هر هیواد په ادب کې تطبیقیدای شي.

### ۱- ادب او هنر احساسي پدیده ده؟

ځینې لیکوال داسې نظر لري چې ادب یوازې د فرد، شاعر، ادیب له احساس څخه راوزي هر کله چې یو ادیب له یوې نظرې، له یوې طبیعي پدیدې او یا داسې نورو څخه متاثر شي ده ته یو احساس پیدا شي او دې دغه احساس د شعر یا په بله ادبي جامه کې راولي او غواړي پدې توګه دغه احساس خلکو ته څرګند کړي. په دې اساس «کوم کلام چه خپل اوریدونکي او یا لوستونکي خوشحالوي او د هغوی په زړو کې تاثیر پیدا کړي او هغوی ځان ته راجلب کړي «۱» دې ته ادب وایي داډول کلام د زماني د تیرو او ګردشونو څخه او د دې ډول کلام خاوندان که څه هم مړ وي ژوندي بلل کیږي او دې ډول کلام ته په اصطلاح کې ادب وایي ۲ یعني ادب او ادبي کلام هغه دی چه انساني احساس وپاروي. هغه تر تاثیر لاندې راولي ددې راز ادب او کلام منشأ دغه ډله لیکوال انساني احساس بولي چې دغه احساس د ژوند او اجتماع سره کومه رابطه نه لري

ځینې نور بیا عقیده دي چه تحول په ادب کې کوم ضروري شی نه دی. که د ادب د تحول دپاره هڅه کیږي نو دا کار بې ځایه وي. که د یوه مخا لت یا د یوې دورې په ادب باندې تنقید کیږي او د ادب پام عیني وجایبو او واقعو ته اړول کیږي دغه راز مفکوره سمې نه ګڼي دغه راز مفکوري چې ادب دي باید د تحول په حالت کې وي. ادبي نقایص دې باید لري شي او د اوسني حالاتو سره دې سمون وخوري د هر ځله لیکل شوی دی خو د ځینې او ځینو افکارو خاوندان دغه مفکوري نه دي منلي ځکه: نظم بهتر ازین خارج از حد امکان و انتظار است ۳

---

۱ - ۲ عزیز الرحمن سیفي، ادب کابل مجله ۱۳۲۶ - ۱۷ کال. ۸ ګڼه. ۱ مخ.

۳ - غلام جیلاني اعظمي، ادبیات ما چه عیبي دارد؟ کابل مجله ۱۳۱۹ کال. ۱ ګڼه. ۳۵۸ مخ.

دنويو اغيزو نويو مفکورو پيدا ايښت دهغو اغيزه په ادب کې ددوی په مفکوره سم کار نه بريښي نو ځکه هماغه ادب چه په هغې زمانې کې موجود وه سم دی او د تحول دپاره د ادب توافق داجتماعي حالاتو سره کوم عمر او فکرته اړتيا نه لري.

که څه هم دځينو ليکوالو دمضامينو له عنوان نه داسې بريښي چې ګڼي ادب او ژوندون سره ټينګې رابطې لري خو دغه موضوع دمقالې په متن داسې ښکاره شوې وي چه دژوندانه او ادب له رابطې نه لوستونکي نشي خبرولای. داسې مضامين «ادب دژوندانه دپاره دښکلا مثال» ګڼي يا «ادب دژوند ګاڼه»(۱) بولي. لکه چه يوه پيغله په ښو جامو او ګاڼو ښکلې بريښي دغه راز ادب دژوند دښکلا دپاره کار کوي. داخبره به تر يوه حده سمه وي خو دادژوند او ادب ارتباط نه را ښيي او نه دادب اغيزه په ژوند باندې راسپړي.

ددغه راز مضامينو ماهيت او محتوی له دې نه معلوميدای شي چې دغه راز ليکوال دانسان په باب څه راز نظر لري.» دانسان په وجود کښې دوه شيانه د ډېر دقدر وړ دي چه يو ته زړه او بل ته دماغ وائی. له دماغ نه علم او فلسفه پيدا شوه او د زړه څخه شعر او ادب (۲) ددې مقصد به داوي چې زړه د دماغ په کار کې بې برخې دی او دماغ د زړه د کاره سره څه غرض نلري هر يو به په خپله کار کوي يا به علم و فلسفه منځ ته راوړي يا به شعر يا به دواړه خو هلته به بيا هم دماغ ځانته وي او زړه ځانته. که مقصد دغه وي نو کوم شعر به دعقل او دماغ له ارتباط او عمل نه پرته منځ ته راشي او کوم فيلسوف به خپل زړه دونو په څانګه ځړولی بريښي وي؟

داچې ادب دوسيلې په حيث وپېژنو سمه خبره نده. دادب هدف داندی چې ژوند سينګار کړي او نه يې داهدف دی چې د«سولې» دپاره خدمت وکړي. د ډېر ځله به داسې پېښ شوي وي چه ادب او هنر دجګړې دپاره هم استعمال شوي وي. د ډېر ځله په ادب او شعر خلک پاريدلي وي، د ډېر ځله ادب دغير انساني تعامل سبب ګرځيدلی دی خو ادب ددغو وسيلو په حيث استعمالول ځانته يو بل علت لري. هغه علت چې ادب کې يې دغې خواته روان کړی دی. له ادب څخه بې دغه

---

۱ـ روح الله مراد، په ژوندانه باندې، شعر او ادب اغيزه کابل مجله ۱۳۵۰ کال ۳ ګ: ۸، ۱۶ مخ

۲ـ روح الله مراد، په ژوندانه باندې دشعر او ادب اغيزه، کابل مجله ۱۳۵۰ کال ۳ ګ: ۸، ۲۶ مخ

۳ ـ [illegible]، ادب د سولې په خدمت کې، کابل مجله ۱۳۵۵ کال، ۷ ګڼه.

راز استفاده کېږي. دغه علتونه او عوامل دي چې دادب سره سمه رابطه لري. دغه عوامل دي چې ادب ئې منعکسوي، او هغه یوازې دژوند اساسي بنسټ، اقتصادي ټولنیز حالت او دهغې پر بنا ایدیولوژي او مسلطې مفکورې دي.

۲ - ادب او اجتماعي ژوند سره ارتباط لري؟

---

دادب او اجتماعي ژوند دارتباط په باب پښتنو لیکوالو د ۱۳۱۹ نه ۱۳۵۰ کاله پورې په بیلو بیلو ډولونو څېړلي دي. په دې باب ډېرې مقالې لیکلې شوې دي خو دمحتوی له نظره مونږ دغه ټولې مقالې تر درېو عنوانونو لاندې راوستلای شو.

۱ - ځینې لیکوال دادب او ټولنې رابطه ګوري خو دغه رابطه یوازې په شعوري ساحه کې لټوي. په دې برخه کې ځینې لیکوال یوازې تیوریکې جنبه تر څېړنې لاندې نیسي او دتر ډېره حده نوي سبکونه او نظریات وړاندې کوي(۲) ددې ډول لیکوالو اساس معاصریت او Rodernity ادبیات باید الهام خود را از حیات اجتماعی معاصر خود بگیرد و ادبیاتیکه از حیات اجتماعی معاصر الهام نمیگیرد دارای اهمیت بدیعی نیست بالاخره ادبیات عین حیات است و ادبیات عالی، ولو د حیات عالی نمی باشد »۳ داچې دغه لیکوال حیاتي مسایل دادب سره په ارتباط کې لټوي او هغه په دې اساس څېړي یوازې په تیوري کې پاتې کېږي او دهغه عملي برخې نه بیني. نوي نظریات وړاندې کوي خو کوم سم اجتماعي تحلیل له دوی سره نشته چې دهغو دتطبیق ساحه او امکانات وګوري سره له دې هم د دغو تیوریکو مسایلو اغیزې په روښانفکرانو کې څرګندېده.

بله ډله عملي جنبې ته زیات نظر اچوي خو ادب دملي ذوق او ملي احوالو په اساس ګڼي دادب او ادبیاتو توپیر دهغو خصایصو او مزایایو په اساس چې په ملتونو کې شته، تحلیلوي. دیوه ملت ادب ځکه دبل ملت او یا دنورو ملتونو له ادب څخه توپیر لري چې نورو ادبیاتو کې هنر، شخص ځانګړې تیاوې چې دیوه ټاکلي ملت په ادب کې وي، نه لیدل کېږي. په همدې وجه یو عربي شعر او ادب ځانته رنګ لري. د پښتو او غرو شاعرانو ځانله ادب او ادبي خصوصیات لري(۱) ځکه نو شاعر هر ملت ...از ذوق ملی خود پرورده.. مطابق به افکار محیط و توده خود تخیل کرده »۴ دغه راز تخیل او ادب دغه لیکوال داشعارو دنمونې سره ښيي. ځکه

---

۳ - قدیر تره کی، نواقص ادبیات ما، کابل مجله ۱۳۱۹ کال ۹ ګڼه ۲۰ مخ

ددوی اساس مثبت، مشخص اجتماعی، ملی احوال وی. دوی ادب د «خلکو ژبه» گڼی او «ادبیا
دخلکو د افکارو ښکاره کوونکی (۳)» گڼی. دا ډله لیکوال په رښتیا هم ادب او ادبیات د یوی
ټولنی دذهنیت «رڼه هنداره» بولی. خو یوازی دذهنیت هنداره ئی بولی. هغه ارتقاء او انحطاط
چی په ټولنی کی راځي او ادب ئی منعکسوی هغه ټول ذهنی او شعوری برخه ده دیادوونی
وړ خبره دا ده چی په دی ډله لیکوالو کی ملی روحیه او ملی جذبه ډیره مخکی ده او ملی ادیب
هغه لیکوال دی. چی فکر ئی دخپل ټبر وی، لیکه ئی دخپل ټبر وی، ژبه ئی خپله .......
سر اداو مقصد ئی خپل وی ...»

- مهم ټکی په دوا ړو ډلو لیکوالو کی دا دی چی یوه برخه یی تیوریکی، نوی
او عصری ادبی مکتبونه خیری او ددغو مفکورو په تعمیم بوخت وی. دوهمه ډله ډیر عملی
جنبی ته یعنی خپل اولس او ملت ذهنی حالات گوری او ادب په ذهنی تطبیقی او عینی ساحه کی
لټوی که څه هم دواړو نظریو کی تضادونه شته دی خو بیا هم یو د بل ممد او مکمل گڼل
کیږی د همدغو نظریو دوحدت داغیزی په وسیله ده چه په راتلونکو مقالو کی موږ دنویو
مفکورو اغیزی گورو.

۱ - دا چی دیوه ملت او سید ونکی یو ټبر څنگه او په کوم اساس خپل کیدای شی. کوم عوامل
دی چی دخلکو او ټبر په ذهنیت تاثیر کوی ددوی د ذهنیت او شعور ټاکوونکی معیار رونه
گڼل کیږی «ددغو لیکوالو له خوا نه څیړل کیږی.

۲ - ځینی لیکوال د ادب، ادبیاتو جوړښت، څرنګوالی او بدلون د اقتصادی او سیاسی مسئلو نو
دجوړښت او بدلون په اساس گڼی دا سی بریښی چی دوی دیوي ټاکلی جهان بینی پلویان دی
او دهغه دي دجهان بینی او فلسفی په بنسټ ادب او ادبیات څیړل ددې ډلی لیکوالو اساس دا دي چی
«اقتصادی بنسټ داجتماعی شعور ټاکونکی دی په همدې اساس دوی ادب او ادبیات دیوی

---

۱ - ۲ حبیبی، عبدالحی، ذوق ملی و ادب، کابل مجله ۱۳۱۹ کال ۱۰، گڼه ۲ مخ.

۳ - « « دپښتو دپخوانی ادب تنقیدی خوا، کابل مجله ۱۳۲۴ کال ۱۲ گڼه ۱ مخ.

۴ - « « ملی ادب کوم یو دی؟ کابل مجله ۱۳۱۹ کال ۸ گڼه ۱ مخ

په دې لړ کی مقاله دښاغلی شاه محمد رشاد ده، نوی ادب ۱۳۳۵ کال ۲۲ گڼه. بله مقاله:
دادب عمومی موثرات. کابل مجله ۱۳۳۵ کال، ۲۰ گڼه.

تولنی داقتصادی سستم انعکاس بولی » کلمچه اقتصا دی اوسیاسی سیستم مترقی وی نو ئی انعکاس هما غسی بریبښی اوکه‌غیرمترقی‌و نو ئی ا نعکا س هم هرومرو غیر مترقی وی (۱)

د دې معنی‌به داوی چی‌په‌یوه مترقی سیستم کی‌غیرمترقی ادب‌هیڅ‌امکان نلري او په یو غیرمترقی سیستم کی‌مترقی شعراو ادب غیرممکن دی. کومه کلمه چی‌ددې اد عا ثبوت کوی هغه «هرومرو»ده‌ځکه داکلمه رسوی چی په ادب کی‌اجتماعی اقتصادی انعکاس عیناپه‌هماغه ډول وی‌چی اقتصادی سیستم ئی‌تاکی ،نو له یوی‌خو ادلته یوا قتصا د ی اجتماعی جبر تر نظرلاندی دی اوله‌بلی خوادیالکتیکی مفهوم چی بنائی‌د لیکونکی په فکر کی وی بیخی له‌منځه تللی او Dekrminismn یی‌ځای نیولی‌دی .

په پښتو ادب کی یادافغانستان په‌ادبیاتو کی ددې مفکوری اساس د افغانستان داستقلال پیر ته لاس ته‌راوستلو دی دافغانستان‌دهغی‌زمانی‌ادبیات ځکه‌مترقی‌ګڼل کیږی‌چی افغانستان که «طوایف الملوکی» نه‌ملی سرمایه داری خو اته«انتقال» کړی دی .بایی چی‌په‌هغه وخت کی (۱۲۳۹ کال ) دغه انتقال راغلی وی‌خو دافغانستان دټولنی جوړښت دډیرو بوهانو په نظر کی په‌دغو کلونو کی لاهم په ملکوک الطوایفی سیستم ولاړو، دانتقال دوره کی دسوسیولوژی پوها ن‌نه‌منی. کوم دلیل‌چی‌ددې ادعاد پاره را وړل شوی دی .

« زړه ځماد که‌دي له‌مینی‌دوطن - خپل‌وطن‌راته‌عز یزدي‌ترخپل تن.» (۲)

په‌ادب کی‌ځینی‌شعرونه‌دی چی‌ملی روحیه‌ښئی: کومی‌مفکوری چه‌ددغه راز افکارو دښودنو دپاره ضروری دی هغه باید داوی :دافغانستان‌دهغی زمانی اقتصادی او اجتماعی سیستم په‌دی زمانه کی دد غه سیستم اغیزه په‌ادبیاتو یاپه عمومی تو ګه په اجتماعی شعور کی . بیا ددوی ترمینځ ا ړیکی او داجتماعی شعوراغیزه په‌ټولنیزاقتصادی سیستم‌او جوړښت‌باندی خو بی له‌دی نه‌چی دغه رازلیکوال دخپلی مفکوری اساس او دهغه په تطبیق پوی .که مقصد داوی چی‌اقتصادی‌زیربنائی‌مسائل‌دیوی ټولنی داجتماعی‌شعوز او څرنګوالی اساس دی باید په‌تحلیلی دیالکتیکی ډول دي دغه رابطه وښوو له شی نه داچی بوالحی دغه عمومی مفکوره دی راوړی که‌چیری دغه مفکوره اونظر دیوی مقالی یا موضوع اساس ګڼل کیږی نو باید

۱ -تړی،معاصر افغانی‌ادب، کابل‌مجله،۱۳۳۹ کال،۷ ګڼه،۲۴مخ

۲ - » » » » » » ۲۴مخ

دمقالي په‌محتوي کي دغه‌رابطه په عيني صورت وجود له شي او دا چي سمه مفکوره او سمه نظر دې په غلط توجيه شي د هغه دپاره دې غلط مثالونه راوړه شي داددې معني ورکوي چي پخپله د مقالي په محتوي کي يادمقالي په‌موضوع کي دغه رابطه نه ده بودل شوي او نه ليکونکي دې ته‌پام کړي دی .

افغانستان د ۹ ر ۱۳ کال په شاوخوا وختو کي يو ټيا کلي اقتصادي اواجتماعي حالت‌درلود ددې حالت انعکاس بود ل په‌اد بيا تو کي غلط مفکوره نده سوال دې کی‌دی چي دغه‌رابطه او انعکاس څنګه بودلي شو. که وو ايو چي ددې زماني اذب متر قي وڅکه چي په دی زمانه کي افغانستان که«طوايف الملوکي »نه‌ملي‌سرمايه داري ته انتقالي» کړي دې نو بايد په تحليلي تو که «طوايف الملوکي» و خيرو او ددې دوري انتقال ملي سرمايه داري وښيو او وروسته دهمدې انتقال په‌اساس ديوه سيستم په‌مينځ ته‌راتګ انعکاس په‌ادب کي وښيو دغه انعکاس په‌مثالونو کي ښوولای شو. نو بايد داسي مثالونه پيدا کړوچه دغه حالت‌په رښتيا منعکس کړ ای‌شي، که‌داشال ومنوچي :

«زړه‌زمادکه دي‌له‌ميني دوطن خپل وطن راته‌عزيزدی ترخپل تن»برسيره پردی چي دغه شعردشعريت اوموضوع له نظره دغوره کولو ماهيت نه‌لري دپورتني مفکوري دپاره‌مثال‌نه‌شي‌ګرځيدای‌او نه هغه مشخص اجتماعي ،اقتصادي حالت‌چي‌په هغه زمانه کي ښوولای شي که چيري مونږ دخوشحال خان ديوان ته وګورو دوطن د ميني په باب‌په ډېر ښه‌اشعار پيدا کړوسوال‌به‌داوي‌چي‌آيادخوشحال‌خان‌شعرچي‌په‌هغه کي دوطن مينه موضوع ده د ۹ ر ۱۲ کال‌داو ضاعو دانعکاس دپاره مثال راوړای شو که‌نه؟ زمايه نظربه داسم کار نه‌وي ځکه دخوشحال خان زمانه بله‌اوځانته ئي مشخص اقتصادي او اجتماعي جوړښت درلود چه‌د ۹ ر ۱۳ کال په‌شاوخوا او صناعوسره نشي مقابله کيدای .نوځکه په‌ادب کي داجتماعي انعکاس دپاره پورتني مثال هم غلطدی .

په‌عمومي نظر هر هغه‌شي‌چي ادب‌ئي‌ښکلي اوښايسته بولي او په‌ژوندکي ئي موجوديت غواړي ايستيتيکي ايډيال دی‌اماپه هغه کي تل عمومي بشري ، حقيقي ، تاريخي ملي او طبقاتي علامي‌او عناصر موجود دي» (۱) .په‌دې‌خبرو کي‌هم‌په‌ادب کي‌اجتماعي انعکاس ،مراددی .

---

۱ -د وريانکوف،دادب‌ځيرنه، کابل‌مجله، ۲۳ ر ۱ کال، ۳ مخ .

خو نه جبریت په کی لیدل کیږی او نه شعو ر او Reflepion بی اهمیته شوی دی مقصد یکی دادی چی خیال خیالی دنیا او په دې اساس بناشوی شکلا « دحقیقی ژوند سره اختلافلری.....» یعنی نه جمال اه پوهی او نه له ژوندون سره جلا (جدا) کیږی او نه ادب له ژوند څخه بیلیږی (۱) اما دغه تفکراو د غه راز نظر دیوه قانون یاتیوری لاندی را و ستل او دهغو توجیه په دې توګه کول چی مترقی سیستم هر و سر و مترقی ادب لری داخبره پخپله دهغه فلسفی بنسټ سره ډیر تو پیر لری حتی دهغه په ضد او دهغه ناسمه توجیه ده.

همدغه راز څینی نو رلیکوال هماغه پر نسیپ چی«اجتماعی اقتصادی جو ړښت ، ځرنګوالی یاهستی‌داجتماعی شعو رتاکی و نکی‌دي(۲) سنی‌او غواړی‌دغه‌مقلو له په ادبیاتو تطبیق کاندی خو د مثالو نو په‌راوړلو یاپه تحلیل کی‌دوسره مبتذل شی چی اصلا دقانونی یادمقوی ماهیت له‌منځه څی. داسمه خبره ده‌چی ادبیات له‌یوه ځای‌نه دبل ځای سره تو پیر لری دلیل ئی دادی چی‌هلته‌ ځای‌یادیوی ټولنی اجتماعی او اقتصادی جو ړښت او ځرنګوالی په یوه ډول او دبلی ټولنی په‌بل ډول دی.خو دابه‌ئی دلیل او علت‌نه‌وی‌چی دیوی ټولنی د طبقاتو په‌اندازه‌په‌هماغه تناسب مختلف نظر یا ت ، تمایلات او ذوقو نه موجو دی وی » (۳) داځکه چی‌د یوی ټولنی دطبقاتو اندازه یو کمیتی مفهوم رسوی .لومړی باید داوځیرلشی چی دطبقاتو‌اندازه څه معنی لری کهمراد داوی چه‌په ټولنی‌کی طبقاتی تو پیر موجو دوي‌نوداطبقاتی اندازه نشو ګڼلای . که‌مراددای‌چه‌په‌طبقاتو کی‌بیانو رطبقات‌یاپه‌ټولنی کی‌ډیر زیات‌طبقات موجو ددی.

داپه‌خپله دطبقاتی سیستم غلط توجیه ده ځکه طبقاتی سیستم یو کیفیت دی او اندازه د کمیت یومفهوم دی.دې‌نه‌و روسته که‌مونږ دطبقاتی سیستم او دهغه د انعکاس په ادبیاتو کی‌پیو او ددی‌پوه‌دلو دپاره داسی دلیل راوړو : که یوشاعر پخپل شعر کی یوه عشقی موضوع راوړی ،نو هغه څو که چی‌دعشق او سینی سحر و سیتو نه یی ګاللی وی هغو ته داو رسکر و تی دی‌نګر هغه کسان چی دعشق او سینی په‌ارمان ماړه‌او وصال‌ته‌رسیدلی وی‌پر هغوی به‌بیا

---

۱ -د و ریانکوف،دادب‌څیړنه، کابل‌مجله، ۲۳۳۱ کال، ۷سخ

۲ -خانباز،ادبیات‌څه‌ته‌وایی، کابل‌مجله‌۳۵۱ کال، ۹۳سخ

۳ -همدغه‌مجله، ۰۸سخ.

دا ډول خبرې بې اثره وي هم داچې دغه مثال د اجتماعي حالت انعکاس په ادبیاتو کې نه ښيي او نه ئې موږ د مثال په توګه راوړی شو. دا به دومره څرګنده وي چې دلیل ته به ضرورت نه وي داچې بل پخپله دغه نظر د خپل ننني جوړښت او معنی له نظره غلط وګڼه ۱- یو شاعر کولای شي د مینې په باب راز راز شعرونه ووائي په دې کې د ده اجتماعي، کورنی روحي او نفسي حالت ډېره اغیزه لري ۲- یو عشقي شعر به په داسې یوه سړي چه محروم شوی او نه یې

ګټلی وي یوازې په یوډول تاثیر نشي کولای دادشعر د څرنګوالي او دلوستونکي یا اوریدونکي موقف او حالت دارتباط پورې اړه لري نو ځکه موږ په دې ډول مطلق حکم نشو کولای.

دا صحیح خبره ده چې هنر د واقعیت د پېژندنې یو ډول دی. د تجربې له لارې د یوې فلسفي په اتکاء او د کیفیت په تاکید باندې. (۱) خو دا باید وښودل شي چې د واقعیت پېژندنه د هنر په وسیله څه وي. دلیل ئې دادې چې په هنري اثر کې د واقعیت انعکاس یا د واقعیت او واقعي ژوندانه د ځینو برخو انعکاس وي. دغه انعکاس لوستونکي یا اوریدونکي یا هغه څوک چې د یوې زمانې د شعر او هنر تحلیل او څېړنه کوي لیدلای شي. د ده لیدیا د ده انعکاس په اساس دې د شاعر یا هنرمند د زمانې واقعي حالت یا ښائي په عمومي توګه واقعیت وپېژندلای شي.

خو دا خبره به هیڅکله د منلو وړ نه وي چې شاعر ته د خلکو نبض معلوم دی نو ځکه د غوښتنو سره سمې هماغسې خپلې ادبي او هنري وینا وې ټولنې ته وړاندې کوي. پرته له دې چې معقول او نامعقول اړخونه سره بیل کړي ۲ د دې جملې د لومړي برخې مقصد دادی چې شاعر یوه خوا او خلک بله خوا د یوه Object په حیث سره مخامخ دي او شاعر بوچار د ټولو خلکو د زړه حرکات یو یو ترغوږه کوي او د ټولو د زړه درزا اوري. باور ته وایي

چې زه ستاسو ټولو په نبض پوهېږم ستاسو په ټولو غوښتنو پوهېږم د ادې ستاسو د غوښتنې سره سم زما اثر، د روائي خلې له معقولیت او غیر معقولیت سره زما څه غرض نشته ماندي سره بیل کړي. په دې خبرو کې زما په نظر هم شاعر بېچاره توهین شوی دی او هم خلکو ته په سپک نظر کتل شوي دي. د دوی ترمنځ چې کومې معقولې او قانوني اړیکې دي هغه ته هم هیڅ پام نه دی شوی. شاعر یو فرد دی. ټولنه په افرادو مشتمله ده. هر فرد د ټولنې په مقابل کې دې د هغې ضد دی او په عین حال کې ورسره وحدت لري. هیڅکله د فرد او ټولنې اړیکې په دې

---

۱ - خانباز ادبیات څه ته وائي، کابل مجله، ۱۳۵۰ کال، ۱۰ ګڼه، ۲۶ مخ.

۲ - همدغه مجله، ۳۱ مخ.

را زنشو تا کلای چی یو بل Subjeet او بل تل Object وی. د غه رابطه یو ه نسبی دیالکتیکی رابطه ده خو شاعر د Subject په حیث او خلک یا تولنه دیو مطلق Object یاشی په حیث کامل او یو دبل په نبض پو نشو کولای. که فرضاً مطلب په دې کی وی چی یو شاعر دخلکو دژوندانه یو شخصی اړخ په هماغه توگه په خپل شعر کی‌ښئی بی‌لدینه چی په کی‌زیاتی یا کمی راولی دادادب او هنر یو تیا کلی بڼه ده Naturalisw دغه‌ادبی سبك

دریالیزم سره‌یی اړیکی لري‌خوتول ادب اوهنر په دغه یوه‌مفهوم او یوه سبك پوری نشو محدد و دو لای او نه‌دشاعر او لیکوال ذهن او شعور دو سر سحد و دولای شو چی یو ازی‌دې دغه‌را ژلیکنی و کړی.

۳- یو لړ نو ري مقالی لیکل شوی دی چی‌دا دب او ژوندار یکی ښئی دغه‌مقالي که‌څه هم دتیوری او پراتیک د رابطی له نظره څینی نقایص لری‌او په‌دیر وسوارد و کی یو ازی په تیوری کی پا تی کیږی خو بیا هم دمفکوری او دنظر ئی دتوضیح او تر تیب له‌نظره یو ښه او معقول تنظیم ر سوی.

دوی هم داوائی دایه روغه خبره نه‌وی چی‌تولنه یورازادب و غو اړی او لیکو نکی بل‌را ژو لیکی (۱) دوی‌هم په‌دې عقیده دی‌چی دعموسی کلتو ر أغیزی خاصځاپه ا دب کی لیدل کیږی خو کو سی اغیزی چی‌تو لنیز جوړښت ا و تولنیز حالت یی پر ادب کوی په‌منظمه او مستقیمه تو که نه‌وی. داځکه چی«اقتصا دی اجتماعی حالت «په‌مستقیم او جبری ډو ل « دشعر او ادب جو ړو نکی نه‌دی بلکه دتولنی او تولنیز جو ړښت «یو ه مشخصه برخه دادب جو ړو نکی دی.»۲ دلته ادب، کلتو ر او اجتماعی شعو ر داقتصادی حالت د جبر یت او جبری تاکلو څخه‌خلاصیږی. دلته داسی‌نه‌و یل کیږی‌چی که‌یو ه تو لنه غیر متر قی سیستم و لری‌ادب به‌ئی‌هم هرو سرو غیر متر قی وی. بلکه دتولنیز جو ړښت دیوی مشخصی برخی اغیز ه پر ادب شئی او دغه مشخصه برخه‌دادب تا کو نکی بو لی‌له‌یوی خو ادغه نظر دارا رسوی‌چی‌هرادب او دادب هر ه برخه دتولنی‌اجتماعی جو ړښت او تولنیز حا لت منعکس کو و نکی نه دی بلکه‌دغه یو ه بر خه منعکسوی له‌بلی‌خوا کوسه‌مهمه دیالیکتیکی رابطی‌دشعو ر او شی،دمادی

---

۱ -شپو ن،ادب‌ژو ندی‌تیو ری، کابل‌مجله،۷۳۳۷،۱ کال،۶ گ ۸، ۷مخ.

۲ - » » » » » » ۱۳۳۸ کال،۳ گ ۸، ۵، ۱مخ.

او معنوي د اجتماعي شعور او اقتصادي بنسټ ترمینځ شته ، هغه دديې راز لیکوالو لهخوا څرګندیږي څرنګه چي اقتصادي بناپهادب او هنر اغیزه کوي ،هغه تاکي ، اجتماعي شعور هم هنر اوادب هم پخپل وار په اقتصادي ،اجتماعي حالت اغیزه کوي. دديې پورتني و پناسعنی پهداسي چي اقتصادي ،اجتماعي بنسټ دادب او هنر ټاکونکی دی خوخپله اجتماعي شعور ادب هنر اونور ټول روبنائي څرواي ځانته نسبي استقلال لري او پخپل وار داقتصادي حالاتو پهاوښتون اغیزه کوي اوحتی ددغه اوښتون تیورتیکي عامل ګرځي .

ددې و پناعمومي مطلب ددوو افراطي خواوو ترمینځ دیوی نوی لاری پرانستلدی . د یوی افراطي پلي پهفکر د یوه هنري اثر ښځه د خوند اخستلو لپاره لازمهنده چي له ربښتیني ژوندڅخه دځانسره کوم فکر یا احساس راوړو ځکه د هنر احساس او فکر دژوند سرهارتباطنلري(۳) دبلي افراطي پلي نظر داسي دی چي پهژوندانه کیچي هر شی زموږ په ګټه او زموږ ارتیالري کړي ښکلي دی،هرڅوک چي زموږ دارتیاو لري کولو لپارهسها رت او سویهپهکار اچوي هنرمن دی او هرهغه څه چيزموږ ارتیاوي‌څرګندوي ، هنري اثر دیهم څرګندهدهچي دغهراز لیکوال دغه افراطي نظرئي نه مني .نویوهلاره باید پیداکړي چي نه هنر خپل هنري ماهیت لهلاسه ورکړي اونه ټول داجتماعي او اقتصادي جوړښت ترجبریت لاندي راشي. هغهلاره دادهچي دهنر او اجتماعي جوړښت ترمنځ یوه نهشکیدونکي دیالکتیکي رابطهشتهتردیېحدهپوري‌بهموږ ددغولیکوالوخبري ومنوخودلته خبري‌لاخلاصي نهدی .

یوازي داویل چي دټولني ،ژوند او ادب ترمنځ اړیکي شته ،دایوازي خبره یانظر په ده اصلي سوال دادی چي‌دغه اړیکي څنګه دي داجتماعي انعکاس اصلي اوواقعي معنی څهده او موږ څنګه کولای شو چي‌پهیوه هنري ، ادبي اثر کي اجتماعي انعکاس وڅیړو اوئي ښیوو ترټولو مهمه اومعاقله خبره پهادب کي داجتماعي انعکاس ښودل دی ،دديې مقالي پاتي برخه بهدامسئله وڅیړي‌چي پهادب کي داجتماعي انعکاس کومامکانات شتهدي په کومو لارو دامسئله څیړلای شو او کومهسمه اومعقوله لار شتهچههغه دیوه کلیت او یاعمومي مثل شوی‌تیوري پهحیث ومنو .

---

۳ - م « « دهنرماهیت، کابل‌مجله، ۱۳۵۵ کال، ۵ ګڼه ۷۶مخ.

۳ - د دې دپاره چې په ادب کې د اجتماعي ژوند انعکاس وښوولای شو لازمه ده ډېرو زياتو تيوريو په باب څېړنه وکړو خو دلته يوازې په هغو تيوريو اکتفا کوو چه په دې مورد کې ډېر اهميت ورکړل کېږي او نوري شاوخوا تيوري گانې څه ناڅه په يوې يا بلې ډول کې راځي.

مونږ ديوه ليکل شوي اثر په اساس په څېړنو پيل کوو. زمونږ په مخکې يو اثر پروت دی، يو هنري اثر مونږ يا دغه هنري اثر گورو يائي لولو يائي اورو. دغه هنري اثر او مونږ و يوې زماني پورې تړلي دي وظيفه به مو داوي چه د دغه هنري اثر ارتباط ديوې ټکلي ټولني ،ټولنيز جوړښت او څرنگوالي سره راوسپړو او له همدې هنر څخه را پيدا کړو چې د دې اثر پيدا کيدو خت او زمانه څرنگه وه او مونږ له دغه اثر څخه کومې نتيجې ته رسيدلای شو.

الف - زمونږ يو راز پژندنه به داوي چې ټولي مفکوري او نظرئي دا ثر له محتوی څخه را وباسو. مونږ يو هنري اثر گورو او د همدې اثر په باب غږيږو مونږ دا راجوتو چې په دغه اثر کې پخپله شيان شته.. کوم موضوعاتو باندې خبري کوي، کوم موضوعات راښيي، سبک او ليکنه ئې څنگه دي او داسې نور. خبره دلته ده چې مونږ خپلې څېړنې يوازې د همدې هنري اثر په چوکاټ کې کوو او د هغه له ساحې څخه بهر نه راوځو. د دې معنی داده چې زمونږ ټول فکر او څېړل يوازې همدې اثر پورې ارتباط مومي او بل هيڅ کومه موضوع لکه ټولنه ټولنيز حالت اوداسې نور په نظر کې نه نيسو.

زما اصلي مطلب دغه راز پيژندنه ادب پيژندنه او ادب څېړل ندی ځکه دغه ادبي تيوري له يوې خوا زړه شوې او له بلې خوا اوسني ډېر پوهان په دې نظر دي چې ادب او هنر له اجتماعي اړيکو پرته نشو څېړلای. زمونږ موضوع به داوي چه دغه اړيکي د ژوند او ادب ترمينځ څنگه څېړو.

ب- د ډيالکتيک - تاريخي ادب پيژندنې د مکتب پلويان داخبره په زغرده ردوي چې ادب له ژوندانه سره هيڅ اړيکې نه لري همدغه راز دوی په دې عقيده دي چې د ادب پوه سوسيولوژي چې يوازې په احصائيوي ارقامو اکتفا کوي او يوازې په دې اساس ادب او ادبيات څېړي، د منلو وړ نه دی د دې راز پوهانو تقاضا داده چې يوه سمه او معقوله سوسيولوژي او ادب پيژندنه هيڅکله نشي کولای د ادب او ادبياتو په څېړنه کې له اجتماعي واقعيتونو څخه سترگې پټې کړي داځکه چې په شعر او ادب کې خاصخادا اجتماعي ژوند نښې نښانې ليدل کېږي مرلدی چې اجتماعي

شعور هنر، ادب او داسې نور ټول اجتماعي واقعيتونه نشي بنودلای هر اقتصادي تغير او بدلون په جبري توګه ټول اجتماعي شعور په هماغه زمانه کې نه بدلوي خو بیا هم په ادبیاتو کې داسې مثالونه سته دي چې کټ مټ د اجتماعي حالت سره سمون خوري په بله وينا داډله پوهان دخپلې ادعا دپاره داسې مثالونه راوړي شي چې دشعر او ټولنې دجوړښت ترمنځ هيڅ کوم توپير نه ليدل کېږي کوم جوړښت او ستر کچ چې په شعر کې دی هغه کټ مټ داجتماعي ستر کچ هنداره ده. ددې لپاره چې دغه ادعا ثابته شي دوه ډوله تحقيق په کار

۱- مثلاً دفرانسې ددولسمې پېړۍ ټولنيز جوړښت

۲- ددغې زمانې دشعر جوړښت.

۳- ددغو دواړو ترمنځ اړيکې او ادعا اثبات.

دلومړۍ موضوع په باب څېړنه په تاريخي شواهدو بناده دفرانسې (۱۲) پېړۍ ټولنيز جوړښت په لاندې ډول د. لومړی نجيبي کورنۍ (۱) عوام (۲) او منځګړی (۳) منځګړی طبقې داغوښتنه کوله چې دلوړو نجباو سره هم اړيکې پيدا کړي او هم له خپل دريځ دهغو ترخنګ وتاکي او له هغوی سره نژدې وي. خو اشرافيان دغه غوښتنه يوازې تريوه حده منل او هيڅکله يې نه غوښتل چې دغه منځګړی طبقې ددوی ځای ونيسي او دوی سره يوځای شي اشرافيانو ددې معضلې دحل دپاره دمنځګړی طبعې دپاره يوه کلتوري ساحه پرانستله چې په هغې کې دغه منځګړی طبقه خپل طبقاتي شعور ځرګند کړای شي. «دغه منځګړی طبقه خپله وظيفه وګڼله چې دټولو انساني اړخونو واقعتونه «۳» څرګند کاندي دوی هم دغو امو سره رابطه درلوده او هم يې دخو انينو د کورنيو سره. دغو امو سره ځکه چې دوی اصلاً دهمدغې طبقې خلک او په جګړو کې د فعاليتونو اساس له نجباو څخه دغې اجتماعي مرحلې او دريځ ته ارتقا کړې ده د اشرافو سره ځکه اړيکې درلودې چې ددوی زامن د خانانو اشرافو په کورونو کې روزل کېدل دتربيتي په اساس دوی کلتوري برخه په غاړه درلوده په دغې کلتوري برخه کې دهغې زمانې ټولنيز جوړښت ځرګنديږي. دغه کلتوري برخه او ددغې برخې نمايندګان منځګړی طبقې نمايندګان دي. کوم تضاد چې دلته ليدل کېږي هغه داشرافو په مقابل کې دی. علت ئې د دواړو ترمنځ ناسم

---

1— Hochadel, 2— Volk 3—Niederer Adel

اقتصادی او اجتماعي حالت‌دی. اشراف او دهغوی کورني دټولو اقتصادی اوتولیدی اساساتو واکي‌یی په‌لاس‌لری منځ کړی‌طبقه دغه حالت‌عادلانه‌نه‌ګڼله‌خو ددې‌په‌ضدیی‌عملی‌اقدام‌نه‌شوای کولای‌نوځکه‌ئي‌بایدپه‌یو بل‌ډول سودلای وای دغه‌احساس په‌شعر او ادب کی څرګند شوی.

په‌تولنیز ژوندکی داشرافو دکورنی دریځ حاصلول او هغه ته‌رسیدل هدف‌دی. هرکله چه‌دغه هدف په‌واقعي صورت لاس‌ته نشي راتلای نو یی په‌شعر کی داسي څرګندوی چه په شعر کی هم یو اصلی مفهوم او هدف‌ددې واقعیت څرګندوی شی. دغه مفهوم په شعر او ادب کی دلارډیڅه ده(۱) او دهغی شفقت او مهربانی یاپه سینی کی له‌هغی‌سره وصلت‌دی.

داشرافو داقتصادی‌دریځ حاصلوی‌ګران‌کاردی‌په‌همدې‌وجهي دلارډ دیځی‌سره‌وصال یوازی په‌سمبولیک‌ډول‌امکان‌لری‌او بس که‌سوږددې‌زمانی‌یوتاکلی‌شی‌راو نیسواو دهغی‌زمانی داجتماعی حالت‌هرنګوالی‌ئی ترڅنګ کیږدو دغه اجتماعی‌انعکاس په‌په شعر کی‌ښه‌ښت څرګندشی.

دغه شعراوه‌برخی‌لری .دری‌لومړی برخی‌دمیني او وصلت تنده‌ده‌مینځی برخه دیځی‌دریځ‌بنی او‌وروستی دری برخی افسوس ،نا‌امیدی او وصال ته دنه‌رسیدلو خبری‌دی.

نمری برخه :

۱ - دشعر تطابق له منځګړی طبقي دنماینده په حیثچې دیوی مرغۍ‌په سمبول ( Lerche) کی ځان څرګندوی‌او دمعشوقي وصال ته‌نه رسیدل دی.

۲ - دزړه ورل، دځان له‌لاسه ورکول، په‌سینه کی نا‌امیدی.

۳ - د آزادی او و اکئ له لاسه ورکول ،په چیری او غیر عاد لا نه توګه اطاعت دوهمه‌(مرکزی) برخه :

۴ - دمعشوقي دریځ. که هرڅو مرمېن ورته دمېنې او وصال زاری کړی او هرڅوسره کي‌ستاسي . داورته‌پام‌لرنه نه کوی

دریمه برخه

۵ - شاعر داسي‌وائي‌چې‌دده او دمعشوقي‌دبیلتون‌او معشوقي‌دنامهربانی‌دلیل باندی‌نه‌پوهیږی. دلایل ئي:

- دیځی روحی حالت

الف(زوانی جوړښت)

ب - اجتماعي تو پیر ډیر زیات‌دی.

---

۱— S. 14, ? ,Die Lit. in fronz. Mitteralter, E. Kohler.

همدغه اثر S. 26. 'fin d'amour

اجتماعي څر نګوالی:

اجتماعي سیستم او ستر کچر

داسي سیسټم چي هیڅکله تري ستر ګي نه سي پټيدای او نه تری تیر پدای شي. د الحکه چي د لته د اجتماعي سو جوړ دیت ضرورت دی. د اسي دوی سخي باندی سیندل چي هیڅکله وصال ته نه رسیږي د سنځګړی طبقي اجتماعي دریغ دی چه هیڅکله اشرافو سره په اقتصادی توګه نه برابر یدای.

داشرافو سو قف ته رسیدل هیڅ امکان نه لري. نو ځکه په اجتماعي جوړښت کي خپل سوقف نه سي پدلولای او بایدپه هماغه حالت پاتي سي.

اشراف هیڅکله نه غواړي چي سنځګړي طبقه دي دخپل اقتصادي دریځ څخه او چت سي. ځکه هم سنځګړي طبقه ډیر زحمت په ځان سني خو سره له دي هم اشراف د دوی خدمت او هدف ته کوسه پام نه کوی.

دتو لنیز جوړښت په اساس داقتصادي او اجتماعي تو پیر و نو په دلیل سم نه پو هیږي.

الف: خانان یانجبا نه غواړي

- اقتصادي تو پیرونه ددوی تر منځ ډیر زیات دی.

شعر: ۶ - شاعر دخپل خدمت په مقابل کي کوم مکافات ته نه رسیږي.

۷ - معشوق له خوا نه مکافات او رکول کیږي او نه د هغي مهرباني او وصال یې ورپه برخه کیږي.

اجتماعي څر نګوالی

دسنځګړ طبقي زامن او لوني داشرافو په کورونو کي روزل کیږي خو هیڅکله داشرافو د کورونو په حرمسرای کي لاره نه پیدا کوی. که هر څو سره یې خدمت هم و کړي بیسه اجتماعي حالت کي کو م تو پیر نه راځي.

دا غوښتنه چي په اجتماعي لحاظ سنځګړي طبقي داشرافو سره نژدی شي، دا ارمان سر ته نه رسیږي او داطبقه په هماغه مخکني دریځ کي پاتي کیږي.

د امثال او دغه مقابله سوږ تداراشتي چي په ادب او شعر کي د اجتماعي جوړښت انعکاس کتښت په هماغه ډول امکان لري خو سوال دلته دی چي په یو شعر کي دژوند د کښت انعکاس ښودل کلیت لرلای شي که نه. په بله وینا: آیا سو نږ دغه مثال د هری تولني د ژوند او ادب دارتباط د پاره په کلي ډول سنلای شو که نه؟ څرګنده ده چي دغه مثال عمومیت او کلیت نشي پیدا کولای. مو نږ دانشو ویلای چي د دغه مثال په شان مو نږ په هر شعر او ادبي اثر کي همدغه را ز اجتماعي حالت او دهغه انعکاس ښودلای شو. که ددغه پو هان نظر په قطعي ډول هم و منلو او وو ایو چي دغه انسي د ۲۱ پیړۍ اجتماعي حالت یي کټ مټ ښودلی دي خو هیڅکله به داو نشو ویلای چي دغه نظر د هری بلي تولني دادب او ژوند د ارتباط دپار

دتطبیق و روی‌داحکه چی دغه اجتماعی جوړښت دهغی زمانی دیوه تا کلی تولنی تا کلی حالت و.نو ری تولنی او تو لنیز جوړ ښتو نه‌ځان ته خصو صیتو نه لرل او لري‌ئي .

په همدی‌وجه دغه نظر کلی او عمومی نظر نشو گڼلای.

۱- سرله‌دې چی داقتصادی‌اساس او اجتماعی شعو رتر منځ رابطه بېخی سمه بڼکو ره‌ده خو د ادبیا تو او اجتما عی ژو ندداړتباط لپاره‌چی کوم‌نوی‌لار پرانستل شوې ده‌دغه د G. Lukosc له‌خو اده. دې‌داجتماعی‌ژو نداو ادبیاتوترمنځ اړیکی‌په‌ددیالکتیکی دول تر کتنی‌لانده نیسی.دی د اجتماعی شعو ر «چی داجتماعی اقتصادی جو ړښت ښکارندو ی‌دی» او ادبی‌ا ثاروترمنځ اړیکی اوارتباط‌دهغو کاتیګوریواومقولاتوپه‌اساس‌څیړي‌چې هغه‌د شعوریاپه عمو می تو گه د اجتما عی شعو ر دستر کچر جو ړ و نکی دی. کو م‌څیړ نی چی دې کوی او کوم د وران چی دې و ر باندی اتکا کوی هغه دفر انسی در وشنگری زمانه اوپه‌آلمان کی‌در یالز م ادبي سبکئ زمانه ده.دي‌په خپلی څیړ نی کی د ار زښت یومعیار ته رسیدلی‌هغه‌داسی‌دی چی که په ادب کی‌خلکو او اقتصادی‌خر نګوالی‌ته‌پام‌شوی‌وي‌هغه‌هنر ښه وي‌خو که‌دغه خر نګوالی‌په شعوری یا غیر شعو ری‌دو ل‌په‌انسانی‌نفس کی‌دننه‌تر فشارلاندي‌راغلی‌وی‌اوځان ئی‌په بله‌بڼه‌ښودلی‌د ي د( Myhzismخواته‌روانیږی‌د Lukasc هغی‌دادبیاتودسوسیولوژی دتکامل او انکشاف دپاره‌ډیر اهمیت‌خاوندی.په‌عمو می‌دو ل‌و یلای‌شوچه‌ددهاو دنو رو پو هانودخیړ نی‌لارداسی‌دي‌چی‌څنګه یو عمو می میتو د په مشخصو او تا کلو، خاصو ېر خو تطبیقو لای شو. په هر ادبی اثر کی تو لنیز څر نگو الی نشو ښو دلاي ځکه چه هر ادبی اثر ددي‌ښو دنی تضمین نشی کو لای. نو ځکه بایله تر هر څه دمخه د عمو می ستر کچر ا و خا ص ستر کچر ترمنځ تو پیرو کړو اجتماعی‌جوړښت‌په عمو می‌تو گه‌دیو ستر کچر خاو ند وي‌خو هر کله چی په تو لنه کی هر فر دیا هر هنر منداو ادیب«یوی کو رنی پو ري اړه لري، یو تا کلی کار کوی، دتا کلو خلکو سره خپلوی او دو ستی لري،یوي تا کلی طبقی پو ري اړه لري»(۱)نو ځکه‌ددي‌اړ یکو په اساس‌هر هنر مندنشی کو لای‌دتو لنیز جوړښت دټو لو اړخو دښو دلو نماینده و گر ځی. په‌یو ه تا کلی طبقه کی دامنلای شو چی فر دیا شخص بیلو بیلو گر و پو نو سر ه اړه لري او ددغو گر و پو نو دستر کچر په وسیله دده شعو ر او ژو ند تا کل شوی وی یالږ تر لږ

1— S. 238 ‘1972’ Saziolo gie des Romonj ‘Lucien goldmann.

د هغه تر اغېزې لاندې ژوند کوي، له دې کبله افراد د بېلو ستر کچرونو خاوندان وي چه د دغو ستر کچرو تر اغېزې لاندې وي . په همدې وجه ده چې د نوې فلسفې ستر فیلسوف انسان یو ایدیال کلیت ideal—Totolity گڼي (۲) د دې معنی دا ده چې په یوه فرد کې د ټولنې د پرې برخې د یوه فرد د ستر کچر او شخصیت په جوړولو کې برخه لري او ځکه هغه ته totality وړ کوي. که یو هنرمند د شخص او فرد په حیث څه لیکي په دې کې د ده د شخصیت ستر کچر ښکاري د ده ښودل شوی ستر کچر مونږ ته دا رابښيء چې د څېړنې په نتیجه کې باید د دغه ستر کچر له مخې له یوې خوا د هنري اثر او هنرمند تر منځ رابطې او له بلې خوا د دغې رابطې په وسیله داد بې، هنري اثر او اجتماعي یا گروپي ستر کچر تر منځ اړیکې څرگندې کړو.

د دې نوې لارې مقصد دا نه دی چې ادبي یا هنري اثر د عمومي او کلي اجتماعي شعور منعکس کوونکی دی بلکه « د اجتماعي شعور د مشخصو مهمو برخو کې ښکاره کوونکی دی. هر کله چې دغه مشخص اجتماعي شعور انعکاس و موسی په دغه انعکاس یوازې هغه مشخص گروپونه یو هیدلای شي چې په همدې گروپ پورې تړلي وي. البته هر ادبي او هنري اثر دغه کار نشي کولای بلکه «یوازې په لوړو او عالي کلتوري آثارو کې د یوه مشخص گروپ مهمې نښې لیدلای شو.» ۳

څو که چې په ننني عصر او زمانه کې داد ب په باب څېړنې کوي. په ادب کې د اجتماعي ژوند انعکاس لټوي .

یوه ادب ته یا یوه ادبي او هنري اثر ته د ارزښت له نظره ښه یا بد وائي دغه ټولې څېړنې یوې ایډیالوژۍ پلوي او یا مخالفت په اساس سم کار نه برښي. ځکه یوه ایدیالوژي منل او هغه په هر حالت او هر دریځ کې ادبیاتو سره تطبیق ول دا معنی لري چې اوښتون او پرمختیا هیڅ کوم مفهوم او معنی نشي لرلای

[illegible] چې اقتصادي جوړښت د یوې ټولنې ټول اجتماعي شعور رتها کې او هره هنري پدیده چې د غه زمانه کې پیدا کیږي هرو مرو به د دې اقتصادي جوړښت منعکس کوونکی وي نو د نوي یو علمي او تجربي تحقیقاتو په ضد به خبرې کوو داچې د پاسکال، دیکارت، گاسیندي

---

2— S. 182 '1965' Nat. Okoh. V. phil. 'Karl Marx.
3— S. 240 '1972' Soziolo gie—des Roman Lucian.goldmann 4— S. 241 'ebd.

راشین، کورنیل Corneilies او مولیر اثار دفرانسی او ولسمې پیړی پوری اړه لری دخه اړ یکه‌سو نیرته ددې اثارو توضیح او تفهیم نشی‌شو دلای. که‌څه‌هم ددغو اثارو لیکوونکی تول‌د فرانسی د ۱۷ پیړی لیکوال دی خو بیا هم هر یو لیکوال دبیځی بیلو او حتی‌مخالفو جهان بینو ښکاره کوونکی‌دی خو دا ددې‌معنی‌نه‌لری چی‌ددوی او ددوی‌داثارو ترمنځ هیڅ اړیکی‌نه‌شته محیطی صورې، شکلی‌او سمبولی‌نښی‌او عناصر شته‌دی‌چی دټولو په‌اثارو کی‌لیدل کیږی او دټولو ترمنځ مشترک که دی‌دغه مشترک عنا صر بیو دل او ددغو ترمینځ‌چی کوم متر کچرسو جو دی دغه او یو ازی دغه‌سو نیرته‌بیو دلای شی‌چی‌دهغی‌وخت اجتماعی‌ستر کچرڅنګه‌ؤددې لپارمچی‌دغه نظریه‌لیرڅه څرګندای کړابی‌شو د پښتو لنډو کیسو ته‌یو نظر اچوو او ګورو چی‌آیادغه متو د دلته تطبیقیدای شی که‌نه؟ سونیږدلته‌ددغوداستانو یوڅوبشاله راوړو.«څړه» دبناغلی‌تره کی‌اثر د ښاغلی لایق اثر دجو ساټ سړی ،داکتر صاحب ، د ښا غلی شفیق اثر، د ښا غلی شپون اثر شپون‌په‌خپل اثر کی دهغو خلکو دژواندانه راز او څرنګوالی‌بیانوی‌چی په‌یوه‌کلی کی‌ئی هرڅه‌له‌لاسه ورکړی او نورهلته ژوندنشی کولای ځکه چه‌دوی کوم اقتصادی بنسټ نه‌لری او نه‌دکار کولو لاره ورته خلاصه ده‌چه‌هلته پاتی شی. داکورنی دکلیوال (ګروپ) دخصایصو او کلیوال فکر په اساس دټیټ مقام خاوندان دی‌او د وی ته په سپکه سترګه کتل کیږی .دوی له‌دغه ځایه لیږدی او خان آبادته ځی ترڅو هلته دکار او ژوندوسایل برابر کاندی .دغه‌لیږدنه، دغه‌اجتماعی دریځ هغه‌سختی او خواری چی په‌دوی راځی ،ددې داستان محتوی جوړوی. خو دغه داستان او دهغی موضوع دیوه بل‌ګروپ یابوی بلی طبقی دژوند حالت سرسمون نه خوری او نه هغه منعکسوی مثلاً ددغه د استان موضوع د افغانستان یاد افغانی‌ټولنی د ځنده‌اردا او سیدنکوحالت‌نه‌منعکس کوی.هغه‌یاپه « څړه» کی‌ګورو چه څنګه دقندهار دشاوخوا خلک د اقتصادی مجبوریت په لحاظ دې پرېږدونوله تیرولو و روسته یو ه بل ښارته د خوارۍ غریبی لپا ره دروسی . دغه د استا ن د همد غه خلکو اقتصادی‌اجتماعی‌حالت‌اوشعورمنعکسوی‌خود کا ل‌د یوې‌مشخصی دلي‌یا دیوه مشخص‌ګروپ‌دژوند

دخرنګوالي سره نيغه اړيکه نه لري د دغه راز ژوندانه انعکاس بيا « د ډ اکتر صاحب په داستان کې لولو چې څرنګه ديوې لوړې طبقې کورنۍ ځلمي چې په خارج کې ئې ډاکترۍ اخيستي او بيرته وطن ته راغلي دی د دې طبقې ديوې کورنۍ سره څامخ کيږي د يوه مجلس په ترڅ کې د دې طبقې د افکارو، د ژوند څرنګوالي، اهدافو او غوښتنو انعکاس معلوميږي. د جومات مړی » په داستان کې بيا د کليوال ژوند بيځي بيل حالت ښودل کيږي چې له دغو نورو داستانونو سره بيځي تو پير لري. په نتيجه کې هر يو داستان د افغاني ټولنې د اجتماعي ستر ګچر يو مشخص او ټاکلې اړخ ښئي په دغه اساس مونږ نشو کولای يو داستان د بل په ځای کښينوو که يو داستان يا يو هنري اثر يوازې د ټولنې اجتماعي ستر ګچر انعکاس وبولو په غلطه لار به روان يو. خو د هر يو داستان له ستر ګچر او محتوا څخه مونږ ته د افغاني ټولنې د ستر ګچر ځيني اړخونه راڅرګنديږي. که چيرې مونږ په همدغه اساس په سخ لاړ شو او د افغانستان په هره برخه کې د غه راز ليکل شوي داستانونه يا نور ادبي اثار وڅيړو نو به د افغاني ټولنې د ډير و ډير خواوګر و پو نو د ژوند انه انعکاس نه په ادبياتو او هنري اثارو کې څرګند کړ و. د دغو ټولو اثارو ترمينځ به مونږ ته ځيني مشترک خصوصيات، مشترک سمبولونه او ګډ مشخصات راڅرګند شي د دغو ګډو مشخصاتو اړيکې به مونږ د افغاني ټولنې په عمومي جوړښت او څرنګوالي پوه کړي. په بله وينا کوم مشترک ستر ګچر چې د دغو داستانونو ترمينځ راپه ګوته کيږي هغه ديوې ټولنې د عمومي ستر ګچر ښکارندوی دی.

زمونږ وظيفه، به اوس داوي چې د خپلې خاورې او خپلې ټولنې د ادبياتو او هنر په باب نوې څيړنې وکړو په عموميا تو غږ بدل، عمومي تيورۍ ګانې بې له کوم تنقيد، بې کوم تطبيقي علمي معيار منل او هغه ديوې تيورۍ په توګه ليکل او په غلطه يې په ادبياتو تطبيقول به نه نو کاراونه به زمونږ د ټولنې د ادبي ارزښت رښتياني څيره څرګنده کړي.

د دې مقالې ماخذونه

۱ - د کابل مجلې د ۱۳۳۵ کال کلکسيون

۲ - « « ۱۳۴۲ کال «

۳ - « « ۱۳۵۴ « «

۴- دکابل مجلی د۱۳۳۷ کال کلکسیون

۵- » » ۱۳۳۸ »

۶- » ۱۳۴۳» » »

۷- » ۱۳۱۹» » »

۸- » ۱۳۲۰»

۹- » ۱۳۲۱» » »

‘?. Die Lit. im franz. Mittelacter, E. Kahler.
11— 1972 ‘Soziolojie des Romans ‘Lucian goldmann
12— 1965 ‘Nationalokonom ie U. Phil. Karl Marx.

ډاکتره زرغونه . ز . ر

# دپښتوقاموسونو یولنډفهرست

دپښتو ژبې دقاموسونو سلسله داتلسمې پیړۍ اونولسمې پیړۍ له اول نه شروع کیږي چې په دغه وخت کښې سربیره پرنورو اثرونو لومړني قاموسونه او قاموس ډوله اثرونه. هم سنځ ته راغلي دي او داپه ښکاره توګه ویلی شوچې دلغاتو په باب دنولسمې پیړۍ په لومړۍ برخه کښې معلومات ترلاسه کیدای شي.

په پښتو ژبه کښې چې کوم قاموسونه تراوسه پورې لیکل شوي دي هغه یوازې ددرسي مقصد دپاره دي او عملي جنبه لري چې البته دغه قاموسونه هم بشپړ اوسکمل نه دي په نولسمه پیړۍ کښې دارو پا په بیلو بیلو هیوادونو کښې دپښتو زده کړې او څیړنې ته زیاته پاملرنه راګرځیدلې او په ترتیب سره یو شمیر اثرونه او کتابونه لیکل شوي دی چې په دې کښې کوچني او نسبتاً لوی قاموسونه هم شته دي.

همدارنګه په دې لړ کښې دځینو آثارو په پای کښې لغتونه دفهرست په ډول هم ترتیب شوي دي.

دژبپوهنې دپرمختیا او انکشاف له مخې دنړۍ په اکثرو ژبو کښې قاموسونه په بیلا بیلو ځانګو کښې لیکل شوي او چاپ شوي دي .ښکاره ده چې هر یو قاموس ځانته خاص حدود او کلي معیارونه او ځانګړي خصوصیتونه لري.

قاموس یادژبی دلغاتو مجموعه چې: ۱) په انگریزی کښې و رته Vocabulay په فرانسوی کښې Vocabulaire په جرمنی کښې Wortschatz په هسپانوی کښې Vocabulario او په روسی کښې ورته Slavar و یل کیږی چی په عام ډول سره دیوې ژبې محیطی او سیمه یی یادعمومی لهجې دلغاتو مجموعی ته ویل کیږی. دغه شان دژبې دلغاتودمجموعې هغه برخه چی دیو لیکوال ژبه دیل نه او همدارنگه ادبی دوری او داسې نورسره بیلوي په دی سلسله کښې راځي.

۲ - په عمومي توگه هغه قاموسونه چی دلغاتو ماناگانې په کښې دالفبی په ترتیب سره راغلی دی چی په انگریزی کښې و رته Dictionary, World book په فرانسوی کښې Dictionnair په جرمنی کښې Woerterbueh په هسپانوی کښې Diccionario او په روسی کښی Slavar لیکیکون(۱) بلل کیږی چی مقصدورنه هغه مجموعه ده چې په سیستماتیک ډول سره دلغاتو تشریح تعریف بیانوی.

قاموسونه په څو ډوله و یشل کیږی:

۱ - ژبنی قاموس.

۲ - اینسایکلو پیډیا (دایرة المعارف)

په ژبني قاموس کښې - دوه ژبی «څو ژبی» قاموس او یو ژبی قاموس راتلای شی.

په دوه ژبی (څو ژبي) قاموس کښې دیوې کورنۍ دوه ژبی قاموس او دبیلو بیلو ژبو دوه ژبي قاموسونه شامل دي.

په یوژبی قاموس کښې: لهجوی قاموس، دتلفظ قاموس، احصا یوی قاموس، دادبی اصطلاحاتو قاموس، د لیکوال قاموس، دخارجي کلمو قاموس ایتمولوژیکی قاموس، دمترادفولغاتو قاموس، دژبنیو اصطلاحاتو قاموس، معیاری قاموس، درهنما قاموس، تاریخی قاموس او او همدارنگه مسلکی، سیاسي، تخنیکی او دبیلابیلو علوملکه ژبپوهنی، ادبیاتو، اقتصاد، فزیک - کیمیا، بیالوژی قاموسونه راتلای شي. خو په پښتو ژبه کښې چی کوم قاموسونه لیکل شوی دی هغه ټول ددرسی مقصد دپاره دی په دی سلسله کښې دوه ژبي قاموسونه لکه: (پښتو قاموس، افغان قاموس، روسی - پښتو قاموس، پښتو - روسی قاموس، انگلیسی پښتو قاموس) موجود دي. او همدا رنگه اصطلاحي قاموس (دپښتو اصطلاحاتو او محاورې)

(۱) اخمانووه دژبپوهنې اصطلاحی قاموس. مسکو ۱۹۶۶ ۲۰۳مخ

احصائیوی قاموس اوډامی ډیر هم تر اوسه لیکل شوي دي په دې ځای کښې د قاموسونو د ټولو هغو قاموسونو یادلغاتو دفهرستونو یادونه کوو، کوم چې د پښتو پېړۍ کښې لومړی ژبې کې لیکوال وله خوا لیکل شوي دي او وروسته وروسته پسي د ختیځ پوهانو د لیکل شوو قاموسونو ذکر کوو:

## ۱-ریاض المحبت:

ترکومه ځایه چې معلومات لاس ته راغلي د موندل شوو آثارو په لړ کښې په پښتو کښې لومړني قاموس کڼل کیږي، ددې کتاب مولف نواب محبت خان د حافظ رحمت خان زوی دی چې د احمدشاه بابا په زمانه کښې په روهیلکنډ کښې حکمراني درلوده (۲) د مشهور ختیځ پوه راورټي په نظر څنګه چې وایی :

دغه کتاب په ۱۸۰۶ ع کال (۱۲۲۰ ه) کښې لیکل شوی او (۷۰۰) مخونه لري. د ریاض المحبت قلمی نسخه په شوروی اتحاد کښې د لیننګراد د ختیځ پېژندنې په انستیتوت کښې خوندی ده. ددې کتاب یو مکمله قلمی نسخه د بنګال په اسیایی سوسایټی کښې هم شته همدا ډول د دغې قلمی نسخې زیاته برخه د کوشیف له خوا خپره شوی او چاپ شوی ده.

## ۲-عجائب اللغات:

دغه کتاب هم د حافظ رحمت خان د زوی نواب الله یار خان له خوا تالیف شوی دی او د راورټي د څرګندولو څخه ښکاری چې د دغه نسخه دده سره موجوده وه. کتاب په کال (۱۲۲۲) کښې لیکل شوی او ۷۳۰ مخونه لري چې هر یو مخ یې ۱۷ کرښي لري (۳) او متن یې په څلورو ژبو (عربي، اردو، فارسي، او پښتو) لیکل شوی دی.

## ۳-فرهنګ ارتضائی:

په پښتو اردو ژبه کې یو قاموس دی چې په ۱۲۲۵ ه کال په هند کښې د محمد ارتضا خان عمر خیل یوسفزی له خوا لیکل شوی دی. دغه کتاب ۱۶۶ فصله لري چې په څلیرویشتم فصل کښې

(۲) کابل کلنی، ۱۳۲۲ کال ۵۶ مخ)

(۳)- کابل کلنی ۱۳۲۲ ه ۶۹۱ مخ.

د مصدرونو او فعلونو د اشتقاق بحث هم شته. (۱)

۴ - خیالات زماني:

دپښتو فارسي یو کوچنی قاموس دی دلیکوال او لیکلو د تاریخ په باب یې څه پته نه لګیږی مګر یوه قلمي نسخه یې په(۵۰۳۲ لمبر) دلندن دانډیا افس په کتابتون کښې موجوده ده(۲)

۵ - اسدنامه افغاني :

دذولسمې پیړی په سر کښې یو لنډ ګرامر چې د پښتو فعلونو ګردان او په پای کښې لغتونه دقاموس په شکل راغلي دي. ددغه کتاب مولف معلوم نه دی په ګومان سره ویلی شو چې دغه اثر هم دذولسمې پیړۍ په سر کښې په لیکل شوی وی(۳)

۶ - اوزبکي - پښتو فرهنګ:

دسلاخیر الله هوتک ددیوان ددوهم توک په پای کښې څینی اوزبکي لغتونه او جملې په پښتو اړول شوی دی. داسې معلومیږی چې د ادغه اوزبکي پښتو فرهنګ یو جزدی چې دڅینو په قول سلاخیر الله لیکلی دی(۴).

۷ - خیر اللغات:

(د۱۳۳۵ هق) پېښاور خوا کښې قاضي خیر الله پېښاوری لیکلی او په پېښور کښې چاپ شوی دی. یوه نسخه یې د کابل پښتو ټولنې ته هم استول شوې وه. ددې کتاب یوه نسخه دپښتو ټولنې په کتابخانه کښې خوندي ده.

---

۱ - پښتو مجله، پېښور، ۱۹۷۳

۲ - پښتو مجله، پېښور، ۱۹۷۳

3) Catalague at pashto manuscripts in the liberaries of the British isles by the late James Fuller Bulmharht M.A. and D.N. Makenzie M. A. Ph. D. London. 1965.

(۴) - پښتانه شعرا، دریم توک، ۱۳۴۳ ش، پښتو ټولنه، کابل، ۲۹۶ مخ.

### ۸ - پښتو سر کې قاموس:

سر کې دپښتو ژبې دقواعدو او لغاتو په باب لوی خدمت سر ته رسولی دی (۸) دپښتو سر کې له څو ادوه قاموسونه لیکل شوی چې یو یې (پښتو دری قاموس او بل یې دری پښتو قاموس) دی په (پښتو دری قاموس) کښې یو لس زره لغتونه ځای شوی دی. د کتاب مؤلف عبد الرحمن لودین دی چې په ۱۳۰۲ هش کال دپښتو سر کې دو هم مشرو.

### ۹ - یو ازینی پښتو:

یو کوچنی کتاب دی چې دپښتو سر کې دغړو له خوا لیکل شوی دی دغه کتاب په (۱۳۰۱ ش ۱۳۴۱ هق) کال په کابل کښې چاپ شوی دی. کتاب دوې برخې لرې، اومړی برخه یې دپښتو ژبې مفردات دی. په دې برخه کې یو شمیر پښتو لغتونه چې دشیانو له مخه ترتیب شوی او همدارنګه په دې کتاب کښې ځینی نوی جوړ شوی لغتونه لکه: دماموړینو عنوانونه. حکومتی رتبې، لقبونه او نور راغلی دی. د کتاب په دو همه برخه کی دپښتو ژبې سر کبات سوچه جملې دی چې دتعلیم او ښودنې دپاره لیکل شوې دي.

### ۱۰ - پښتو سیند:

پښتو دری قاموس دی چې په (۱۳۱۶ ش ۱۹۳۸ ع کال) د کابل په عامه مطبعه کی چاپ شوی دی دغه اثر ۳۶۶ مخه لری دقاموس مؤلف ارواښاد محمدګل مومند دی. دغه قاموس اوه زره لغتونه لري.

### ۱۱ - لغت میرزا سیدمحمد:

ددغه کتاب یادونه د ۱۳۱۸ ش کال په کابل کلنی کې دښاغلي زمریالی د پښتو کتابونو فهرست کې راغلی ده او وایی چې میرزا سید محمد، انګریزی په پښتو یو قاموس لیکلی دی. دغه قاموس په ۱۹۰۷ ع کال په راولپنډی کې طبع شوی دی (۹)

---

۸ - کابل کلنی، ۱۳۲۲ کال، ۳۵۰ مخ.

9— Mirza Said Muhamad English-pushto Vocabulary, Rawalpindi. 1907

۱۲ - پښتو قاموس:

ددې قاموس یادونه لډ ۱۳۱ ش کال په کابل کلنی کښې شوی ده چې د ښاغلی میرسید قاسم له خوا لیکل شوی دی مګر چاپ شوی نه دی:

9—Mirza said. Muhamed. English—pusht Vocabulary, Rawalpindi. 1907

۱۳ - سپیڅلی پښتو:

دفارسی پښتو کوچنی قاموس دی چې په ۱۹۳۰ ع کال کې چاپ شوی دی د غه اثر لس زره لغتونه لری. په دی کتاب کې دیو فارسی لغت دپاره څو پښتو لغتونه راوړل شوی دی. ددې کتاب لیکونکی ښاغلی حبیبی او لعل محمد کاکړ دی (۱) دغه کتاب ۲۹۸ مخه لری او په کندهار کی چاپ شوی دی.

۱۴ - لس زره لغات:

پښتو فارسی قاموس دی چې لس زره لغتونه په کې ځای شوی دی. دغه کتاب په ۱۳۲۰ ه په ۷۹۲ مخونو کښی چاپ شوی دی په دې کتاب کښې لغتونه د حرکاتو اشارو او مخففاتو په واسطه ښودل شوی دی. په کتاب کښی دځینو ختیځ پوهانو دلغت کتابونو څخه هم کته اخیستل شوی ده. د کتاب لیکونکی ارواښاد محمداعظم ایازی دپښتو ټولنې دلغاتو دځانګوړی دی.

۱۵ - پښتو اردو قاموس:

ددغه کتاب مولف سید راحت زاخیلی دی. په دی قاموس کښی د پښتو لس زره لغتونه د الفبې په ترتیب راغلی دی دلغتونو تشریح او معنی په اردو ژبه سره شوی ده. کتاب ۳۲۲ مخه لری او په پېښور کښی چاپ شوی دی او په دی اثر کښی رواجی و رځنې لغتونه ځای شوی دی.

۱۶ - لغات قاضی رحیم الله:

قاضی رحیم الله دخپل کتاب ګنجینه افغانی په سریزه کښې دیو قاموس یادونه هم کړې ده چې ددېر شوزرو لغتونو محاورو او اصطلاحاتو یوه مجموعه ده. دغه کتاب (پراوربیل د کشنری) نو سیری خو دچاپ په باره کښې معلومات نه لرو.

---

۱ - آریانا مجله، ۱۳۲۳ کال، (۶) ګڼه.

۱۷ - پښتو قاموس:

پښتو - فارسي قاموس په ۱۳۳۱ ه کال په دوه ټوکه کښې خپور شوی. دغه کتاب دارو اښاد محمد گل نوري او دلغاتو دڅانگې دغړو له خوا راټول شوی او بیا دیوې ډلې له خوا کتل شوی او تصحیح شوی دی. دغه قاموس شلو ییښت زره لغتونه لري .

۱۸ - افغان قاموس:

په (۱۳۳۵ - ۱۳۳۷ ش) کلو کې دپښتو ټولنې له خوا په درې ټوکه کښې خپور شوی دی . ددې کتاب راټولوونکی اروا ښاد عبدالله خان افغان نویس دی په دې اثر کښې دعربی او فارسي لغتونو په مقابل کښې پښتو لغات راوړل شوي دي او تقریباً د یو لغت دپاره څو پښتو لغتونه راغلي دي. دغه کتاب شلو ییښت زره لغتونه لري ،

۱۹ - ظفراللغات:

ددې کتاب مولف سید ظفرشاه کاکاخیل دی چې په پېښور کښې چاپ شوی دی . په دې کتاب کښې شل زره پښتو لغتونه دالفبې په ترتیب سره راغلي دي . دلغتونو معنی او تشریح په اردو ژبه شوې ده .او همدارنگه دپښتو ژبې ادبي لغات دشعري مثالونو سره هم راوړل شوي چې دا یو نوی قدم گڼل کیږي .

۲۰ - دافغانستان دځینولهجو قاموس:

ددی کتاب مولف اروا ښاد شاه عبدالله دی او په ۱۹۶۰ ع کال کښې دپښتو ټولنې له خوا په ۲۲۵ مخونو کښې خپور شوی دی. په دی قاموس کښې ددري ،شغنی، سنگلیچی واخی ، اشکاشمی او مونجی ژبو لغتونه راغونډ شوي او دپښتو لغتونو سره راوړل شوي دي.

۲۱ - دپښتو وزاره لغات :

دغه کتاب محمد اسلم لوڼ لیکلی دی .په دې کتاب کې ډېر نادرادبي لغتونه راغونډ کړی شوي دي (۱).مولف یې د ۱۳۰۰ ه په شاوخوا کې ژوندډرلود .

(۱) پښتانه شعرا دریم ټوک کابل ۱۳۴۱ ش کال ۸۵۶ مخ

۲۲-دپښتو اصطلاحات او محاورې:

دا کتاب په کال ۱۳۲۰ هش په ۲۹۳ مخونو کې د کابل

په عمومي مطبعه کې خپور شوی

دی او د کتاب مولف ارواښاد محمد گل نوری دی. په دې کتاب کې یوه برخه دپښتو اصطلاحات او محاورې دفارسي الفبې په ترتیب ترجمه او شرح شوي دي.

۲۳-پښتو ژبه:

یو نوی قاموس دی چې د پیښور دپښتو اکاډیمي له خوا ترتیب شوی دی او په ۱۹٦۵ع کې یې اول ټوک چاپ شوی چې تر اوسه یې خلور ټوکه چاپ شوي دي.

۲۴- انگلیسي پښتو قاموس:

داو رستی قاموس دی چې په ۱۳۵۴ ش کال دپښتو ټولنې له خوا په ۸۲۰ مخونو کښې خپور شوی دی. په دې قاموس کښې انگلیسي لغتونه په پښتو باندې معنی او تشریح شوي دي چې دیو انگلیسي لغت په مقابل کې څو پښتو لغتونه راوړل شوي دي.

۲۵-دپښتو شعري او ادبي قاموس تر عنوان لاندې یو لړ علمي او تحقیقي مقالې دښاغلي

و اسعي له خوا لیکل شوي او د کابل په مجلو کې خپرې شوي دي (۱) چې البته په دې سلسله کښې

یو نوی گام بلل کیږي.

۲٦- داهم باید هیر نه شي چې دعسکري ځینو خاصو مفاهیمو او کلماتو اصطلا حاتو دپاره هم ځینې فهرستونه موجود دي (۱) همدا ډول دپانی پت دجگړ ځینې لغوی او عسکری اصطلاح گانې عسکری بیلو بیلو صنعتونو دستر د رستیز د بنود نیا و ر و زنی مسلسل دیر کتیفو نه اونو ر دی.

---

(۱) کابل مجله ۱۹٦۲-۱۹٦۳ کلونه گڼې ۵۱۸-۵۲۹

### ۲۷ - دننني پښتو ژبې احصائيوي قاموس :

داقاموس دښاغلي دوکتور دولت محمدلودين له خوا ليکل شوی او په ۱۳۵۳ کال پښتوټولنې خپور کړی دی .

اوس غواړو چې دختيځ پوهانو پښتو قاموسونه هم په لنډه توګه بيان کړو :

۱ـ لغات ګولډن شتت:

دروسي ختيځ پوه «برتاس» په قول ګولډن شتت دلومړي ځل لپاره يو کتاب ليکلی دی چې دپښتو ځينې لغتونه يې په کښې دعامي خيړنو په غرض راټول کړي دي. دغه مواد (دنړۍ د ټولو ژبو اولهجو قاموس) کې خپاره شوي دي.

دديقاموس لومړی ټوک کې تر ۷۸ نمبر لاندې پښتو کلمې راوړل شوي دي او په ۱۷۹۱ کې په پترزبورګ او سني «لينګراد» کښې خپور شوی دی.

۲ ـ لغات، ب ـ دورن:

روسي ختيځ پوه دی او هغه په ۱۸۴۷ کال يو پښتو - انګليسي قاموس(۱) ليکلی دی. که څه هم ددورن څخه دمخه ځينې آثار ليکل شوي دي چې قاموسونو ته ورته دي خو دقاموس ليکنې دستو داو علم له نظره ددورن قاموس يو غوره اثر دی .

۳ - په ۱۸۲۳ کال کې د ايورسمن له خوا ديو اثر په برلين کښې چاپ شوی دی. په دغه کتاب کښې دپښتو ژبې يو څه لغات راوړل شوي دي او په فارسي ، تاتاري ، جرمني او روسي ژبو ترجمه شوي دي. او همدارنګه هغه کلمې چې کلاپروت راغونډې کړي وې دنورو آسيايي ژبو سره مقايسه کړي دي.

۴ - په ديرکي کپتان وا ګن په ۱۸۵۵ کال کښې يوه وړه لغتنامه (۱) انګرېزي په پښتو ليکلې چې دپښتو ژبې زده کړې دپاره ګټور ګڼل شوې ده .ددغې لغتنامې ذکر

---

(۱) دحربي پوهنتون دمجلې ۱۳۴۹ کال کلکسيون.

1— B. Dorn. Cherestomat hy of the pushtu or Afghan language to which is subjo ined a glossary in Afghan and English St. peterburg 1847.

دتروسپ دګراسر (۱) په‌مقدمه کښي راغلی‌دی.

۵-پښتو انګلیسي قاموس (۲)

راورتي دغه‌لوی قاموس په ۱۸۶۰ کښي لیکلی او په‌لندن کي چاپ‌شوی دی. کتاب ټول ۵۵۸ مخونه لري- دکتاب یوه‌نسخه اوس دکابل پوهنتون په‌کتابخانه کي خوندی ده. مشهور ختیځ پوه‌ هانه استاد اسلانوف پخپله یوه مقاله کښي‌لیکلي دي‌چي داقاموس‌دوهم‌ځل په ۱۸۶۷ کال په‌کلکته کښي خپور شوی‌او ... ۹ لغتونه په‌کښي‌راغونډ شوي‌دي. د راورتي دقاموس ماخذ دنواب الله‌یارخان «جامع‌اللغات،عجائب اللغات»دي‌چي دروهلکند دپښتو دکتابخانې‌په لوټ او تالاکښي دمستر راورتي‌لاس ته‌ورغلی دی او بیا راورتي پخپله ددغه کتاب په‌باب لنډه یادونه هم کړې‌ده(۳)

۶- پښتو- انګلیسي- انګلیسي پښتو قاموس:

هانري والتر بیلو (۱) دراورتي‌نه‌وروسته‌دوهم‌سړی‌دی‌چي‌دپښتوژبي‌په برخه کښي یې کار کړی‌او اثرونه‌یې‌لیکلي‌دي.ده‌دلغاتویوکتاب په ۱۸۶۷ کال په‌لندن کښي‌خپور کړی دی. ددې کتاب‌په سریزه کي دمشهورو شاعرانو او دپښتو ژبي دځینو مؤلفینو ذکر شوی او دد وی په‌اثارو باندې یې‌لنډی‌لنډی‌تبصرې کړې دي.داقاموس دوې‌برخې‌لري:

پښتو-انګلیسي ۱۸۲ مخونه.

انګلیسي پښتو ۱۸۳-۳۵۵ مخونه.

۷- تومانوویچ: روسي ختیځ پوه دی‌چي دپښتو قاموس یې‌په‌روسي‌ژبه لیکلی‌دی دغه کتاب دپښتو لنډګرامر او قاموس په‌نامه یادیږي.په‌دې کښي ۲۲ مخه قاموس او پنځه مخه دګرامر برخه ده‌چي‌په ۱۹۰۸ ع کال په‌تاشکند کښي‌چاپ شوی‌دی.

---

1— A. Grammar and vocabulary of the pooshtoo language Calcutta 1853.

2— Trummpp E. Grammar of the pashto or the language of the Afghanis London. 1873.

3— H. G. Raverty. A dictionary of teh pukhto or Pushto or Longuage of the Afghans London. 1860.

۳) اولسي مجله (۱۱-۱۲) ګڼه کو ته ۱۳۴۹ (۱۰۱۹۷۳) مخ ۳-۳

1— H.W. Bellew. A dictionary of the Pukhto or pushto Language London. 1867.

۸ - یفیموف: (دپښتو ترجمان په‌نامه‌یو کتاب چی (۶۰۰) لغتونه‌او (۳۵۰) محاورې ،جملې لري او په ۱۹۰۷ کال په‌تاشکند کښې چاپ شوی‌دی.

۹ - لغات‌گلبرسن: ده دپښتو لغات او محاورې راغونډې کړې دي او په ۱۹۲۹ کال‌یې په هرتفورډ کښې‌چاپ کړې‌دی کتاب په‌لاس کښې‌نشته (۱)

۱۰ - گیگر: ده‌هم دپښتو ژبې دفلالوژۍ په‌برخه کښې په ۱۸۹۳ کښې‌یوه رساله لیکلې ده‌په‌دې رساله کښې‌یې دپښتو ژبې یوشمیر زیات لغتونه داوستا او سانسکریت سره‌پرتله کړي دي.

و یلهم گایگر د ا رنست کو هن په‌سرسته د پښتو ژبې ایتمولوژی کتاب Etymologie und lautlehre sdp Afghanischan لیکلی‌او په‌مونشن کی‌چاپ‌شوی‌دی. گایگر پخپل اثر کښې دپښتو لغات دتهجیه حرفونو په ترتیب دسانسکریت او نستا او زړې او نوې پارسو سره مقایسه کړي او دپښتو ژبې لرغونتوب او دنورو ژبو سره یې نژدیوالی ثابت کړی‌دی.

سارکنسترن دگایگر ددغه اثر څخه استفاده کړې‌ده او خپل کتاب (د پښتو لغت) یې گایگر په‌نامه اهدا کړی‌دی.

دار مستتر فرانسوی مشهور ختیځ پوه‌هم‌دپښتو ژبې‌په‌باب څیړنې کړې چې‌په دې لړ کې دپښتو ژبې‌لغات یوازې داوستاژبې سره‌مقابله کړی‌دی نوموړی دگایگر هم‌عصردی.

۱۱ - دسارکفسترن‌ایتمولوژیکی قاموس چی ۱۹۲۷ کال‌په انگریزی ژبه لیکل شوی او په وسلو کې خپور شوی‌دی.

۱۲ - پښتو روسی کوچنی قاموس: ددې قاموس مؤلف زودین او مهتمم یې برتاس‌دی.

قاموس‌تول (۱۲۰۰) لغتونه لري او په ۱۹۵۰ کال په‌مسکو کې چاپ شوی‌دی په دې‌قاموس کښې لغات دالفبا په‌ترتیب لیکل شوي‌دي. دقاموس په‌پای کې دجغرافیای‌نومونو فهرست

(۱) آریانامجله‌م ۱۳۲ شپږ سه‌گڼه ۳۱۹ مخ.

او دپښتو ژبې خونيم پوهنې او ليک دود په برخه کې هم لنډمعلومات شته دی .

١٣ - روسي پښتو قاموس :

داهم په ١٩٥٥ ع کال دپښاغلي زودين له خوا په مسکو کښې خپور شوی دی په دې کې نژدی يو ويشت زره لغتونه شته او په پای کښې يې دگرامر يوه برخه هم راغلې ده.

١٤ - پښتو روسي جيبي قاموس:

په ١٩٦١ او ١٩٦٢ کال په مسکو کښې د وه واړه جيبي قاموسونه خپاره شوي دي .

(١ - پښتو روسي . . ٧٥ لغتونه

٢ - روسي پښتو . . . ٧لغتونه.

ددغو دواړو قاموسونو ليکونکی مشهور ختيځ پوهاند پروفيسرلييبديف دی .

د ډکتور فوزي رشيد ( بغداد)

# د پښتو بيلګه په سومري ژبه کښې

ګرانو پوهانو:

